د خان عبدالغفار خان د دویم تلین په درناوي

40 =1

# د پښتنو او بلوڅو سیاسي کرونولوژي

لیکوال

کاندیدا کاډیمیسین محمد ابراهیم عطائی

۱۳۶۸

ACKU

# د پښتنو او بلوڅو سیاسي
# کرونولوژي

خپروونکی

د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست
د سرحدونو چارو وزارت

۱۳۶۸

ACKU
PROPERTY OF ACKU
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00004355 3

## مقدمه

تاریخي پېښو دا کړونو لوړي په عمده توګه د پښتنو او بلوڅو د هغو مبارزو یوه هینداره ده چې د تقریباً (۱۹۰) کالو را په دې خوا یې د خپل ملي موجودیت د ژوندي ساتلو له پاره لومړی د برېتانوي کلونیالېزم او بیا د هغه د لاس پوڅي پاکستاني تېري کوونکو پر ضد کړې او د قهرماني ویاړونه یې ګټلي دي.

د دې کړونو لوړي لومړۍ برخې په هغو وختونو اړه لري چې د افغانستان له روغ بدن څخه اندامونه نه وه غوڅ شوي. په هغه مهال کې پښتنو او بلوڅو او د افغانستان نورو ټولو ورورو ملیتونو په ګډه د برېتانوي تېري کوونکو په وړاندې په یوه محاذ کې مبارزه کوله، خو کله چې د برېتانوي امپریالیزم لوی ماشین په حرکت راغی او انګلیسانو د افغانستان پر مرتجع امراوو د لاهور، ګنډمک او د ډورند تړونونه تحمیل کړل نو د پښتنو نخوا او

د بلوچستان د سیمې هغو تولو مهمو متر اتیژیکی نقاطو له افغانستان څخه بیلې شوې. په دغو فرضي کرښو صرف د کاغذ پر مخ د خلکو تر منځ بېلتون راغی، خو څرنګه چې د دغو خلکو تر منځ تاریخ، کلتور او د ملي ژوند ټولو شئوناتو بېلتون نه قبلاوه نو دغه اړیکې په پرله پسې توګه وپالل شول .

پر دغو جریاناتو د سیاسي مناسباتو له پلوه په دغه کړو نو لوژی کې رڼا اچول شویده او د کار پلان داسې تطبیق شوی دی چې د لومړنیو تړونو نوتر مهال پورې پېښې په عمومي توګه د نیټې په قید قلمبند شویدي. تر دغو تړونو نووروسته چې پېښې په پښتونخوا او بلوچستان کې درند والې غوره کوي نو په عمده توګه د هغه ځایونو پېښو ته انعکاس ورکول شویدي .

دا پېښې په عمومي ډول د نیټې په قید په لاندنیو مرحلو ویشل کیږي :

(۱) د اتلمسې پېړۍ دوروستیو دوکلو او د نونسمې پېړۍ لومړی لسیزه چې د ختیځ هندوستان بریتانوي کمپنۍ په افغانستان او مرکزي اسیا کې د راتلونکي نفوذ قایمولو په منظور په مخفي توګه توپوګرافي مطالعات کوي او ایران ودې ته لمسوي چې د افغانستان په لویدیځو سرحداتو کې د افغانستان پاچا زمانشاه ته مصروفیتونه پیدا کړي څو د سند او پنجاب او کشمیر څخه د هغه مخه ور او ګرزوي او په دغه فرصت کې انګلیسان خپل نفوذ په سند او پنجاب کې پراخ کړای په دغه وخت کې د انګلیس نماینده سرجان- مالکم د ایران د شاه فتح علي شاه سره یو تړون کوي چې د هغه دوی سادی د افغانستان په ارتباط دی ار.

ACKU

(۲) انګلیسانو ته پرهند دفرانسی دیرغل خطر پیدا کیږی مخصوصاً کله چی دفنکنشټاین تړون دایران دنماینده او بوناپارت ترمنځ لاسلیک کیږی اودایران شاه تعهد کوی چی دافغانستان له لاری به فرانسوی قواوی هند ته رسوی نو انګلیسان دشاه شجاع سره دپیښور تړون لاسلیک کوي اوشا شجاع دی ته حاضر یږی چی په افغانستان کی دایران او فرانسی مخ نیوی وکړی .

(۳) دناپلیون خطر رفع کیږی او انګلیسان افغانستان او مرکزی اسیا ته دنفوذ پراخید وهڅی پیل کوی. دلاهور په تړون چی دشا شجاع او رنجیت سنګ ترمنځ کیږی او بریتانیا یی دتطبیق عهده پر غاړه اخلی نه یوازی د سند، کشمیر او پنجاب څخه دافغانستان لاس وزی بلکی داباسیند دغاړو پښتنی سیمی او حتی پیښور هم بیلیږی. په دغه عکس العمل کی دافغان او انګلیس لومړی جګړه پیل کیږی او په افغانستان کی د بریتانیا سیاسی او نظامی اداره یو مخیزه له منځه ځی .

(۴) دنونسمی پیړی په پنځوسمو کلو نو کی په امیر دوست محمد دجمرود دوه تړونونه لاسلیک کړی چی په هغه کی انګلیسان تر خیبر پورته پر افغانی اسیمو خپل نفوذ مسجلوی، همدارنګه په بلوچستان کی دقلات په خان میر نصیر خان یو تړون لاسلیک کیږي چی پر بلوچستان دبریتانیا نفوذ قایمیږی. دقلات بل خان میر خداد خان دبلوڅو یه سردارانو تهدید کیږی او دمستونګ تړون پری امضا کیږی .

(۵) دبریتانیاله خواد فارو د پالیسی خړی راپورته کیږی او دعلمی

مرحد په نامه بریتانیا غوارې افغانستان او مرکزی اسیا اشغال کړی . امیر شیرعلی مقاومت کوی انګلیسان د تولو بین المللی مقررا تو په مخالفت پر افغانستان دوهم یرغل کوی . په یعقوبخان د ګندمک تړون لاسلیک کیږي او په هغه سره کورمه ، پښین او سیوي لـه افغانستان نه بیلیږی .

٦ ) د ډیورند په تړون چی پر امیر عبدالرحمن امضا شود افغانستان اوسنی نقشه منځ ته راځی ، پښتانه او بلوڅ د کاغذ و نو پر مخ بیل شول خود خلکو روابط د پخوا پـه شان پاته وه .

٧ ) د افغانستان د خپلواکی اخیستلو په مبارزه کی وطنپرستان د پښتنو او بلوڅو د یوځای والی ارمانونه لری خود وخت دیپلوماسی د دوی ار مانونه سر ته نه رسوی .

٨ ) د هندویش او د پاکستان په نامه نوی دولت منځ ته راځی، بیله دی چی د پښتنو او بلوڅو څخه رښتیانی رایه و اخیستل شی دوی د پاکستان ډار شلاوه ته ور تیل وهی. د پښتنو او بلوڅو مبارزه چی تردغه انه دوام لری په دغه چوکاټ کی شامله ده

په دغو جریانا تو کی د پښتنو او بلوڅو هغه مبارزی چی د انګلیسانو او د پاکستان د نظامیګر انو پر ضد یی کړی دی ډیر ی ستری حماسی دی چی د تاریخ و یاړ ګنل کیږی . د واقعاتو بهیر چی ګام په ګام راتعقیبیږی د مستند وو ثایقو پر مخ موږ وینو چی بریتانوی امپریالیزم

په چل او چمبازی بېلې بېلې پلمې کوي خو خپل اصلي مقصد چې د ولسونو غلامي ده په بې شرمانه توګه پلې مړ اوي .

یوله دغو پلمو څخه چې هر وخت افغانستان ته د تهدید په توګه وړاندې کېدله د شمال د خطر په نامه یادیدي . د افغانستان امرا په ددې تهدید ل چې روسان ستاسې د وطن موجودیت له منځه وړي ، خو مسئله بر عکس وه . د لته مونږ یو دوه مثاله راوړو :

کله چې امیر دوست محمد د روسی تزار امپراتور ته ایلچ واستاوه چې د رنجیت سنګ په مقابله کې مرسته ورسره وکړي د روسې دیپلوماتیکي اداري د خپل نماینده ویتکوویچ په لاس امیر ته پیغام راواستاوه چې لومړی د خپل ورور کندل خان د کندهار حکمران سره روغه وکړه او بیا د پارس سره مناسبات دوستانه کړه څو د دغه وحدت په قوت د انګلیس د فشار په مقابل کې مقاومت وکولای شي. اصلي د ښمن انګلیس دی نه رنجیت سنګ. ایا دا یو واقعي او دوستانه لارښوونه نه وه ؟ بلې په دې کې شک نشته . دوهم کله چې پر افغانستان د دوهم ځل له پاره انګلیسانو یرغل وکړ، شیر علي په ترکستان کې د روسې ګورنر جنرال کوفمان ته لیک ولیږی او مرسته یې وغوښته ، د دغه لیک په جواب کې جنرال کوفمان هغه ته ولیکل زه مصلحت د ر کوم چې په دغسې حساس فرصت کې په وطن کې واوسه. انګلیسانو ته پلمه په لاس مه ور کوه د زیتون څانګه ( په استعاره توګه د صلح پیشنهاد) ور وړاندې کړه . آیا دا مصلحت کاملا دوستانه نه وه ؟ هو که چیرې امیر شیر علي پر خپلو مسلح قواو تکیه کړې وای له مرکزه نه وای لیرې شوی بری به یې په نصیب ۶ • د دغه مطلب یو موڼږ اوشا هد پخپله هوو اړد هنسه ین ور ځپا نه

ACKU

لیکونکی انګلیس دی‌چی ددوهمی جګړی په‌دوران کی دنظامی خبریال په‌توګه په کابل کی‌واو لیکلی یی‌دی «امیرشیرعلی‌داسی قواوی درلودی‌چی‌د هغه‌ځای دغرنی‌جوړښت په سر سته‌یی‌دیر ښتا نیا دهر‌دول تیری‌مخ نیوی‌یی کولای‌شوای» .

دامیر شیرعلی خان داخبره بیخابه نه وه چی‌ویل به‌یی «انګیسا ن خپل‌ټول سیاست پردرو اغو بنا کړیدی .»

د ۱۸۷۷ په سپتمبر کی‌چی کله دعثما نی سلطا ن نما ینده (ام ـ کی افندی) دیوه هیأت په‌مشر ی دامیر شیرعلی خان سره وکتل اوغوښتل یی‌دا میرشیر علی‌نظر دتز اری روسیی له دوستی څخه راو ګرزوی نوامیر شیرعلی هغه‌ته وویل: «روسا نوما او زما هیواد ته تاا را می نه‌دی‌پیدا کړی بلکی جنر ال کوفمان (په‌تر کستان کی‌د روسیی ګور نر) زما سره په‌برابر ی‌او درناوی دد وستی رویه کوی .

دنو نسمی پیړی په‌دو همه نیما یی کی‌په خاصه تو ګه د دغی پیړی داو یایمو کلونو څخه‌ورو سته‌دروسیی‌د خار جه‌و زیر پرنس ګور چا کوف او په‌لند ن کی‌د رو سیی دسفیر کنت شو الوف په‌هغو مکا تبو کی‌چی‌دا نګلستا ن دخا رجه‌وزیر ګرو نویل او بیا سالسبری‌سره یی کړیدی داسی‌شواهد ډیر پیدا لولای شوچی روسا نو دا نګلیسا نو په وړاندی‌د افغا نستان دغوښتنو حما یت کړید ی .

په‌دی کی‌شك نشته چی‌د سیاست په‌ډ ګر کی تزا ری روسیی هم‌امپریالستی موقف درلود ولی دهغو ګټی له‌د ی سره متضادی وی چی‌انګلیسان پر افغانستان خپل‌نفوذ قایم کړی‌او داد افغانستان له

ACKU

پاره د مساعدو فرصتونو په پيدا ايښت کې اغيزناک کار وه چې افغانستان د تزاري روسيې له دوستۍ او مرستې څخه د انګليسانو په مقابل کې استفاده وکړي.

د اکتوبر تر ستر انقلاب وروسته چې د ستر لنين په مشرۍ د شورا ګانو هيواد منځ ته راغی، د دې زمينه په واقعي توګه برابره شوه چې افغانستان د شورا ګانو د هيواد پر دوستۍ او مرسته حساب وکړي.

د امير امان الله او ستر لنين ترمنځ د افغانستان د استقلال حاصلولو په دوران کې ښکاره او د لومړي هيواد په توګه د شوروي اتحاد له خوا د افغانستان خپلواکۍ په رسميت پيژندل د دغو دوو هيوادو ترمنځ د دوستۍ لومړي بنيادونه دي. د لارډ کرزن اليتماتوم ته په شهامت او بې اعتنايي جواب ورکول د افغانستان د اماني دورې د سياست قدرت څرګندوي البته د انګليسي امپرياليزم په توطيو د اماني دورې سقوط او داسې نور فجايع چې افغانستان او قبايلو ته متوجه وه ټول د برتانوي امپرياليزم له خوا زموږ پر خلکو تحميليدل.

زموږ سرحدي قبايل سره له دې چې په فرضي او د خلکو له خوا په نه منل شوې کرښه د کاغذ پر مخ سره بېل شوي وه خو عملاً دوی بېلتون غوره نه کړ.

د هند تر ويش وروسته چې پاکستان منځ ته راغی بيا هم هغه پردي بريالي نشو چې سرحدي قبايل له افغانستان نه بېل کړي. په خاصه توګه په افغانستان کې د ثور د پرتمين انقلاب څخه وروسته د افغانانو ره هم روجا نه شوه.

ACKU

ددغو پېښو کرونولوژي د تاریخ په قید د حوادثو اړي تعقیبوي او د لوستونکو د عمده احتیاج په رفع کې به ژوره اغېزه ولري .

د دې له پاره چې د پېښو رابطه د ختیځ هند بریتانوي کمپنۍ سره د حوادثو په رابطه ډېره اړه لري نو د کمپنۍ پر تاریخچه به هم لږ او ډېره رڼا واچوو.

د ختیځ هند کمپنۍ :

په دې کرونولوژۍ کې د پېښو په رابطه د ختیځ هند د کمپنۍ نوم ډېر استعمال شوېدی ، نو ځکه دا ضروري برېښي چې د دغې کمپنۍ په باب معلومات وړاندې کړو .

د ختیځ هند کمپنۍ یوه بریتانوي تجارتي موسسه وه چې وروسته په استعماري شیوه د اداري او نظامي چارو وظیفه هم پر غاړه واخیسته او په هند کې یې د بریتانیا د مستقیم استعمار زمینه مساعده کړه .

تر اولسمې پېړۍ پخوا پورتګالي او هالېنډي سوداګران د هند جنوبي برخو ته رسېدلي وه او د هند د سوداګرۍ څخه ئې سرسا مونکې ګټې تر لاسه کولې . د دغو سوداګرانو پر بله بریتانوي سوداګران راروان شول او په ۱۶۰۰ کې د انګلستان تولواکمنۍ لومړۍ الیزابېتې د پنځوس کلونو له پاره بریتانوي سوداګرانو ته اجازه ورکړه چې د هند په سوداګرۍ لاس پورې کړي.

په ۱۶۰۸ کې په یوه بریتانوي بېړۍ کې هندوستان ته ورسېدل او د هند د کورګاني امپراطور جهانګیر څخه یې اجازه واخیسته چې د سورت په بندر کې بریتانوي تجارتخانه پرانیزي .

ACKU

په ۱۶۰۹ م کې دانګلستان باچا لومړي جيمز داکمپنۍ تشويق کړه چې سوداګرۍ ته پراختيا ورکړي.

د ۱۶۱۲ څخه تر ۱۶۱۵ م پورې په هند کې دانګلستان او پرتګال ترمنځ جګړې وشوې او ددوی ترمنځ رقابت دکرومويل تر زمانې پورې دوام وکړ.

په ۱۶۵۴ م کې دانګلستان انقلابي حکمران کرومويل دپرتګال سره ديوتړون پرمخ په هند کې دبريتانوي سوداګرۍ انحصاري امتياز ترلاسه کړ، او له دې سره نودبريتانيا او هالينډ ترمنځ درقابت دوره پيل شوه.

- کومې کمپنۍ چې داليزابتې له وخته دسوداګرۍ فعاليت هند ته پيل کړی و دلندن کمپنۍ په نامه يادېده او په ۱۶۳۴ کې داوسر چارلس په زمانه کې دا يست انديا يعنې ختيځ هند بلې کمپنۍ هم فعاليت پيل کړی و، په ۱۶۵۷ کې کرومويل داد واړو کمپنيانو سره يوځای کړې او يوه قوي کمپنۍ ځينې جوړه شوه چې د ختيځ هند د کمپنۍ په نامه ياده شوه.

د دغې کمپنۍ کار کوو نکو دومره قوت و موند چې دسوداګرۍ څخه يې علاوه په لوټماری هم لاس پورې کاوه لکه چې يو ځل داو- رنګ زيب په وخت کې د دغې کمپنۍ بېړۍ وانانو د سرجان - چايلډ په مشرۍ دبالاسور په مقام دمسلمانانو حاجيانو يوه بېړۍ لوټ کړه او ددوی ددغه عمل په مقابله کې اورنګ زيب په بنګال کې پرتولوانګليسي تجارتخانو بنديز ولګاوه او ډېر زيانونه يې ورورسول.

تر دې وروسته انګلیسی سوداګرانو په لویو شوټونو سره چې داورنګزیب د دربار وزیرانو ته یې ورکړل په ۱۶۹۱ کې داورنګزیب څخه یې اجازه واخیستله چې په بنګال کې سوداګرۍ ته ادامه ورکړي.

د کمپنۍ په تاریخ کې د رابرټ کلائیو نوم ډیر یادیږي، دی دوه ځله د کمپنۍ له خوا د بنګال حکمران شوی یو ځل په ۱۷۵۷ او بل ځل په ۱۷۶۷ کې، دا بیځایه نه ده چې کارل مارکس هغه ته لوی غل ویلی دی، ځکه نوموړي په داسې لوټمار لاس پورې کړ چې بالاخره خپله بریتانیا دې ته مجبوره شوه چې محاکمه یې کړي خو دغه سړي په خپله ځان وژنه هغې دوسیې ته خاتمه ورکړه چې دده د فجایعو څخه ډکه وه.

د ۱۷۶۱ م څخه د ختیځ هند بریتانوی کمپنۍ د فرانسې له رقابت سره مخامخ شوه خو په ۱۷۴۸ م کې د ایکس لاشاپل په تړون فرانسې هم په هند کې د دغې بریتانوی کمپنۍ انحصاری لوټمار ته لار خلاصه کړه.

نور نو د کمپنۍ واکمنانو دا ره چیانو نه یوازې د سوداګرۍ له لارې لوټمار کاوه بلکه د بنګال څخه یې د لوی هند په خوړلو پیل وکړ.

د ګورګانیانو د مضمحل شویو شاهانو دربار یې ورو ورو تر خپل نفوذ لاندې راوستی او د هند ولسونه یې یو د بل غاړې ته اچول او د بېل یې که تر عملیې لاندې یې پر لویو او پراخو لسونو او سیمو خپله حکمرانی قایمه کړه.

په ۱۸۵۷ کې چې د هند خلکو د انګلیس د نفوذ پر ضد لوی قیام وکړ، که څه هم د کمپنۍ له خوا دغه قیام کوونکي په بې رحمۍ وځپل شول او د ګورګانی کورنۍ وروستی پاچا بهادر شاه کمپنۍ برما ته

ACKU

تبعید کړ خو د دغې پېښې د کمپنۍ عمر هم پای ته ورساوه او تر دغې پېښې وروسته د ۱۸۵۸ څخه د انګلستان د پارلمان په فیصله د کمپنۍ اختیارات او اداره مستقیماً د بریتانیا حکومت په لاس کې واخیستله او هند یې مستقیمې مستعمرې په بڼه واوښت.

دلته به د کمپنۍ د هغو غټو ګورنر جنرالانو نومونه راوړو چې تر ۱۸۵۸ پورې یې کار کړی او د واقعاتو د لړۍ سره د دوی نومونه روړل کېږي.

وارن هیسټنګز ۱۷۷۲ – ۱۷۸۵

دا سړی چې یوه دوره د بنګال ګورنر وو وروسته په ۱۷۷۲ م کې د کمپنۍ له خوا په هندوستان کې د بریتانوي مقبوضاتو ګورنر جنرال شو، د لوټمارۍ او ماهر متخصص و، ده د کمپنۍ نفوذ ته ډېره پراختیا ورکړه او په سیاسي سطح کې یې بریتانیا ته لوی نوم پیدا کړ. ده د ټیپو سلطان د پلار حیدر علي سره سختې جګړې وکړې او د هغه تر مرګ وروسته یې زوی ټیپو سلطان انګلیس قواوې ته ماتې ورکړه شو د منګلور په تړون یې روغه ومنله. وارن هیسټنګز په ۱۷۸۵ کې مستعفي شو.

لارډ ویلزلي: ۱۷۹۸ – ۱۸۰۵

په ۱۷۹۸ کې د ختیځ هند د کمپنۍ لوی مامور چې ګورنر جنرال شو، په دغه وخت کې هند ته د خطراتو د مخنیوي په خاطر ده خپل سفیر سرجان ملکم د ایران دربار ته واستاوه او هغه د ایران د پاچا فتح علي شاه سره یو پنځه ماده ایزه تړون لاسلیک کړ چې د دوی مادې یې په افغانستان پورې اړه لري.

لارډ منټو: ۱۸۰۷ – ۱۸۱۳

داهم د ختیځ هند د کمپنۍ مامور و چې په ۱۸۰۹ کې یې خپل

سفیر الفنستون په پېښور کی د شاه شجاع دربار ته راواستاوه او د هغه سره یی د پېښور ترون لاسلیک کړ.

لارډ اکلینډ: ۱۸۳۶ - ۱۸۴۲

د ختیځ هند د کمپنی دا گورنر جنرال په انگلیسی تاریخونو کی هم د احمق په نامه یادشوی دی. د افغان او انگلیسی لومړی جگړه د ده په وخت کی پېښه شوه چی په هغه کی سفیر مکناټن، سیاسی مامور سر الکزانډر برنس او یوه منظمه انگلیسی اردو له منځه ولاړه.

لارډ کېننگ: ۱۸۵۶-۱۸۵۷

د ختیځ هند کمپنی دا ماموری گورنر جنرال و. په هند کی د لوی قیام پایلامی کښېښنو دل شوی. دا قیام په ۱۸۵۷ کی پراخ شو خو انگلیسانو د درنو وسلو او د زرگو نو خلکو په قتل هغه ارام کړ.

په ۱۸۵۸ کی د بریتانیا پارلمان فیصله وکړه او د هندوستان د سیاسی اداری چاری یی د کمپنی څخه د بریتانیا حکومت ته تسلیم کړی.

د بریتانیا حکومت بیا هم دغه لارډ کېننگ د هند د نائب السلطنه (ویسرای) په حیث وټاکی. تر دغه تاریخ وروسته هندوستان په مستقیمه توگه د بریتانیا نواتر اداره لاندی شواو د کمپنی نفوذ پای ته ورسېدی.

دغی کمپی د دوه نیمو پېړیو په دوران کی د هندوستان ولسونه په بی رحمانه توگه لوټ کړل او د بریتانوی کولونیلیزم د نفوذ پراختیا ته یی زمینه برابری کړی.

د هندوستان خام موادیی د انگلیس فابریکو ته وړل او له هغه ځایه یی پاخه مواد د هند په مارکېټو کی عرضه کول.

د کمپنۍ په هیات مدیره کې داسې کسان راتولیدل چې د بریتانیا کپتلزم لوی داکوګان به وه او د هند په سوداګرۍ او لوتمارۍ یې د بریتانیا د سرمایه دارانو خزانې ډکې کړې وې .

د کمپنۍ له خوا د خپل سرې سوداګرۍ د تپولو له پاره دوې مزدور عسکر ساپل او تر ولسونو به یې ورګمارل او په نظامي قدرت یې خپل نفوذ ټینګ ساتی .

## ۱۷۹۸ میلادي :

سیر عزت الله هندي د یارکند، بخارا او افغانستان سفر پیل کړ چې تر ۱۸۱۳ پورې یې دوام وکړ. د ده په سفرنامه کې د ختیځ هند د برتانوي کمپنۍ له پاره د سیمې پېژندنې په باب ډېر مواد ور اندې شول.

د ختیځ هند برتانوي کمپنۍ چې مرکزي اسیا ته د نفوذ پراخولو پلان درلود نو د سیمې توپو ګرافیکي معلومات یې ارتیا درلوده د همدغه مقصد له پاره یې په همدغه ۱۷۹۸ کې یو بل هندوستاني شیخ رحیم علي هم دلته راواستاوه چې هغه د (بیان حالات منازل کابل از بلدهٔ شاجهان اباد) په نامه کتاب وکیښ. د دغو کار ونو لوی سازمان ورکوونکی د برتانیا غټ سیاسي مامور ویلیام مور کرافت نومیدی چې په لندن کې یې جراحي کوله او د اسانو د نسل پېژندنې متخصص وه. دی چې د کمپنۍ (د ختیځ هند) له خوا استخدام شو نو د (تارم) (سیحون) (اکسوس) او (اندوس) دحوزو د سروې وظیفه ورو سپارل شوه. ده سیر عزت الله راولیږی او بیا یې په ۱۸۲۵ کې د هغه ګزارش په کلکته کې چاپ کړ. دا سړی پخپله هم افغانستان ته راغلی کابل، بلخ او میمنه یې کتلي څو په اندخوی کې مړ شو. د ختیځ هند د برتانوي کمپنۍ ماموران، توپوګرافران او جاسوسان په دغه وخت کې د آسانو د نسل پېژندونکو او سوداګرانو په جامو کې راتلل.

## ۱۷۹۸ جولای :

دسدوزي شازمان نظامي فعالیتونه په پنجاب کې د برتانوي پر مختیا له پاره خنډ واقع کیدل، نو برتانیا د میان غلام محمد هندي

په وسیله چې په کندهار کې یې نفوذ ورکړی وه د شا زمان د خلع کودتا ته سازمان ورکړ. دا کودتا افشا شوه چې په هغه کې میان غلام محمد د تیښتې په حال کې ونیول شو او ووژل شو. د دغې کودتا د غړو څخه بل عمده سړی سردار پاینده خان د محمدزوا سرا و نیکه هم د زمان شاه له خوا اعدام شو. په دغه عمل په افغانستان کې د کورنۍ جګړې اور بل شو. د دغه کال په اکتوبر کې شا زمان د بولک نظامي مفرزې سره پېښور ته ورسېد چې له هغه ځایه هند ته ولاړ شي. په هند کې بریتانوي اداري ته ډېر سخت اضطراب پېښ شو.

## ۱۸۰۰ م :

د ایران په قاچاري دربار کې د بریتانوي ډیپلوماسۍ نفوذ ایران ودې ته ولمساوه چې پر هرات یرغل وکړي څو د شا زمان مخه له هند څخه وګرزول شي. د ختیځ هند بریتانوي کمپنۍ ډیپلوماټانو په ایران کې د شا زمان ورور محمود او وزیر فتح خان چې د فرار په حال کې هلته اوسېدل ولمسول چې د شا زمان پر ضد مسلحانه حرکتونه پراخ او چټک کړي.

## ۱۸۰۱ م :

د ختیځ هند د بریتانوي کمپنۍ ډیپلوماټ لارډ ویلزلي چې د هند د ګورنر جنرال په توګه یې د چارو اداره په لاس کې درلوده په ایران کې بریتانوي نماینده ته لارښوونه وکړه چې د ایران شاه بریتانیا ته تطمیع کړي او دغه سړي یعنې کپتان (وروسته سر جان) مالکم د ایران له شاه فتح علي شا سره یو تړون لاسلیک کړ چې پنځه مادې یې درلودې او د هغه دوو مادو د افغانستان په امورو کې د لاندې په توګه مداخله درلوده.

د ټرون په دوهمه ماده کې وايي:

((که د افغانستان باچا تصميم ونيسي چې پر هند حمله وکړي، څرنګه چې د هند اوسيدونکي د انګلستان د پادشاه رعايا دي نو د ايران د شاه له خوا به يو منظم لښکر افغانستان ته واستول شي چې هغه هيواد مضمحل کړي.))

دريمه ماده.

((که د افغانستان باچا د صلح او دوستۍ له لارې را وړاندې شي نو د پارس (ايران) شهنشاهي دولت به دا مسله روښانه کوي چې د افغانستان باد شاه او لښکر پر هند د يرغل فکر وره د تل له پاره د خپلې ککرې څخه ايستلی ده.))

جان ملکم ته وظيفه ورکول شوې وه چې په موقت ډول شا زمان دومره وخت په افغانستان کې مصروف کړي چې دوی د پنجاب خوا ته د خپل پلان بنسټونه قوي کړي. کله چې د ټرون لاسليک شو او بيا په دغه کال د شاه زمان ورور شهزاده محمود او وزير فتح خان له ايران څخه د شاه زمان د مقابلې له پاره وو تل او کندهار يې اشغال کړ او افغانستان په داخلي جګړه کې راښکيل شو نو ملکم ولاړ ډويزلي ته و ليکل چې پر هند د شاه زمان له خوا نه يوازې په موقت ډول د حملې پلان شنډ نه شو بلکې تر ابده لا باد پورې به دغه په ککره کې د هند فکر ورونه ګرځي.

## د ۱۸۰۲ څخه تر ۱۸۰۸ م پورې

د انګليسانو په لمسون د ايران له خوا پر هرات يرغلونه، دد راني تيمور شاه د زامنو ترمنځ پر پاچهۍ جګړې، د شاه زمان خلع او ړوند يدل، د شاه شجاع پر سر اقتدار کيدل، دد غه وخت لوی پېښې دي.

کله چې په ۱۸۰۷ کې د تزاری روسیې امپراطور دوهم الکساندر او د فرانسې امپراطور بوناپارت ـ ناپلیون د تیلیست په سیمه کې سره وکتل او پر هند د یرغل پلان طرح شو انګلستان ته وار خطا یې پیدا شوه.

## ۱۸۰۸ ـ م

ناپلیون پر هند د یرغل پلان فورمولبندی کړ. د فین کنشتاین په سیمه کې د ایران نماینده میرزا رضا قزوینی د امپراطور ناپلیون سره یو تړون لاسلیک کړ چې به هغه کې د فرانسې طرف ایران ته وعده ورکړه وه چې د ګرجستان سیمه به له روسیې څخه وایران ته را ګرزوی او ایران تعهد کړ وه چې د فرانسې قواوی به د افغانستان له لاری د هند په یرغل کې تقویه کوی او په افغانستان کې به د د غو قو او له پاره خوار وبار برابروی. په دغه تړون کې چې د فین کنشتاین د تړون په نامه یاد یږی فرانسې د ایرن د نظامی تنظیم له پاره جنرال کاردان را واستاوه او هغه ته وظیفه ور کول شوه چې د ایران او افغانستان له لارې هند ته د فرانسې د یرغل په رابطه مطالعات وکړی او ګزارش وامپراطور ناپلیون ته وړاندی کړی.

## ۱۸۰۹ ـ م

د فین کنشتاین تړون چې انګلیسان ئې په سختۍ ویره کې اچولی وه، نو د یرژر یې په پنجاب، سند او افغانستان کې سیاسی فعالیت پیل کړ. د غه وخت د هند د ګورنر جنرال په توګه دویم لړلی پر ځای لارډ منټو اداره په لاس کې اخیستی وه هغه یو هیئت د مونسټوارت الفنسټن تر مشری لاندی د شاه شجاع دربار ته او د

(مستر متکاف) په مشری یو پلاوی په پنجاب کی د رنجیت سنگ دربار ته ولیږی.

مونستیوارت الفنستن په پېښور کی د شاه شجاع الملک سره تر کتنی وروسته یو تړون له دغه باچا سره لاسلیک کړ چی عمده ټکی یی دا وه:

لومړی ماده: څرنګه چی ایران او فرانسې د کابل د حکومت پر ضد یو تړون (مقصد د فین کنشتاین تړون دی) لاسلیک کړی دی چی غواړی د افغانستان له لاری پر هغه یرغل وکړی. د افغانستان د اعلیحضرت عمال به هغو ته موقع ورنه کړی چی د دوی له خاوری څخه دغه قواوی هند ته راتیری شی او کلک مخنیوی به یی وکړی.

دوهمه ماده: که د ایران او فرانسې قواوی پر هند د یرغل په خاطر افغانستان ته ننوزی د هغو مخنیوی به د افغانستان او بریتانوی هند له خوا په گډه کیږی، او ټول مصارف په دغه لار کی انگلستان پر خپله ذمه اخلی، تر هغه وخته چی د ایران او فرانسې ترمنځ تړون (فین کنشتاین) پر ځای وی د افغانستان او انگلستان ترمنځ به دا تړون (پېښور) اعتبار لری.

دریمه ماده: د دغی دوستی اساس به د تل له پاره پاته وی او هیڅوک به د دواړو خواو څخه یو د بل د هیواد په داخلی چارو کی مداخله نه کوی او د کابل باچا به هیڅ یو فرانسوی ته اجازه ورنه کړی چی د د هیواد ته داخل شی ))

الفنستن د دغه تړون تر لاسلیک وروسته د خپلو ایجنټانو په وسیله د افغانستان د توپوگرافیک جوړښت، د باچا د نفوذ، د قبایلو د مناسباتو، نظامی، اقتصادی او سیاسی

جوړښت او د خانانو ترمنځ د نقاضتونو د حساسو ټکو په باب یو مفصل گزارش د ختیځ هند بریتانوي کمپنۍ ته وړاندې کړ . د دغو جاسوسي راپورونو څخه یې ور وسته خپل معروف اثر ( د کابل سلطنت په باره کې ) په دوو ټوکو ولیکئ .

د دې تړون د لاسلیک رنگ لا وچ شوی نه وء چې شاه شجاع الملک دورونو په مقابله کې مات شو او د انگلیسانو د یو څېره خور په توگه د هندوستان په لودهیانه کې استوگن شو .

## ١٨١٠ - م

انگلیسانو د خپلو استعماري پلانونو د پیاده کولو لپاره د بلوچستان مطالعې ته پیل وکړ ، د ختیځ هند د بریتانوي کمپنۍ له خوا پوتینگر د سیاحۍ په جامه کې د بلوڅو د خان میر محمود خان دربار ته راولیږل شو . هغه یو منظم گزارش تهیه کړ او د قلات د خانانو د دربار د نفوذ د ساحې په باب یې د دغه گزارش په یوه برخه کې داسې ویلي دي :

« د لمس بیلي جام ( د دغې ځای د مشرې اعزازي لقب دی ) ډېر قوي دی او د میر محمود خان تر اقتدار او اثر لاندې دی د سار او ان د سردارانو څخه گل محمد خان قمبراني میر محمود خان ته وړاندې دی . میر عباس خان سردار دی خو په حقیقت کې د میر محمود خان ما تحت دی . په نوشکې کې سردار ابدل دی چې د میر محمود خان دوست دی . ))

دغه ماسور په ١٨٣٧م کې د اسانو د سوداگر په جامه کې کابل ته راغی او بیا د ملایانو په کالو کې هرات ته ولاړ . ده د هرات د محاصرې په وخت کې ملایي کوله او په پټه یې راپورونه تهیه کول .

## ۱۸۱۲ - م

دافغانستان او مرکزي اسیا دچارو بریتانوي متخصص ویلیام سورکرافت چې دخپلو ایجنټانو په وسیله یې معلومات تهیه کړي وه دروسیې او دهند پر شمال لویدیځ تجارت یې خپل راپور ترتیب کړ .

## ۱۸۱۳ - ۱۸۲۵ م :

د ناپلیون د یرغل خطر د بریتانیا له مستعمري هندوستان څخه رفعه کیږي . په افغانستان کې دسدوزي او محمدزي شهزادګانو په وینو لړلې داخلي جګړو انګلیسانو ته دا فرصت برابر کړ چې په پنجاب اوسند کې نفوذ قایم کړي او دافغانستان او بلوچستان د اشغال او مرکزي اسیاته دنفوذ دخپرولو په باب مطالعاتوته ادامه ورکړي ه

## ۱۸۲۵ - م :

د ختیځ هند د بریتانوي کمپنۍ معروف مامور ویلیام موا کرافت د اسانو دښه نسلونو د پلټنې په پلمه له کشمیر څخه کابل ته راغی له هغه ځایه بلخ او میمنې ته ولاړ ، ځو په اندخوی کې مړ شو .

## ۱۸۲۶ - م :

. چارلس میسیون بریتانوي رپوټ لیکونکی افغانستان ته راغی . دی تر ۱۸۳۸ پورې په افغانستان کې وه . د ده له مطالعاتو او او معلوماتو څخه د بریتانیا سیاسي دفترونو ډیره استفاده وکړه .

د دغه سړي د یادداښتونو مجموعه په دري ټوکه په کال ۱۸۴۲ م له لندن ځخه خپره شوه .

## ۱۸۳۱ م :

د بریتانیالوی سیاسي مامور سر الکساندر برنس بلوچستان و کوټ او د قلات د خانانو په باب یې مطالعات وکړل .

## ۱۸۳۲ م :

الکساندر برنس د بخارا یې سوداګر په بڼه په بخارا او شمالي افغانستان کې وګرزید او په مفصله توګه یې د افغانستان او منځنۍ اسیا په باب راپورونه تهیه کړل .

## ۱۸۳۴ م :

د امیر دوست محمد او مهاراجه رنجیت سنګ لښکري چې د پېښور په شاو خوا کې سره مخامخ شوي رنجیت سنګ د خبرو په پلمه خپل نماینده امریکایي ماجراجو (جوزف هارلان) امیر دوست محمد ته ولیږه دغه سړي د دوست محمد په لښکر وکې په توطیه اورشوتو نو اختلاف پیدا کړ . کارل مارکس په دغه باب لیکلي دي : ((نارضایتي شروع شوه، نیمایي لښکر و تښتیدا او نور په مختلفو لارو خپلو ځایو نو ته بیرته ستانه شول ، دوست ـ محمد بیر ته کابل ته راستون شو .))

## ۱۸۳۶ م :

رنجیت سنګ له خوا د پېښور تر نیولو وروسته امیر دوست محمد یو مکتوب د هند ګورنر جنرال لارډ اکلنډ ته او بل مکتوب د تزاري

روسیې امپراطور لومړي نیکلاي ته واستاوه او د رنجیت سنگ په مقابله کې یې مرسته وغوښته .

## ۱۸۳۷ م :

دامیر دوست محمد ایلچي چې د بخارا څخه اورینبورگ ته رسیدلی او له هغه ځایه د بریدمن و یتکیویچ په ملگرۍ پطرز بورگ ته تللی ؤ د روسیې دیپلوماتیکي اداري ویتکیویچ ته وظیفه ورکړه چې د حسین علي سره د تزار امپراطور پیغام وامیر دوست محمد ته ورسوي . ویتکیویچ کابل ته راغی او امیر ته یې د تزار توصیه وویله چې لمسیردي لومړی په کندهار کې د هغه ځای د حکمرانانو سره چې د ده وروردي یعني کهندل‌خان سره روابط دوستانه کړي او بیا دي د پارس (ایران) سره دوست شي څو په دې ډول د دښمنانو له لاسبري څخه نجات پیدا کړي .

په همدغه وخت کې د بریتانوي هندله‌خوا یوهیئت د الکساندر برنس په مشرۍ د سیاسي او اقتصادي خبر وله پاره کابل ته راغی له ده سره میجر لیچ ، او بریدمن وود هم ملگری وه .

امیر دوست محمد د برنس سره په مفاهمه کې وویل چه که انگلیسان ده ته د وه زره توپکونه او د ابا سنید لوید ځي سیمې و سپاري نو دی به د انگلیس دوست شي . برنس په ۱۸۳۸ کی بیرته هند ته و لاړ ، کله چې یې د دوست محمد شرایط نوی گورنر جنرال لارډ اکلیند ته وویل هغه شاشجاع ته پر دوست محمد تر جیح ورکړه .

## ۱۸۳۷ م :

الکساندر برنس چې د کابل خوا ته راروان ؤ ، ده ته وظیفه

ورکول شوی وه‌چی دقلات خانی‌هم وګوری هغه‌د قلات دخان میر محراب خان زوی اوولیعهد میر نصیر خان ته‌یو لیک ولیږی اود انګریسانو سره‌یی دبلوڅانو ددوستی هیله‌وکړه .

## ۱۸۳۸ م :

دجون په ۲۶ دلاهور مثلث‌یادری ارخیزه تړون دشاشجاع الملك ، رنجیت‌سنګ اودهندد ګورنرجنرال لارډاکلیند په‌نما یده‌ګی ویلیام میکنا تن لاسلیك کړ .

ددغه تړون دری ماده چی‌ر نجیت سنګ ته‌یی دخیبراو بولان تردرو پورته سیمی بخښلی صرف دد ی له‌پاره وه‌چی شاشجاع په کابل کی‌تاج اوتخت‌ته ور سپری په عمده توګه دتړون غټ ټکی داوه :

(۱) شاشجاع الملك‌د افغانستان له‌هغو ټولو متصر فاتوله حقوقو څخه‌صرف نظرکوی چی‌دسندد رود لویدیځی خواته په پنجاب او کشمیرکی واقع دی . دغه سیمی پیښور اود یره جاتوپه شمول مهاراجا رنجیت سنګ‌ته ورسپاری .

(۲) رنجیت سنګك‌وعده کوی‌شاشجاع الملك‌دو باره دکابل تخت‌په تصرف کی‌راولی اورنجیت سنګك به‌سرسته ورسره کوی .

(۳) د بریتا نیادولت د جا نبینود یو دوست‌اوخیرغو ښتونکی (!؟) په توګه تعهد کوی چی طرفین د خپلو اهد افوپه حصول کی بر یالی شی .

تر دی تړون وروسته د لار ډ الکیند له خوا دسملی معلومه اعلامیه چی په‌تاریخ کی د سملی نوم‌ور کول‌شوی اودهغه‌تطبیق

د برېتانوي واقعات لیکونکو له خوا د اکلینډ حماقت یا لیونتوب
( Auckland's Folly ) بلل شویدی خپره شوه .

دغه د ملتونو اعلامیه چې ددغه کال په اکتوبر کې صادره شوې وه پر امیر دوست محمد الزامونه لګول شوي او په کې ویل شوي وه .

(( . . . اعلیحضرت شاه شجاع د خپلو قومونو په حمایت افغانستان ته ځي او د پردو د تېري د مخ نیوي په خاطر به برېتانوي اردو د ده د حفاظت له پاره روانه وي . ))

ددغې اعلامیې په باب پخپله یو انګلیس مورخ (ج. کې) وایي:

(( . . . دا اعلامیه که د مطلقو جعلي اسنادو مجموعه ونه بلل شي نو د حقایقو د بېشرمانه تحریف څخه یې سرګړی نشي پټېدلای . )) دغه اردو په نوامبر کې د سند له لارې د کندهار خوا ته حرکت وکړ او په دسمبر کې شاشجاع پسې را روان شو .

اردو د خپل نظامي جوړښت له لحاظه د وه ډیویژنه وه چې د وو ریزرف لښکرو او دشاه شجاع او دهغه د زوی تیمور لښکر بدرګه کوله په دې توګه :

(( د بنګال ډیویژن ( څلور غونډه د تورن جنرال سر ویلبي کاټن په قوماندانی ۹۵۰۰ نفر

د بمبې ډیویژن (دری غونډه د بریګېډ جنرال سر جان کین په قوماندانی ۵۶۰۰ »

د تورن جنرال ریزرف پوځ ۴۲۵۰ »

د بمبې ریزرف پوځ ۳۰۰۰ »

د شاه شجاع لښکر ۶۰۰۰ »

د شاه شجاع د زوی شهزاده تیمور لښکر ۴۸۰۰ »

د پنجاب د سکانو د دولت له خوا د مسلمانانو د رسته‌یال لښکر ۶۰۰۰ نفر د سکانو قوت الظهر ۱۵۰۰۰»

د دوی سره ۵۴ توپونه ۸۰۰ توپچیان ۳۸۰ سهندسان د سند له لاري موظف شول همدارنګه ۱۶ توپونه ۱۴۰ توپچیان او ۲۵۰ سهندسان د خیبر له لاري مامور شول چې پر افغانستان راپورته شي. په مجموعي توګه (۵۴۱۰۰) نفر چې ۱۲۰۰۰ یې د لوازمو کار کوونکي وه د (۳۰۰۰۰) اوښانو سره روان شول. هغه لښکر چې بايد د خیبر له لاري کابل ته راغلی وای رنجیت سنګ په وېره کې واچاوه او موافقه یې ونه کړه نو ځکه د هغه لښکر یوه برخه هم د سند او بلوچستان پر خوا افغانستان ته راروان شول.

## ۱۸۳۹ م :

د شاه شجاع درا تلو له لښکر سره چې الکساندر برنس او ولیام میکناټن مملګري وه له کویټې څخه برنس ته وظیفه ورکول شوه چې د قلات خان میر محراب خان د یوه تړون لاسلیک ته تیار کړي. برنس چې د محراب خان سره وکتل افغانستان ته د بریتانوي لښکر کشي مسئله یې د سیکولوژیکي فشار په توګه یاده کړه او هغه ته یې وویل ((د هند بریتانوي قوای افغانستان ته ننوزي!)) محراب خان چې د تجربو خاوند سړی ؤ، وروځې یې سره کش کړې جواب یې ورکړ ((د اډیر ښه! خو څرنګه به بیرته راوزي؟))

د محراب خان او برنس د تړون غټ ټکي داوه:

۱- د افغانستان خواته د کچهي او بولان له لاري د انګلیس ښکرو ته د تیریدو عامه اجازه ده د قلات خان د انګلیس لښکرو

در سل او حمل و نقل د وسایلو حفاظت او ساتنه پر غاړه اخلی.

۲ـ دانګلیس پوځ ته په لارکی داجناسو تهیه او دبار وړونکو حیواناتو برابرولو کار دقلات خان پر خپله ذمه اخلی.

۳ـ د قلات خان میر محراب خان به په شالکوټ کی دشاه شجاع الملک هرکلی کوی او دهغه اطاعت به قبلوی.

۴ـ دپورته ذکر شوو خدماتو په مقابل کی دایست انډیا (ختیځ هند) کمپنی او دشاه شجاع الملک حکومت به خان قلات دقلات دخان په توګه منی.

۵ـ دختیځ هند کمپنی او دشاه شجاع الملک د حکومت له خوا په هر کال یو نیم لک روپی دمرستی (سب سایډی) په توګه خان قلات ته ورکول کیږی.

دقلات دخان په دربار کی دملاقات پروخت معروف جاسوس موهن لال هم د برنس سره ملګری ؤ او هغه له دغه ځایه دقلات په دربار یانو کی د رشوتو نواو وعدو له لاری دتوطیو لومړی اوسی کښېښولی.

## ۱۸۳۹ اپریل

شاه شجاع د بریتانیا د قواو په مرسته کندهار و نیوی او هلته یې د باچهی جوغه په سر کی کښېښوله او د بریتانیا دسیاسی مامور میکناټن سره یې یو تړون لاسلیک کړ چی د کندهار د تړون په نامه یادیږی. په دغه تړون کی (دلاهور تړون) یو ځل بیا تائید شو او په شاه شجاع دا ومنل شوه چی په خپل دربار کی به دانګلیس نماینده قبلوی.

ACKU

جولای: بریتانوي قواوو چې شاه شجاع راروان کړی ؤ غزني ونیوی.
اگست: کابل ونیول شو او شاه شجاع په بالاحصار کې کښېنا ست او مېکناټن د هغه ارخ ته ځای ونیوی. د انگلستان حکومت (شین کتاب) خپور او پارلمان ته یې وړاندې کړ. په دغه کتاب کې افغانستان ته د شاه شجاع او بریتانیا د قواوو د راتگ په باب حقایق نه بلکې جعلیات ځای کړه شوي وه.
کارل مارکس د هغه په باب داسې لیکلي دي: «پر افغانستان تېری د پال مرستون له خوا په دې ډول تبرئه شوی ؤ چې گواکې سر، ا، برنس مشوره ورکړې وه چې د هغه څخه په مرکزي آسیا کې د روسیې د دسیسو په ضد یوې وسیلې په توگه کار اخیستلی شي.
لیکن لکه څرنگه چې معلومېږي، برنس برعکس فعالیت کړی ؤ او په همدې سبب دوست محمد خان سره سرسټي کولو ته د ده تولې بلنې د پال مرستون په (شنه کتاب) کې بېخي نه دي یادې شوې، سربېره پر دې مکاتیبو ته د تحریف او جعل کارې په وسیله داسې مفهوم ورکړې شوی وه چې د لومړي مفهوم سره یې پوره ضدیت درلود.» کارل مارکس په دې ارتباط بل ځای داسې لیکلي دي: «د پال مرستون لومړۍ جگړه د افغانستان سره لومړۍ جگړه وه چې د پارلمان له تصمیم څخه پرته شروع شوې وه او د هغې د تبرئه کولو له پاره د جعلي اسنادو څخه کار اخیستل شوی ؤ.»
په هرات کې کپتان الیوټ دارسي تاډ ځای پر ځای شو، هغه د هرات واکدار کامران میرزاد ۲۰ زرو روپو په مقابل کې حاضر کړ چې د هرات خارجي سیاست د انگلیسانو په لاس کې ورکړي. د دغه سره یې په بخارا، خیوا او خوکند کې د تسلط د پراختیا له پاره بریتانوي افسران

، د. ابوت ، ر . شکسپیر ، چ سیتدارت او ا . کونولی هغوخوا ووته واستول .

سپتمبر : دغلجی کلات دشمال او دکابل او غزنی په منځ کی وطنپالونکو دانګلیسانو دبدرګی ټولګی ته ماتی ورکړه اودهغه ټولګۍ قوماندان دګروال هیرنګ یی ووژه . دالومړی او ډیر سخت دخطر زګنال وچی دانګلیسانو غوږونه یی وټخنول .

نومبر : الکساندر برنس چی دبلوڅو دخان میرمحراب خان سره په ملاقات کی تحقیر شوی و او عقده یی اخیستی وه ، نبلی خواددچه هغه بکس چی دخان قلات سره دده دتړون کاپی پکښی وه ، ددوو زرو روپو سره لوټ شو ، نوده ته دخان قلات مخالفینو دارپوټ ورکړ چی په دی کی دخان قلات لاس و . دبرنس جاسوس موهن لال چی دخان قلات رقیب شاهنواز خان حمایه کاوه نوبرنس او میکناټن ودی فیصلی ته ورسیدل چی په یوه لازم فرصت کی میر محراب خان ته سزا ورکړی .

کله‌چی میکناټن او برنس دشاه شجاع سره ځای پرځای شوه نو په کندهار کی یی بریتانوی قوماندان ته خبر ورکړچی دقلات دخان تکولوته قوه ولیږی . په دی برخه کی دهند دګورنر جنرال امرهم صادرشو . دغه منظمه قوه دمیجر ولشایر په قوماندانی په نوامبر کی دکویټی څخه دقلات خواته روانه شوه ، په ساراوان جالاوان کی مرتجع سردارانو هرکلی ورته ووایه .

وطنپالونکی اود انګلیسانو ضدخان میرمحراب خان چی سردارانو ته دمرستی خواست وکړ هغو مرسته ورنه کړه . خان یواځی پاته شو او ددری سووسپایانو سره یی دقلات په میری ( دخان کلا ) کی ځای ونیوی . انګیس قواوی قلات ته ورسیدی او دخان مرتجع پیشکار ملامحمد

حسن چې د سوهن لال جاسوس و رخخه جوړ شوی ؤ. بریتانوی قوماندانانو ته د کلاپټي لارې وښوولې ، کلات ته شوه او میر محراب خان او ملګرو یې په توروجنګ پیل کړ. د غرسي خوا ته میر محراب خان او ملګري یې ټوله په شهادت ورسیدل .

په د غو شهیدانو کې میر عبدالکریم رئیساني، میر ولی محمد خان شاهي زي مینګل ، میرداد کریم شهراني ، فضل لهړي نبي بخش جتویي، قیصر خان او شاه دوست بیزنجو، محمد رضا وزیرخیل ، نور محمد او تاج محمد شاغاسي خیل نومونه د بلوڅو په قهرمان تاریخ کې ځای ونیوی.

## ۱۸۴۰ م :

د شاشجاع څخه صلاحیت انګلیسانو ته انتقال وموند او شاه شجاع د ګوډاګي څخه زیات کوم حیثیت نه درلود . میکناټن د صدراعظم او برنس د وزیر داخله په حیثیت ځان ته قایل شول، د مخفي اطلاعاتو اداره د پراخو فعالیتونو له پاره د برنس د منشي موهن لال تر سرپرستۍ لاندې فعاله شوه. نظامي اداره د جنرال کین په لاس کې وه چې وروسته د ده په عوض زوړ سړی جنرال الفنسټن ورته را مقرر شو .

د شاهي ګارد قوماندان د ګرمن د یني ( Dani ) ؤ چې مستقیماً بې شاه شجاع ته وهیناوه او کله چې هغه برنس ته شکایت وکړه او برنس د ګرمن د یني ته منت وکړ، د یني په زیات قهرو ویل : ما ته شاه شجاع اهمیت نه لري زما آمر لارډ اکلینډ دی.

نو رشاه شجاع د بالاحصار په حرامسرای کې د یوی ګلې ښځو او کوچنیانو سره پاته شو او د ولس اداره انګلیسانو په لاس کې واخسته له د کندهار اداره د معروف بریتانوي محقق راولنسن په لاس کې وه چې یو

پر رویه او ظالم سړی وه دی عالم هم وا و د ایران د بې ستون پر دېر لیک
د منځي لیک کاشف دی .

دده او د هغه د ځای د نظامي قوماندان ترمنځ مخالفت وه. په هرات کې کامران میرزا د هغه د معروف او وطن پرست وزیر یار محمدخان له خوا لومړی بندي او بیا و وژل شو. انګلیسانو د هرات په باب نوی تشویشونه پیدا کړل. په کابل کې میکناټن او په هند کې لارډ اکلېنډ ګورنر جنرال د هرات نوی مطالعه پیل کړه څو یې وروسته بریټانوی مامور تاد یوځل بیا هغې خوا ته مامور کړ .

اپریل - می: په غلجي قلات کې د پارتیزاني جنبش مبارزانو د کابل او کندهار لار غوڅه کړه او د لارې ګارنیزیونونو ته یې ډېر زیانونه ورسول ، میکناټن کوښښ و کړ چې د هغه ځای فیوډالانو ته د پیسو د بوجیو په وسیله پردی او وراوبه توی کړي خو جنبش زیات پراخ شو .

دغې وضعې د بلوڅي قلات خوا ته هم اغیزې و کړې او د دوهم بریدمن کیلي ټولګي مبارزانو له منځه یووړ، د بلوڅي قلات ښار یې و نیوی او هلته یې انګلیسي ګارنیزیون پو پنا کړ . د قلات تر تخلیې وروسته د میر محراب خان شهید زوی میر نصیر خان د قلات د خان په حیث خان شو .

اګست: دوست محمدخان چې شاه شجاع ته د کابل تر تخلیې وروسته بخارا ته تللی ؤ له هغه ځایه په تېښته ترامورا او ښتا و په جګړه یې پیل کړ .

سپتمبر : د پښتنو ، تاجکو، هزارو او ازبکو مبارزان د دوست محمد خان سره ملګري شول او بیا میدان یې آزاد کړ .

د دغه کال له پیل څخه په شمالي (کوهدامن) کې د میر مسجدي خان

په مشری خلکو دا نګلیسا نو پر ضد قیام کړی و .

نوسبر : د دوست محمدخان په مشری افغا نی قواو د پروان په ناوه کی د جنرال سیل قواو ته ماتی ورکړه ، د دغی لوا سیاسی افسر سر ویلیم سوال لاتر نښستی پخوا اعلان کړی و چی هرڅوك دوست محمد ژوندی یا د هغه سری بر یتا نوی قواوته وسپاری هغه ته به سل زره روپی انعام ور کړی، خوپه جګړه کی پخپله سر ویلیم سوال ووژل شو .

په ناڅاپی توګه دوست محمد خان چی په جګړه کی بریالی و کابل ته راغی او ځان یی میکنا ټن ته و سپاری او هغه هم د ده له ال او عیال سره په هندوستان کی د لود یانی هغه ځای ته واستاو چیری چی شاه شجاع د تبعید ورځی هلته تیری کړی وی .

انګلیسا نو او شاه شجاع په کابل او هند کی جشنونه و نیول او داسی فکر یی کاوه چی نوره نو د افغا نستان فا تحه وویل شوه، خو! (( هزار باده ناخورده در رګ تا ک بود )) څرنګه چی د بر یتا نیا د استعمار پر ضد د افغا نستان خلکو مبارزه پیل ګړی وه نو دوست - محمد خان په تسلیمی او تبعید هغه پای ته نه رسیده ، بلکی ورځ تر بلی سختیده .

دا ځل پر انګلیسانو نا راسه تیر شو ، میکناټن ، برنس او شاه شجاع تعجب کاوه چی دوست محمد هم له منځه ولاړ ولی د دوی تکلیف لا نه یوازی کم نه شو بلکی سخ پر زیا تو ب دی .

د یعقل اکلینډ چی د بر یتا نیا د لوی لقب ارل (          ) په میډال نا زول شوی و .

او د القب یې د افغانستان د فتح او سوبې په خاطر ترلاسه کړی و د نورو بریالیتوبونو طفلانه خوبونه یې لیدل او له دې څخه ناپوهؤ چې د دغو خوبونو تعبیر به په ۱۸۴۱ کې ورته راوونې.

## ۱۸۴۱ م :

د کال په لومړیو دروسیاشتو کې په هرښاراو کلی کې خلکو د یوه قیام له پاره ترتیبات نیول .

قومی مشرانو حتی د لیرو فا صلو څخه هم سکا تې او مفاهمې پیل کړې وې .

اپریل : د بریتانوی هندله خوا ویلیام جارج کیت الفنستن چې د نا پلیونی جګړو وخت مصبداروؤ او اوس جنرالی ته رسیدلی ؤ په افغانستان کې د بریتا نوی قواود لوی قوماندان په توګه کابل ته راولیږی ، داشپیته کلن او سپین ږیری افسرچې د نقرس په ناروغی اخته ؤ او د تګ پر وخت به یې ځنګوبل د هغه پخوانی مونسیتوارت الفنستن د کاکا زوی ؤ چې په ۱۹۰۹ کې یې د شاه شجاع سره د پیښو ر تړون لاسلیک کړی ؤ .

همدغه داپریل په میاشت کې د غلجی قلات خلکو د ګل محمدخان په مشری قیام وکړ . قیام کوونکو د کندهار د قواؤ سیاسی نماینده لیچ ته اجازه ورنکړه چې د دوی کلاوی تلاشی کړی .

د تلاشی له پاره په قلات کې انګلیسی قواو د توپو په زوریوه کلا تلاشی کړه او د قیام کوونکو دوه هلو له پاره جنرال ناټ یو دسرو کندك د غلورو توپو سره هلته ولیږي .

مې : دخلکو او انګلیسانو ترمنځ په قلات کی جګړی د وام درلود، ولسی قواودګل محمد خان په مشری په تورو ددشمن داورنی و سلې په مقابل کی جګړه کوله اودیر زیات تلفات یی ورکول خو ددشمن مورال یی کمزوری کړ .

جون: په کندهار کی ولسی قیام دمحمداخترخان علیزی په مشری پیل شو اود انګلیسانو سره یی جګړی پیل شوی . راولنسن خپل مرستیال ایلیت په ښکاره دروغی دخبرو له پاره هغوی ته ولیږه خو په دننه کی هغه ته وظیفه ورکول شوی وه چی دمبارزانو په رهبری کی نفاق واچوی . سیکناتن له کابل څخه راولنسن ته ولیکل چی محمد اخترخان ونیسه او په داریی کړه وزیریار محمد خان له هرات څخه د کندهار ابدالیو ته لیك راواستاوه چی دمحمد اخترخان ملاتړ وکړی ، ده وعده ور کړی وه چی دده دمرستی قواوی به هم ژر کندهار ته ولیږل شی .

انګلیسان چی له وضع څخه پوه شول ډیر ژر یی داختر خان سره روغه وکړه او اختر خان دقوت دپیا وړی کولو له پاره ګر شك ته ولاړ . په ګرشك کی یو مشهور مبارز محمد اکرم خان دیو زر دوه سوه نفرو او څلورو کوچنیو توپو سره داختر خان ملاتړ وکړ . د کند هار څخه د انګلیسانو تازه دمه قوه دشاشجاع دزوی صفدر جنګ په مشری چی لوی قوی توپونه ور سره وه ګر شك ته سوق شوه دهلمند پر غاړو په جګړه کی ولسی قواو ماتی وخوړه او محمداکرم خان دهر اود ته ولاړ. دغه ځایه په چټکی کند هار ته راتیچی ونیول شو او په کند هار کی په توپ کیو الو زول شو (د کند هار په او سنی ښار کی پر دغه مبارز شهید دوه قبره جوړ

شوېدی سریې د احمد شاه بابا له گنبدې سره ښخ دی او تن یې په ارګ کې د کندهار ښار والي جنوب لوېدیځ ته ښخ شوېدی . هره د جمعې شپه د کندهار خلک د دغه مبارز پر دواړو قبرو شمع لګوي) د شهید اکرم تر شهادت وروسته د هغه مېرمن راغله پوړنی یې تر ملاو تړې پر اس سپره شوه او یوشمېر نورې مېرمنې ور سره مسلح شوې . دوی ډېر شدید جنګ وکړ خو د انګلیسانو له خوا محاصره او ونیول شوې ، د وی د میکناټن په امر کابل ته وغوښتل شوې خو د غزني په سیموکې د ملي مبارزینو له خوا د غوسجبومینو د قواو محافظ ګرا تفور دووهل شو او دغو ښځو ته نجات ور کول شو .

جولای : د غزني خلکو قیام وکړ د کابل او کندهار لار یې بنده کړه او د کندهار څخه چې دوی ته لی انګلیس عسکر کابل ته تله د هغو له افسرانو سره ټول له قتل شول .

اګست : د افغانستان د خلکو عمومي قیام انګلیسان د سختې وارخطايي سره مخامخ کړي وه ، دغه د اګست په میاشت کې یو انګلیس افسر په یوه لیک کې چې خپل کور ته یې لیکلی دی هغه حقایق بیانوي چې د وی ورسره مخامخ وه . دی لیکي : . . . دوه کاله وشوه چې موږ دلته یو، شاه شجاع د خلکو قبول نه دی ، ورځ تر بلې ناارامي زیاتیږي ، د خیبر خلکو ، غلجو او درانیو وسلې ته لاس اچولي دي . ایا موږ به بېرته استنیدلی شو ؟ خلک زموږ په تانو شبخونونه کوي ، زموږ عسکر زموږ د سترګو وړاندې وژني ، ایا دا حالات به لیدلای شي . او د امیواد

دارا استدلال شی ؟ هیڅکله نه؟ خاك زموږ څخه کرکه کوی، هر څوك چی فرنګی ووژنی غازی بلل کیږی . موږ باید سمدستی راستا نه شو که چیری زموږ دافتخا ر تواو حیثیت په تاوان هم تمام شی . ))

سپتمبر : دخلکو پر ګنی د شاشجاع ، میکنا ټن او برنس له اداری څخه په سخته توګه تنګ شوه . دامیر دوست محمد خان د زوی وزیر محمدا کبر خان سره څنګ په څنګ دقوموټو مشران لکه عبدالله خان اڅکزی ، امین الله خان لوګری او نور شامل شول چی په خلکو کی یی نفوذ او اعتبار درلود دوی دبرنس استو ګنځی چی په ښار کی ؤ په نښان نیولی ؤ .

په هرات او مرکزی اسیا کی دانګلیسا نو استعماری فعالیتو نه د خنډ ونو سره مخامخ شول .

ډ ګر من ستیوارت چی په هرات کی دوزیر یار محمد خان له خوا ترټل شو ، نود سرجان میکیل له خوا ماموریت ور کول شو چی دبخارا دامیر نصرالله سره وګوري . ستیوارت چی کله بخارا ته ولاړ هلته یی دامیر بخارا سره بی احترامی وکړه اوهغه بندی کړ ، میکنیل نما ینده کنولی چی هم هلته دبخارا دامیر اود خیوا دخان تر منځ تفتین کاوه و نیول شو داد واړه د ۱۸۴۲ په جون کی د بخا راد امیر په امر اعدام شول .

په ۱۸۴۱ کی وزیریار محمد خان نه یوازی په هرات کی دا نګلیس دنفوذ مخ نیوی کاوه بلکی په کندها رکی یی هم دانګلیس ضدقو اوی تشویقو لی اود بخارا امیرته یی هم لیکو نه لیږلی وه چی دستیوارت او کنولی لاس و هغه ته متوجه وی .

نومبر : د نوامبر په لو سړی شپه دعبدالهخان اڅکزی په کور کی غونډه وشوه اودقیام دسا زمانور کولوله پاره رهبری په دی ډول وټاکل شوه چی دامیر دوست محمد یوور اره ( محمد زمان خان ) مشهورپه نواب درئیس په توګه اوامین الهخان لوګری د نایب په حیث و ټاکل شول . نورهم مشر ان په تشکیلا تی توګه مقر رشول. یوشمیر خلک موظف شول چی هم دقیام رهبری ته اطلا عات راوړی اوهم ځینی درواغی اطلاعات او جعلیات دا نګلیسا نوارد وته رسوی .

د نوا مبر په د رهمه ورځ سهاچی در وژی ۷ ، ورځ وه ملی قیام پیل شواو دولس کسیز ی ا نقلابی شورا چی تېره شپه و ظیفه ورسپا رل شوی وه ، ملی قواوی تنظیم کړی . په دغه قیام کی تر هرچاد بازارد کا ند ارانو کسب ګرو اوډیار خواری کښنا نو لویه برخه واخیستله .

یونفر سلما نی اویو اهنګر دبالا حصار په وړ اندی سنګرو نیوی . یوی لوبی ډلی چی نا یب امین الله او عبداله خان اڅکزی یی په مخ کی روان وه دخرا بات په محله کی دبرنس کورته روان شوه. د برنس محا فظینو فیرونه پیل کړل اولو سړی سړی چی دهغه د کور پر دیو ال پورته شوها شم پروړ خر ګرنګی ( کاه فروش )ؤ .

برنس چی داجمعیت ولید خپلی ستر ګی یی په دسمال وپړلی اوجمعیت ته داخل شوځویو ګړی وروسته دهغه ککره دکابل پر چوك وځړیده . دده ورور چارلس هم ووژل شو او دوهم بریدمن براد څوت ژوبل شو .

موهن لال چی تښتیدی ونیول شواو په اعدام محکوم شو خو کلمه یی وویله او نواب زمان خان وشرین خان ته وسپا ره او په دی توګه خلاص

PROPERTY OF ACKU

شو. میکناټن ځان عسکري قشلې ته ورساوه او په کابل کې دانګلیسانو
کورونه وسوځول شواو د. ۷ کسو په حدود کې انګلیسي عسکر ووژل شول
د میکناټن له خوا پرله پسې موهن لال ته لیکونه لیږل کېدل چې د قیام
مشرانو ته د رشوت وعدې ورکړي او دوی یو له بله سره وجنګوي
خو د اچالاکي او توطیې بې اغېزې شوې.

د نومبر په ۱۰ ورځ مبارزینو د میا سنګ غونډۍ ونیوله، په
۱۱ د نوامبر په غزني کې کابل ته د کندهار اعزامي قوه نابوده شوه
د نوامبر په ۱۲ ورځ د ملي مبارزینو او انګلیسي قواو ترمنځ د
بې بي مهرو په شاوخوا کې سختې جګړې جارې وې.

په همدغه ورځ د دښمن جاسوس عبدالعزیز ملي مبارز عبدالله خان اڅکزی
د شا له خوا په تفنګچه وویشت او د دغه زخم څخه ۱۷ ورځې وروسته
مړ شو. د عبدالله خان تر مرګ درې ورځې وړاندې یعنې د نوامبر
په ۲۶ بل مشر مبارز میر مسجدي خان چې مسموم شوی ؤ مړ شو.

دسمبر: انګلیسان ودې باورته ورسېدل چې د وې ته نور د پاته
کېدو امکان نشته نو ځکه د دسمبر په ۱۱ ورځ میکناټن د ملي مشرانو
سره وکتل او د افغانستان څخه د برطانیا د قواؤ د وتلو په
باب یې په ۱۲ شرطونو کې د ملي مبارزینو سره بوتړون
لاسلیک کړ. په دغه تړون کې دا ټکي ډېر غټ وه چې
دانګلیسانو عسکر بې وسلې ایږدي او د افغانستان څخه به وزي. د
دوی بدرګه به سردار محمد عثمان خان او سردار شا دوله خان کوي.

انګلیسان به سمدستي امیر دوست محمد کابل ته رالیږي او
شاشجاع به تر هغه وخته په کابل کې وي. په اینده کې به هیڅکله
انګلیسان افغانستان ته د مداخلې اراده نه کوي.

(ددی تړون اصلی متن په کابل کی په ملی ارشیف کی قیدی.)

ددسمبر په ۱۳ الفنستن له مکناټن څخه په یوه لیك کی وغوښتل چی دیر ژرد تړون سره مطابق دتلوپرکار تلواروکړی، خومکناټن په توطئه ویل وکړ . ده وزیر اکبرخان او نوروملی مشرانوته لیکونه لیږل اوهغوته یی دپیسو وعدی ورکولی اوضمنا یی یو پربل یی اعتماده کول. ده وخت تیراوه څود کندهار یا پیښور څخه قواورته ورسیږی .

ددسمبر په ۲۳ دبی بی مهرو پرغو نډی دوزیر اکبرخان او نورو مشرانو او مکناټن ترمنځ ملاقات وشو . ملی مشرانو غوښتل مکناټن ژوندی و نیسی خو هغه ځان نه تسلیماوه څودوزیر اکبر خان دتمانچی مددسی یی په ځی ګرښخه شوه . په دغه وخت کی د مکناټن بل ملګری تریورهم ووژل شو . دلویی بریتا نیا اردوته سمدستی امرور کول شوچی له کابله و خو ځیږی .

## ۱۸۴۲ - جنوری :

په کابل کی دبریتا نیا قواوی چی جنرال الفنستن یی لارښوونه کوله دجنوری په شپږمه نیټه له کابله دجلال اباد خواته وخوځیدی. دلته بیاهم انګیسانود ۱۸۴۱ کال ددسمبرد ۱۱ نیټی له تړون څخه په مخالفت غدروکړ . په هغه تړون کی تعهدشوی ؤ چی انګلیسان به خپلی وسلی سپاری خوانګلیسا نوتوپونه له کار ه واچول او یوشمیر وسلی یی ځان سره واخیستی .

دجنوری له ٦ څخه تر ۱۳ پوری د بریتا نیا په یوه قول ۱۵ زره او په بل قول ۱۷ زره پنځه سوه انسران او افراد بیله یوه نفردا کتر براید ن څخه نورټول یو پنا شول سره . هدی چی بریتا نوی قوما نداتو

و افسرانو خپل تعهدات نه پرځا یول‌خو بیا هم وزیراکبرخان او احمد شاه خان غلجي د دوی‌ښځي، وار ه او نا روغان په‌خپل‌حما یت کي نیولي وه.
د دغي اردو د یوه‌ځیزه تباهي الزام تر دا او روسته‌وو ختو نو پوري دافغا نا نو په‌غاړه‌ؤ خو کله‌چي په ۱۹۶۳ کال کي‌دهند د دفتردوسیي لتول کیدی په‌هغو کي ددا کتر برا یدن گزا رش دده په خپل لیك پیدا شو چي په هغه کي د ا حقا یق پو ر ه ر و ښا نه شو یدي چي د غووژ ل شو یو کسا نو د مر گ باعث ددوي‌د خپلو افسر ا نو بي‌پروایي او بي‌دسپلیني‌وه . (دا گزارش‌چي د ۱۸۴۲ کال دجنو ري په ۱۹ لیکل‌شوي‌دي‌د اصل‌متن فوتو کا پي اودهغه مکمله ترجمه دم - ابراهیم عطا ئي‌د پښتو نستان مسئله دحق‌خود ارادیت په رڼا کي اثر په ۱۲۴- ۱۲۵- ۱۲۶- ۱۶۷- ۱۲۸- مخو نو کي ولولي دا اثر په ۱۳۴۸ کال‌د پوهني په‌مطبعه کي‌چاپ شویدی)

کله‌چي‌دغه اردود کابل اوجلال اباد تر منځ په دروکي‌محوه شوه او یوانځي سړی داکتر برایدن چي‌جلال اباد ته‌ورسید کارل مار کس دهغه‌انځور داسي ایستلی دی :

«د ۱۸۴۲ کال دجنوري د سیاشتي په ۱۳ نیټه دجلال ا باد دښا ر د دیوالو نو گزمو . . یوسړي‌ولید چي‌شلیدلي انگریزي عسکري جامه‌یي په‌ځان کي وه . هغه‌پر ډنگراس سپور و . . اوداډ اکتر برایدن‌وه ، دي‌دهغو پنځلس زروتنویوازني پا ته‌شوني‌و کوم‌چي‌دوې او ني‌پخواله کابل‌څخه راروان‌شوي‌و . دي‌دلوږي څخه‌مړ کیده .»

دجنوري په ۳۰ د بریټا نوي‌قواود یوه‌ځیزه تباهي‌خبرد بریتا نوي هند گورنرجنرال ا کلینډ ته ورسیداو هغه یي دلیو نتوب ترسرحده

ورساوه .

فروری : انګلیسانوخپل حماقتوواهه لندن ته ولاړلو پرځای یی لارډ ایلنبرو ګورنر جنرال په حیث هند ته راغی . دغه ګورنر جنرال په چټکی دوست محمدخان له منصوری څخه کلکتې ته راوغوښت .

مارچ : په کندهارکی دجنرال نات قواوی او په جلال اباد کی دجنرال سیل قواوی له وحشت سره مخامخ شوی او په کابل کی ددغو پاته شویو قواو دا یستلو له پاره ملی مبارزینو ترتیبات نیول . شاشجاع هم زړه نازړه له ویری د ملی مبارزینو سره دانګلیس پرضد دمبارزی دملګری اعلان کړی وو .

امیردوست محمد په کلکته کی د ګورنر جنرال ایلنبرو سره وکتل . دی انګلیسانو داسی ساتلی وو چی دافغانستان له جریانا تو څخه هیڅ خبر نه وو . ګورنر جنرال ورته وویل چی ته بیرته په کابل کی امیر شی او انګلیسان به له افغانستان بهر ووزی خو ته وزیراکبرخان ته ووایه چی دغه قواوی له لاری لیری شی څو انګلیسی قواو دوتلو لار خلاصه شی . دوست محمد چی د امارت زیری واوریده یی ویله دی چی د خپل عمل عواقب وسنجوی ژر یی وزیر اکبر خان ته ولیکل او دنښا نی له پاره یی خپلی عینکی او د نسوارو قطی هغه

اپریل : ته وا ستوله د اپریل په څلورمه شاه شجاع د ملی مبارزینو سره دملګری ترتیبات ونیول خو د اپریل په پنځمه ورځ سبا له وخته په شاهی ګاډی کی د تښتی په نیت له بالا حصار څخه ووت چی ځان انګلیسانو ته ورسوی خو څرنګه چی دی ښار ل کیدی نود بالا حصار شاو خوا ته نژدی د نواب زمان خان د زوی شجاع الدوله

خان له‌خوا ووژل شو. دا پر یل په دوهمه هفته کي و زیر محمد اکبرخان دخپل پلار په‌امر خپلي قواوي لغمان ته او له هغه ځايه نور ی‌هم پرشا بوتلي اوله‌دی‌سره‌سم دجنرال پالك په‌مشري (۹) زره عسکرد خیبر څخه پرجلال‌آباداو کابل‌ما رش‌وکړد دغه‌لښکرسره په پاشلی‌دول مباوز ائوجگړي کولی‌خو هغه کابل ته‌را نژدي کیدل .

اگست: داگست په‌۹ جنرال نات‌دشاه‌شجاع له‌زوي تیمور سره له کند ها ر کابل‌ته راروان‌شواود اگست په‌۲۰ جنرال سیل‌د خپلو لښکر وسره کابل ته راو خوځيدل .

داگست په‌۲۸ نات چی‌په دغه‌وخت‌کی معروف سؤ رخ راولنسن هم‌ور سره‌وه غزني‌ته راور سیدل . دوی ته پر لار محکمه چا څه نه ویل چی دوی ویل سو ې د کابل له لاري له افغا نستا نه و زو په غزني کی یی د سلطان محمود د وختو د لرگو زره دروازه چی هغه له هنده راوړي‌وه‌وکښله اوپر اوښ یی له ځان سره یو وړه .

سپتمبر: د پالك او نات قواوي کابل ته‌ور سیدی ه کابل خالي و ، دوی‌هغه بازار ته اورواچاوه چی هلته د میکنا تن سري زړول شوی وه . بیا یی د استالف کلی چی‌ملی مبارزانو جرگی‌پکښی کړي وی وسوځاوه .

اکتوبر: دجنرال پالك او جنرال نات قواوي له کابله رواني شوی او په کابل کی ئی دشاه شجاع زوی‌فتح جنگك‌باچا کړخودی‌هم‌ډیر ژرپه‌هغوپسي‌وتښتیدی .

نومبر: بریتا نوی قوا وی‌په ډیر تلوار دجلال‌آباد ، خیبر اوپیښو ر له‌لاري هند ته ستنی‌شوی . لارډ ایلنبرو دغو قواو ته‌په طنطنو هر کلي وواپه دهند دشهزاد گا نو او خلکوپه نامه یی یوه

د تفتین اعلامیه په دې جمله خپره کړه . «زموږ مومن لښکر په سلمه څو کاله د سومنات دروازه چې د افغانستان په لاس کې د هند د ذلت وسیله وه له ځان سره راوړه ، دا دې زه یې تاسو ته تقدیموم . » دغې اعلامیې ته مؤرخینو په ځان پورې د سلنډود د راسي عنوان ورکړی دی

## ۱۸۴۳:

امیر دوست محمد د جنورۍ په وروستیو ورځو کې لاهور ته ورسید او له هغه ځایه پېښور او کابل ته واغی . دی تر ۱۸۶۳ پورې چې په هرات کې مړ کېږي په داخلي جګړو اخته ؤ او د انګلیسانو سره یې په ښه توګه دوستانه روابط پالل .

د دغو شلو کالو په دوران کې انګلیسانو بیا هم د افغانستان او سیمې او مرکزي اسیا وضع څارله خو د نظامي نفوذ فشار یې سند او پنجاب ته متوجه ؤ، په پنځوسمو کلونو کې یې بلوچستان او بیا افغانستان په یو لړ ترونونو کې را تاو کړل .

په همدغه ۱۸۴۳ کال کې د سر چارلس نېپیر په مشرۍ د میانۍ په سیمه کې د سند لښکرو ته ماتې ورکړه او سند یې د بریتانوي هند په مقبوضاتو کې شامل کړ . په دې توګه د بریتانوي هند سرحدات افغانستان ته را نژدې شول .

## ۱۸۴۶:

انګلیسانو د بنو ستراتیژیکې سیمه په نښان ونیوله او د ډالن انګلیس په مشرۍ یوه غټه قوه دې خوا ته سوق شوه . د کمپنۍ په جګړه کې د پښتنو لښکرو مشري د جان او سلګي په نامه دوو کسانو کوله . په دې جنګ کې د انګلیسانو د قواو څخه څلور نیم زره عسکر او د هغه قوماندان ډالن ووژل شول او د پښتنو څخه ۹۳ تنه شهیدان شول او ۱۴۵ کورونه ونړېدل .

په دغه جګړه کې وزیرو او مسیدو په ګډه ویاړ وګټۍ. انګلیسانو بیا هم ترېو و خټه خپلې پښې ټینګې کړې خود دغو قبایلو د ګوریلا پیریغلونو څخه زیات په تنګ شول. په دغه وخت کې ایلنبرو له هنده تللی و او پرځای یې لارډ هارډینګ ګورنرجنرال ؤ. د دغه ګورنرجنرال کومه طرحه چې دغرنیو پښتنو د ایل کولو له پاره شوې وه د مشکلاتو سره مخامخ شوه.

## ۱۸۴۷ م:

انګلیسانو چې د پښتنو سیمې د لاهور په تړون ( ۱۸۳۹ ) کې سیکانو ته ور کړې وې اوس یې غوښتل کلی پلان هغه برخه ترعمل لاندې ونیولې چې د دغو سیمو قبضه په خپل لاس کې واخلي.

د دغه مقصد له پاره دوی د یو مانور په توګه د پیښور په سیمو کې نظامی عملیات پیل کړل. څرنګه چې د مهمند و قبیلې یوه زړوره او جنګي قبیله وه نو د هغې د ټکولو په عمل یې لاس پورې کړ. په همدغه کال د ګرمن براډشا بی په مشرۍ یو پوځ پر بنایزیو باندې ورو خېژول شو. ابېزیو دوی سره درنه جګړه وکړه او انګلیسان یې ترشا کړل. خو انګلیسانو دا ماتور سره له دې چې بریالي نه ؤ ولې وروسته یې عملیات پسې تعقیب کړل.

## ۱۸۴۸ - م:

سیکان چې د انګلیسانو تر تهدید او فشار لاندې و متشدد عکس العمل یې وکړ او په ملتان کې مول راج د دوه کسه انګلیسي افسران ووژل، په هزاره چچ کې چتر سنګ قیام وکړ او په پیښور کې

د سیکا نو لښکر و سرپو ر ته کړ ، د انګلیسا نو نمایده جارج لارنس د خپلې ښځې سره وتښتیدل او سردار سطان محمد ته یې پناه یووړه اوهغه سیکا نو ته وسپارل .

پنجاب چې د سیکا نو مرکز ؤ د انګلیس تر فشار لاندې شو او سیکا نو امیر دوست محمد خان ته‌خواست و کړ چې مرسته ورسره وکړی . دوست محمد د خلکو په فشار حاضر شو چې د انګلیس پرضد دسیکا نو پلوی وکړی .

## ۱۸۴۹-م:

د دغه کال د فبروری په ۲۱ د ګجرات په جګړه کی چی سیکا نو د انګلیسا نو پرضد روانه کړی وه د امیر دوست محمد د زوی محمد اکرم خان په مشری د افغانا نو لښکر و برخه واخیسته، خود جګړی په دوران کی د اکرم خان لښکر را پرشا شو او له دی سره سیکا نو هم ماتی وخوړه دوست محمد خان په اټک کی ورته ناست ؤ ، سیکا نو چی هر خوسره مراجعه ور ته و کړه خو هغه له حمایه و نه ښوریدی ځو د سیکا نوقوا وی ټوله تباه شوی ، د سیکا نو مشران نو چتر سنګ او شیر سنګ د انګلیس قوماندان سرو التر ګلبرت ته تسلیم شول . دو ست محمد د دسردار سلطان محمد سره کابل ته راغی . افغانا نی سؤر خین د انګلیسا نو په مقابل کی د سیکا نو د ماتی یو عامل د دوست محمد و ر تګ بولی .

په دغه جګړه سره دسیکا نو دولت له‌منځه ولاړ او پیښور د انګلیسا نو تر نفوذ لاندی‌شو. انګلیسا نو د پښتنو دټکو لوله

پاره خپل پلانونه بیاتر کار لاندې و نیول .

په دغه ۱۸۴۹ کال یوځل بیا د ګرمن برادرشاسي يي په قوماندانی انګلیسي قواود بایزي مهمند و پر قبیله یرغل وکړ خو هغو په میړانه دفاع وکړه .

## ۱۸۵۰-م :

دانګلیسانو یوی قوی دجګړن سرسي کمپل په قوماندا نی په کوهاټ کې پراپر یدو یرغل و کړ .

## ۱۸۵۱-م :

انګلیسانو د قبایلو د تهدید پالیسي په شدت تعقیب کړه او د سرسي کمپل په قوماندانی منظمو قواو په مومندو او میرانو حملې وکړ ی . د مومندو په جګړه کې له ده سره د کپتان چې کاک ټولګی هم ملګری شوی .

په همدغه کال د ګروال کولن په مشری چې ده په لارډ کا یبلی شهرت و موند یوه منظمه قوه دمیچنې په سیمه کې پر ترکزو او حلیمزو مهمندو یرغل وکړ د مهمندو قومي لښکر د سعادت خان مورچه خپل ترکزی په مشری د ګر ته راغلل . په دغه جنګ کې مهمندو په تور و جګړه کوله او دا جګړه دری میاشتې اوږده شوه . په دغه جګړه کې د میچنې کلي ته هم زیان ورسېد .

## ۱۸۵۲ - م :

د پنوړ ډپټي کمشنر میجر نکلسن دوزیرو قبیلو د ایل کولو په نیت

یوه غټه قوه پر یرغتې وروسته په دغه ځای کی احمدزی وزیرو سخته مقابله وکړه . په جگړه کی د پښتنو ۸۷ کسه شهیدان شول او د انگلیس د طرف څخه ۳۰۰ تنه ووژل شول .

په همدغه ۱۸۵۲ کال د خټکو د سیمی په بهادرخیلو او د مالگی د رنگوفو پر سیمه د ډگرمن کوك په قوماندانی یوی منظمی قوی یرغل وکړ خو د وزیرو او خټکو قبایلو سخته جگړه ورسره وکړه ، په دغه جگړه کی د قومی لښکر څخه ۳۹ کسه او د دښمن له خوا ۳۰۶ تنه ووژل شول .

په همدغه کال د میجر نکلسن په قوماندان د انگلیس قواو پر درویش خیلو وزیرو یرغل وکړ خو سخت جواب ورکول شو .

د ډگرمن سرسی کیمپل په قوماندانی د دغه کال په اوږدو کی پر مهمندو دوه یرغله او پر رانیزیو باندی یو یرغل وشو ، همدارنگه اتمانخیل هم تر حملی لاندی شول . د دغو جگړو په دوران کی د قبایلو تر منځ چی هر څه شخړی وی هغه شاته وغورځول شوی او دوی ټول د انگلیس سره د مبارزی یو سنگر جوړه کړ .

## ۱۸۵۳ - م :

د ډگرمن بایلیو په قوماندانی یوی انگلیسی ټولگی پر ادم خیلو اپریدو یرغل وکړ ، او په همدغه کال د پیښور د سیمو حلیمزی او ترکزی مهمند په دی پوه شول چی د پولس ملکانو سره د انگلیسانو ترون یوه دوکه وه نو دوی له هری خوی قبایل خولی سر ستی ته راو غوښتل او دمیچنی دوهمه جگړه پیل شوه

چی تر ۱۸۵۴ پوری یی دوام وکړ .
دانگلیسانو عسکری قطعاتو دقبایلو په پسی جگړو ته ادامه ورکوله او پیښور یی دنظامی تدارکاتو دیوقوی مرکز په توگه را پورته کاوه .

## ۱۸۵۴ - م :

انگلیسانو چی په سند او پنجاب کی اداره ټینگه کړی وه نو په دغه کال یی پیښور هم په نظامی او سیاسی لحاظ سنداو پنجاب په توگه تر ادا ری لاندی راوست.
دوی د یرغتی او قوی ما موران سیمو ته و تاکل. په پنجاب گی جان لارنس په سند کی میجر جا کوب او په پیښو رگی هر برټ دواردز گورنر ان وه .
انگلیسانو دبلو څو سیمو ته خاصه پاملر نه وکړه چی د هغې ها ی تصفیه هم په خپله گټه وکړی ددغه کار وظیفه یی هم میجر جا کوپ ته حواله کړی وه .
انگلیسانو چی په ۱۸۴۱ کال کی گوم تړون دخان قلات شهید میر محراب خان تر مړگک وروسته په نصیر خان لاسلیک کړی و نو په هغه کی خان دکابل دحکومت (شا شجاع ) ما تحت گڼل شوی وه. او مچی شا شجاع له منځه تللی ؤ او د دی له پاوه چی د کابل او قلات تر منځ رابطه بلکل پری کړی نو میجر جا کوب د قلات خان میر نصیر خان په سند کی خپل نوی مرگز (خان کرچی ورو سته په جا کوب اباد یاد شو) ورو غوښت او په هغه یی د مستو نگک تړون لا سلیك کړ. د تړون چی په ۱۸۵۴ کال د می په ۱۴ په مستو نگک کی میجر جا کاب او میر نصیر خا ن له خوا لا سلیك شو لاندی موادیی در لودل:

( ۱ ) ددی تړون په برقراری هغه تړون چې د ۱۸۴۱ کال د اکتو بر په پښه شپږد بریتانیا دحکومت په نما ینده گی میجر اوترم اودقلات والی میر نصیر خان لاسلیك گړیوء منسوخ کیږی .

۲ ـ د بریتانیا د حکومت او د خان صاحب میر نصیرخان دوارثانو اوجا نشینانو ترمنځ بههمیشه دوستی وی .

۳ ـ خان صاحب میر نصیرخان اود هغه جا نشینان او اخلاف پهدی ځان مکلف گنی چی دبریتانیا دښمن به د ځال دښمن گڼی ، په دغسی ټولو حالاتو کی دبریتانیا سره مرسته کوی اودبریتانیا له مخالفینو سره بههیڅ تماس نه نیسی .

۴ ـ که کوم وخت دبریتانیا ضرورت شی نولازمو سیمو ته به بریتانوی افسران خپل پوځو نه سوقولای شی .

۵ ـ خان صاحب میر نصیر خان او د هغه اخلاف دا تعهد کوی چی په ټوله بریتانوی اونورو سیمو کی بهدسوداگری په کار کی امن ساتی . په افغانستان ، سند اومکران کی بهټولههغه ځایونه په امن کی ساتی چیهلته دسوداگری کار کیږی او دسواگرانو له پاره پهسهولتونه برابر وی .

۶ ـ خان میرنصیر خان دهغه اخلاف اوجانشینان به د خپلو تاگلو ذمه واریو په سرر سولورا پور هر کال بر یتانوی حکومت تهور کوی او بریتانیا به پنځوس زره روپی (کلداری) هغه ته تادیهکوی ، او که کوم وخت میرنصیرخان یا د ده اخلاف د خپلی وفاداری ثبوتورانهدی نه کړی نودا پنځوس زره روپی به ورځخه گرزول کیږی . » میجر جاکوب ددی تړون ترلاسلیكوروسته دخان

قلات د دربار سا سورين په مستقیمه توګه د رشوتو نو په مقابل کي ناروا خدمتونه ګمارل . دخا ن د تهديد له پار ه هر وخت د انګليسانو لاس اوږ د ؤ .

انګليسانو د دغه کال په اګست ييا پر مهمندو يرغل وکړاو ديله يالی د مهمند وسره تر ۱۸۶ کال پوری وجنګيدل . په دغو جګړو کی دا نګليس قواو قوماندان ټګوس کا تن ؤ .

## ۱۸۵۵م :

په د غه کال د امير دوست محمد او انګليسانو ترمنځ توافق راغی او د جمرود لوړ ی تړون ددوست محمد په نما يندګی د هغه زو ی وليعهد غلام حيدرخان او د هند د ګور نر جنرال لارډ دلهوزی په نما يند ګی د پنجاب ګور نر سر جا ن لارنس لاسليك کړ . دغه دری ماده ايز تړون په دی تو ګه دی :

۱ ـ دختيځ هند د محترمی کمپنی او د کابل او د هغه د هغو مربوطو سيمو د والی تر منځ چی د دغه والی په لاس کی دی او همدا رنګه د دهٔ دورثی تر منځ تعهد کيږی چی د طرفينو تر منځ به صلح او دو ستی وی .

۲ ـ د ختيځ هند محترمه کمپنی تعهد کوی چی د هغو سيمو احترام به کو ی کو م ی چی د دغه امير په لاس کی دی ا و په هغو کی به مدا خله نه کو ی .

۳ ـ جناب د کابل او د هغو سيمو والی کوم چی د د ه په لاس کی دی او د هغه د ورثی په شمول تعهد کو ی چی په هغو سيمو کی به ابداء مداخله نه کو ی چی د ختيځ هند د کمپنی تصرف

کی دی . دوی به د ختیځ هند د کمپنی له دوستانو سره دوستان او د دښمنانو سره دښمنان وی .

د دغه تړون په باب د یوك اف ارگیل چی د ۱۸۶۸ څخه تر ۱۸۷۴ پوری د گلید ستن په لومړی کابینه کی د هند د چارو وزیر ؤ په خپل معروف اثر ( د ختیځ مساله ) کی وایی چی د دغه تړون دریمه ماده د افغانستان په زیان او د بریتانیا په گټه وه، ځکه د افغانستان امیر تعهد درلود چی د کمپنی دوستان دوست او دښمنان دښمن وگڼی خو په مقابل کی بریتانوی هند دغه تعهد نه درلود .

په دغه تړون کی د امیر حقوقی شخصیت کاملا مجهول دی صرف د کابل او د هغو سیمو والی بلل شویدی چی د ده په لاس کی دی . بریتانوی هند بیا هم د تو طیی په لټه کی ؤ او ځانته یی دالار خلاصه پریښی وه چی که د لزوم په وخت کی په کندهار یا هرات کی کوم شهزاده راپور ته کړی کولای به شی چی د هغو سیمو والی یی وبولی.

د بلی خوا څرنگه د بریتانوی هند دا سیند د ښی غاړو او بلوچستان سیمی تر نظامی یرغل لاندی نیولی دی هغه یی په خپلو تصرفاتو کی محاسبه کړی او په دغه تړون سره یی د افغانستان لاس له هغه څخه پر یکړ .

په دغه کال کی د کپتان کریجی په قوماندانی انگلیسی قواو د اپریدو پراکا خیلو برید وکړ او د ډ کرمن چمبرلین په قوماندانی انگلیسی قواو پرمیرانزیو یرغل وکړ دغه منصبدار په قوماندانی قواو یر

روپیاخیلو ورکړو حملې پیل کړې ، د پښتنو قبایلو له خوادد وی سره ډیری سختی مقابلې وشوې.
انګریسانو د وزیرو ، اپریدو او مهمندو په سیمو کې نه یوازې نظامي لاس وهنې کولې بلکې د قومو نوتر منځ یې اختلافات پاخول اوتوطئې یې هم کولې .

## ۱۸۵۶ م :

په ۱۸۵۵ کې د کهندلخان تر مرګ وروسته دوست محمدخان د کندهار په اشغال موفق شواو هرات ته یې پاملرنه واړ وله په ۱۸۵۶ کې ایران پر هرات محاصره ولګوله او په هرات کې یوسف خان سدوزی حکمران ؤ . کله چې یوسف د ایران له یرغل څخه په یره کې شو نو د هغه شنا خت په وسیله چې په تهران کې یې د انګریس له سفیر سره درلو د د هغه په وسیله د انګریس مرسته وغوښته، حتی پر خپل دفتر یې د انګلیس جنډې څوړ نده کړه .
د سفیر غوښتنه د هند ګورنر جنرال له دې خاطره ونه منله چې دوست محمدته یې وعده ورکړې وه چې پر هرات پیشقدمي وکړي .
یوسف چې د ایران په دوستی متهم ؤ په همدغه ۱۸۵۶ کې لرې شو اوپر ځای یې یوبل سدوزی د عیسی خان په نامه حکمران شو .
د ایران فشار پر هرات دومره زیات شو چې ښار سقوط کاوه .
دغې وضعې د بریتانوی هند سیاسي دفترونه په تشویش کې وا چول اوددې له پاره چې پر هرات د ایران فشار کم کړي په خپلو بحري قواوو یې د پارس په خلیج کې د خارک تاپو اشغال کړاوپه دې پسې یې

یوه منظمه قوه د سر جیمز اوترام په قوماندانۍ هغې خوا ته سوق کړه چې بوشهر له بندر سره یې لنګر واچاوه .

دغې وضع ایران ودې ته مجبور کړ چې دهرات څخه لاس وباسي . انګلیسانو له دې خاطره هرات پر ایران نه پرېږدو کاوه چې ایران دانګلیس دسیاست پیروي نه کوله .

دهرات مسئله په همدغه کال کې دیوکړ کیچ په توګه جاري وه، امیر دوست محمد پر له پسې دانګلیسانو سره خپله مراوده جاري ساتلې وه ، خو یو کال وروسته د امیراو انګلیسانو ترمنځ دجمرود دوهم تړون لاسلیک شو او دوست محمد ته اجازه اوسرسته ورکول شوه چې هرات په خپله قبضه کې راولي .

## ۱۸۵۷م :

داکال په هند کې انګلیسانو ته ډېر د سرګردانۍ کال ؤ ، په همدغه کال په ټول هند کې دانګلیسانو پرضد عمومي قیام پیل شو چې دهندوستان په تاریخ کې دازادۍ په جنګ شهرت لري خو انګلیسانو دغه قیام ته دغدر عنوان ورکړی دی ، څرنګه چې دغه قیام دسیمې دسیاسي جریانا تو سره مستقیمه اړه لري نو دهغه اهمیت له نظره نه غورځول کیږي . که څه هم دا قیام دانګلیسانو له خوا وهل شو . دکورګاني وروستي باچا بهادر شاه برما ته تبعید شو او ډېر ازادي غوښتونکي اعدام شول خو انګلیس ته یې هم سخت ټکان ورکړ. په دغه وخت کې په هند کې لارډ کینګ ګورنر جنرال ؤ، خو دانګلیسانو دوباره

تسلط سره سم نوردا نگلستان د پارلمان په فیصله دختیځ هندبریتانوی کمپنی څخه اختیارات د بریتانیا و باچا ته نقل شول . نور بیا هند ته دا نگلستان دباچاله خوا حکمران را مقرریدی چی هغه ته به یی نائب السلطنه ( وا یسرای ) وایه .

په همدغه کال امیر دوست محمد دهند له وایسرای سره ملاقات وکړ اوو روسته یی په جمرود کی د بریتانوی هند سره دوهم تړون وکړ . دا تړون چی ۱۲ ما دی درلو دی دامیر دوست محمد په نما یند گی د هغه زوی محمدا عظم خان او دوایسرای په نما یند گی په پنجاب کی انگلیسی گورنر لارډ لارنس لا سلیک کړ .

داتړون چه دایران څخه دهرات دراگر زولوپه منظور شوی ؤ بیا هم نسبت وافغانستان ته دانگلیسانو په گټه ؤ اوپه همدغه تړون کی امیر دوست محمد چی هروخت یی نسبت وخپلوخلکوته پر انگلیسانو تکیه کوله پر پیښوړد انگلیسانو تسلط قبول کړ .

د دی تړون په لومړی ماده کی یاد ونه کیږ ی چی ایران د افغانستان پرخاوره تیری کړی دی نوا نگلیسان هم دایران پرضد جنگ کوی او امیردوست محمدته د دغه جنگ تر پا یه هره میاشت سل زره روپی چی دلس زروپوندو معادل کیږی ور کول کیږی .

د دغه تړون په نورومادو کی د پیسو ورکولو شرایطاو دسلاح سپارلو مراتب شرح شویدی او په څلورمه ماده کی دامیر دوست محمد څخه تعهد اخیستی شوید ی چی په کابل ، کند هاراو بلخ کی به دانگلیس نما یندگان منی چی نظارت وکړی .

په پنځمه ماده کې امیر ته اجازه ورکول شویده چې خپل یو نماینده په پېښور کې مقرر کړي په شپږمه ماده کې یادونه شویده چې کله د ایران او افغانستان ترمنځ جګړه ختم شي نو د امرسته به هم قطع کېږي .

په اوومه ماده کې یادونه شویده چې د جګړې تر ختم وروسته به د بریتانوي هند له خوا یو مسلمان نماینده په دایمي توګه په کابل کې مقرریږي .

ددغه کال په مارچ کې د انګلیسانو نمایندګان افغانستان ته راغلل . له دغې ډلې څخه میجر هانري لمسډون او داکتر بیلیو کندهار ته ولاړل . غلام حسین په کابل کې پاتې شو او یوشمېر په پټه خوله بلخ ته ولاړل او په دغو نمایندګانو کې یوشمېر هغه ایجنټان وو چې د مرکزي اسیاته یې د انګلیسانو د نفوذ پراخېدل تر مطالعې لاندې ونیول .

کله چې امیر دوست محمد خان په جمرود کې د اترون لاسلیک کاوه د اپریدو کوکي خېلو په خیبر کې د انګلیسانو پر قوا وحمله وکړه او د هغوی یو افسر یې وواژه . انګلیسانو ډېر کوښښ وکړ چې د قبایلو څخه د دغه افسر قاتل واخلي خو هغوی ورنه کړ .

په همدغه ۱۸۵۷ کال د قلات خان میر نصیر خان وفات شو او د بلوڅو د عنعنې مطابق د هغه کشر ورور خدایداد خان د قلات د خان په حیث وټاکل شو د نصیر خان د مرګ عامل زهر و چې د انګلیسانو په لارښوونه ورکول شوي وه . خدایداد خان ۱۶ کلن هلک و او د انګلیس مخالفت یې نه

گاوه‌خودده با نفوذه‌مشاوران داروغه گل‌محمدخان‌او (گنگارام) هندو دانگلیسا نو ډیرسخت مخا لفین وه اوهغو خدایداد خان ته تحویك ورگاوه چی دا نگلیسانو لاس‌په چارو کی لنډکړی . په‌دی توگه یوه ډیمه‌ډله جوړه‌شوی وه‌چی‌دوه کا له یی‌پرله پسی‌دانگلیسانو پرگزمو حملی کولی .

په‌دغه ۱۸۵۷م کال‌کی دمیجرواگسن‌په توما ندانی پریوسفزو حمله‌وکړه چی‌دیوسف‌زو قبا یلوسخته مقا بله‌ورسره‌و کړه .

ددغه‌کال په‌سی‌کی دستهانی سیداکبرشاه پښتون امیر وفات شواو دسوات پښتنوتر منځ سخت اختلافات پیداشول .

دجولای‌په میاشت کی دسیدمبارك شاه‌په مشری پښتنو مبارزانوپر انگلیسانو یرغل‌وکړ اوډیرزیا نونه یی‌وورسول .

## ۱۸۵۸ م :

دا نگلیسا نویوهیئت‌چی دمیجرتیلر په‌مشوی‌دهرات د نوی‌حکمران سردارسلطان احمدخان سره‌په‌هرات کی‌په‌فعالیت بوختوه په ۱۸۵۸ کی داهیئت ما یوسه شواوله هراته‌ولاړ .

دهمدغه‌کال په‌سارچ‌کی دتزاری روسیی‌یوعلمی هیئت‌دخانیکوف په مشری‌هرات ته‌راغی‌چی سردار سلطان احمد خان هغوته دوستا نه‌هر کلی‌وو ایه .

پر انگلیسا نو با ندی‌دتزاری روسیی‌دهیئت راتگ‌ډیر سخت‌تمام شواودوست محمدیی‌تحریك کړچی‌پرهرات حمله‌وکړی . امیردوست محمدخیل زوی ولیعهد غلام حیدرخان ته‌لارښوونه وکړه چی‌دیوی

منظمی قوی سره هرات ته حرکت وکړی خوهغه د دماغی محرقی په ناروغی ناڅا په مړشوا و امیر موضوع یوه لازم فرصت ته معطله کړه چی پخپله پر هرات ور یورته شی .

د بختیار پښتنو مبارزینو ددغه کال په اپریل کی دجنګلی په سیمه کی دانګلیس پر یوه ټولګی عسکرو حمله وکړه . په دغه جګړه کی د پښتنو د پوځ مشری مقرب خان کوله او د انګلیس پوځ قومانداني دګروال اډوارد پرغاړه درلوده . په دغه وخت کی یوخو بدی پیښه شوه او یو شمیر کسان دمقرب خان څخه جلا شول . انګلیسانو زور وکړ او قبایلی لښکر و پاشل شول، انګلیسانو دبختیار کلی وسوزاوه . انګلیسانو کولای شوای له دغه اختلاف څخه په خپله ګټه کار واخلی نوځکه هغوی ته یی بسی زیات کړ او یو شمیر غولیدلی قبایلیان یی هم د څان ملګری کړل . د اپریل په ۳۰ د سید عباس با چا او مولوی عنایت الله کلاګا یی ورانی شولی .

## ۱۸۵۹م :

په دغه کال انګلیسان کورمی او وزیرستان ته سخت متوجه شول. د دغه ټول کال په دوران کی د دغو سیمو خلک د انګلیسانو سره په جګړه اخته وه .

دیره لویه جګړه د میدانی غره وه . په دغه جګړه کی د پښتو قبایلو مشری محبت خان او زنګی خان وزیر کوله او د انګلیسانو د لښکر قوماندان میجر میچنو، په جګړه کی د پښتنو قبایلو څخه وزیر، مسید او ختک شامل وه دلته میر او دو میل ترمنځ سیمه د جګړی ډګر و

په دغه جګړه کې دانګلیسانو قوماندان سیچن ووژل شو او انګلیسانو
سخت فشار راووست چې محبت خان او زنګي خان ونیسي خو دا دواړه
کورسي ته واوښتل او په کابل خېلو وزیرو کې یې ځای ونیوی.

په دې پسې دانګلیسانو بل لښکر د سر نیول چمبر لین په
قوماندانۍ راغی چې مقابلې ته یې ۳۵۰۰ قبایلي لښکر ووت. جنګ
ډېر درووند و د قبایلو له لښکر څخه د ولي خان اتمانزي وزیر دوه
زامن هیبت او نیازي او ۹۳ نور زلمیان شهیدان شول او دانګلیسانو
له اردو څخه ۸۹۷ کسان مړه شول.

سر نیول چمبر لین د سیچن انګلیس د بدلا خیستلو له پاره په
جګړه کې بریالی نشو نو درشوت لاري ونیوله او څو وطن خرڅونکو
محبت خان انګلیسانو ته په لاس ورکړ او هغو هم د سیچن په بدل کې
اعدام کړ. زنګي خان چې مسید وته ورغی نو احمد زي وزیر هم
دده په ملګرۍ ولاړ شول، مسید و خپل کلک ملاتړ اعلان کړ او
انګلیسان په تشویش کې شول نو د بنو او ډیره اسمعیل خان له خوا یې
یو غیر پوځ د فیول چمبر لین په مشرۍ حمله وکړه. د ایرغل په
دوه وخت کې پر شمالي او جنوبي وزیرستان پیل شو او پر جنوبي
وزیرستان دانګلیس قواوې د جنرال لمسدون په کمان کښې وې.
د دغو جګړو لړۍ د پلیسن د جګړو په نامه یادېږي. په دغو جګړو کښې د جنګي
خان شهید قهرماني ډېرې ستري وې.

په جنوبي وزیرستان کې د تانګ نواب شاه نواز خان ګتي خېل
چې د خپلې نوابۍ د ساتلو له پاره یې دانګلیسانو سره روغ چلند کاوه

د وزیر واو مسید و فهریې جلب کړ، نو په د غه وخت کې د وزیرو او مسیدو مبا رزینو پر هغه پوځ حمله وکړه چې د انګلیس نو له خوا اچول شوی او په هغو کې زیات ګورکه او سیک بازار عسکر وو. د تانک پر بازار حمله وکړه او د پنجاب د جنت پوځ بې تار و مار کړ. د لته بیا هم د سرنیول چمبرلین په مشرۍ نور پوځونو پر پښتنو قبایلو یر غل ته دوام ورکړ.

مشهور انګلیس ګیول چې پخوا د کندهار په جګړو کې زخمي شوی او بیا مسلمان شوی وو او د شیر محمد خان په نامه یادیدی د شما لي ولا یاتو په تخته پل ګې سرشوه دا سړی د امیر دوست محمد د پاچا هۍ په لومړی دوره ګې د هغه سره وو، بیا چې شا شجاع راغی د هغه سره همکار شو، کله چې د دوهم وار له پاره امیر دوست محمد د کابل پر تخت کښېناست د غه انګلیس کیول یا شیر محمد خان دا میر د زوی سردار افضل خان سره په شمالي ولا یاتو ګې د جنرال په صفت ملګری شو. دی دامیر عبدالرحمن خان دا ستا د په حیث تاګل شوی و چې مرکزی اسیا ته دانګلیس د نفوذ خپریدو د کار یو ډیر غټ ما مور وه.

## ۱۸۶۰-۱۸۶۱ م :

په افغانستان کې دامیر دوست محمد تر ټوله پاملرنه د هرات فتح ته وه او د هیواد په شمالي ولا یاتو کې هم نا امني وه چې دامیر زوی اعظم خان او د هغه لمسی عبدالرحمن ( ورو سته امیر ) د هغو په ایلو لو بوخت وه.

انګلیسانو خپله نظامي او سیاسي توجه زیاتره دغه نوي سیاست پلي کولو ته اړولې وه چې د هند د ستر قیام (۱۸۵۷) څخه وروسته د بریتانیا له خوا د هند او دغه د شاوخوا له پاره فورمولبندي شوې ؤ.

انګلستان د امپریالیزم پړاو ته پورته شوی ؤ او ستر عالم فردریك اینګلس د غه وضع په خپله لیکنه کې د اسې انځور کړېده «د تجارت د ودې له پاره پراختیا سخت ضرورت کوم چې لکه توره بلا وسنې انګلستان تعقیبوي هم هغه سخت ضرورت دی چې د انګلستان سوداګر دې ته مجبور دي چې د اسیا په دننه کې همزمان د دوو خواو څخه (د هند او تور سمندرګي څخه) نفوذ وکړي.»

د اسیا په باب په بریتانیا کې د افکارو د یر سخت جنګ روان ؤ. د لندن د سیاستمدارانو له خوا چې د بریتانوي هند او افغانستان ترمنځ د سیاست پیروي کیدله او دغه منشاء د ۱۸۵۰ او ۱۸۷۰ د تړونو نو سره تړل شوې وه په نوي سیاست کې د غې موضوع ته د استفهام مي اونداپي (؟!) علایم ایښوول کېدل او یوځل بیا د پخوانی لیوفتوب خوا ته مخ ګرزیدی او د وضع په ګیله کې د پیشقدمۍ د سیاست جنین تړل کیدی.

انګلیسانو بیا هم په دغو دوو کلونو کې وزیرستان او کورمه تر یرغل لاندې نیولې وه. د وزیرو لښکر د مشهور غازي پاخرې په مشرۍ پر انګلیسانو حمله وکړه او د دغه لښکر څخه خواجه خواص، قهرخان، بارودین او میرګل مستقیماً د انګلیس پوځ ته ننوتل او دغه یوغټ افسر کپتان میخام یې وواژه.

ACKU

دغوپر له پسې یرغلونو انګلیسان ډیر په تنګ کړل نو په ۱۸۶ کې یې د ټانک حکمران شاهنواز خان ودې ته وهڅاوه چې د قبایلو او انګلیسانو ترمنځ دروغی جوړې زمینه برابره کړی. شاهنواز خان پردې بریالی شو چې د شالم خیل، علیزی او بالول زی قبیلو څو ملکان راضی کړی خو فقیر علی شیر شهید غازی، پر دل خان غازی خدایداد او غازی حسین خان په مخالفت د انګلیسانو د کومنیش بریالی نشواو د جګړې ډګر نورهم تود پاته شو.

په ۱۸۶۱ کې انګلیسانو په وزیرستان کې د دوړو او مسودو پر قبایلو یرغل وکړ. د انګلیسی پوځ قوماندانی د ګرمن سرها نری چمبرلین له خوا کېدله. په دغو جګړو کې بیا هم انګلیسانو ته پوره بریالیتوب په برخه نشو. که څه هم قبایل له هوا رو سیمو څخه غروته وختل او انګلیسانو د کمپ جوړولو کار پیل کړ ولی د اکمپ مصون پاته نشو بلکې هروخت به د غرو له خوا حملې پر کېدلې.

د وزیرستان او سوات ترمنځ د انګلیسانو پر ضد دیوګه محاذ جوړېد و فعالیت د مشهور مبارز بادی فقیر پرلاس سرته ورسیدی دا سړی د قبایلو ترمنځ ډېر ژور دوروری اړیکی قایم کړل او هر ځای به یې د انګلیسانو پر ضد جګړه کې قبایل یو د بل همکاری ته تشویقول. د مرګ پروخت دغه وویل: (( د خدای شکر کوم چې زما غوندې فقیر له لاسه ۳۳ دلویو منصبونو خاوندان انګلیسان وژل شویدی)) د بادی فقیر رول د قبایلو په اتحاد کې د لویې نمانځنې وړ دی.

**۱۸۶۲:**

امیر دوست محمد فراه ونیوله او هرات یې محاصره کړ.
انګلیسانو چې وضع خارله پر له پسې یې امیر ته هدایات صادرول او هغه ته یې خبر ورکړی ؤ چې ډیر ژر دا کار سرته ورسوي او د ایران خواته تیری ونه کړي.

په دغه کال د ډاکتر بیلیو د سفر ورځلیک (ډایری) په ۱۱ فصله او ۸ تصویرونو سره له لندنه خپور شو. بیلیو چې د جنرال لمسدن سره د جمرود د تړون په اساس په کندهار کې اوسیدی د دغه وخت جریانات یې په مفصل ډول لیکلي دي.

همدارنګه ډیویس د پنجاب د حکومت سکرتر په دغه کال خپل کتاب د افغانستان او هند پر تجارت خپور کړ په دغه کتاب ګې د افغانستان ټول واردات (۳۱۸۳۸۳) پونډه صادرات (۳۰۳۵۳۵) پونډه او ټول تجارت یې (۶۲۱۹۱۸) پونډه ښوولی دی.

امیر دوست محمد ته د هرات په جګړه کې دا تشویش پیدا ؤ چې ایران مداخله ونه کړي خو له ایران څخه استو یك انګلیس په یوه لیک کې هغه ته ډاډ ورکړ چې د هرات تصفیه او جګړه د افغانستان داخلي مسئله ده او ایران د پاریس د ۱۸۵۷ د تړون له مخې په هغه کې مداخله نشي کولای.

په بلوچستان کې د قلات د خان خدایداد خان پرضد په بلوڅ قبایلو کې بغاوتونه رابورته شول. د دغو بغاوتونو په تشجیع کې

انګلیسانو لاس د رلود .

## ۱۸۶۳ م :

ددغه کال په پسرلي کې هرات فتح شو او په جون کې امیر دوست محمد هلته مړ شو .

څرنګه چې شیرعلي ولیعهد ؤ د جون په ۱۲ یې د پاچهۍ اعلان و کړ او دد سمبر په میاشت کې یې د برتانوي هند حکومت ته خبر ورکړ خو شپږ میاشتې ذده د لیك جواب ورته را او نه رسید .

شیرعلي دوډونو سره په ګړه ؤ ځکه هغوی دده پاچهي نه منله او انګلیسانو دا انتظار ایستي چې دد غه میدان فاتح څوك راوژي .

په هند کې لارډ ایلګن مړشو او پر ځای یې لارنس ویسرای شو دادګال وروستي ور ځې وې .

په سوات کې دوه کسه انګلیسان ووژل شول او دا باعث د یوې لویې جګړې شول . انګلیسانو دا قتل د سوات پر ملك مبارك شاه تاوان کړاو د بدل اخیستلو له پاره یې لښکر کشي و کړه .

د انګلیس دا یرغل تولو قبایلو ته و رسید او په د سمبر د مولوي عبد الله او ملك عیسی خان ګډون په مشرۍ قبایلي لښکر د صوابي په تحصیل کې د تد بله پر مقام انګلیسان تر حملې لاندې و نیول . په دغه جګړه کې انګلیسي لښکرې او افسران یې تښتې ته مجبور شول ډګرمن ابټ ی او تورن جنرال ګیك هزینه دد غه تهدید لي لښکر قوماندانان وه . دا جګړه د توپي د جګړې په نامه یادیږي .

دتوپي په جګړه کې تر تښتې وروسته انګلیسانو بر سخت

ترتیبات ونیول او ډیرې منظمې قواوې د جنرال چمبرلین په مشرۍ صوابۍ ته سوق شوې . دده سره یولار ښو د لښکر هم ملګري وچې قوماندانې یې د میجر کینو سره وه ، د دوی د اکتوبر په ۲۰ دامبیلې درې ته ورسیدل او دغه دره چې نهه میله اوږده ده د انګلیس قواوې ترچملې پورې ولاړې ، دوی د قبایلو دلښکر په تعقیب روانې وې خو هغه یې ونه لیدې ، کله چې شا ته راوګرزیدې نو د چملې تر کنډو را لاندې لاړې قبایلو نیولې وه . انګلیسانو په سختۍ ځانونه خلاص کړل او بیرته خپل کمپ ته راغلل خو چې وې کتل د قبایلو لښکر دد وی پر کمپ ورو ختل او دوی ډیر وارخطا شول .

داکتوبر په ۲۲ د سوات داخوند سره د سوات ، بنیر ، دیر ، باجوړ او مهمند ودیر خلك ملګری وه دد وی سره سل بیرغونه وه او هر بیرغ د یوې قبیلې نښه وه . په دغو کې یو بیرغ د دیر د نواب دنیکه اخند زاده غزن خان بل بیرغ د عمرا خان د نیکه فیض طلب خان و بل بیرغ دلال پورې دخان سعادت خان ؤ. دغې جګړې ته مشهور خلك لکه شا د پاپا تیمرګرې بابا ، هډې صاحب ، ملا خلیل ، ددرې حاجی صاحب هم راغلی وه .

داکتوبر په ۲۳ او ۲۵ ډیر سخت جنګ وشو ، قبایلو ته نور امدادی څورلس زره کسان همدا شان دحسن زو ، ګډو نو ، اماز ، امان زو ، دلازګواو اخون خیلو له قبایلو څخه دری زره لښکر دسید مبارك شاه په مشری راغی .

دانګلیس کمپ په سور کاوی کی دیو غره پرڅنډه لګیدلی ؤ

چی د وی ورته ایګل نست یعنی (د ګربت ځاله) و ېل ه خوقبا يلو داکتو بر په ۹ ۲ ا و . ۳ د غېد ګوربت ير ځا له يرغل وروړ انګلیسا نوته د پېښور څخه نور کومکی لښکر را ورسيد ، جګړه د دواړو خواو څخه په ډېر شدت جاری وه د نو امير په نيمايی کی دګر يکڅ پرڅوکی ډېر شديد جنګوئه و شو ل او ددواړو خوا و څخه دوسره سره شول چی ددغه ځای نوم قتل ګړ شو. دغه جګړ ی دنوامير په سياشت کی جاری وی ، او قوسا نداني دچمبرلين په س کی و ه . دغه. جګړ ی د وا ړ و خوا و ته بی نتيجی وی خو په کلو نو کلو نو يی دوام وکړ .

دامبيلی دجګړی په باب ډيری ليکنی شوېدی او دهندوستان دويسرای لوسړی لارډ ايلګن په افتخاراتو کی انګليسا ن يوهم داوايي چی هغه دامبيلا په جګړه کی قبائل مطيع کړل او دجنرال چمبرلين تدبير او زړورتوب ستايي خوداحقيقت نهدی ځکه که داطاعت سوا ل راشی نو پرهمدغه سيه ترپنځوس کالهلا زيات قبائل دانګليسا نوسره جنګيدل، دامبيلی په جګړه کی۸۰۹ تنه انګليسان ووژل شول خودقبا ئلوتلفات تردروزروپوری رسيدل اودهغه علت دانګليسا نو دوسلوبرتری وه .

په بلوچستان کی انګليسا نو لاس وهنه بيا پيل کړه . دبلوڅ قبا ئلو قيام چی دخان قلات پرضد پيل شوی وه انګليسا نودخان خدايداد خان دکاکادزوی شيردلخان پلوی وکړه اوهغه دخدايداد خان په عوض دقلات خان شو او خدايدادخان سندته ولاړ .

## ۱۸٦ م :

په افغانستان کې د شیرعلي او ورونو ترمنځ جګړې رواني وې ، او په برېتانوي هند کې د وېسرای لارډ لارنس له خوا د مدبرانه خاموشي (ماسټرپول اینکټوي تي) پالیسي طرح تر عمل لاندې ونیول شوه .

په بلوچستان کې د قلات خان شیردل خان په ناڅاپي توګه ووژل شو او خدایداد خان بېرته له سنده راغی او د قلات خان شو . داسې نظر شته چې شیردل خان هم د انګلیسانو په اشاره وژل شوی دی ځکه ده هم د انګلیسانو فرمایشات په اخلاص نه پرځای کول .

د قتل ګړتر جګړې وروسته چې د ۱۸٦۳ کال په پای کې یوځه خاموشه شو نو مبارزینو د سیمې ځینې ځاور مه ج ګړه پیل کړه. د انګلیس قواو قوماندانانې د ډګروال میکلا ن لاندې پر غاړه وه ، په مقابل کې د قبا ئلو لښکرې د هډې د ملا صاحب د بېدسنې د حاجي صاحب د خویزو ملاخلیل او د لال پورې د سعادت خان او نورو قومي مشرانو له خوا رهبري کیدې .

په دې جګړه کې د پاسنی او کښتنی مهمندو خلک راغلي وه . د کامې ، لال پورې ، ګرپې ، شونګړې ، ناوګي ، اباراو شلمان پورې ملي مبارزین د انګلیسانو سره جګړې ته تیار شوي وه .

## ۱۸٦۵ م :

امیر شیر علي خان په کابل کې د دوو زرو نمایندګانو په ګډون لویه جرګه جوړه کړه. په دغه لویه جرګې کې د افغانستان د ټولو ملیتونو ، پښتنو ، تاجکو ، هزارګانو ، ازبکانو ، ترکمنانو بلوڅانو او نورو ګډون کړی وه .

په جرگه کی عمده مسئله داوه چی دامیرشیرعلی او دده دورونو ترمنځ اختلاف وڅیړی اوده ته مشوره ورکړی. دجرگی غړو دده امارت تائید کړ. خود امیر ورونه او ور یرو نه ددیر شریر خلك وه او دد غی جرگی فیصلو ته یی اعتنا ونه کړه.

په دغه کال شیر علی د کندهار چارو ته پاملرنه وکړه اودخپل زوی محمد علی خان سره هغی خواته روان شو. دکندهار څخه د ده ورور محمد امین خان راووت. د کجباز په جنگ کی دامیر زوی محمدعلی او دامیر ورورمحمد امین دواړه ووژل شول او امیر ددیر غم څخه منزوی شو. خوځووخته وروسته یی د شمالی ولایاتو تصفیه وکړه.

په افغانستان کی د داخلی جگړی مصروفیتو نوانگلیسا نوته فرصت په لاس ور کړ چی په سرحدی صوبه او بلوچستان کی د یوی مضبوطی اداری له پاره خپل مطالعات تکمیل کړی.

**۱۸۶۶-۶۷ م :**

په دغو دوو کلونو کی بیا هم د شیر علی خان اوورونو جنگونه جاری وه. شیر علی خان دافضل خان دز وی عبدالرحمن (وروسته امیر) اود افضل خان دورور څخه په جگړه کی مات شو او په کابل کی افضل خان باچا شو. هغه په وبا مړشو او بیااعظم خان باچا شو. شیرعلیخان کندهار او هرات نیولی وه.

تزاری روسیی په منځنی اسیا کی خپلی ستراتیژی ته قوت وبخښه جنرال کوفمان یی په تاشکند کی د نظامی گورنر په توگه ر کړ (۱۸۷۲) او هغه سمر قند هم وفیوی.

جنرال کوفمان ډېره قوي اداره تشکیل کړه . د دغه سړي د افغان او انګلیس د دوهمې جګړې په دوران کې د افغانستان د واقعاتو سره سیاسي اړیکې درلودل او د امیر شیر علي خان مکاتبه له ده سره جاري وه .

په لندن کې دوه ډوله مفکورې سره په جګړه کې وې . یوه مفکوره داوه چې هند ته د تزاري روسیې د نفوذ تشویش بېځایه او اهمه دی او باید د روسیې سره سلامتي خبرې وشي . دوهمه مفکوره چې د فاروډ پالیسي پېروانو په مخه وړله داوه چې په افغانستان کې د هندوکش درې ونیول شي او په مرکزي آسیا کې د تزاري روسیې سره رقابت ته پراختیا او چټکې ورکول شي .

د هند د دغه وخت وایسرای سرجان لارنس د لومړۍ مفکورې طرفدار ؤ ، هغه په ۱۸۶۷ کې د انګلستان کابینې ته خپل نظر وړاندې کړ او د روسیې سره یې د انګلستان د دوستانه خبرو غوښتنه وکړه .

د سرجان لارنس د پیشنهاد سره چنداني علاقه ونه ښوول شوه او د افغان او انګلیس د لومړۍ جګړې په دوران کې د بریتانوي سیاسي مامور راولنسن نظریاتو ته پاملرنه کېدله . دا سړی د فارورډ پالیسي طرفدار ؤ او مقالې یې لندن په سیاسي مطبوعاتو کې خپرېدې .

راولنسن د تزاري روسیې ډېر سخت دښمن ؤ او حتی جګړې تر سطح پورې یې کار د انګلیس په ګټه باله .

## ۱۸۶۸ م

امیر شیر علی، محمد اعظم او عبدالرحمن (وروسته امیر) ته د غزنی په جګړه کی ماتی ورکړه ، هغوی دجنوب ختیځ سرحداتو خوا ته وتښتیدل او شیر علی کابل ونیوی او دده دو همه پاچهی پیل شوه.

امیر شیر علی یو ځل بیا بریتا نوی هند ته خبر ورکړ چی د ده دولت په رسمیت وپیژنی ، ددغی غوښتنی په جواب کی د نوامبر په دوهمه د هند د وایسرای مکتوب صادر شو او د امیر شیر علی امارت یی په رسمیت وپیژندی .

د دی له پاره چی شیر علی خپل ورونه ، زامن او وربرونه په دی باوری کړی چی دوی ته امارت نه ور رسیږی نو دولیعهدی مسله یی طرح کړه . ده خپل کشرزوی عبداله جان د ولیعهد په توګه اعلان کړ او د بریتا نوی هند څخه یی و غوښتل چی هغه یی هم تائید کړی ، خو دده غوښتنه بی جوابه پاته شوه . د شیر علی دا اقدام تر هر چا د ده پر مشر زوی یعقوب ډیر بد تمام شو ، هغو را وروسته یی په هرات کی بغاوت وکړ او انګلیسا ن یی هم په پله و در یدل.

په سرحد کی قبائلو د انګلیسا نو پرضد پر له پسی خپلو قیامو نو ته دوام ور کاوه ، په دغه کال د انګلیسا نو یوه غټه قوه د میجر جونز په قوما ندانی پرورکزوورغلله او بلمه د تور غارجګړه پیښه شوه چی د انګلیسا نو د قواؤ مشر ی جنرال وایلډ کوله .

پەدغو جگړ وکی سرحد ی قبا ئلو پەډیره میړا نه دفاع وکړه خوز یات تلفلات ورور سیدل پەلندن کې د سیاست مدارا نو تر منځ د افغا نستان اومر کزی اسیا په باب دمفکو رو جگړه روا نه و.

## ١٨٦٩ م

ا نگلیسا نوپر امیردخپل نفوذدخورولو له پا ره ١٢٠٠ توپکو نه او شپږ لکەروپی هغه تەورکړ ی اوبیا یی بلنه ور کړه چی هند تەسفر وکړی . پەدغه وخت کې سر جان لار نس تبدیل اوپر ځای یی لاردمیو دهند دویسر ای پە حیث راغلی ولارډ میو هغه بلنه چی لار نس شیر علی ته و ر کړ ې و ، تعقیب کړه امیر د سید نور محمد شا ه ، جنرال حسین علی خان عصمت الله خان ، میرزا محمد نبی د بیر ، شاغا سی‌شیر دل خان، ولیعهد عبدا للەجان اویو ی فرقی عسکر و سره هندته روان شو. ده تەدر و ند هر کلی وو یل شواود مارچ په ٢٧ یی د لارډمیو سره په امبا له کی ملا قات و کړ .

پەعمده تو گه دا میر هدف داو چی د ی د هند له خوا د خپلو رقیبا نوپه مقا بل کی حما یت شی، اوپه هغو ترو نو نو کی چی په ١١٨٥٥ و١٨٥٧ کی دد ه دپلا راوا نگلیسا نوتر منځ شویدی اوا نگلیسا نوتەد افغا نستان پەچا روکی ازا د لا س ور کوی یوڅه تعدیل شی.

ددغه مقصد دترسره کولو لەپا ره امیر د سیدنور محمد شا ه په لاس خپل یاد دا ښتونه ویسرای تەوړا ندی کړل.

دده لویه غوښتنه داوه چې افغانستان دیو دریمې دولت په توګه وپېژندل شي چې دټولو سیاسي حقوقو څخه برخورد اروي انګلیسان دهغه سره په برابر و شرایطو برخورد وکړي او بلې خوا دده ولیعهد په رسمیت وپېژني . په خبر وکې چې لارډ میو هرڅو نه د مرکزي اسیا او تزاري روسيې په باب ډ غیدې خو امیر حتی تر پایه د روسيې نوم هم وا نخیست. په پای کې خبرې بې نتیجې پاته شوې، یوازې لارډ میو په یوه مکتوب کې امیر ته ډاډور کړ چې انګلیسان به د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله و نه کړي ، او د افغانستان سره به وخت په وخت مرستې وکړي او د افغانستان په هیڅ یوه ښار کې به انګلیسي نژاده سفیر یا نماینده مقرر نه کړي .

امیر مایوسه کابل ته راغی او د انګلیسانو په نسبت یې په زړه کې لویه غوټه پیدا شوه، شیر علي په سیاست کې دا خلاقي پرنسیبونو د مراعات طرفدار و نو ځکه همیشه به یې ویل چې انګلیسان په ټولو چارو کې دروغ وایي خور وسان در وغ نه وایي سیلکې هغو سره څه وایي چې په سر یې رسولای شي .

د تزاري روسيې په باب په لندن کې د مختلفو فکورو د نماینده ګانو تر منځ شخړې رواني وې، ددې له پاره چې د روسيې په باب افکار روښانه شي د تزاري روسيې څخه پرنس ګورچاکوف لندن کې د روسيې سفیر بارون برونو د لیك په جواب کې ولیکل چې د روسيې امپراتور تزار مخاصمانه سیاست نه خوښوي د افغانستان په باب موږ سوله غوښتونکي افکار لرو او کیدای شي چې افغانستان د بریتانوي هند او تزاري روسيې تر منځ د یوحایل کار ور کړي . »

دانګلستان خارجه وزیر لارډ کلارندن بیا هم په دغه نظر قانع نه وه ځکه د فارورډ پالیسي طرفدارانو د افغانستان له پاره داسي نظر درلود چي داخو باید د انګلیسانو مستعمره شي او حایل باید تر هندوکش پورته وي. خو کله چي د سرحداتو د تعین مسایل منځ ته راغلل نو تزاري روسیې تر هر څه پخوا پردې زور واچاوه چي « اقچه ، سرپل ، میمنه او اندخوی باید د افغانستان په احاطه کي راشي »

په دغه کال پر اتمانخیلو او مهمندو انګلیسي قواوو حمله وکړه او د میچني شوې مه جګړه پیل شوه . همدارنګه پر ورکزو د ګرمن کینر کینر په [illegible] قواو حمله وکړه . په وزیرو قبایلو کي دانګلیس پر ضد د جګړو د پاره د تصمیمونو جرګي جاري وې . کله چي دانګلیس قواوي د بنو څخه د کابل خیلو سیمې ته را وخوځیدې نو د احمدزي وزیرو قبایلي لښکر و پر هغو برغل وکړ ، څو د وزیرو او مسیدو ترمنځ دعوه پېښه شوه ، دعوه پردې وه چي د رزمك په سیمه کي لغړي منځي او تودي چښې پوري د وزیرو حدا و بریدي ، په دي مسیدو دعوه وکړه او پر دي ډېره توده جګړه خپل ترمنځ روانه شوه . انګلیسانو د فرصت په استفاده د غه شخړه ددوی په منځ کي توده وساتله او د رزمك پلان یې تر عملي مطالعې لاندي ونیوی .

ایران چي په لویدیځ بلوچستان کي خپل نفوذ زیات کړی وه د قلات خاني ته یې هم لاس غځوني پیل کړې په ۱۸۶۹ کي د بمپور ایراني افسر سرهنګ ابراهیم خان د کیچ او مکران پر سرحد برید وکړ . د ده مقابلي ته سردار فقیر محمد بزنجو دیوه لښکر سره راغی او د قلات خان هم داروغه عطاء محمد د یو تولي سپرو یو توپ او یوی غمباري سره هغه ځای ته واستول.

په دغو وختونو کې انګليسانو هم خپل نفوذ د ګوادر بندرته زيات کړی وو او د قلات خان خدايداد خان چې د ١٨٦٥ کال د تړون په اساس د جاسک او ګوادر د تلګراف د پروژې همکار شوی وو په دې اميدو چې انګليسان به په لويديځ بلوچستان کې دده په ګټه د ايران مخ نيوی وکړي. د بهور د مسلې د حل له پاره انګلستان ګلډ سمتټ ته وظيفه ور کړه چې د موضوع تحقيق او حاکميت وکړي.

## ١٨٧٠ م.

په ترکستان کې د تزاري روسيې ګورنر جنرال، کو فمان امير شير على ته په يوه ليک کې ډاډ ور کړ چې سردار عبدالرحمن (ورسته امير) ته به اجازه ورنه کو ل شي د امير شير على پرضد فعاليت وکړي. همدارنګه کو فمان هغه ته وليکل چې د افغانستان امارت بايد د بخارا په سرحد اتو کې دفعاليت څخه ډډه وکړي.

امير شير على د دولت د دستګاه تنظيم ته پام نه وکړه او د سيد نور محمد شاه په صدارت يې کابينه جوړه کړه او د دولت دو ظايفو تفکيک يې د وزارت خانو پر اساس په تشکيل کې ځاى کړ.

همدارنګه امير شير على چې يو څه فراغت پيدا کړی ؤ، د سيستان مسلې ته يې پام نه وکړه څرنګه چې ايران په سيستان کې نفوذ ته پراختيا ورکوله شير على موضوع انګليسانو ته حواله کړه څنګه د پاريس د ١٨٥٧ کال د کنفرانس د پريکړی په اساس دد غو مسايلو حل د انګليسانو وظيفه وه.

پر سهمند و دانګیس پرید و نه جاری وه ، ددغو جنګو نو ساحه محدوده نه وه بلکی قبایل ټوله راجګ شوی وه ، دمرد ان شمال ختیځ ته دوایتر ، خرکی ، برسول ، کوهی پیپل میاخان او تنګاو چی کوم اتمان خیل پراته وه هم راپورته شول اودبا یز یو په سیمه کی یی دانګیسانو پرپوځی څو کیو حملی و کړی .

ګلډسمت چی دا بران او خان قلات ترمنځ دبهپورد پیښی په رابطه منځګړیتوب ته تاکل شوی و دیوی منظمی دستګاه سره را روان شو ، په ۱۸۷۰ کی ګلډسمت ، کپتان هرپس دخان قلات نما ینده داروغه عطا محمد او سردار فقیر محمد بز نجو په بمپور کی سره یو ځای شول ، دایران له خواسیرزا معصوم خان خارجه وزیر راغلی و ، دوی دسرهنګ ابراهیم له خوا دبلوڅی کلیود اشغال مسله طرح کړه خوایرانی نماینده ګانو نه یوازی دهغو کلیو خوشی کو لوته قناعت نه کاوه بلکی دټوله بلوڅی سیمی دملکیت د عوایی کوله . دبمپور کنفرانس په ناکامی پای ته ورسید ی ، خو ګلډسمت په ګوادرکی یوه غونډه جوړه کړه چی په هغه کی هرپسن ، دخان قلات نماینده داروغه عطا محمد ، سردار فقیر محمد بزنجو ، دکیچ سرد ار میر بابان کچکی ، دپنجګور سردار میر کاجیان را ټول شول او پریوه تړون یی لاسلیکه و کړ چی خبری باید چاری و ساتل شی .

## ۷۱-۱۸۷۲ م :

انګلیسانو دامیر شیرعلی دتهدید له پاره له هیڅ وسیلی څخه ځان نه در یغ کاوه . په دغو کلونو کی چی کله دامیر زوی

یعقوب خان بغاوت وکړه او امیر غوښتل چی هغه تهدید کړی خو دبریتانوی هند و یسرای مداخله وکړه او امیر شیر علی ته یی پیغام راولیږی چی یعقوب خان ته مجازات ورنه کړی، امیر د انګلیسانو دا اقدام د ۱۷۵۵ ـ ۱۷۵۷ د تړو نونو له روحیی څخه مخالف وباله او شهزاده یی وتړتی .

هغه ډیره مهمه پیښه چی د بلوچستان په تاریخ کی د فاجعی حکم لری په دغه ۱۷۷۱ کال کی منځ ته را غله . د لویدیځ بلوچستان په برخو کی چی دایرن له خواتیری روان وه او بیا د بهوورپه کنفرانس کی طرح شول او بی نتیجی پاته شول ، نو په دغه ۱۷۷۱ کال داګست له ۱٦ څخه دسپتمبر تر ۳ پوری انګلیسی ماموریں چی ګلدسمیت هم پکی شامل ؤ په تهران کی دانګلیس په سفارت کی خبری و شوی . په دغو خبرو کی یوازی ایرانی او انګلیسی ماموریںو برخه اخیستی وه . دوی دایران د شاه سره هم کتلی وه او هغه لا رهوونه ورته کړی وه چی ایران د کیڅ یا کیچ او ګوادر بندر څخه صرف نظر کوی خو اعوجاج ، رود دشت او کوهك نه پریږدی .

د ګلدسمت نقشه منظور شوه او لاسلیکو نه پری وشول او په دی توګه بلوڅی سیمی چی وروسته په ایرانی بلو چستان یادیشوی په ایران پوری وتړل شوی . ))

دادبریتانوی امپریالیزم یوه ضربه وه چی بلو څوته یی ورکړه دغه تړون په ۱۸۸۳ کی یه خان قلات لاسلیك شواو د بلو څوروغ بدن شقه شو .

په دغو د ووکلو نو کی د سیستان مسله هم دغه گلد سمت ته سپارل شوی و، دامیرشیر علی له خوا صدراعظم سید نور محمد شاه سیستان ته ولیږل شو خو هلته هم بیله دی چی پر تاریخی اسناد واو سوابقو نظر اندازی وشی گلد سمت هم په خاوره او هم د هلمند په اوبو کی ایران ته برخه ور کړه دا فیصله سید نور محمد شاه و نه منله او د انگیسا نو سره د امیر شیر علی پر اختلاف یو بل زیاتوب هم راغلی .

## ۱۸۷۳ م :

ددغه کال په اپریل کی صدر اعظم سید نور محمد شاه په بریتانوی هند کی د ویسرای نارت بروك او د بریتانوی هند د خارجه وزیر ایجسن سره دخبرو له پاره سملی ته روان شو .
اساساً ویسرای امیر شیر علی ته بلنه ورکړی‌وه خو هغه په خپله نمایندگی سید نور محمدشاه ولیږی. سید نور محمدشاه پهجولای کی د ویسرای سره خبری وکړی او هغه سید نور محمد شاه ته یادونه وکړه چی امیر به پهخارجی سیاست کی‌دانگلیسی حکومت، څخه مشوره اخلی، یوه بریتانوی هیئت ته به اجازه ورکوی چی دافغانستان شمالی سرحدات وگوری، همدارنگه په بلخ، هرات او کندهار کی به دانگلیسی دایمی هیئت له مقرری سره موافقت کوی په مقابل کی به انگلیسان امیر د دباندنی هجوم په مقابل کی حمایت کوی .

همدارنگه ۱۰ زره توپکونه او یو ملیون روپی به امیر ته

ورکول کېږي . دغه تړون لا ملېك نشو او سيد نور محمد شاه ويسرای ته وويل چې ددغسې تړون صلاحيت امير لري نو ويسرای د امير په عنوان يو مفصل ليك وليږی او سيد نور محمد شاه په اگست کې کابل ته را روان شو .

امير شير علي توپك قبول کړه خو پيسې يې نه وا خيستې او د هغو د وو انګليسانو په باره کې چې د روسيې او ايران له لارې يې افغانستان ته راتګ ويسرای پيشنهاد کړی ؤ د امير له خوا قبول نشو او په دې توګه د طرفينو تر منځ اختلاف نورهم پراخ شو .

انګليسانو په باجوړ ، کورمه ، وزيرستان او بلوچستان کې پرستراتيژيکی ځايونو خپل کمپونه تقويه کول او په مقابل کې قبايلو د دوی پر ضد مبارزې ته ادامه ورکوله .

د تزاری روسيې له خوا کنت شوالوف لندن ته ولاړ او هلته يې د انګليستان د خارجه وزير لارډ ګرانويل سره د افغانستان د شمالي سرحداتو د ټاکلو په باب خبرې وکړې .

نوموړي کنت نوموړی لارډ ته ډاډ ورکړ چې د روسيې امپراتوری د وضع او امن د ورانيدو سره مينه نه لري او انګليستان بايد تزاری روسيې ته د مسؤليتونو په متوجه کولو پلمې ونه کړي .

## ۱۸۷۴ م :

په انګليستان د ګلاد ستون حکومت سقوط وکړ او پر ځای يې ديزرايلي راغی . ديزرايلي چې محافظه کارانو ته منسوب ؤ د افغانستان او مرکزی آسيا په باب يې د فارورډ پاليسی تعقيب ته پاملرنه کوله . لارډ سالسبری د ديزرايلي صدراعظم د هغه راولنسن چې د افغانستان او انګليس په لومړی جګړه کې په افغانستان کې ؤ او بيا د فارورډ پاليسی سوبکر ځينې جوړ شوی ؤ تر پوره نفوذ لاندې ؤ .

راوليښسن ويلي وه چي د کابل په دربار کي بايد انګليس نژاده سفير مقرر شي او په بلوچستان کي کوټه بايد سمدستي اشغال شي .
دد غه کال د کوچني اختر په ورځ امير شيرعلي خان دخپلو تنظيم شوي قواو يو ډير لوی پريټ ( رسم ګذشت ) د سرنجان د غونډ يو سره وليد . داقواوی چي د سپه سالار حسين علي خان په قوماندانی تنظيم شوي وي ٣٧ پلي کنډکه څلورر جمته سپاره اولس توپخانی وی .
دد غه نظامی نمايش د کتلو له پاره د قبايلو خلك هم رابلل شوی وه . دايو ډير غټ سانو رؤ ، اودهغه داطلاعاتو راپو په دری ورځو کي تر ډهلي اولند نه ور سيد .
انګليسانو په دی بل جوړ کي د قوی داستعمال پرځای د توطيو څخه کارو اخيست او په لومړ ی سر کي د با جوړ د فيض طلب خان او د ناوګي دغلام حيدر خان تر منځ لويه شخړه راوچته شوه .

## ١٨٧٥ م :

ددغه کال په جنوری کي لارډ سالسبری چي د هند دچارو زيرؤ اوصدراعظم ديزرايلي (ورو سته لارډ بيکانسفيلډ ) هندو يسرای ته وليکل چي د امير شيرعلي په دربار کي د انګليسا نوله خوا سلمان نما ينده د بريتا نيا د ګټو نګهبان، ( ؟ ) د امير محمد د ی و غوښتل شي چي په کندهار اوهرات کي انګليس نژاده نما يند ګان ومنی البته که په کابل کي مسلمان نما ينده وی سمد ستی فرق نه کوی .
د بريتا نوی هندو يسرای چي د ليټرل ګو ند غړی ؤ او دافغانستان په چار و کي وارد سړی ؤ تلګرافی له سالسبری څخه و غوښتل چي دا امردی اوکه زموږ مشوره هم غوښتل کيږی ، هغه ورته وليکل چي

بلوڅو سیاستني د مشورې له پاره وخت لري ء . ویسرای دغه موضوع پېښور د سیاسی کمشنر ریچارډ پالك ، کرنل ستن په نیپال کې سیاسی مامور او ټیر نټن د پنجاب د گورنر ونایب ته حواله کړه او هغو ټولو په گډه د ما لسبري نظر رد کړ او د موضوع څخه د جون په میاشت کې لندن ته خبر ورکول شو .

لارډ نارت بروك د هندوستان ویسرای چې د محافظه کارانو سره په مخالفت او لارډ مېخ کې له دې چې د ماموریت موده یې پوره شي د دغه کال په نوامبر کې له خپل پست څخه انکار وکړ او په هغو دلایلو کې چې دا وظیفه یې پرېښوه له عمده مسئله دا وه چې د فارورډ پالیسي له لارې په افغانستان کې تاکلي اهداف نه ترلاسه کېږي .

د یزرا یلي او سالسبري ، د لارډ نارت بروك پرځای د کوم سړي په لټه کې وه هغه راولنسن ورته په گوته کړ او دا نو هغه لارډ لیټن و چې د افغان او انگلیس د دوهمې جگړې اور یې بل کړ .

امیر شیر علي چې د انگلیسانو څخه زړه شنی شوی و او په دې ګه به یې ویل چې انگلیسان په سیاست کې دروغ وایي خو روسان دروغجن نه دي او نو ځکه تمایلات یې د روسانو خوا ته زیاتېدل . ده په ترکستان کې د تزاری روسیې د گورنر جنرال کوفمان سره مکاتبه جاري ساتله .

دده نظامی او سیاسی مشاور قاضی قادر چې دده د اعتماد سړی و خو په دننه کې د بریتانیا د مخفي سرویس غړی و او د امیر ورځني اطلاعات یې انگلیسانو ته مخابره کول . د روسانو خوا ته د امیر تمایلات د انگلیسانو زیات تشویش باعث کېدل .

شیرعلی د قبایلو د چارو سره منظمه رابطه ساتله او کله چې د انګلیسیانو په لمسون د باجوړ د فیض طلب خان او د ناوګی د غلام حیدرخان ترمنځ اختلافات جګړې ته ورسیدل په ۱۸۷۵ کال کې امیر شیرعلی د هغو ترمنځ جوړه وکړه چې دواړو خواو ومنله .
د امیر شیرعلی دا اقدام او په قبایلو کې د ده نفوذ نور هم د انګلیسیانو تشویش وپاڅاوه .

په بلوچستان کې انګلیسانو لاس وهنې ته زیاته پاملرنه وکړه او په سنده کې یې د انګلیس سیاسي نماینده میجر جاکوب طرح تر تطبیق لاندې ونیوله . ددې لپاره چې د قلات خان خدایداد خان په خپلو خپلوکو تهدید کړي او یا خپل نظریات پرې ومني نود هغه پرضد یې سردار ازادخان نوشیرواني او سردار ګوهرخان زرکزی تحریک کړل چې پر قلات حمله وکړي .

د ۱۸۵۷ د دسمبر په ۸ ورځ د دغې توطئې د طرح تطبیق د انګلیس د یو زیردسته مامور سنډیمن (وروسته سرسنډیمن) لاس ته وسپارل شو .
هغه په دغه ورځ په سیوي کې د سردار ملا محمد رئیساني سره وکتل ، په دغه وخت کې دا سرداران حاضر وه . سردار امام بخش مزاری ، سردار جمال خان لغاري ، سردار حیدرخان لوني ، سردار سکندرخان کوسه ، د سردار کتران خان مري ورور میر مهرالله خان سردار شهبازخان بګټي ، سردار نادرخان کتران او سردار بائل خان بزدار .
تر دغې جرګې وروسته سردار امام بخش او سردار جمال خان چې د سنډیمن سره یوځای له سیوي څخه راروان شوي وه د سنډیمن څخه د بي بي نا بي په سیمه کې بیل شول قلات ته ولاړل او سنډیمن کوټې ته راغی .

دغو دوو سردارانو خدایداد خان دی ته حاضر کړ چی جرگی ته راشی . دا جرگه د دسمبر په ۲۵ په مستونگ کی جوړه شوه . په دغه جرگه کی سنډیمن سردارانو ته اعلان وکړ چی ستاسی له وضع څخه د هندوستان ویسرای ډیر مشوش دی او نوځکه اراده شویده چی ستاسی اداره په پنجاب پوری وتړل شی .

خدایداد خان چی وار خطا شوی ؤ تر خوله یی وو تل ساغو ښتل په بلوچستان کی ناراسی راو ستلوله پاره دافغانستان څخه مرسته وغواړم خو اوس له دغه کار څخه منصرف شوی یم . خو دا باید څرگنده کړم چی د بلحکم نشم منلای . دخپل رقیب ملا محمد رئیسانی ته وویل داوضع که زما په گټه نه وی نوستا په گټه به هم تمامه نشی .

سنډیمن چی سرداران او خان قلات یو په بل وتړکول نو پدی ماهرانه توگه یی جرگه ختم کړه او راتلونکی کال ته یی د مسا بلوحل معطل کړ .

امیر شیرعلی د بلوچستان حالات هم څارل او له دی څخه هم سخت ناراحته ؤچی انگلیسان د قلات په چارو کی نه یوازی دده بی مصلحته گوتی وهی بلکی کاملا وضع داسی عیاروی چی هغه دافغانستان په په زیان تمامه شی .

**۱۸۷٦ م :**

لارډلیټن دبر یتانوی هندد ویسرای په حیث داداری واگی په لاس کی واخیستی او دفارورډ پالیسی په تطبیق یی لاس پوری کړ . ده تر هرڅه وړاندی دامیرشیرعلی اداره تر نظارت لاندی ونیوله او جاسوسان یی موظف کړل چی د هری ورځی احوال یی ده ته ور سوی .

ده دیوه لیک کاپی په لاس راوړه چی په تاشکند کی د روسی

د ګورنر جنرال کرفان له خوا شیر علي ته رسیدلی و . دا لیك په لندن کې وزارت خارجه په پترسبورګ کې د انګلیستان سفیر لارډ لوفتس ته ولیږل شو او هغه د روسیې وزارت خارجې ته د یویادداښت سره ولیږی . په یاد داښت کې شکایت شوی و چې کنت شوالوف په لندن کې د روسیې سفیر کوم ډاډ بریتانیا ته ورکړی و چې افغانستان د روسیې له نفوذ څخه د باندې دی خواوس کوفمان امیر شیر علي ته لیك لیږی . د روسیې د خارجه وزارت مامور م . د . ګیرس او خارجې وزیر ګورچاګوف دا لیك تر لیدلو وروسته دا لیك ماهیت مهم و نه باله او حقیقت هم داو چې لیك د تجارت په عادي مسائلو اړه درلوده او امیر شیر علي هم د اصلاحیت درلود چې د غسې لیك وا خلي او هم یې جواب ولیکي .

خوا نګلیسانو په دې برخه کې پلمه غوښته او اراده یې درلوده چې فضا ناسالمه کړي او دراولنسن نظریاتو ته عملي بڼه ورکړي .

د دغه کال په غتو پیښو کې د بریتانوي هند د فارورډ پالیسي د طرفدارانو هغه خطرناکه پاملرنه ده چې بلوچستان ته ئې وکړه . کویټه چې په ١٨٤١ کې د بریتانیا او د خان قلات میر نصر خان په تړون کې د افغانستان څخه بیله شوې وه په دغه کال ١٨٧٦ کې انګلیستانو رسماء اشغال کړه او د یوې نظامي اډې په شکل یې واړ وله . په دغه ځای کې یې دوسره قواوې ځای پر ځای کړې چې هم یې قلات تهدید اوه او هم یې تهدید کندهار ته متوجه و .

سنډیمن چې د سیجر جاکوب د سترو استعماري شاګردانو څخه وه د بلوچستان اختیارات وروسپارل شول او هغه ترهر څه لومړی

د میجر جاکوب د طرحو سره مطابق د بلوڅو خانان یو په بل ووهل . خان خدایداد خان د قلات خان چې د ملا محمد رئیساني د ډلې او خاصه توګه د امام بخش مزاري سره بدې درلوده د سنډیمن په پټ هدایت خان ته داسې اطلاع ورکول شوه چې مېجر و ف مپا رز شخصیت سردار نور الدین خان د امام بخش سره لاس یو کړی دی او د خان قلات پر ضد فعالیت کوي . خدایداد خان د خپل داز وغه عطا محمد په ذریعه نور الدین خان راوغوښت او د هغه د ملګر و سره یې ووژی . تر دغه قتل وروسته د نور الدین ملګري ټول د خان قلات پر ضد راپورته شول . خان قلات ته بله چاره پاته نشوه بیله دې چې د انګیسانو حمایت ته خان وسپاري .

کله چې خان قلات له هرې خوا تجرید شو نو د لارډ لیټن د امیر سره سنډیمن هغه مستونګ ته وغوښت او د ۱۸۷۶ کال د جولای په ۱۳ یې د مستونګ تړون په هغه لاسلیک کړ . د دغه تړون غټ ټکي دادي :

۱- له هغه ځایه چې د قلات د حکومت د میلي د جام او نورو سردارانو ترمنځ د کلونو راپه دې خوا مخالفت موجود و . او بیا د دغو تنازعاتو د حل له پاره د ډېره غازي خان د پټې کمشنر میجر سنډیمن زیار و یوست او اوس د بریتانیا د حکومت له خوا د خاص نماینده په حیث راغلی او د قلات خان هم د صلح په شرایطو راضي شوی دی نو پر لاندې شرایطو او مسایلو موافقه راغلې ده .

۲- ټول سرداران او د میلي جام د جلالتماب میر خدایداد خان د قلات د والي فرمانبرداري اعلانوو . او همدا رنګه اعلانوو چې د بلوڅو د قدیمي دستور او قواعدو مطابق به جلالتماب زموږ حقوق را تفویضوي .

۳ـ جلالتمآب په لاندی توګه زموږ حقوق را منظوروی :

الف ـ د سردار سلا محمد خان خلف سردار اسد خان به د سرداروان د سردار په حیث پر خپل ځای پاتی کیږی او د هغه پر سرداری به په عام دربار کی اعتراف کیږی او خلعت به ور کول کیږی .

ب ـ سردار ګوهر خان دزهری او سید ونکی چی جهالوانیانو له خوا د سردار تاج محمد خان پر ځای ټاکل شوی منظوری به یی صادر یږی.

ج ـ د مرحوم میر لښکر خان پر ځای به سردار نور الدین د مینګلو د سردار په حیث منظور کیږی او دده د بالغ کیدو تر وخته پوری د هغه تره میر ابراهیم خان د سرداری چاری اجرا کوی او جلالتمآب ( خان ) به خلعت ور کوی .

د ـ زه جام علی خان د میرخان خلف او د ساراوان او جهالوان سردار ان غوښتنه کوو چی جلالتمآب خان دی په یوه لیکی پانه کی په خپل لیک زموږ دا غوښتنه میجر سنډیمن ته و رواندی کړی چی هغه یی د هندوستان حکومت ته و رواندی کړی چی جام میرخان د بریتانیا له زندان څخه آزاد شی .

هـ ـ د قلات او لسبیلی ترمنځ د صلح په خاطر به جلالتمآب (خان) میر جام علی خان ته خلعت ور کوی .

۴ـ د ساراوان او جهالاوان سردارن غواړی د ضبطی محکو په باب یوه کمیټه تعین شی چی په هغه کی د سردارانو او جلالتمآب د حکومت نماینده ګان شامل وی څو په دی باب مسایل حل ته ورسوی.

۵ ـ موږ سردارن جلالتمآب خان او میجر سنډیمن ته وعده ورکوو چی د دره بولان په لار کی د تجارت په ار تباطهر ه فیصله

وشي زموږ به قبوله وي .

۶ـ ددغه تعهد په اساس تیر پر هیردی، که دجلا لتماب (خان) عمال پر مظلو ما نو تیری وکړی هغوی به جلا لتماب (خان) ته شکایت کوی او جلالتما ب به عدالت کوی خو که د (خان) عدالت ونه کړ نو موضوع به د فیصلې له پاره د بریتا سرکار ته حوالد کیږی .

سنډیمن په دی توگه د قلات خان ته په خپلو سر دارا نرز ندی ورو اچوله، انگلیسا نو به سر دار ن دخان پر ضدلمسو ل او بیا به یې فیصله په خپل لاس کې نیوله . ددغه کال ۱۸۷۶ په د سمبر کې د هندو یسر ای لا ر ډ لیټن جا کو ب ا با د ته ر ا غی ، سنډ یمن دقلا ت خا ن خد اید اد خان ورته راو ست اودد سمبر په ۸ ورځ خدا ید اد لا ر دیستن بر یوبل تړو ن لا سلیك و کړ چې عمد ه مواد یې دادی :

۱ ـ میرخدایدادخان . د بریتا نیا دحکومت د ښمنان دخان دښمنان بولی اود هغوسر ه به مخالفت کوی .

۲ـ خان (میرخدایداد) د بریتا نیا ما تحتی منی او په هره چا ره کی به د بر یتا نیا مشوره ا خلي .

۳ـ دبر یریتا نیا د حکومت بې مشورې او بې ا جازی به دریاست دبا ندی هیڅ خط او کتا بت نه کو ی .

د بریتا نیاحکو مت ددی په عوض کی :

۱ـ د قلات خودمختا ر ی تسلیموی .

۲ـ دضر ورت پر وخت د خان د قدرت سا تلو په مظور که ددبا ندی خوایر غل پرو شی منا سب ی اوضرور ی مر ستی به کوی . «

ددغه تړون ترلاسلیک وروسته ویسرای خان ته ۳ لکه روپۍ ورکړی اودا منتبی پرخان اوسر دارا نو کیږو د چی سیجر سنډیمن یی د خان په دربارکی دای ، جی،جی (ا یجنت گورنر جنرال) په حیث مقرر کړ.

خان قلات دخان گړ ښار (چی وروسته جا کوب آباد و بلل شو) ویسرای لار دلیدن ته په لنگوته کی سوغات کړ.

۱۸۷۷م:

دامیر شیر علی په نما ینده گی سید نور محمد شاه صدراعظم او د هند د ویسرای لیدن په نماینده کی سرلو یس بیلی په پیښور کی خبری پیل کړی دا خبری چی په جنوری کی شروع شوی یوه زیاته موده یی دوام و کړ. انګلسی هیئت زور لګاوه چی امیرشیر علی په افغانستان کی انګلیسی نژاده نماینده گان ومنی او د هغوا منیت بهوساتی خو دافغانستان نماینده ددغه کار خطر ونه په نښه کول او دبرېتانوی هندسره یی دامیردوست محمد دو ختو ۱۸۵۵ او۱۸۵۷ کال تړونو ته اشاره کوله چی هلته پردی موا فقه شوی وه چی د برېتانوی هند سیاسی نماینده دی انګلیس نژاده نه وی

په مقابل کی دلارډ لیتن نظریات دهغه نماینده سرلوس پیلی بیان کړل چی امیر شیرعلی چی د دغو نماینده گانو قبول سره موافقه نه کوی داد یوی دښمنی حکم لری .

په مقابل کی سید نور محمد شاه دامیر له طرفه پیلی ته و ویل دا د ښمنی خو انګلیسان کوی اوداد ری

شکا یتونه یې وړا ندې کړل:

اول ویسر ای ولی د یعقوب خا ن په طرفدا ری پرا میر زو لګوی داد یوی صر یحی مدا خلی حکم لری، دوهم دوا خان میر ته ولی سوغا تونه لیږی، دریم میرا برت سنله یعن دامیر بی استیذ انه د خان قلات سره تړ ون کو ی او په کو یټه کی بی لویه نظا می پسته ا چو لی ده .

دغه خبری بی نتیجی دلاړی لیټن په اسرد پیلی له خوا د مارچ په لومړی هغته کی فسخ شوی اود مارچ په ۲٦ سید نو رمحمد شاه په پیښور کی و فات شو .

دسید نور محمد شاه تر مړینی وروسته سمد ستی د خبر ودادامی له پاره یوا فغانی هیئت چی حبیب الله خان مستو فی، ملا شا محمد او تاج محمد پوپلزی او میرز ا محمد طا هر پکی شامل وه پیښور ته روان شول خوا نګلیسا نو له چمر ود هغه هغوی را جوا ب کړ ل.

ددغه کال په سپتمبر کی یوتر کی هیئت د . ام. کی ا قند ی په مشری کا بل ته را غی، ددغه هیئت دخبرو مقصد داوه چی د تر کیی د سلطا ن چه په عین زمان کی بی دخلیفه ء المسلمین حیثیت درلو دامر نا فذو یو لی خوا میر شیر علی د رو سیی سره روابط پری کړی اودا نګلیسا نو غو ښتنی و منی . ښا یی د تر کیی (عثما نی) سلطا ن ته . بها نګلیسا نو په اروپا کی ا متیا زات منلی وه چی د هغه په مقا بل کی یه هغه کو ښښ کوو ه چی ا میر شیر علی دا نګلیسا نو ته تسلیم کړی، خوا میر هغوی ته وویل : »ر و سا نو ده اوهیوا د ته بی نا ارا می نه د ی پیدا کړ ی بلکی بر عکس جنرال کو فما ن دده سر ه په برابری او ....

واتو رو یې کړیده.

داهیئت نا کامه ولاړ ولارډ لیټن تر بخوا هم عصبي او په قهر شو. په دغه
کال کې معروف روحاني مبارز دسوات اخوند صاحب چې اصل نوم
یې عبدالغفور و او دسوات د شرعي حکومت موسس و، په سیدو شریف کې
وفات شو او هلته ښخ شو. دغه ځای سیدو نو میدی خو دده د مرقد په وا
سطه د هغه ځای له نا مه سره شریف هم وایي. ده دانګلیسانو پر ضد
ډیرې مبارزې کړیدي او دا میلي په لو یه جګړه کې دی پخپله دیو
محاذ قوماندان و» ده د امیر شیر علي خان سره اړیکې درلودل او
هغه یې په دې ستا یه چې دانګلیسانو سره مخالف دی. ـ ده امیر شیر
علي ته ډیر په لیکو نه خپل لا سلیک ډ ي و لیږ ل چې سر نا مه به
سپینه وه او په خپل یو لیک کې یې امیر شیر علي ته ولیکل چې ددغو لیکو
نو څخه هر لیک چې کومې قبیلې ته لیږ ی صرف په سر نا مه کې د هغې
قبیلې نوم و لیکه. دده یو لیک دهغه وخت په شمس النهار جریده کې
هم خپور شویدی.»

ددغه کال په لو مړ یو ورځو کې لیټن په یوه لوی دربار کې چې
په هغه کې د ټول هندوستان راجګانو، نوابانو، سردارا
نو او خانانو ګډون کړی و دبر یتانیا ټولوا کمنۍ ویکټور یا ته د
هندوستان دامپرا طریسی خطاب ورکړ. دغه دربار ته امیر شیر
علي خان هم ور بلل شوی و خو هغه ورنغی او دا هم دانګلیسانو د
قهر اوغضب اسباب برابر کړل.

په دغه کال انګلیسانو پرا پر یدو دوی حملې وکړې چې یوه حمله
ئې دډ ګرمن ما ګتا په قو ماند اني او بله یې دجنرال ګیزو رامس په

قوماندانی وه .

## ۱۸۷۸ م:

دتزاري روسيې يو هيئت دجنرال ستا ليتوف په مشرۍ کابل ته ورسيد او د امير شيرعلي خان سره يې پهٔ اګست کې وکتل او د يو تړون په مسوده مطالعات پيل شول . امير شير علي غوښتل د تزاري روسيې په نظامي او سياسي مرسته دانګليسانو استعماري فشار کم کړي.

دهمدغه کال دجون له ۳ څخه دجولاې تر ۱۳ پورې دبرلين کانګره جوړه شوه چې په هغه کې تزاري روسيې دخپل دمسلې په ارتباط افغانستان دانګليس دنفوذ ساحه وبلله او په دې توګه دستا ليتوف سفربې نتيجې شو .

په همدغه وخت کې دامير وليعهد عبدالله جان چې ۱۷ کلن زلمی ؤ مړشو او دغه مرګ نورهم مسائل پسې مغلق کړل .

دسر نيول چمبرلين په مشرۍ انګليسي هيئت چې غوښتل يې په زور کابل ته راشي دامير شيرعلي په امر يې په خيبر کې مخ نيوی وشو . دډيپلوماسي په تاريخ کې داسې پېښه بې سارې وه چې يو سياسي هيئت بيله قبلي موافقې په زور سره وغواړي دسياسي مذاکراتو په غرض يوه هيوا د ته ننوزي ، خوانګليسانو غوښتل يوه پلمه تراشلې وه او هغه داوه چې امير د روسيې هيئت منلی ؤ ، نو ځکه انګليسانو ځانته حق ورکاوه چې د دوی هيئت هم افغانستان ته راشي .

دروسي هيئت سره چې مشر ئې ستا ليتوف (بريدجنرال) ؤ، ن، اې،

زګونوف د مرستیال په توګه، دوه ژباړونکي (انګلیسي او ترکي) ژیوداکتر د هغه مرستیال او دیوه کوچني بریدمن سر قوماندانۍ لاندې ۲۱ تنه قزاقان ټول تر دیرشو څخه زیات کسان ؤ .

خو انګلیسي هیئت چې د مدراس د لښکر سر قوماندان جنرال نیول چمبرلین ؤ د پېښور سیاسي کمیسار جګړن ویورلوبي نا پلوون کوانیاري (کیوناري ـ چې د کابل خلکو کمناري باله )

« ۲۰ » تنه عسکر او نور د ول د ول پرسونل ورسره ؤ چې شمېر یې تر زرو تنو هم زیاتېده .

برېتانوي مطبوعاتو کابل ته د ستالیتوف د هیئت مسافرت چې کارل مارکس په یوه لیکنه کې چې د ۱۸۷۸ کال دسپتمبر په ۲۴ نې فردریك انګلس ته لېږلی دی د ((په افغانستان کې د روسانو د شطرنج حرکت )) بللی دی یو لوی خطرناک حرکت وباله او داسې یې تبلیغوله لکه د برېتانیا پر حاکمیت چې تېری شوی وي ، دغو مطبوعاتو د امیر شیر علي دا حرکت چې د ډیپلوماسي مخالف انګلیس هیئت په زور . ننوتل غوښتل او د هغې مخه ګرزولې وه د (بې ساري سپکاوی) په نامه یاد کړ او ( انډیا تریبیون) د(هغه جګړه چې په مخ کې وه) مقاله خپره کړه .

د اکتوبر په ۲ د برېتانیا د نماینده لارډ لیټن له خوا افغانستان ته التیماتوم ورکول شو چې امیر به رسماً د خپل عمل څخه د پښېمانۍ په عنوان معافي غواړي او په کابل کې به انګلیس نژاده سفیر مني او هیئت ته به اجازه ورکوي چې

کابل ته ورسي .

د نوامبر په ۹ د انګلستان صدر اعظم د لندن ښاروالي په ګیلډ هال کې یوه اوږده وینا وکړه او په هغه کې یې وویل: «د هند شمال لویدیځ سرحد یو تصادفي او غیر علمي سرحد دی.» باید دا حالت بدل شي. د لارډ بیکنسفیلډ دا خبره په ځرګنده هغه حقیقت روښانه کوي چې انګلستان د سره څخه د جګړې اراده درلوده او نوري خبرې یې صرف بهانې وې.

دالتیماتوم نیټه د نوامبر په ۲۰ پوره کیده خو امیر د بریتانیا د التیماتوم جواب د نوامبر په ۱۷ لیکلی ؤ او په هغه کې یې یادونه کړې وه چې افغانستان او انګلستان سره د دښمنۍ اراده نه لري، که انګلستان دا سې یو هیئت چې د هغه شمیر د شل څخه ترد یرش پورې وي راولیږي قبول به شي.

د شوروي ازبکستان په تاریخي ارشیف کې هغه لیک پروت دی چې په ترکستان کې د تزاري روسیې ګورنر جنرال کوفمان امیر شیرعلي ته لیږلی او د امیر له خوا د انګلیس دالتیماتوم تر صادریدو دوې ورځې پخوا هغه ته رسیدلی ؤ. په دې لیک کې کوفمان امیر ته لیکلي وه: تر کومه ځایه چې معلومات لرم د بریتانیا دولت به له تاسې سره کوښښ وکړي چې تاسې سره مصالحه وکړي، زه دیو دوست په حیث تاسې ته توصیه کوم چې تاسې هم د زیتون څانګه (د صلح رمزي علامه ده) هغوی ته وړاندې کړې.)

ولې سره له دې چې شیر علي د زیتون څانګه وړاندې کړه خو بریتانیا د جګړې اراده درلوده نو بیله دې چې دا میر د وستي لیک و اخلي د نوامبر په ۲۱ یې له درو لارو پر

افغانستان تجاوز وکړ. دخیبر له لاری دجنرال براون په قوماندانی، دکورمی له لاری دجنرال رابرتس په قوماندانی او دبولان له لاری دجنرال ستوارت په قوماندانی لښکري افغانستان ته را ننوتی.

ددسمبر په لسمه ورځ امیر په بالاحصار کی یوه جرگه جوړه کړه چی په هغه کی دده وزیران او سرداران را ټول شوي وه. هغوی ته یی ابلاغ کړل چی دی به پیترسبورك ته ځی او هلته به ددو لتونو جرگه را غواړی څو دا نگلیس عمل وغندی. دهغه زوی یعقوب چی تازه د امیر له زندان څخه راووتلی ؤ په هغه وکالت غندنی ته معرفی کړاو بیا د بلخ خوا ته روان شو.

دافغانستان دسیاسی چارو رښتیا نی پیژندونکی او متخصصان دامیر دا حرکت ډیره لویه اشتباه گڼی. ځکه ده هم منظمه قوه درلوده او هم قبایل چی هر وخت یی دهیواد په حمایت کی شهامت ښوولی ؤ او اوس هم دانگلیس پر ضد دقهر څخه انفجا رته رسیدلی وه یو بر ستر قدرت ؤ، ده کولای شوای سمدستی ددغو قبایلو لویه جرگه راوغواړی او هغو په سلاتر ددښمن مخه ونیسی.

په دغه ۱۸۷۸ کال کی انگریسانو پرانیځیو قبایلو او ملکانو د میجر کمپول په قوماندانی حمله وکړه، همدار نگه بله نظامی قوه یی دډ گرمن چنگیز په قوماندانی پرا تما نخیلو ورپورته کړه او یوه بله قوه یی دجنرال ماډ په قوماندانی وا پریدو زخه خیلو ته واستوله دد وی سره دقبایلو له خوا سختی مقابلی وشوي. انگلیسانو چی پر افغانستان دتیری اراده درلوده نو مخکی تر مخه یی لا دغه ستراتیژیك مرکزو نه تر خپل یرغل لاندي ونیول. په دغه لړکی انگلیسانو په همدغه

کال پر کومه یوه ډیره سخته حمله وکړه څرنګه چې دا حمله ناڅاپي وه نو ډیر قبایلیان په کې شهیدان شول.

## ۱۸۷۹ م:

دجنورۍ په ورو ستیو ورځو کې دامیر له خوا هغه لیږل شوې هیئت چې قاضي قادرو، سردار شیر علي ملا شاه محمد او نور پکې شامل وه له تاشکند څخه مزار شریف ته راو ګرځید او په ترکستان کې د روسیې دګورنر جنرال ګوفمان پیغام یې امیر ته راوړ چې مصلحت یې وه، کړې چې په دغه حساس وخت دې امیر له وطنه نه وزي.

دفبرورۍ په ۲۱ امیر شیرعلي دګانګرین په نا روغۍ په مز ار- شریف کې مړشو. دده مرګ کاملا طبیعي نه ؤ، ځکه دروسیې هیئت طبیب یاروسکي هم په دغه برخه کې مشکوک ؤ.

دا پیښه په نه ده چې د بریتانوي هند دجاسوسي سرو یسو نو په د منظم پلان له مخې لومړی ولیعهد عبد الله جان او پسې امیر شیر علي په مخفي توګه وژلي وي څو د وی د مطلب سړي یعقوب خان ته لار خلاصه شي.

دمارچ په اوایلو کې امیر یعقوب خان د هندوایسرای ته د پلار د مرګ او دفبرورۍ په ۲۹ دخپل امارت د پیل خبرور کړ، او د دغې میاشتې په پای کې د بریتانوي هند له خوا نښې بختیار د روغې د شرایطو له پلان سره کابل ته را ور سید.

د مۍ په اوله امیر یعقوب د یوه هیئت سره ګندمک ته روان شو څو هلته پر هغه تړون خبرې وکړي چې په هغه کې د افغانستان روغ بدن ژوبل شو.

دمی په ۹ ګندمک ته ورسید، هلته د جنرال براون عسکري کمپ لګیدلی و او امیر د انګلیس د نماینده کیو ناري سره خبرې پیل کړې دا خبرې د مي تر ۲۶ پورې اوږدې شوې او د مي په ۲۶ امیر یعقوب د ګندمک تړون لاسلیک کړ. د اتړون د یرژر د لارډ لیټن له خوا هم په نښه شو او په بریتانوي هند او لندن کې د بریالیتوب جشنونه ونیول شول ولې دا یې هیره وه چه «هزار باده ناخورده در رگ تاک است». د ګندمک د تړون غټ ټکي دا وه.

۱- دا تائیدیږي چې له دغې نیټې څخه د دوارو هیوادو ترمنځ دوستي قایمه شوه.

۲- په دوهمه ماده کې دامیر څخه د اصلاحیت سلب کیږي چې غیر له انګلیس څخه بل به د هیڅ چا سره رابطه نه ساتي.

۳- په څلورمه ماده کې دامیر څخه تعهد اخلي چې په خپل دربار کې به انګلیسي نژاده سفیر منی.

۴- په اتمه ماده کې د کرم (کورمې) څخه تر کابله به د تلګراف په لین غزولو کې امیر جدي مرسته کوي.

۵- په نهمه ماده کې د (پښین) نیمه تر (کوژك) پورې، د کورمې سیمه د ځاځیو تر سرحده او په ختیځه برخه کې د هفت چاه او لنډي کوتل سیمې له افغانستان څخه بېلیږي.

۶- په دغه نهمه ماده کې د کورمې، پښین او سند ځینې سیمې چې له افغانستان څخه بېلې شویدي یادونه کیږي چې دا به په امانت د ولت دبرتنې په لاس کې وي، اوس به یې مالیه په امیر او اداره به یې په بریتانیا اړه لري.

۷- په همدغه نهمه ماده کې یادونه شویده چې بریتانوي

ماموران به په خیبر ، پیچ (کونړ) په برخو کی دازادو قبا یلوسره اړ یکی ټینګوی .

۸ ـ په لسمه ماده کی دبریتانیا له خوادکال شپږلکه کلداری امیرته مقرریږی . دګندمک لس ماده ایز. تړون افغانستان په پوره توګه دبا ندنی سیاسی خپلواکی څخه بی برخی کړ .

په همدی تړون دکور سی ، پښین آوسیوی (سیبی) سیمی دهغود تول نفوس سره له افغانستان څخه بیلی کړی او همدار نګه یې د خیبر اوسیمنی پرکوتلو نوخپل کنترول ټینګ کړ .

روسی ختیځ پیژندو نکی ل . ن سوبالیف لیکلی وُچی د (( ګند مک دتړون دستن لوستنه په ډیره روښا نه توګه دانګلیسانو دا غو ښتنه څرګند وی چی په ټینګه خپل قدرت دامود سیندترڅی غاړی اوترهرات پوري په تول افغانستان کی ټینګ کړی . د ګند مك تر تړ و ن وروسته دافغانستان دخپلواکی په هکله خبره هم نشوه کیدای .))

ددغه تړون دتحمیل په قدردانی کی دبریتانیادولت کیوناـ ری ته (سر) لقب ورکول شوا وبه لنډو ورځو کی افغانستان ته د سفیر په حیث راولیږل شو. دده راتګ دمیکناتن خاطری راژوندی کړی نوځکه دکابل سترملی قیام هغه ته د میکناتن په شان سز اور کړه اودافغان اوانګلیس دوهم جنګ دوهمی مر حلی ته داخل شو .

## ۱۸۷۹ م :

دجولای په ۲۴ میجر کیوناری (دکابل خلکوکمنا ری با له) دګند مك د تړون له مخی کابل ته دانګلیس دسفیر په حیث راور سید ی او په بالا حصار کی دامیر کورته نیژدی ځای ورکول شو . دده دا او لنی سفیر میکناتن (دا فغان انګلیس دلو مړی جګړی قر بانی)

په توګه د خپل صلاحیت له حده څخه تیری وکړ. او د امیر یعقوب د دولتی اراکینو په تحقیر او تهدید یی پیل وکړ.

د سپتمبر په ۲ د کابل په ښار کی هراتی پلټن قیام وکړ. او د کابل د ښار عامو خلکو په مظاهره د هغوی قیام هرکلی وکړ. مظاهره کوونکو په بالا حصار کی د کیوناری کورته ورغلل او کله چی د کیوناری له خوا پر هغو فیر وشو، عسکرو او خلکو سفارت ته داور واچاوه، کیوناری او ملګری یی وژل شول او سفارت وسوځل شو.

د سپتمبر په ۳ د کابل په ښارکی لوی قیام د کابل د اطرافو خلکو هرکلی وکړ.

د سپتمبر په ۷ په سمله کی لارډ لیټن د هندو پسرای ته په کابل کی د انګلیس د سفارت د بو سخوزه تباهی خبرو رسید. هغه سمد ستی په کورمه کی د بریتانوی قواؤ قوماندان ته امر صادر کړ چی قوا پر کابل راروانی کړی.

د اکتوبر په اوله د رابرټس قواوی د لوګر وادی ته ورسیدی، امیر یعقوب او سردارانو هرکلی ورته ووایه او د کابل خلکو پر هغو بر غلو نوته دوام ورکړ. د کابل په لارکی کله چی داقواوی سنګه نوشتی ته ورسیدی د یر سخت مقاومت سره مخامخ شوی

د اکتوبر په ۱۲ رابرټس د انګلیسی قواو سره کابل ته ورسید او په بالاحصار کی یی ځای ونیوی.

په همدغو ختونو کی د جنرال سیټوارت په مشری یوه لو په

انګلیسی قوه کندهار ته او بله قوه د جنرال براون تر قوماندانی لاندی جلال اباد ته ور سیده .

په نوامبر کی د کیوناری د قتل او د انګلیس د سفارت د سوځلو تحقیقات پیل شول او په دغه وخت کی ډیر کسان اعدام شول چی جنرال خسرو خان کافری، کوتوال محمد اسلم خان او د نواب زمان خان زوی سلطان عزیز خان هم په هغو کی شامل وه .

په دغه میاشت کی محمد جان خان وردک د کابل او غزنی تر منځ ملی مبارزین تنظیم کړل او ملا مشک عالم په غزنی کی خلک را پورته کړل ، د کندهار په زمینداور او د پروان په کوهستان کی میر بچه خان د مبارزینو تنظیم پیل کړ. په غزنی کی د ولسی مشرانو جرګه وشوه او د کابل د اشغال پروګرام جوړ شو .

د دسمبر په ۲ پر کابل د ملی مبارزینو یرغل وشو. انګلیسانو امیر یعقوب د هغه له کورنی سره هندوستان ته واستاوه . د دسمبر په دوهمه هفته کی ملی مبارزینو کابل ونیوی انګلیسی قواوی په شیرپور کی محاصره شوی او ملا مشک عالم د کابل د والی په حیث کار پیل کړ.

د دسمبر په ۲۳ د ملی مبارزینو تر منځ د اختلاف نظر په وجه انګلیسان بیا بریالی شول چی د کابل ښار رونیسی .

د انګلیسانو سره په همغږی کار کی یو شمیر سرداران لکه سردار محمد حسن خان او سردار ولی محمد خان چی په لاتی مشهور ؤ دواړه د امیر دوست محمد زامن وه هم ملګری وه .

## ۱۸۸۰م :

د اپریل په ۱۳ د انګلیس قواو لوی قوماندان جنرال را بر تس د افغانستان د خلکو په نامه یو اعلامیه له شیر پور څخه خپره کړه په هغه کې ویل شوي وه چې انګلیسان له افغانستان نه وزي په دغه وخت کې په بریتانوي هند کې د خارجه وزارت کار منډلیال سیاسي سکرتر ریجوی او د سیاسي چارو رئیس ګریفن هم کابل ته را رسیدلی وه .

په کابل کې د انګلیسانو سیاسي اداره د سارچ په میاشت کې خبره شوه چې سردار عبدالرحمن خان له بخارا څخه شمالي ولایاتو ته رسیدلی دي .

انګلیسانو د عبدالرحمن سره د هغه د خورشا بیوجاني (محیفي والي چي د مور) په وسیله مفاهمه او مکاتبه پیل کړه .

د مي په میاشت کې جنرال ستیوارت په کندهار کې د بریتانوي قواو قوماندان په کابل کې د جنرال رابرتس پر ځای مقرر شو ، په دغه وخت کې په بریتانیا کې محافظه کارانو ماتې وخوړه او لیبرالانو حکومت جوړ کړ . نوي حکومت تر هر څه پخوا تلاش پیل کړ چې انګلیسي قواوې له افغانستان څخه ووزي . له همدغه لحاظه ګریفن کوښښ وکړ چې عبدالرحمن خان ډیر ژر په کابل کې قدرت په لاس ، ونیسي .

د جولای ۲۲ عبدالرحمن خان د کابل پر تخت کښیناست او انګلسانو دوتلوو عده ورکړه د جولای په ۲۷ د انګلیسانو منظمي قواوي د جنرال پاروز په قوماندانۍ د کندهار د میوند پر د ګردسر دار محمد ایوب خان

دملای قواوله خوا ماتی شوی . په دغه جګړه کی دملالی په نامه یوی پیغلی هم برخه اخیستی وه چی قهرمانی یی هغی ته د افغان ولس په تاریخ د اسی ځای ور کړ لکه دفرانسی د ولس په تاریخ کی چی ژاندارك کوم ځای لری .

دشرق په تاریخ کی دالومړی ځل دی چی شرقی لښکر پر غربی مجهزو عسا کرو باندی موفقیت اوظفر موندلی .

په دغه کال دانګلیسانو یوه غټه قوه دمسیدو دوهلو په منظور دجنرال کنیډی په قوماندانی رزمك او بیا مکین ته دننو تلو کوښښ و کړ خودغه قوه ددری سوو کسانو تلفاتو او اسلحی تر پر یښولو وروسته شاته ولاړه .

په دغه ۱۸۸۰ کال کی نوری غټی جګړی په دی ډول وی :

۱ ـ د جنرال درن په قوماندانی انګلیسانو پر میهمند وحمله و کړ .

۲ ـ د ډ ګروال روا یتلډ په قوماندانی انګلیسی قواو پر بیټنو یرغل و کړه .

۳ ـ د جنرال ګاردن په قوماندانی انګلیسی عسکر و پردرویش خیلو وزیرو حمله و کړه .

## ۱۸۸۱م :

مشهور اومعروف مبارز مولانا ګلاب الدین چی دو زیرو دملا صاحب په نامه یی شهرت درلود او سر کی خیلو احمد زو وزیرو ته منسوب ؤ دهغه اوږده جنګ په پای کی چی انګلیسی قواوی دجنرال

گاردن او جنرال کیندی په قوما ندانی د وزیر ستان قبضې ته ننوتلی وی په شهادت ورسیدی. په دغه جنګ کښ د وزیر و د ملا صاحب له ملګرو څخه دوه سوه او نوی کسه په شهادت ورسیدل او د انګلیسانو له قوا وڅخه یو لس سوه نه اتیا تنه چی زیاتره یې افسران وه په قتل ورسیدل. د وزیرو ملا صاحب نم یوازې یو جنګیالی ؤ بلکی نه ډیر لوی او عمده کار د انګلیسانو په جګړو کی د افغانانو له پاره په ساده تخنیك دوسلو د تهی دکار سازمان د ډیرې پاملرنی وړ دی.

انګلیسانو کندهار امیر عبد الرحمن ته تسلیم کړ.

**۱۸۸۲م:**

د تزاری روسیی نماینده شهزاده لوبانوف او د انګلیستان نماینده لارډ ګرینویل دافغانستان په باب د ۱۸۷۳ کال د ګورچاکوف پر تړون په لندن کی خبرې وکړې.

**۱۸۸۳م:**

انګلیسانو په بلوچستان کی د کویټی تو له سیمه په خپله قبضه کی راوستله.

**۱۸۸۴م:**

انګلیسانو د کویټی د اور ګاډې لار جوړه کړه.

د مارچ پر ۱۳ په پاریس کی سید جمال الدین افغانی د عروة الوثقی جریده خپره کړه. دا جریده چی په عربی خپریده په شرق او اسلامی نړې کی بی دانګلیسی استعمار غند نه کوله.

سر پیټر لمسدن دافغان روسیې د سرحد ویشلو په کار کې د انګلیسي هیئت مشر هرات ته ورسید او عملي کار یې هلته ډګروال ریجوې ته وسپارې . امیر عبدالرحمن خان په راولپنډۍ کې د هند دویسراې سره ملاقات وکړ .

دروس او انګلیس تر منځ دشمالي افغانستان د سرحد ویشنې دقرارداد په اثر د هغه ذوالفقار او سرو چاق افغانستان ته پریښوول شول .

د سوات او بنیر د خلکو نماینده ګان امیر عبدالرحمن ته راغلل او د افغانستان دسانتي په باب یې دهغه سره خبرې وکړې .

## ۱۸۸۵م :

دمارچ پر ۱۸ دروس او افغان قوا وېد تاش کیپرې (کشک) په سرحدې سیمه کې سره متصادمې شوې .

دانګلیس او روس دسرحد ویشلو هیئت په نوا مېرکي سره وکتل او دسرحد لومړی خلی وډرول شو .

## ۱۸۸۶م :

انګلیسانو پر تول پښین او سیوی قبضه وکړه او دروسانو دحملې په مخ نیوی په پلمه یې دبولان دریل لارجوړه کړه .

## ۱۸۸۷م :

انګلیسي قواودډګروال بروم په قوماندانۍ پر بونیر یرغل وکړ . همدارنګه دانګلیس قواو پر کورمه تیری وکړاو خلکو دڅلورسي غزا په نامه دهغوی مقابله وکړه .

## ۱۸۸۸ :

دامیر عبدالرحمن په فرمان دچمن سیمه انګلیسانو ته وسپارل شوه چې هغوهلته داورګاډی سټیشن جوړ کړ .

دکورمې خلکود پکتیادوالی شیرینډل خان پهوسطه امیرعبدالرحمن ته یوه عریضه راو لیږله چې د وی خپل رعیت وبولی او دانګلیس څخه دازادی اخیستلوپه لارکی ددوی مرسته وکړی خوامیرعبدالرحمن-خان ود وی ته ځواب ورکړ چې تاسی یعقوبخان انګلیس ته سپارلی یاست تاسی په دی باب پخپله دانګلیسانو څخه غواهش وکړی .

دربجوی سرحدی کرښه چې دافغانستان شمال لویدیځ سرحدتپاکی دچارلس یات او کپتان کامیروف له خوا په جولای کی لاسلیک شوه .

دبونیر په کوه سیا (کوتکی) کی انګلیسانو حمله وکړه. همدارنګه نګلیسانو دجنرال ایم سی په قوماندانی دتورغارپراوسیدونکو یرغل وکړ .

دباجوړ دجندول دخان عمراخان اودډیر دنواب ترمنځ جنګ وشو.

## ۱۸۸۹م :

وزیرو ، مسودو ، اودوړو دتل دڅپری په کلی کی پرانګلیسانو حمله وکړه اویوانګیس افسراو ۶۷ کسه عسکریی ووژل .

دمومندو د خویزو دخان بیك دکلی معروف مبارزملاخیل وفات شوا و د ملا نسیم په کلی کی ښخ شو . د ه په ۱۸۷۹ کی هغه مهال چې کیوناری د خیبر څخه کابل ته روان و

بریتانیا پر عسکرو دیر لوی یرغلونه رهبری کړی وه. د دیر خان مات شو او عمرا خان دیر ونیوی.

انګلیسانو په ژوب، قدرزی او شیرانو کی تانی و نیولی او په اپوزیو کی یی فورټ سنډیمن ته دلوی وسله تون ستراتیژیک سنګر حیثیت ورکړ.

## ۱۸۹۰ م:

د اپریدو ۱۳۶ کسیزه جرګه امیر عبدالرحمن خان ته راغله او د انګلیسانو د عسکری قشلود نیولو په لار کی یی د امیر د ملاتړ غوښتنه وکړ. خو امیر دوی ته درد ځواب ورکړ. اپریدو تردی وروسته ځینی جرګی وکړی چی په امیر عبدالرحمن په زوره د هغه رهبری قایمه کړی خو انګلیسانو د دوی په منځ کی په تفتین اختلاف وپاشاوه.

## ۱۸۹۱ م:

د کوټی او چمن ترمنځ د خواجه عمران په غرو کی داورګاډی د لین تیر ولو له پاره د کوژک تونل جوړ شو، او د هغه غر ټوله د انګلیسانو له خوا د یو نظامی سنګر حیثیت وموند.

سنډیمن (سر سنډیمن) د ژوب پر کاکړانو حمله وکړه.

انګلیسانو ټوله کورمه ونیوله او د توری قام یی په وسله وال سخت تهدید رعیت کړ پر کوهاټ دیر غل له پاره د جنرال لوکهارت په مشری انګلیسی قواوی هنګوته ولیږل شوی.

د میجر ایلمسن په مشری انګلیسی قواو د تورغار پر قبایلو یرغل وکړ. د جنرال لوکهارت په مشری پر ورکزو لومړی سخته حمله وشوه. په هم هغه کال د دغه جنرال په قوماندانی پر ورکزو دوهمه حمله هم وشوه.

## ۸۱۹۲ م :

دجنرال ترنر په قوماندانۍ انګلیسي قواوو پروانه حمله وکړه. دغې جګړې ډېر درونه رنګ وسوند. د پښتنو مبارزینو څخه مولانا حمزالله وزیر، کاکا صاحب وزیر، ملا پیوند مسعود او قاضي حاجي محمد په سرۍ قبیلوي لښکر ډېر انګلیسانو مقابله وکړه. په دغه جګړه کې ۱۷۳ وزیر او مسعود شهیدان شول او دانګلیسانوله خوا (۱۷۶۳) کسه ووژل شول، په همدغه جګړه کې کاکا صاحب ژوبل شو چې بیا د غو زخمونو څخه وفات شو. انګلیسانو د میرم شاه کمپ جوړ کړ. دبلوچستان انګلیسي ګورنر جنرال په سپیله کې سړا وهلته ښخ شوا ودده پر ځای جنرال براون مقرر شو.

## ۱۸۹۳ م :

دډیورند تړون دبریتانوي هند دخارجي سکرترمارتیمرډیورند او امیر عبدالرحمن ترمنځ لاسلیک شو، په دغه تړون کې چې له پامیر او بدخشانه بیا تر کاکړ واوچغۍ پورې سرحد په نښه شوی دو شمیر برخې یې تراوسه لاهم نه دي په نښه شوی. دا تړون چې د نوامبر په ۱۲ لاسلیک شو لنډیز یې په دې ډول دی:

تړون مفصلې اوه مادې لري او سیمې د نقشې پرمخ ټاکل شویدي چې په:

لومړۍ ماده: کې هغه نقشه چې دافغانستان دختیځ او جنوب په برخه کې د (واخان)

څخه دایران تر سرحده پېښتل شویده تائیداوتصدیق کیږي.

په دریمه ماده کې اسمار او تر هغه پورته ترچنکه ( Chanak )

پوری سیمه امیر ته ورکول کیږی خود امیر ځځه تعهد اخلی
چی هغه به هیڅکله په سوات ، با جوړ ، چترال ار نوی ( Chanak ) او با شکل کی مداخله نه کوی . همدارنګه
بر مل به امیرته او په مقابل کی به دوزیر وسیمه بریتانیا ته
پریښوول کیږی اوهم به دچاګی (چغی) (په بلوچستان کی) په برخه
کی امیر له خپلی ادعا ځخه تیریږی .
په پنځمه ماده کی : چمن تر سرکی تیری ( Arncai ) تر او بو
پوری بریتانیا ته تسلیموی . حدبندی داسی تاکل کیږی چی
شاکوتل ته چی دخواجه عمران په غروکی دی سرحد تیریږی ،
دچمن سرغه او شیرو اوبه افغانستان ته پریږدی وروسته چی
دغه کرښه دبولدك میدان ته رسیږی د جنوب خواته ګرزی اود
خواجه عمران غروته داخلیږی . دکوائی تانه انګریزی ملك ته
پاتیږی او دلاری هغه برخه چی پرهوراوکورځی هغه افغانستا ن
ته پریږدی .
په اوومه ماده کی : امیر ته اجازه ورکوی چی اسلحه خریداری
کړی او بریتانیا تعهد کوی پر پخوانیو ۱۲ لکو کلدارو شپږ
لکه نور زیاتوب هم د کاله منظور کړی .

په دی تړون امیر عبدالرحمن دټولو اقوامو اوقبایلو په خاصه
توګه د وزیرو قبایلو ډیر منفورشو په همدغه ۱۸۹۳ کال دقلات
خان میر خدایدادخان دانګلیسانو له خوا بر طرف او په لورالایی
کی زندانی شو او پرځای یی زوی میر محمود خان دقلات خان
شو . دبلوچستان ګورنر جنرال جیمز براون په کوټه کی ددغه

خان د تاج پوشی مراسم دخانانو په یوه لوی دربارکی ولمانځل او خان قلات میر محمود خان په یوه لیک کی هغه ته ولیکل :
(( که زما دبدن هر ویښته یوه ژبه شی او ستاسی سپاسگذاری وکړی بیا به هم ستاسی حق لا پرځای شوی نه وی . )

په دغه ۱۸۹۳ کال دوزیر واو مسید ویوه (۷۵۲ کسیزه) جرگه چی په هغه کی سوین سر ی مشځی هم شاملی وی دننو اتی په توگه افغانستان ته راغله خو امیر عبدالرحمن هغوی ته دانگلیسانو په مقابله کی دځان لهخوا دنه همکاری اعلان وکړ اودا جرگه ما یوسه له افغانستا نه ولاړه . ددی ستری جرگی مشری چی مولانا همزالله او ملا پیونده کوله تر تکه ور وسته یی خپلو قومونو ته اعلان وکړ ، چی اوس نو یوازی پرخپلو توره تکیه وکړی نور دامیر په انتظار مه کښینی .

## ۱۸۹۴م :

په تو له پښتنی قبایلو کی د دیو رند دتړون پر ضد عکس العملونه راوپا خیدل . دملا نجم الدین چی دهډی په اخندصاحب شهرت لری په مشری دانگلیسانو پرضد دجگړو دتیاری لهپاره په قبایلو کی جرگی جوړی شوی .

انگلیسانو پرباجوړ حمله وکړه او عمراخان په افغانستان کی پنا واخیستله . دمسیدو په تنگی کی د ملا پیو نده په مشر ی پښتنو لښکر و پر انگلیسانو حمله وکړه .

دمولانا همزالله او ملا پیونده په مشری دری زریز لښکر په وانه کی پر انگلیسانو یرغل وکړ دبریتانوی قواو قوماندان جنرال

ترنر کوله . تردي ورو سته د شکي سیمه پښتنو میا ر ز ینو خپل ستراتیژیکي مرکزوتیا کی او همیشه به یی له دغه ځایه پردیمن یر غل کاوه . ددي په مقا بل کې ا نګلیسا نو هم په پر اخه سا حه کې عملیات پیل کړ ل .
دجنرال لوکهارت په قوماندانی دوانه څخه د( نیا رژی) اوشراونګی) په لارکانی ګرام ته او دجندولی څخه ساړه راغه او دمراوبی په لارمکین ته او دبنو څخه د(سکتوی) او خیشو ر په لار رزمک ته منظمی قواوی راغلی . په دی توګه د جګړو لمن پرا خه شو ه او دوزیرستان دسرحد سیمه د جنګ په یوه سره پیاره وا وښته .
لارډکرزن چې وروسته دبریتا نوی هند وایسرای او بیا دانګلستان خارجه وزیر شو دپیښور له لاری کابل ته راغی دامیر عبدالرحمن سره یی وکتل او دکندهار له لارې بیرته هند ته ولا ړ .
په خان قلات انګلیسانو دبولان ریلوی ترون لا سلیک کړ چې په هغه کې ا نګلیسا نو ته اجازه ورکول شوه داور ګاډی دکرښې په دواړو خواوکې چې هر ځای و غوا ړ ی د ر یل سټیشنو نه او نظا می مرکزو نه جوړولای شی . په دغه تړ ون کې ا نګلیسا نوته کاسله ازادی ورکول شوه چې هرځای لاز م و بو لی هلته تعمیرات جو ړ و لا ې شي .

## ۱۸۹۵ م :

دا نګلستان حکو مت امیر عبد الرحمن ته دعوت ور کړچې انګلستان ته د سفر وکړی خو هغه د نار وغی عذر ورا ندې کړ او په خپل عوض یی خپل دوهم زوی نصرالله لندن ته وا ستاوه

هغه ته يې لاربښوونه وکړه چې د ويکتوريا تولوا کمنۍ سره د کتنې په وخت کې د هغې څخه وغواړي چې دافغانستان سفير په لندن کې قبول کړي. نصرالله خان دغسې غوښتنه وکړه خو مثبت جواب يې ترلاسه نه کړ.

انګليسانو تول چترال او ديرونيول او دچترال مهتر امير الملك يې مه راس ته بندي او ليږي او هلته يې په زندان کې واچاوه.

موسيو وستال ته چمبرلين ليکلي و استا وه او دپامير په بر خه کې يې دافغانستان دسرحد په باب دحد ودو دټاکلو مسئله ور سره طرح کړه او بيا پر دغه مسئله دوي تړون لاسليك کړ.

دوزيرستان معروف مبارز باري فقير محمود خيل اتمان زي وزيرچي دوزيرستان څخه تر سوات پورې يې د انګليسانو پر ضدد مبارز ينور هېرې کوله وفات او په سپين وام کې ښخ شو.

انګليسانو نوسر شمس شاه دخان قلات محمو خان د وزير اعظم په توګه وټاکې. دادانګليسانو مشهور وفادار سړي چې په بلوڅو کې دازادۍ غوښتنې جنبشو نو ته يې سخت زيانونه رسولي وه د بلوچستان په تاريخ کې دتور نامه خاوند دی.

دايراني بلوچستان او د قلات دخانۍ ترمنځ د سرحد کرښې رسميت ومونده او هغه حدود چې دواړی خواوې يې معلومې کړې دی وټاکل شول. پر دی تړون چې يخوا دانګلستان دتولوا کمنۍ دنمايندهاو ايران دصدراعظم له خوالا سليك شوی ؤ ددغه ١٨٩٥ څخه دګروال تی - ايچ، هولديچ په لاسليك يې رسميت ومونده ددغه کال دا پريل په مياشت کې يوه ډيره غټه انګليسي قوه دمر

ACKU

رابرټ لو په مشرۍ چې پنځه تورن جنرالانو ( بي بلډ ، اې ، کې ، ګيڼلوسي ، جي ، ایچ واټر ډبلیو کې . ګارفري اې جي . هیمنډ ) هم فعالیت کاوه دیوې توپخانې سره پر ملکنډ ور پورته شوه د پنجکوړې له سیند څخه پښتنو قبایلو دد وی مقابله پیل کړه او انګلیسان یې د ډېرو ستونزو سره مخامخ کړل . په دغه جګړه کې دهارون خان په نامه یو ځلمي داسې قهرماني وکړه چې په تولګلور کې یې ځای ونیوی او ترننه پورې یې نوم یادیږي . ده مخامخ پر توپ ورمنډه کړه او په داسې حال کې چې توپ‌ډزې کولې ده ځان توپچي ته ورساوه او هغه ئې په توره ووهه مړ یې کړ ، خودی هم وویشتل شو او مړ شو او دا بیت کوم نوم ورکی شاعر دده په حق کې ویلی دی چې په زیاتره سندرو کې د سرو کې په توګه کارو څخه اخیستل کیږي.

پر ملکنډ توره تیاره ده

هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه

## ۱۸۹۶ م :

ملا پیونده معروف مبارزمشر په پکتیا کې دامیرعبدالرحمن د واقعه نګار خلیفه نور محمد په وسیله یو لیک امیر عبد الرحمن ته راوا ستاوه او امیر ته یې ولیکل چې په ټول وزیرستان کې پر هر ولسوکور و نویو نفرچه سلاح به هم لري دا نګلیسا نو مقابلې ته راټول شوی دی د تنخواسر یهته یې هم ما کړیده لطفاً ته رهبري وکړه چې موږ د انګلیس

له سرغړتوب څخه خلاص شو. امیر عبد الرحمن د هغه په جواب کې وویل چې پنځلس کاله تاسې زما پر خبرو غوږ، و نه نیوی او س هم څه چې غواړی و یې کړی ما ته لیک مه رالیږی.

په دې پسې ملا پیونده د وزیرو کسانو سره کابل ته راغی د امیر سره یې وکتل خو امیر هم هغه ډول ځان خپه و نیوی او د مرستی څخه یې ډډه وکړه. تر دې وروسته ملا پیونده بیرته وزیرستان ته راغی او هلته یې د انگلیسانو پر ضد پخپله د مبارزې نو رهبری په لاس کې واخیستله.

په دغه کال درواز د روسانو له خوا افغانستان ته وسپارل شو. په همدغه کال د ډیورنډ لاین. وروستی علایم ودرول شول.

## ١٨٩٧ م:

د ډیورنډ تړون وروسته د سرحدی قومونو مشرانو هیله درلوده چې امیر عبدالرحمن به د دوی ملاتړ وکړی څو د انگلیس څخه ازادی خو دد روکالو په دوران کې دوی پوه شول چې امیر د دوی ملاتړ نه کوی نو پر خپل قوت متکی شوه او په دغه کال له چترال څخه وزیرستان، و کاکړو پوری د انگلیس پرضد یو خپور قیام پیل شو.

په لومړی سر کی انگلیسی قواوو جمرود او باړی تر منځ پر قبایلو برغل وکړ خو د انگلیس قواوی محاصره شوی او بریتانوی افسرانو د خیبر رایفل کماندر اسلم خان ته وویل چې صرف دومره

زمینه برابره کړی چې ددوی سرونه په امن شی .

انگلیسانو بل ځل ډیره غټه قوه چې شمیر یې ۵۳۴۲۸ نفر و ته رسیده او دهغو اکمالات په ۳۲۸۸۰ بوده گانو کیدل د دغه کال په نوامبر پر ذخه خیلو باندې یرغل وکړ . ددوی کلاوې یې ونړولې، نرینځې واړه اوزاړه یې مټې تړلی دجمرود زندان ته راوستل ددغه وضع انځور یو نامعلوم شاعر په دې لاندې لنډۍ کې داسې ایستلی دی.

چا یې پلو لیدلی نه ؤ
اوس دجمرود په غاړه ځي سرتورسرونه

بل سخت یرغل د معروف مبارز ملا مستان چې مشهور په سرتور فقیر ؤ چې د لنډاکې شخه یې پر ملکنډ حمله وکړه . د انگلیسانو شخه ۵۲۱ مړه او ۱۰۳ زخمیان شول انگلیسانو دا ځل ملکنډ ته پام لرنه وکړه او هلته یې (ملکنډ فیلډفورس) تاسیس کړ . دا یو ډېر ضروري مرکز ؤ خو د قبایلو د پرله پسې یرغلونو په وجه یې استقرار ونه موند . انگلیسانو خپل ډېر معتبر صاحب منصبان د غه ځای ته د خدمت له پاره رامقررول چې وینسټون چرچل (وروسته د انگلستان صدر اعظم) هم په د غه مرکز کې یوه دوره خدمت کړیدی .

د باړې ملا صاحب چې د هډې صاحب (ملا نجم الدین) لاس نیوی یې کړی و په هم دغه کال د باجوړ د ناوه گی په دروازه کې پر انگلیسانو حمله وکړه او ډېر سخت زیانونه یې ورته ور سول . په هم دغه کال د پرانگک غار د ډېره مشهوره جگړه دانگلیسانو سره وشوه چې سرتور فقیر د مهمند و سرتی ته و رسید او دانگلیس دقواو له خوا د مقابلې په توگه د ډگروال رید په قوماندانۍ پرا تمانخیلو یرغل وشو،
په دغه ۱۸۹۷ کال د میچنۍ اتمه جگړه د مولانا سعدالله خان

په مشری چې د هډې ملا صاحب یې ملګري کوله پیل شوه او مهمندو پر ملکنډ حمله وکړه د انګلیسي قواوو ماندانې جنرال ایلسن کوله په سوات کې د ملا بالم په مشري قبایلو پر انګلیسا نو حمله وکړه

د میجر روز کیپل په لارښوونه انګلیسي قواوو د ګروال ګیسلي او ډګرمن هل په مشري د خکمنیو پر سیمه یرغل وکړ، خو د دغې قبیلې سرسختۍ هغوی دې ته مجبور کړل چې پر شا ولاړشي او په دې توګه د علي شیرزي، موسی زي او ذومشت له سیمې څخه هم د انګلیس د نفوذ سیوری لرې شو.

د میزرجګړه د تولي قبایلي سیمې د عمومي قیام پیل دی د غه جګړه په تاریخ کې ډیره مشهوره ده، هغه سند ره چې په دې جګړه کې وبل شوی ده دا ده.

میزر ته مه راځه پرنګه: میزر د نهو ونه دی کچري غر قو ینه.

په دغه کال په وزیرستان کې د میزري جګړه وشوه. د موضوع تفصیل داسې دی چې کله انګلیسا نو د میر امشا پوځي کلاجوړه کړه نو له د غه ځایه یې پر غر و نو یرغلو نه پیل کړل. په یوه حمله کې چې انګلیسي قواوې د بریډ جنرال بایې په قوماندانۍ لاندې ته خیلو څخه روانې شوې، په مقابله کې قبایلي قواوې د پایل خان، سیول خان خدري خان، بت خان، ابراهیم خان په مشرۍ وجنګیدې چې د انګلیسا نو له خوا ۹۵۷ تنه او یو شمیر افسران مړه او ټپیان شول، د قبایلو ۵۳ تنه شهیدان شول.

په دغه ۱۸۹۷ کال د سوات رانيزیو پر انګلیسي کمپ حمله وکړه په دغه جګړه کې یوه پښتني میرمنې چې معصومه تر ور نومیده له ډیرې قهرمانۍ وکړې چې تر اوسه یې نوم د خلکو په خوله کې دی. په همدغه

کال سید جمال الدین افغاني چې د انګلیس پرضد یې په اروپا او عربي هیوادونو کې لوی تبلیغاتي فعالیتونه کړي وه په استانبول کې وفات شو. په همدغه ۱۸۹۷ کال کې د انګلیسانو سره د قبایلو تر منځ ډېرې جګړې وشوې چې انګلیسان یې ډېر سخت ناآرامه کړل. د دغو مبارزو رهبري تر ډېره حده د ملا پوونده، ملا نجم الدین هډه صاحب او ملا سعدالله خان چې په لیوني ملا یې شهرت درلود کوله. ملا لیوني چې د انګلیسانو په اثارو کې د (میډ ملا) په نامه یاد شوی دی انګلیسان یې ډېر سخت ناآرامه کړل.

## ۱۸۹۸ م:

انګلیسانو پر تیرا باندې حمله وکړه خو قبایلو یې سخته مقابله وکړه په دغه کال سره له دې چې جمرود د انګلیسانو د پوځونو د مرکز په توګه راپورته کړی وو خو اپریدي قبایلو پر بازار حمله وکړه او انګلیسانو ته یې زیانونه ورسول.

سر نګه چې پښتانه قبایل د امیر عبدالرحمن څخه مایوسه شوي وه نو ددې ضرورت یې محسوس کړ چې باید یو امیر ولري څو هغه د جهاد امر صادر کړي. په دې توګه میر بشیر خان ملک دین خیل په تیرا کې ازاد حکومت جوړ کړ او د څرمنې نوټونه یې جاري کړل.

## ۱۸۹۹ م:

لارډ کرزن چې د افغانستان او منځنۍ اسیا د سیاستونو متخصص ؤ د هند د وایسرای په توګه وټاکل شو. د دغه سړي دوه کاله وړاندې د امیر عبدالرحمن خان سره هم کتلي وه.

ACKU

د صوبه سرحد تشکیلات نوي کړل او د هند د شمال غربي صوبې نوم يې ورکړ او پر پنځو اداري واحد و نوې سیمه داسې وویشله: هزاره، پېښور، کوهاټ، بنوا و ډیره اسمعیل خان او د دغوا داري واحد و نوا و ډیورنډ لین تر منځ د ازاد قبیلو زون په نامه یادې کړې او د غه سیمې یې د سیاسي ایجنسیو په نامه په دې دول معرفي کړې، وانه، ملکنډ، خیبر، کورمه او توچي:

په دغه کال د خان قلات او په بلوچستان کې د ایجنټ قايم مقام گورنر جنرال تر منځ د نوشکې تړون لاسلیک شو چې د هغه په اثر د نوشکې سیمه انګلیسانو ته وسپارل شوه. د قلات خان میر محمود خان برهنه تړون لاسلیک و کړچې دری مادې یې در لو دې او د کلماتو په صراحت وایي چې د نوشکې ټول اختیارات د انګلیسانو دي او د دغه په مقابل کې په دد غه کال له سوتمبر څخه هر کال انګلیسان ۹ زره کلداري خان قلات ته تادیه کوي او (۹) زره روپۍ به یو ازې د خان مصرف ته ور کوي.

دغه تړون د دغه کال په جولای کې لاسلیک شو.

**: ۱۹۰۰م**

انګلیسانو د سرحد د مسایلو په باب خپله ډیپلوماسي نوې مسیر ته واچوله او په دغه کار کې یې تر هر څه وړاندې د افغانستان او تزاري روسیې روابط په جدي توګه څارل. په ۱۹۰۰ کال کې په بخارا کې د تزاري روسیې نماینده (و. ایګنتیف) په بخارا کې د افغانستان تجارتي نماینده ته یولیک ولیکی. د غه لیک انګلیسان ډېر مشوش کړل. کله چې د روسیې نماینده د افغانستان د نماینده د یوې پوښتنې په جواب کې چې په ترانس کسپین کې د ځینې روسي عساکرو حرکات د توجه

وړدی روسی نماینده وویل چې داداو رګاډی دکرښې په رابط دی چې هیڅ تشویش باید ونه پاڅوی .

په کوم ایک کې چې د روسیې نماینده دافغانستان نماینده ته لیکلی ؤ دهغه په پای کې یې داجملې زیاتې کړې وې چې دالومړی ګام دی چې د روسیې او افغانستان ترمنځ باید دمستقیمو اړیکو مقدمه شی . په لیک کې هیله شوې وه چې دلیک ددوستانه جواب انتظار کیږی .

انګلیسانو چې افغانستان ته داحق نه ورکاوه چې داسی ازاده مکاتبه وشی نو دانګلستان حکومت په سخت پتر سبورګ کې د بریتانیا سفیر سرچارلس سکات ته لارښوونه وشوه چې دایګنتیف له لیک څخه د تزاری روسیې خارجه وزیر کونت لمسډروف خبر کړی . د روسیې خارجه وزیر په لومړی سرکې داعادی مسله وبلله خو انګلیسانو څو پښتل چې روسیه رسماً دا کارو غندی او معذرت و غواړی ، ولی وروسته روسیې هم جدی موقف ونیوی او ویی ویل ولی افغانستان ونه کولای شی په دغسی موارد وکی دحاکمیت حق و نه لری .

په دغه کال انګلیسانو وزیرستان په شل زره مسلح عسکرو محاصره کړاو ډیر سخت عملیات یې په کې پیل کړل ، خو وزیرو مسودو ، دوړو او نورو قومونو په ډیرشدت دهغوی مقابله و کړه او ډیر ځوانان یې په شهادت ورسیدل .

## ۱۹۰۱ م :

دبریتانوی هندداری ، سیاسی او اطلاعاتی دفترونه اود دغو هانګو متخصصین دهغی سیمی پر نویو تشکیلاتو سخت مصروف وه

کومه سیمه چې وروسته د هند د شمالغربی سرحدی ولایت او بیا د سرحدی صوبی په نامه یاده شوه او پخوا د پنجاب له ولایته اداره کېده تشکیلات یې د تا کلو سترا تیژیو تابع شول او دیوی داسې صوبی حیثیت یې وموند چې مستقیما د مرکز ( دهلی ) څخه اداره کېده او د دغه اداری واحد په سرکې چې کوم چا قرار نیوی څخه ته د هند د گورنر جنرال دا یجنت چف کمشنر نوم ورکول کېدی او په عامه محاوره کې گورنر ورته ویل کېدی . دغه نوی تشکیل چې د لارډ کرزن له خوا وړاندی شوی و په لندن کې د هغه تول ارخونه د لوبی بریتانیا د امپر یالیزم په اداری ، سیاسی او اطلاعاتی دفترو نوکې چورلیدلی او بیا په عمل کې پیاده کولو ته تیار شوی و .

په دغه کال دا مطالعات تکمیل او نتیجو ته ورسیدل او پسې کال په یوه لوی دربار کې اعلان شول چې موږ به یې د ۱۹۰۲ په پېښو کې تفصیل راوړو .

امیر عبدالرحمن خان مړشو او پر ځای یې مشر زوی امیر حبیب اله پاچا شو . حبیب الله پلار د مرگ په لومړی وخت کې بریتانوی هند او تزاری روسیې ته دامیر د مرگ او د ځان د امارت خبر ورکړ . حبیب اله د بریتانوی هند د وایسرای د اکتوبر د ۳۱ نېتې د لیک په جواب کې د هغه د تیا کلی اشاری په مقابل کې اغماض وکړ او ورته وی لیکل افغانستان هم د بریتانیا په شان ددوارو هیواد و ترمنځ ددوستی ارزومندی او زه به هغه ترونونه محترم وبولم چې زما پلار له بریتانیا سره کړی دی .

د بریتانوی هنداداری کوشش کاوه چې په حبیب اله نوی

ترونونه لاسلیك کړی او د بریتانوی هند اطلاعاتی دفترونو د هند حکومت ته پیشنهاد کړی ؤ چی پر لاندنی مسایلو نوی امور څخه ضمانت وا خیستل شی .

۱ـ دافغانستان او هند ترمنځ دسترا تیژیکی مقا صد وله پاره دسرحد تصفیه او تصحیح .

۲ـ دافغانستان دچارو په بر خه کی معلومات له دی قبیله چی دعسکر وحرکات ، دنظامی قو او توزیع او تقسیم او نظامی تسلیحات .

۳ـ دو سلی دتهیی کنترول اوپه دی باب ضمانت چی دا وسله دهند پرضد استعمال نه شی .

۴ـ دهنداو کابل کندهارتر منځ دار تباطاتو قوی کول او پردی باب اطلاعات چی په افغانستان کی لاری اوواټونه څرنګه سره وصل کیږی

۵ـ رښتیانی او لفظی کو مك دسر حد له خلکو سره او د هغو قبایلو سره چی دبر یتا نیا په قلمرو کی ژوند کوی او د دوی داصلاح له پاره کو شش چی د سر حد د قوی ساتونکو په تو که تبدیل شی .

۶ـ دبریتانوی صاحب منصبا نو د نما یند ګیو تا سیس چی د روسی په مقابل کی ددفاع مرسته کوی .

پردغو مواد وبر سیره داطلا عاتی سر و یس مشر میکو نچی خپل نظریات چی زیاتره دتهدید سره ملګری وو هم زیات کړی وه .

په همدغه کال معروف مجاهد هډه اخند صاحب (ملا نجم الدین) هم مړشو .

په همدغه کال دمیجر ایجرتن په توما ندا نی انګلیسی قواو پر درویش

خپلو دوزیرو پرغل وکړ او ددوی تر منځ داجګړه تر یوه پل کال پوري پسې اوږده شوه .

**۱۹۰۲ م :**

ددغه کال په اپریل کې دهند وایسرای لارډ کرزن په پېښور کې د یو. دوه زره کسیز دربار په وړاندې د نوي ولایت (دهندوستان شمال مغربي ولایت) جوړېدل رسما اعلان کړل . دا ولایت پنځه ضلع (هزاره ، پېښور کوهاټ ، بنو ، ډیره اسمعیل خان ) او پنځه ایجنسۍ په دې خصوصیت در لودی : ( ملکنډ چې په هغه کې دچترال دیرا وسوات خاني شاملېدلې ، دخیبر ، کورمې ، شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان ایجنسي چې په هغو کې غیر مستقیمه ادا ره موجوده وه ، په دې معنی چې سیا سي ایجنټانو چې ژادا په انګلېسان وه محلي خانانو او ملکان کنټرولول ، دغو ملکانو او خانانو په مستقیمه توګه قبا یلي خلك اداره کول او چارې په دمشرانو دجرګو دغونډ وله لارې تراجر الاندې نیول کېدې . ددغه نوي ولایت لومړی چیف کمشنر سر هېر ا لډ ډین چې په سر حدی قبا یلو کې دبر یتا نیا یوسجرب سیاسي ماموروتیا کمل شو . بر یتا نوي اداري دسر حدي اقوامودا یلو لوله پا ره دمو منډ ود ملیشیا ، د جنوبي وزیرستان د سکا وټانو ، د خیبر د ټوپك ویشتونکو او د کرمې دملیشیا پوځونه خاص ډول قو مي پولیسو تو لګي د بریتا نوي افسرانو تر مشري لاندې په فعا لیت و اچولې بلوچستان چې د نوسمي پېړۍ تر اخره پوري د معروف انګلیس ستراتیژیست جنرال سر سنډ یمن د طر حو له مخې تصفیه شوی او د بلو څو خاني دانګلیسانو ماتحت شوی وه نو د شلمې پېړۍ په اوا یلو کې

د نوی وایسرای لارډ کرزن له خوا د دغه ولایت تشکیل دا سی عیار شو :

۱ دبلوچستان ریاست

ـ دا ناحیه د قلات لسبیلی او خاران څخه جوړه شوی وه چی مرکز یې دقلات ښار و. ددغې ناحیې رئیس دقلات خان، و (صرف په نامه) اوده یو وزیر اعظم درلودچې هغه به دای، جی، جی (ایجنټ گورنر جنرال) له خوا ټاکل کیده ی اود صلاحیت اصلی مرجع همدغه ای، جی جی وچې دا به تو ادا انگلیس ؤه .

۲ ـ بریتانوی بلوچستان :

دا ناحیه به په مستقیمه توگه د گورنر جنرال له خوا اداره کیدله او مرکز یې د کویټې ښار ؤ اوپر دوو برخو ویشل کیدله .

الف : اجاره ساحه : عبارت له کویټې، نوشکی، بولان او نصیر اباد څخه وه .

دا هغه سیمې وې چی د۱۸۸۳-۱۸۹۳-۱۸۹۳ کلو نو په دوران کی دخان قلات او بریتانیا تر منځ دموافقنا تو ړو وتړ ونونو له مخی انگلیسا نو اخیستی وی .

ب : قبایلی سیمی : په دغه ساحه کی مری بگټی لورالایی، سیوی، چاغی، ژوب، پښین اوچمن ایجنسی وي .

دافغانستان سره دتزاری روسیې دروا یطو شخړې . لا په بریتانوی دفتر ونو کی چو رلیدله اود لندن او پتر سبورگ تر منځ خبری روانی وی چی د ۱۹۰۲ کال ددسمبر په ۱۹ د (نوـ وی وریمه ( ) اخبار په پتر سبورگ کی یوه اعلامیه

خبره کړه او په هغه کې ویل شوي وه چې په افغانستان کې د سیاسي
اوضاع د تغییر په رابطه روسیه غواړي د افغانستان سره مستقیم
روابط قایم کړي . د روسیې خارجه وزیر ویلي وه چې روسیه د یو لوی
قدرت په حیث په زړو تعهداتو ځان مکلف نه گڼي او دا د یو لوی قدرت
له پاره عیب گڼي چې ولې ونه کولای شي چې د خپل گاونډي هیواد
سره روابط ولري .

ځرنګه چې د برېتانوي هندوایسرای لارډ کرزن امیر حبیب الله
تر سخت فشار لاندې نیولی وُ چې د نوي تړون تړلو له پاره حاضر شي
او په سفر هندوستان ته وکړي خو امیر حبیب الله د وایسرای د لیکونو په
جواب کې پخواني تړونو نه کافي بلل او د سفر څخه یې معذرت
غوښت . دغې وضع خاص نزاکت منځ ته راوړی وُ او په خارجي مطبو
عاتو کې داسې اوازې هم خپرې شولې چې امیر حبیب الله د انګلستان څخه
روسانو ته مخ گرزولی دی .

په همدغه رابطه د قاهرې د (المؤید) ورځپاڼې د ۱۹۰۲ کال دا
پریل د دوهمې نیټې په گڼه کې په سنت پترسبورګ کې د دې پلې مسول د
ورځپاڼې د خبریال له خولې لیکلي وه چې په لنډه موده کې به په مرکزي
آسیا کې ډیر لوی انکشاف منځ ته راشي او دا تکی یې تائید کړی
وُ چې امیر حبیب الله د برېتانیا سره دوستي رد کړې او د دوستۍ او اتحاد
لاس یې روسیې ته غزولی دی، پر دغه لیکنه د هند د حکومت د خارجي
چارو د دیپارتمنت سیاسي غړي یې ، ایچ ، ایس ګلارک دا جمله
لیکلې وه .

(پروړ دا معلومه شوی چې باد له کومې خوا راالوزی .)

۱۹۰۳م:

ددغه کال په اوایلو کی د امیر او بریتانیا د حکومتو ترمنځ د سرحد په برخه کی ځینی لانجی منځ ته راغلی، یوه هغو څخه د ګروال یت مسله وه چی بی اجازی تر سرحد را اوا وښت او د امیر سرحدی عسکر وونیوی او د وی هغتی یی بندی کړ امیر حبیب الله نه یوازی په دغه کارله انګلیس څخه معذرت ونه غوښت بلکی اخطار یی ورکړ چی دغسی واقعات دځپلو یدو عواقبو له مخی باید تکرار نشی.

د انګلیسی هیئت مشر میکماهن چی د افغانستان او ایران د سرحد په برخه کی وظیفه دار ؤ په سیستان کی یی د سرحد لوښری ځلی ودرول.

انګلیسانو دکویټی او نوشکی ترمنځ داوز ګاډی د لین تیرو لوپه کار پیل وکړ. د بریتانوی هند د خارجه وزارت کدر لویس د بلیو، دن شکایت وکړچی د بریتانیا لیکونه پرسرحد د امیر افسران اخلی او که د بریتانیا کومسا موریو ګامور وړاندی شی نو بندی کیږی، خو بر عکس د روسیی د پوستی ماموریں تر هراته پوری ځی او لیکونه د هرات والی ته ور کوی او د هغه جوابونه هم اخلی.

د ۱۹۰۳ په مئی کی د بریتانوی هند سیاسی ماسور ایچ، ار، سی، دایس هرات ته واستول شو چی د روسیی د هیئت سره د سرحد ځلی و ګوری خوروسیی موافقه ونکړه په پای کی دا میرله خوا دا بس ته خبر ورکول شو چه د هرات څخه د مشهد پرلار د افغانستان څخه ووزی او

البته په بل فرصت کی یه بیا راشی .

د ۱۹۰۳ کال دمی په ۲ دقلات دخان میر محمود خان او دهند وستان دوایسرای لارد کرزن تر منځ دنصیر اباد تړون رسمیت ومو ند .

د اتړون شپږ مادی لری ، چی په لومړ ی ماده کی دنصیر ابا د سیمه انګلیسا نوته‌سپارل کیږ ی ، په دوهمه ماده کی انګلیسا ن تعهد کوی چی هر کال به یولك پنځلس زره روپۍ‌حق‌الاجاره د قلات،حکومت ته‌ور کول کیږی. په‌دریمه‌ماده کی‌یاد و نه کیږی‌چی انګلیسان به‌برسیره پردغو یولکو پنځلس زره رو پودخان قلات‌دا نتظامیه اخراجاتو له پاره هم یو مبلغ ور کول کیږي ، په څلورمه ماده کی دنصیر اباد حدود ټاکل کیږي . په پنځمه‌ماده کی یادونه کیږي چې که د اورګاډي دلین یا نورو ضرور تو نو له پاره که نوري مځکی ته‌هم ضرورت شی خان قلات‌به مضایقه نه‌کوي اوانګلیسان به دهغو په مقابل کی‌هم تادیه ټاکی‌په شپږمه ماده کی یادونه کیږي‌چی که انګلیسان دنصیر اباد څخه‌دباندي داوبولګولو کومه پروژه په کار واچوي او دا به لهړي ، بها ګڼ او ګنداوه کیوي په مقابل کی به‌یو معقول‌رقم دانګلیسانو له‌خوا خان ته‌تادیه کیږي.

## ۱۹۰۴ م :

د۱۹۰۴په وروستیومیاشتو کی‌چی‌لارډ کرزن وایسراي‌داستراحت او رخصتی ورځی‌تیرولی‌دوایسراي وکیل‌لارډ امپتیل اودبریتا نوي هند دسلح قواو عمومی قوما ندان لارډ کچنر دامیر حبیب الله‌سره مفاهمه وکړه چی بو بریتا نوي هیئت دخبرو له پاره افغانستان ته

را واستوي. دوې په لندن کې دبریتانیا لوړو مقاماتو ته هم خبر ورکړ او دامیر سره دخبرو هدف داؤ چې امیر دسرحد دقبایلو په چارو کې لاس ونه وهی او موافقه وکړي چې دنوي چمن څخه تر کندهاره داور گاډي لین وغزول شی.

دغه هیئت دبریتانیا نوي هند دخارجه چارو دسکرتر لوئیس دن په مشری دد سمبر په میاشت کې کابل ته راغی او خبری یی دراتلونکی کال تر لومړیو میاشتو پوری جاری وی څو یو تړون وشو. دغه ماموریت د(دن میشن) په نامه یادیږی.

څرنگه چې دامیرحبیب الله او بریتانوی هند ترمنځ روابط یو څه نور مال شوی وه، نو امیر حبیب الله خپل مشر زوی سردار عنایت اله دبریتانوی هند دحکومت په بلنه هند ته واستاوه او هغه ته په کلکته کې دپردرونه هرکلی وو یل شو. له ده سره امیرحبیب الله خپل دسیاسی چارو مشاور حاجی عبدالرزاق اندړ چې دقبایلو په چارو کې لوی متخصص و هم ولیږی.

انگلیسانو سردار عنایت اله او حاجی عبدالرزاق ته په مختلفو ذرایعو داورو فهمولی چې دسرحد دقبایلو په چارو کی امیر حبیب الله ودی ته متوجه کړی چې انگلیسان د خپلو پلانو نو دتطبیق له پاره دامیر مرستی ته سخت ضرورت لری او دضرورت او اهمیت عمده ټکی دادی چې په قبایلو کی مداخله ونکړی.

## ۱۹۰۵م:

دانگلیسانو د هیئت سره چې دلوئیس دن په مشری په کابل کې و دامیر حبیب الله دنما ینده گانو خبری اوږدی او جنجالی شوی. دامیر په سره وضع په ۱۸۸ کې دعبد الرحمن او انگلیسانو تړون

کافی باله، خو انګلیسا نونوی تړون لازمی باله، پهپای دندیو دا سی تړ و ن چی مسو د ه یی پښپاله افغا نا نو لیکلی و ی د ه ته وسپاری، امیر حبیب الله ددغسی تړون یوه مسو د هچی متن یی په افغانی (پښتو) تهیه شو ی و لویس د ن تهور کړه ا و هغه هند ته ولیږ له، دهند حکومت او دبر یتا نیا سیاسی ادار ی دبوخا صیوضع سره . مخا مخ شو ، کهیی تړو ن ر داو ه نودمنا سبا تو دقطع ا جتما ل هم ورسر ه ؤاو که یی تا ئید ا و . نو دغسی تړو ن دا نګلیس پههیڅ ګټه نهؤ .

پهپای کی لویس دن تهخبر ور کول شوچی تړون لهامیر سره لا سلیک کړی، ددغه کال په مارچ کی تړون پهدی متن لاسلیک شو :

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغا نستا ن اود هغه دتوا بعو مستقل باچااعلیحضر تسراج ـ الملت والدین امیر حبیب اللهخان لهیوی خوااود هندو ستان دبا عظمته دولتدبا ند نیوچا رووزیر اودانګلیسا ن دپاچا یی محترم دولت نما ینده جناب سر لویس ویلیام دن لهبلی خوا :

لوړ یاد شوی اعلیحضر ت باچا په دیو سیله موا فقهفر ما یی چی پهجزوی او کلی توګه به پهخارجی او داخلی چاروکی هغهقرارداد مرا عا توی چیددو ی پلار ضیا ءالملته ـ والد ین نو را لله مرقد دا نګلستا ن له علیه دولت سره منعقد کړی ا وعمل پرشویؤ، دی به یی هم عملی کوی او دهغه څخه مخا لف عمل بهو نه کړی . همدارنګه جناب لویس ویلیام دن په دی وسیله قبلوی چی کوم تړون د انګلستا ن

دعليه دولت او داعليه حضرت سراج الملة والدين د مرحوم پلار ولا حضرت ضياء الملة والدين تر منځ د داخلي او خارجي چارو په برخه کې منعقد شوی ؤ باقي پاته او د انګلستان دولت به د هغه په مخالفت په هيڅ وجه رفتار و نه کړي .

د سه شنبې په ورځ د ۱۳۲۳ ق کال د محرم الحرام ۱۴ مطابق د ۱۹۰۵ کال د مارچ له ۲۱ سره په کابل کې مهر او لاسليک شو .

امير حبيب الله او يس ويليام دن

د همدغه کال په اپريل کې د سيستان د سرحد او د هلمند د اوبو د ويش په برخه کې د مکماهن حکميت اعلان شو .

د سرحد په برخه کې په ۱۰ فقرو او ۱۴ فصله کې حدود ټاکل شوي او قضايا وي شرح شوي او د اوبو ويش شوی ؤ .

په انګلستان کې انتخابات د ليبرالانو په ګټه تمام شوه، په دې توګه سرادوارډ ګرې د بهرنيو چارو د وزير، مورلي د بهرنيو چارو په وزارت کې د هند د چارو وزير او لارډ منټو د هند د وايسراي په توګه مقرر شول . د دغه نوي تغير سره د انګليستان او روسي روابط و نوي مسير ته داخل شول چې د هغو مستقيمي اغيزې د افغانستان او بريتانوي هند په مناسباتو کې څرګندې شوې .

## ۱۹۰۶ م :

د تزاري روسي او بريتانيا ترمنځ د روابطو د ښه کيدو علايم روښانه شول ، د روسي خارجه وزير کونت لمسدروف په لندن کې د روسي د سفير ګونت بيکندروف په وسيله د بريتانيا

خارجه وزیرا د وارد ګری ته خبر ورکړچی د روسی غوښتنه داده چی دایران او افغانستان په برخه کی د بریتانیا سره خبری وکړی.

د پتر سبورګ (نو وی وریمه) ورځپاڼی د ۱۹۰۶ کال داپریل د لومړی نیټی په ګڼه کی ولیکل چی د لندن او پترسبورګ مناسبات هغه مرحله تجدید وی چی د پالمرستون او لارد بیکنسفیلد تر دوری پخوا موجود وه.

په سرحدی صوبه او قبایلو کی انګلیسانو اداری تشکیلاتو نوی لایحی تر تطبیق لاندی نیولی وی او لوی قیامونه یو څه خاموشه وه خو وضع د طوفان څخه پخوا فضا ته پاتېدله.

دایران شاه د سیستان په برخه کی د میکماهن فیصلی او حکمیت رد کړ او د امیر حبیب الله په دربار کی دایران دغه عمل عکس العمل وپاخاوه.

د بریتانوی هند حکومت په بلنه امیر حبیب الله د سلو کسو درباری عملی او دری سوه عسکر وسره د ۱۹۰۶ کال دد سمبر په ۶ هند ته حرکت وکړ. په دغه وخت کی د هند ویسرای لارډمنټو او سپهسالار یی لارډ کچنر و. لارډ کرزن پخوانی ویسرای چی د لارډ کچنر سره د مخالفت په وجه د هند موقوف شوی و هد انګلستان په دارالعوام کی بی د پر مختیا (فارور ډپالیسی) په طرفداری فعالیت کاوه.

دسراج الاخبار افغانستان په نامه جریده د مولوی عبدالروف په مدیریت په کابل کی نشر شوه، د غه جریده یوازی یوه شماره را ووتله او نوره نشر نشوه.

**۱۹۰۷ م:**

امیر حبیب الله په هند کې لارډ منټو او لارډ کچنر له خوا په لویو درناوېو هر کلی شو دانګلستان باچا په یوه تلګرام کې (اعلیحضرت) خطاب ورته وکړ.

کله چې د تګ په لار کې پېښور ته ورسېد د هغه ښار په لوی جمات کې یې لمونځ وکړ او د سرحدي صوبې په زرګونو پښتنو ده ته هر کلی ووایه خو په دغه وخت کې ځینې او ازونه چې واورېدل شول دا فغانستان د خپلواکۍ او پښتنو د ازادۍ کلمات یې کړي وه دغو اوازو انګلیسان او امیر یو ډول متوحش کړل.

دا سفر پر امیر حبیب الله خورا زیاتې اغیزې وکړې او هغه یې انګلیسانو ته وفادار کړ او عیاشۍ یې تر پخوا څوچنده زیاته شوه، خو د هندوستان مدني وضع دومره اغیزه پرې وکړه چې کله افغانستان ته راغی د مدني اصلاحاتو سره یې علاقه نیولې وه.

د سرحد د قومونو او قبایلو مشرانو هیله درلوده چې امیر به په دغه سفر کې د دوی د سرنوشت په باب د انګلیسانو سره مذاکره وکړي، خو امیر خپل سفر ته د تفریح رنګ ورکړ او ویل به یې چې زه یوازې د هندوستان په ځنګلونو کې د ښاهي زمري او نورو ښکار له پاره راغلی یم.

په دغه ۱۹۰۷ کال کې په ایراني بلوچستان کې میر بهرام خان بارکزي چې د سرباز د سیمې حاکم و د ایران د قاجاري دولت پر ضد قیام وکړ د اقیام په لږ وخت کې ډېر پراخ شو. قیام کوونکو په بمپور او فارج کې د ایراني عسکرو ګار نیږدې یونونه له منځه یووړل.

ایراني حکومت د روډ بار د قبیلې لوی قیوډال سید خان و گماره چې بهرام خان و تکوي او هغه د نصرت خان کرما نې. په مشري ایراني عسکر پر بهرام خان حواله کړل کله چې بهرام خان ما تشو او قیام کوونکي غرونو ته ولاړل، ایراني حکومت سید خان د بلوچستان د والي په توگه مقرر کړ او د جا گیر په توگه یې د قصر قند او کیچ د سیمو د مالیې ټول لوو ظیقه ور کړه.

د تزاري روسیې د بانډ نیو چارو د وزیر لزولسکي او په پترسبرگ کې د بریتانیا د سفیر سر آر ترنیکلسن ترمنځ معروف تړون د سپتمبر په ۲۳ لاسلیك شو او د دغې میاشتې په ۲۶ په چرا یدو کې خپور شو.

دغه تړون ایران درو برخو ته وویشی چې بوه یې د روسیې د نفوذ، بله یې د انگلیس د نفوذ او دریمه برخه یې د بې طرفې سیمې په توگه وټا کله. د افغانستان په برخه کې چې د انگلیس او حبیب الله تر منځ د ۱۹۰۵ تړون منځ ته راغلی ؤ تائید شو او فیصله وشوه چې هغه به د بلې خاورې ضمیمه کیږي نه، او په عین زمان کې افغانستان د انگلیس د نفوذ ساحه وبلل شوه فیصله شوې وه چې پر دغه قرار داد امیر حبیب الله هم لاسلیك وکړي، خو هغه پټه خوله شو او انگلیستان روسیې ته خبر ورکړ چې د امیر حبیب الله امضا مهمه نه ده بلکې انگلیستان بیله دغه لاسلیك څخه هغه په رسمیت پیژني.

په وادي بازار کې ذخه خیلو اپریدو پر انگلیسی کمپ حمله وکړه او هغو ته یې سخت زیان ور ورساوه خو څرنگه چې انگلیسانو قوت حاصل کړي ؤ او د بلې خوا د سیمې د خلکو تر منځ یې زړه بداوي را اوچت کړي ؤ نو یرغل کوونکي مات شول او انگلیسانو بیا

قدرت په لاس کې واخست . په دغه جنګ کې دروز کیمل انګلیس تدا بیرو د انګلیسا نو پاملر نه جلب کړه څو په دا بل کال د صوبه سرحد ګور نر شو .

د ترکیی (عثمانی امپراطورې) یو هیئت کابل ته راغی چې او ه غړې یې درلودل یو طبیب یو نظامی منصبدار او یو انجینر شامل ؤ . دغو ترکانو د بغداد د نقیب دوراره یا خور یې له لاری کابل ته لار پیدا کړې وه . په استامبول کې د بریتا نیا نظامی اتشه ادعا درلوده چې ترکان په افغا نستان کې د پان اسلامیزم تمایلات لرې او د نقیب له لارې د پان اسلامیزم له ایګ سره اړیکی پالی.

## ۱۹۰۸م:

د بریتانوی هندوایسرای لارد منتوو لندن ته پیشنهاد وکړچی داپریدو زخه خیل قبیلی له خوا پر له پسی پر انګلیسانو یرغلو نه کیږی باید ده ته اجازه ور کول شی چې پر هغو تنبیهی جزاوې تطبیق شی .

د بریتا نیا حکومت اجازه ورکړه چې بر یتا نوی قوا وی پر اپر ید یو ور یور ته شی ، لارد منتو د دغه امر سره نه یوازی داپریدو پر ذخه خیلو بلکی پر مومندو هم حمله و کړه د انګلیسا نو له دغه اقدام سره په اپرید واو مومندو کې ډیری سختی جګړی روانی شوی . د ملی مبارز ینو څخه ملا تا ن زخه خیل د تیرا د خیبر او تا تری د چریکانو ډلی تنظیم کړی او دا ندر شیرپر بازار یی حمله وکړه .

د دغه جنګ تصویر په ولسي منظوم فولکلور کې په دې توګه ځای و نیوی:

دنیاله اندر شوره — ډاکې پوړله ډیره
لاټ جمع پرنګیان کړل په رعیت مې کیږي زیاته
ملاو تړي تیر اته
سپاهیانو ورته ویل چې موږ به ځو له پیښوره
خبر شه کمشنره
خبر شه ته سرکاره — غوږو نسیه هوښیاره
سودا موده په دې کې تیروي موږ له شمشیره
دنیاله اندر شوره
خبر پرې شهزاده شو — پاچا نه غمزده شو
لندن کې پرنګیانو ژړژ پیبلي دانده ره
دنیا له اندر شوره
( تر پایه . . . )

په دغه کال دانپا رسمي اتمانځیلو د پیښور په نژدې سیمو کې پر انګلیسانو حملې پیل کړې او انګلیسانو د دګرمن ایمس ایچ ګاد فري په قوماندانۍ چې د سلګند پولټیکل اجنټ و، پر پړانګ غار یرغل وکړ. په پای کې جګړه په جرګه پای ته ورسیده.

انګلیسانو د سیمې دسترا تیږ یکې مطالعا تو له مخې په یوه وخت کې پر اپریدو او مومندو د حملې داسې پلان تر کار لاندې و نیوی چې د یو خوا یې د خیبر پر شاو خوا قواوې وا چولې او د بلې خوا یې پر شبقدر د یرغل لپاره قواوې ځای پر ځای کړي. په مقابل

کې پښتنو هم دغه ډول تیاری نیولی وه. دا جګړه ډېره خونړۍ وه او ډېرو لویو سیاسي رزانو هغه رهبري کوله، دد غې جګړې هغه مبارزان چې د رهبري وظیفه یې په غاړه درلوده د یو شمېر نوم ونه دادي: د چارمنګ د باېړي ملاصاحب، دا سلامپور باچا صاحب، د شینوارو صوفي عالم ګل او د چکنور ملاصاحب او د سرکانو سیا صاحب. د دغو رهبرانو ترجنګه بولاندي د باجوړ د کونړ، ننګرهار او شلمان سرتېري راټول شوي وه. دغې جګړې ته د سما ذونانو جګړه هم وايي.

په دغه کال یو محل بیا انګلیس قوا او د جنرال و یل کاک په قوماندانۍ په ذخه خیلو ابرید ویو او بیا د همد غه جنرال په مشرۍ پر مومندو یرغل وکړ، چې په د غو د واړو حملو کې اپریدو او مومندو ډېر سخت مقاومت وښوو ی.

څرنګه چې په قبایلو کې وضع ورځ تر بلې دانګلیس پرضد سخته دله نو د بریتانوي هند مرکزي حکومت سر جارج روز کېپل چې پښتو ای د کورمې او خېبر په ایجنسیو کې د کار تجربه درلوده دسرهېر الډن پرځای په پېښور کې د شمال مغربي صوبې چیف کمشنر وټاکی. دا سړی ډېر ماهر ؤ او د پښتنو په عرف او عادتو پوهېدی، خو د دیکتا توري مزاج په وجه یې په دې ډېر محله د سر زوري شخه کار اخیستی. دی په سرحدي صوبه کې د اصلاحاتو ډېر سخت مخا لف ؤ او لهٔ د غه وجې یې دد ښمني کلک موقف غوره کړی ؤ.

په دغه کال په بلوچستان کې هم دانګلیسا نو پرضد دبلوڅا نو مبارزې سختې شوې د جالوان د سیمې د میر حمزه پهلوانزي مینګل زوی نور محمد چې په نورا مینګل شهرت لري او په دغه وخت کې د ود سیمې

ملک ؤ دانګریسانو پر ضد یوه ګوریلایي قوه تشکیل کړه . دی هغه وخت یاغي شو چې سردار شکر خان او میر نور الدین خان د انګریسانو لخوا ونیول شول

د ده ـ ډېر غښتلی ملګری میر جنګی او میر عالم خان وه ، دی پوره نهه کاله دانګریسانو پر ضد وجنګېدی خو په ۱۹۱۷ کال کی سردار حبیب الله خان په نامردی په خپله او جره کی ونیوی او انګریسانو ته یی وسپاره او انګریسانو په عمر قید محکوم کړ خو په ۱۹۲۱ کال دسند حیدر اباد په جېل کی وفات شو . دده په باب بلوڅی شاعرانو ډیر حماسی اشعار ویلی دی .

په همدغه کال میر خدایداد خان د قلات پخوانی خان چی دانګریسانو له خوا په پښین کی بندی ؤ وفات شو .

په دغه ۱۹۰۸ کال دجنوری په میاشت کی معروف سیاسی شخصیت او سیاسی مبارز میر یوسف علی خان مګسی وزیږید ی . دی داتحاد بلوچان دسیاسی ډلی رهبر ؤ او دشلمو کلونو څخه ور وسته یی دبلوچستان په سیاسی جنبشونو کی لویه برخه اخیستی ده . په همدی کال هاشم خان غلزی چی په کوټه او دبلوچستان د پښتنو دسیاسی رهبری لوی غړی ؤ په کوټه کی وزیږید ی .

## ۱۹۰۹م :

دملا نجم الدین خلیفه صوفی عالم ګل دیوی چریکی ډلی په مشری دټی کوټ څخه لنډی کوتل ته ور اغی او هلته یی پر انګلیسی کمپ یرغل وکړ . داجګړه او ږده نشوه او ژرپای ته ورسیده .

دزخه خیلو اپریدو معروف مبارز شخیصت ملتان خان چی یو کال مخکی یی داندر شیر بازار او هلته انګلیسی عسکر تکولی وه او بیا په کجوری کی

دیره وه ، انګلیسانو دده په تعقیب د تیرا په بازار حمله وکړه په دې وخت کې د تیرا خلکو په ګډه دانګلیس پرضد جګړه پیل کړه او په دغه جنګ کې دانګلیس له پوځ څخه اتیا تنه ووژل شول او داتو تنو په شاوخوا کې اپریدي شهیدان شول . څرنګه چې انګلیسانو بري ونه کولای شوای نو روز کمپل د سولې خوښتنه وکړه . سوله وشوه او ملتان د خپلو ملګرو سره د پېښور د سوریز خوړ سمڅو ته ولاړ . هلته شیر غلام نومی دشل زرو روپو په مقابل کې انګلیسانو ته په لاس ورکوړل دغو سپارزانو کلکه جګړه وکړه څلور ملګري یې زخمي او شپږو نیول شول خوملتان خان چې د هغه وخت څخه ورك شو بیا یې ژوندي او مړي معلوم نشو .

ددغه کال د مارچ په میاشت کې امیر حبیب الله خان چې دانګلیس په دوستۍ یې شهرت موندلی و د روښنفکرانو د نفرت باعث وګرزید او یوه سیاسي پټه دله فعاله شوه چې امیر له تخته وغورځوي او دانګلیس څخه د افغانستان خپلواکي وغواړي خو، امیرته اطلاع ورسیده او هغه ددغې ډلې غړي ونیول ، مولوی واصف کندهاري اوهغه ورور سعدالله کندهاري دمولوی احمد جان الکوزي زامن ، لعل محمد کابلی ، جوهر شاه خان کابلی او محمد ایوب خان پوپلزی کندهاري یې په توپونو کې والوزول او ددغې ډلې ۳۵ نور غړي یې بندیان کړل .

په همدغه کال یوې ډلې دیني علما وا وروحا نیونو داستعمار پرضد جهاد اعلان کړ . په پروان ، کابل کاپیسا ، لوګر او پکتیا کې خالك هیجا نی شول ، د امیر حبیب الله وروو سردرا

نصراله په سرحد کی دوسلو دویشلو کارهم پیل کړ . خوامیر اعلان وکړ چی د باچا بی امره جهاد نه اعلانیږی ۰ امیرد موسهی اخندزاده ملا محمدجان راوغوښت او په کابل کی بی تر نظارت لاندی ونیوی . ده ناظرمحمد صفرخان امین الاطلاعات چی دنایب السلطنه نصراله خان د امورو کار کونکی ؤ بندی کړاو حاجی عبدالرزاق خپل د خارجی چارو مشاور چی د سرحد د خلکو او نصاالهخان رابط ؤ بیږه بی وروشکوله.

په ۱۹۰۹ کی په هند کی د منټو مورلی ( لارډ منټو د هندویسرای او مورلی دبریتانیا دباندنیو چار وپه وزارت کی د هندوزیر ؤ ) داصلاحاتو پروګرام تر کار لاندی ونیول شو. دغه اصلاحات په پنجاب کی هم جاری شول خودصوبه سرحدچف کمشنر روز کیپل په دغه ولایت کی بند کړل او د مخ نیوی له پاره بی دا د لایل وړاندی کړل چی صوبه سرحد د منطقوی حساسیت په وجه ددغه دول اصلاحاتو له پاره مناسبه نه ده .

د سرروز کیپل ددی اقدام په وجه په خلکو کی ډیره مایوس پیدا شوه اودسیاسی حرکاتو له پاره ترد غه کال و رو سته لومړی د خان عبدالغفار خان لخوا اقدام و شو .

## ۱۹۱۰ م :

خان عبدالغفارخان دمولوی عبدالعزیز په مرسته لومړی‌دسواد دزده کړی ښوونځی په اتمانزو کی جوړ کړ خود دغه‌ښوونځی‌مره

ملایانو مجادله پیل کړه. عبدالغفار خان په خپل معروف اثر (زما ژوند او جدوجهد) کې لیکلي دي چې یوه ورځ یو ملا راغی چې ټوپک هم ورسره وه، ده وویل دا ښوونځي بې فایدې کار دی زه ستا سره لومړی د لایم وایم او که نه وشوه په ټوپک بې در سره معلوموم. ملا وویل ستاسې دلوست په کتاب کې لیکلي دي (سپي غاپي) بل ځای لیکلي دي (یوغټ انځر) دا څه معنا او څه فایده. ما ورته وویل چې پر دغو کلماتو سواد زده کیږي، خو ملا نه قانع کېدی او ټوپک یې هم استعمال نه کړی شو.

دخان عبدالغفار خان او ملا عبدالعزیز دخوا دښوونځیو د تاسیس کارته پراختیا ورکول شوه خو ددوی سره د تنګ نظره او متعصبه ملایانو څخه علاوه دانګلیس حکومت هم مخالفت جاري وساتی.
دکابل او جلال اباد ترمنځ د ټیلفون لومړی لین وغزول شو.
دلارډ منټو پر ځای لارډ هارډینګ دهندوستان وایسرای شو.

ځان عبدالصمد خان دکوټې په ګلستان کې وزیږیدی. دده سیاسي ژوند د ۱۹۲۷ ـ څخه پیل کیږي چې په افغانستان کې داخلي اړ دوړ جوړ شو، عبدالصمد خان یو شمیر رضا کاران راټول کړل او د امان الله خان سره دملګري اعلان یې وکړ، خو انګلیسانو بندي کړ. ده تر بند وروسته دانجمن وطن ګوند جوړ کړ دکانګرس او خدایي خدمتګارانو سره یې ملګري اعلان کړه. داستقلال په نامه یې اخبار راوېوست. ده خورا ډیری محاکمې او بندونه ولیدل او د پښتنو او بلوڅو په نهضتونو کې یې دپاکستان دمارشل لاګانو ضد سخته مبارزه وکړه خو د ۱۹۷۳ کال (۱۳۵۲ د قوس ۱۱) شپه

دامپریالیزم او ارتجاع دپالو پانو له خوا په ناځوانمردانه توګه ترور شو.

## ۱۹۱۱ م:

دسراج الاخبار افغانیه په نامه جریده دمحمود طرزي په مدیریت خپره شوه.

په لندن کې دتزاري روسې سفیر کونت بینکندروف دبرېتانیا حکومت ته خبرورکړ چې یوترکی صاحب منصب دشکري پاشا په نامه کابل ته تللی دی او غواړي دافغانستان او ترکیې ترمنځ داتحاد او همبستګۍ تړون لاسلیک کړي. ده د پان اسلامیزم د مفکورې دعملي کولو دپلان یوه برخه دغه له کار و بالداوز یاته کړې یې وه چې ترکیې او ایټالیې او بالقان دجګړو په باب په سراج الاخبار کې داسې هیجاني لیکنې کېږي چې هغه د لوېدیځ په سخت زیان تمامېږي.

په کابل کې د مطبعه عنایت چې لومړۍ مطبعه ده په کار ولوېده. په پېښور کې د عبدالغفار خان او ملګرو له خوا یې دمعارف دپراختیا له پاره فعالیت روان ؤ خو د انګلیسانو له خوا سخت مخالفت ورسره کېده. دشمال مغربي سرحدي صوبې چیف کمشنر، سرروز کیپل له خوا دعبدالغفار خان پلار ته تهدید ورکول شو چې خپل زوی عبدالغفار خان دښوونځو دتاسیس له کار څخه راوګرزوي دشا وخوا ؤ متعصبو ملایانو به تبلیغ کاوه چې دغه ښوونځي دمذهب او دین ریښې سوځي.

د بابړې دملا صاحب په قیادت دباجوړ او مومند د قبایلو

ګوریلایي لښکرو د شېرقدر په سوبانو خوړ کې د انګلیسانو پر کمپ حمله وشوه او له دغه ځایه بوډبر لوی او خطرناک ـ جنګ جوړ شو.

دغې جګړې ته د پنډیالي جګړه هم وایي.

په همدغه کال دغاړې دا تمانخیلو قبایلو خپل تر منځ سخته جګړه وشوه، دوی که څه هم په ګډه د انګلیسانو څو کلاوې ورانې کړې خو خپل منځي جګړې دوی ته ډیر زیان ورساوه، د دغې خپل منځي جګړې عامل د انګلیسانو توطیه وه چې یو شمېر قبایل یې بېود بل غاړې ته واچول.

په دغه کال د بریتانیا پاچا شپږم جارج او د هغه ملکې میری هندوستان ته سفر وکړ او په ډهلي کې یې لوی دربار جوړ کړ. دغه دربار ته د هندوستان د ډیرو ډیرو سیمو څخه نوابان او راجګان ورغلل شوي وه د بلوچستان له خوا د قلات خان محمود خان هم ورغلی و. له همدغه وخت څخه د کلکتې پرځای ډهلي د بریتانوي هند پایتخت شو. د پایتخت له پاره د ډهلي انتخاب د انګلیسانو د هغو ستراتیژیکي پلانو نوبوه برخه وه چې غوښتل یې په قوت سره خپل نفوذ افغانستان ایران او مرکزي اسیا ته راخپور کړي.

## ۱۹۱۲ـم

په مشهد کې د بریتانیا نظامي اتاشه راپوروکړ چې تزاري روسیه له دې څخه شکایت کوي چې بریتانیا د انګلیس او روس د تړون د دریمې مادې په اساس خپل مکلفیتو نه پرځای کوي روسیه غواړي چې بریتانیا د روسیې او امیر حبیب الله تر منځ د مستقیمو

روابطو زمینه برابره کړي او د هغو روسي بند یا نودا زاد یدوله پاره اقدام وکړي چې دافغانستان په زندانونو کې دي .
په وزیرستان کې د وزیرو او مسید و ترمنځ جګړه و شوه دی جګړې داګست په میاشت کې دوام درلود .
ددغو قبیلوی جګړو عمده عامل دانګلیسانوتوطئې او پیسې وې . خود مصلحینوله خوا دغوقبیلو ی جګړو ته ډیر ژر خاتمه ورکول شوه .
په افغانستان کې د پوهنی ټولنه (انجمن معارف) د معین السلطنه عنایت الله په مشرۍ جوړه شوه او نظام نامه یې نشر شوه .
په سراج الاخبار کې د پښتو ژبې او ادبیاتو په رقدامت او اصالت یوه مقاله نشر شوه . په کابل کې د بریتانوي هند سفیر مهدي خان تبدیل او په عوض کې یې سیف الله خان راغی . د کندهار خلکو دامیر حبیب الله د نایب سردار محمد عثمان خان پرضد قیام وکړ . د قیام علت د دولت د مامور ینو بده رویه وه . خلکو دښار قاضي چې دوی ته د نصیحت له پاره ورلیږ ل شوی ؤ او هغه په بد و کلما تو هغوی تهدید کړی ؤ د هغه د زوی سره و واژه . د غه واقعه دخرقې په شاوخوا کې چې هلته کډوان کرل شوی وه پېښه شوه . عصبي جمعیت له پېښو څخه کډوان شکول او قاضي یې پری ویشتی ، قاضي او زوی یې په کډوانو ووژل . په مقابل کې امیر په زرګونو عسکرو ته امر ورکړچې فیرونه پرو کړي او په دې تو ګه یې سلګونو خلک په قتل . ورسیدل محمود طرزي په سراج الاخبار کې د (امن و اسایش) تر عنوان لاندې و پر دغه جریان یوه انتقادي مقاله خپره کړه .
دد غه کال په وروستیو میاشتو کې د پکتیا د منګلو قبیلې قیام

وکړاو ددوی سره طوطا خیل ، دجاجي میدان خلک او څمکني هم ملګري شول. د قیام سبب د هغه ولایت والي سردار محمد اکبر خان جبر او تیري وچي په ښځي ار زانه قیمت یې دد ولتي اسا نو له پاره زور شقه اود عسکری ګد امو نوله پاره غله په زوره اخیستله. دخلکو توان دومره نه ؤ ، په داسې حال چې تول کال به یې زحمت وکیښ په پای کې به یې ترخه دوډۍ خوړله او دز یار زحمت محصول بې حکومت تر لاسه کاوه. دد غې پیښې دخاموشو لوله پاره احمد زی جاندادخان او ملک اصیل ته وظیفه ور کول شوه خو هغوی دغه او رته نوره هم ته لمن ووهله. امیر حبیب الله دنګرهار ننګ قوامو (شینوا رو،خوګیانو مومندو،او دخیلوا ونو روقبیلو څخه مسلح خلک پکتیا ته واستول په دوی پسې یې یو غند مسلح عسکر چې توپونه ورسره و دجنرال محمد نادر خان په قوماندانۍ هغې خوا ته واستول په لو مړي حمله کې جګړه وشوه او ...خلک وژل شول خو وروسته مسائل په مسالمت حل شول، د پکتیا دقبایلو مشران کابل ته راغلل دامیر سره یې روغه وکړه او هغه د ملک زاد ګانو مکتب ورته تاسیس کړ اوددوی زامن یې هغه کې شامل کړل.

البته دا لومړی ځل ؤ چې لوی شورښت د مفاهمې له لارې حل شو.

په دغه ۱۹۱۲ کال کې انګلیسانو په بلوچستان کې د قلات دخان دضعیفولو له پاره نوې طرحې تر کار لاندې ونیولې. دوی د وزیراعظم مقام چې د قلات دخان ما تحت ؤ، ورو ورو د پو لټیکل ایجنټ تر نفوذ لاندې راوست. په خاصه توګه په دغه کال چې د سر شمس شاه په نامه کوم سړی د قلات خان ته د وزیر اعظم په حیث مقرر شو، دا سړی

د برتانوي هند د جاسوسي سرو پسونو بواېجنټ ؤ. ده یوه جابرانه اداره قایمه کړه او په رشوت خوري کې یې نوم وېوست. د بلوڅو سیاسي جنبشونو د ټکولوله پاره یې د لوېوتوطیوڅخه کار واخیست څو په دېرشمو کلونو کې مبارزو روښنفکرو بلوڅو و شړي.

## ۱۹۱۳ م:

معروف ضدانګلیس مبارز ملا پیونده و فات شو. د ده فاتحه په ټوله اوښکاره په پښتونخوا، افغانستان او هندوستان کې واخیستل شوه. د افغانستان معروف مبارزاو د میوند په جګړه کې پرانګلیس قواو فاتح سردار محمد ایوب خان په لاهور کې وفات شو او په پېښور کې خاورو ته وسپارل شو.

کله چې د ننګلو تر قیام وروسته حبیب الله خان عمومي بخښنه اعلان کړه او د هغوزامن یې په کابل کې په مکتب کې شامل کړل، د اکار پر انګلیسانو ډېر خواشینۍ تمام شونو د او چې د دغه کال د اګست په میاشت کې یې د (تایمز اف انډیا) کې ولیکل:

دانرمي به د غلط فهمیو سبب شي. په طریقه خوداوه چې یاغیانو ته د پښتوا په شان سزاوي ورکول شوي واى. باید دافساد په بې رحمې ټکول شوي واى او هغه کسان چې د سعافي هم ور وه باید غوګوڼه او پزې یې ور پرې شوي واى . . . . .

په دې توګه (لندن تایمز) لیکلي وه چې: «د خوست او ننګر هار قیامونه، د سلیمانخیلو خرو تواو کند هار یانو شخړې د ابېرې چې افغانستان د داسې خرابې پر خوا روان دی لکه د هغه ګاونډی ایران.

په دغه کال جاندادخان چې د برېتانوی هند له خوا سرحد اتو ته داخل شوی او په پکتیا کې یې خلک پورته کول ونیول شواو په کابل کې اعدام.

په دغه کال د ازبارو غاړی اتمانزخیل راپورته شوه او په اتمانزو کې یې د اشنغر کلی تالا کړ او بیا یې تر پېښور پورې د پولیسو پرڅو کیو حملې وکړې.

خان عبدالغفار خان د عبدالحلیم سره په اگره کې د مسلم لیگ جلسه وکتله.

په دغه جلسه کې سرابراهیم رحمت الله رئیس او مولانا ابوالکلام ازاد سر آغا خان او داسې نور و غټانو برخه اخیستی وه. عبدالغفار خان د دغې جلسې په کتلو دې نتیجې ته ورسیدی چې د مسلمانانو نماینده گان یوازې خبر کوی، په داسې حال کې چې په کانگریس کې رښتیانی روښانفکران یوځای شوې او د گاندي جې په قیادت چې تازه د جنوبي افریقې څخه راغلئ نه یوازې خبرې کوی بلکې عمل هم ورسره ملگرې دی.

## ۱۹۱۴ م:

لومړی نړیواله جگړه پیل شوه او د نړۍ پرسیاسی اړیکویې خپلې اغیزې واچولې په خاصه توگه چې د دغه کال د اکتوبر په ۲۹ عثمانی امپراطوری د جرمنۍ په طرفداری په جگړه کې شامله شوه نو د اسلامی هیواد و نو په جمله کې یې په افغانستان او سرحدی – صوبه کې عام خلک دې ته و هڅول چې د ترکیې په طرفداری راولاړ شی. په د غو ورځو کې د ترکیې له خوا داسې بانې خورا دیری خپریدی

چی گواکی قیصری جرمنی (د مسلمانو ولسونو دوست دی) د هندی مسلمانانو تو لنه هم له دغو تبلیغاتو څخه متاثره شوه.

په کابل کی دینی علماؤ د انگلیس پرضد جهاد اعلان کړ خو امیرحبیب الله هغه ردکړ او د مشوری په مانی کی یی په لوی دربار کی د افغانستان بی طرفی اعلان کړه. د په دغه دربار کی چی د انگلیس سفیرهم ناست ؤ یوه مفصله وینا وکړه او وی ویل: ما ته دوایسرای صاحب (لارډ هارډینگ) لیک رارسیدلی او در وانی جگړی په باره کی یی پوره معلومات راکړی دی او لیکلی یی دي څرنگه چی دضیا الملت والدین له وقت څخه دافغانستان او بریتانیا ترمنځ دوستی ده او بیاد دغی دوستی استاد د تاسو ( امیر ) هملا سلیک کړی دی نو بایدافغانستان بی طرفه اوسی.

امیرحبیب الله و ویل: ما دوایسرای دلیک په جواب کی هغه ته داد ورکړی دی ترهغه وخته چی دافغانستان استقلال او شرف ته تعرض نه وی شوی افغانستان به خپله بی طرفی وساتی.

دبریتانوی هندوایسرای لارډ هارډینگ پرځای لارډ چلمسفورد قرر شو. د سندا کی ملاصاحب ( اصل نوم یی ملا احمد جان ؤ او د اباسیند د کوهستان او سید ونکی ؤ) سیدعبدالجبار شاه له ستانی څخه را و غوښت او امیر یی و تاکی او پخپله قاضی القضات شو بیا یی دانگلیس پرضد جهاد اعلان کړ او پر چکدره او ملکنډ یی برغل وکړ.

ده دجهاد په خاطر امیر وتاکی څکه دجها د امر امیر صادر ولای شی.

په دغه کال کی خان عبدالغفار خان دمولوی فضل ربی سره دمولانا شیخ الهند محمود حسن په بلنه په دیوبند کی د هغه سره وکتل. په دغه وخت کی مولانا عبید الله سندهی هم حاضرؤ، په دغه

کتنه کې دوی فیصله وکړه چې دوه مرکزه باید تاسیس شي یو په هندوستان کې دننه او بل په آزادو قبایلو کې.

عبدالغفار خان د قبایلو په کتنه کې چمرکند ته ورغی او له هغه ځایه سالارزو او مهمند و ته لاړ او هلته یې دیوه مرکز د جوړیدو مطالعات پیل کړل.

په دغه کال چې کله نړیواله جګړه پیل شوه مولانا شیخ محمود الحسن او مولوي عبیدالله سندي د دهلي د فتحپوري عربي مدرسې مدیر مولوي سیف الرحمن د ترنګزو حاجي صاحب ته ور اولیږي چې د انګلیس پر ضد د قبایلو او چتولو له پاره قبایلي سیمو ته مهاجرت وکړي.

د ترنګزو حاجي صاحب سمدستي قبایلو ته ولاړ انګلیسانو د حاجي صاحب تعلقداران هر ځای نیول او زندان ته یې اچول، په دغه کش و کوکې انګلیسانو ته پلمه په لاس ورغله او هغه ټولې مدرسې یې بندې کړې چې عبدالغفار خان او د ترنګزو د حاجي صاحب په زیار جوړې شوې وې.

د ترنګزو حاجي صاحب بونېر، سوات، مومندو او نورو سیمو ته سفرونه وکړل او دده له دغو سفرونو څخه نه یوازې انګلیسان وارخطا وه بلکې په افغانستان کې امیر حبیب الله ته هم تشویش پیدا شوی ؤ.

د اګست په ۳۰ په بلوچستان کې د ای، جي، جي (ایجنټ ګورنر جنرال) سر جان ریمري له خوا په یوه رسمي لیک کې د بریتانوي هند حکومت ته ولیکل شول چې د قلات خاني د قبایلي سردارانو یو کانفدراسیون و، خو د دوهم میر محمود خان د خانۍ له وخت څخه چې برتانوي مشاور یې الاخ ته مقرر شو دغه کانفدراسیون له منځه ولاړ او د خان اختیارات ډیر محدود شول او اوس یې نښه هم نشته.

## ۱۹۱۵م:

نړيواله جګړه دوهم کال ته داخله شوه. د المان او ترکيې اتحاديه اسما کې د برېتانيا ګټو ته تکان ورکړ. د برېتانيا نوی هند حکومت د افغانستان او ايران د سياست کنټرول ته جدي پاملرنه کوله.

امير حبيب الله انګليس ته د وفادارۍ په اړه زمونږ په کې برياليو، خو عامو خلکو په خاصه توګه د سرحد قبايلو ده څخه نفرت کاوه.

حبيب الله د دغه کال په اپريل کې د مشايخو او سردارانو په ګډون يوه لويه جرګه دايره کړه چې په هغه کې د اسلام پور پاچا، د موسهي اخند زاده، د بر و مياصاحب، د حصارک شمس الحق، دهلي استاذ، د شور بازار حضرات، حافظجي صاحب، صوفي صاحب، ملا محمد مريد، ملا عبد الغفار اخند زاده او داسې نور وبرخه اخيستې وه.

په جرګه کې امير حبيب الله د جګړې زيانونه بيان کړل او بې طرفي يې ټينګه غوښتله او په دې پسې يې د افغانستان د بې طرفۍ سياست تائيد کړ.

په سرحدي قبايلو کې د المان د اسلام د وستې تبليغات زيات شول او امير حبيب الله د انګليس په وفادارۍ وغندل شو.

برلين او استانبول کوښښ کاوه چې د المان تر رهبرۍ لاندې د ترکيې، ايران او افغانستان اتحاديه جوړه کړي، نو په همدې مقصد د اګست په شلمه شپه د نايدرماير هنتګ هيئت هرات ته ورسېد. د دغه هيئت په غړو

کې چې لومړی پریږیدن او تو فون نایدر ـ مایر او په تهران کې د جرمنۍ د سفارت پخواني سکرتر و، هنتګ کاظم بی پاور، هندي سیاسي پناه وړونکي راجا مهندر ا پرتاپ او په برلین کې د انقلابي کمېټې غړی محمد برکت الله شامل وه.

دغه هیئت په اکتوبر کې کابل ته ورسېد او درې هفتې وروسته یې په پغمان کې د امیر حبیب الله سره وکتل هغه ته یې د المان د قیصر او د ترکیې د سلطان پیغامونه وسپارل چې په دغو پیغامونو کې امیر حبیب الله ته دعوت ورکول شوی و چې په جګړه کې شامل شي.

د دغه هیئت خبرې د امیر سره اوږدې شوې د دوی له راتګ سره د دربار د سیاسي لحاظه دوو برخو ته وویشل شو، یو هغه له محافظه کاران و چې د امیر حبیب الله سیاست یې تائیداوه دوهم ډله د جګړې طرفداران وبلل شول چې په سر کې یې د امیر ورور نصر الله خان واقع و او د امیر زامن عنایت الله او امان الله د هغه غړي وه، محمود طرزي او جنرال نادر خان هم د دوی په تائید ولاړ وه، خو په مقابل خوا کې چې د امیر پلوي یې کوله د سردار عبد القدوس اعتماد الدوله ډله واقع وه.

د جګړې د طرفدارانو ملاتړ د سرحد د قبایلو له خوا هم کېدی او هغوی هرآن ددې منتظر وه چې د برتانیا پر ضد افغانستان جګړې ته داخل شي.

د دغه کال په وروستیو میاشتو کې د انګلستان د پاچا

پنځم جارج له خوا د امیر حبیب الله په نامه یو لیک و رسید چې د ده د بیطرفی موقف یې ستایلی وا و امیر په همدې کال د هغه جواب ورولیږی په سراج الاخبار کې محمود طرزی د (حی علی الفلاح) تر عنوان لاندې مقاله خپره کړه چې په هغه کې په ملفوفه توګه د افغانستان د خپلواکۍ په باب مطالب موجود وه، او دغه مقاله د سرحد په قبایلو کې په ډیره مینه لستقبال شوه .

د دغه کال په دسامبر کې په کابل کې د برېتانیا نمایندې هند ته خبر ورکړ چې ټول داخلی او خارجی قبایل امیر حبیب الله غندی او پر هغه یې د کافر فتوا صادره کړیده . په سوات کې د سید عبدالجبار شاه په امارت د قبایلو یوه جرګه جوړه شوه چې د سنډاکی ملا صاحب په هغه کې وینا وکړه او د انګلیس پر ضد یې جهاد اعلان کړ. د سنډاکی ملا صاحب د قبایلو دلی تنظیم کړی او د چکدره او ملکنډ پر کلاګانو یې حملې پیل کړې . د دوی د مقابلې له پاره د سر- حدی، صوبې چیف کمشنر سر روز کیپل په خپله د برېتانوی قواوو قوماندانی کوله . په جګړه کې د قبایلو لښکری د وسلې د کمزوری په وجه پرشا شوی او دا د ملکنډ وروستی جګړه وه.

په دغه کال کې وزیرو قبایلو هم دانګلیس پر ضد جګړو ته ادامه ورکړه او په تیرا کې سر مست اپریدی د انګلیس په مقابله کې د قبایلو د لښکر و قوماندانی پر غاړه درلوده.

## ۱۹۱۶ م :

د سرحدی صوبې چیف کمشنر سر روز کیپل د دغه کال د اګست په میاشت کې مرکزی حکومت ته دا یادداښت صادر کړ: « داسې معلومیږی چې ترکان) مطلب یې هغه ترکان دی چې د المانی نمایندو سره په هیئت

کی کابل ته راغلی وه ) د لوړ یو ورځو پر هیله او ډار بریالی شو یدي او فعالیت یی تر پخوا زیات شویدی. دوی په ورگزو او نورو کوچنیو قبایلو کی چی د کورمی پر سر حد واقع دی سفر ونه کوی. که دوی دا سبا رزه داوړی په لو مړیو وختو نو کی پیل گړی وای نو بیا یی ډیر ازار یی رسولی وای خو اوس وخت له دوی سره همدردی نه کوی.

د دغه کال په سپتا مبر کی په کابل کی د بریتانیا نما ینده ته امیر حبیب الله یوی پوښتنی په جواب کی وویل چی دا ترکان دده مستخد مین دی چی له و طایفو څخه لیری شوی دی خو د جگړی له کبله له افغانستا نه نشی و تلای نو ځکه په دغسی فعالیتو نو یعنی په سرحد ی قبایلو کی گرزیدنه) ځان مصدرو نوی .

په دغه کال کی د ترنگز و د حاجی صاحب په مشر ی شپږ زرو گوریلا یا نو قبایلو په شبقدر کی دانگلیس پر گار نیز و نو حمله و کړه، خو په مقابل کی انگلیسا نو سخته بمبا ری و کړه.

د دغی جگړی شدت په سوبان خوړ او شبقدر کلا ډیر سخت ؤ، گوریلا یا نو د شبقد ر کلا ته چی هلته انگلیسی پو ځ د یره شوی ؤ اور وروا چاوه .

امیر حبیب الله د پنځم جارج (دانگلستان باچا) د لیک په جواب کی و لیکل : (... موږ به بی طرفه پاتی شو او تر پایه به خپل تعهدات پرځای کړو . دجنوری ٦) د دغه کال د جنوری په ۲۴ امیر حبیب الله دالمان سیاسی هیئت ته جواب ورکړ، خود المان دقیصر په نامه یی د دوستی پیغام هغوی ته ورکړ، خو په دا بله ورځ یی په کابل کی دانگلیس نما ینده سیف الله ورو غوښت او هغه ته یی ډاډ ورکړ چی جگړی ته به ور گډ نشی ' دجنوری په ۲۹ یی

د اخبره په لوی در بار کی تا ئید کړه ، خو دامیر د غه عمل په سرحدی قبایلو کی دهغه پرضد نفرت نورهم زیات کړ .

دجرمنی هیئت دسی په ۲۱ له کابله رخصت شواو دامیر ورورسردار نصرالله خان دجرمنی دصدراعظم په عنوان یولیك وهیئت ته وسپاره او په دغه لیك کی یی هغه ته لیکلی وه چی دافغانستان سره د دوستی دتړون په کار کی له چټکی څخه کار واخلی .

په دغه کال کی د بلبل گرفتار رمزی شعر دعبدا لهادی پریشان (داوی) له خوا په پارسی او دهغه پښتو تر جمه د سو لوی صالح محمدخان له خوا په سراج الاخبار کی نشر شول . په دغه شعر کی دافغانانو د خپلوا کی ارمان منعکس شوی ؤ .

ترکی هیئت په تر کستان کی هم فعالیتو نه پیل کړی وه . د ۱۹۱۶ کال په جنوری کی دااطلاع بریتانوی هند ته ور سیده : کله چی هیئت په افغانستان کی خپلو مقاصد و ته ونه رسید نو په ترکستان کی یی فعالیت پیل کړ او تر کمنان یی وهڅول چی بغاوت وکړی . د دغه هیئت نمایندگان بخارا ، چارجوی، مرواوسمرقند او تاشکند ته تللی دی . کاظم او برکت الله په دغه فعالیت کی مرسته کوی .

دانگلیسانو دتوطیو په لړ کی په باچا سید عبدالجبار شاه چی دا تبلیغ وشوچی هغه قادیانی دی او ددی سره سم دهغه دایسته کولو غوغا پورته شوه . دسنډاگی ملاصاحب چی دقاضی القضات په توگه دسیاسی اداری واگی هم په لاس کی درلودې مجبور شوچی دمو ات له پاره بل باچا پیدا کړی په دغه وخت کی د ترنگزو دحاجی صاحب زوی باچا گل دغی عهدی ته تیاری نیو لیؤ خودسنډاگی دملاصاحب

مشاور مولوي عبد العزیز هغه ته مشوره ورکړه چې میانګل عبدالودود په دغه عهده وټاکي او هغه هم ومنله او عبدالودود باچا شو.

په دغه کال د ښارخان پر ناوګي حمله وکړه، ده ته انګلیسانو وعده ورکړې وه چې که ناوګی ونیسي انګلیسان به لوی جاګیر ورکړي خو د ناوګي قبایلو د ښارخان ته موقع ورنکړه چې بریالی شي. د انګلیسانو نوې پالیسي په عمل کې پلې شوې وه او د دې پالیسۍ عمده جهتونه داوه چې قبایل یو د بل غاړې ته واچوي. د دغه کار له پاره ډېرې روپۍ هم منظورې شوې وې.

انګلیسانو په اپریدو، وزیرو، مسودو او بیټنو کې ډېرې روپۍ خرڅې کړې خو بریالي نشول. په دغه کال د بریتانوي هند حکومت له بلوڅو څخه غوښتنه وکړه چې د نړیوالې جګړې د ګټې ته خپل خلك د انګلستان په ګټه ولېږي خو د نواب مهرالله خان مري زوی سردار خیر بخش مري چې د ۱۹۰۲ څخه د پلار تر مرګ وروسته د قبیلې سردار شوی ؤ او یو ضد انګلیس شخصیت ؤ، د انګلیس حکومت دغه غوښتنه رد کړه. انګلیسانو پر مري بلوڅو حمله وکړه او د کمبزا په جګړه کې د خیر بخش ډلې هغو ته ماتې ورکړه. ای، جي، جي (ایجنټ ګورنر جنرال) سیوي ته د خبرو له پاره ورغی خو بېرته ناکامه ولاړ. د دغې جګړې او د خیر بخش مري قهرمانۍ خلکو زیاته وستایله او ولسي شاعرانو د هغه په ستاینه اشعار وویل، دغه اشعار اوس هم د بلوڅو په فولکلور کې ځای نیولی دی.

د چترال مهتر ناصر الملك د چترالي ژبې د لیك او لوست بنیاد کښېښود.

## ۱۹۱۷ م :

د سوات د اخوند لمسي عبدالودود د رسماً د امارت اعلان وکړ او د کوهستان د سیمه ایز ملاصاحب چي قاضي القضات ؤ سو قوف کړ او د هغه نفوذ ته يې خاتمه ورکړه ، خو مولوي عبدالعزیز چې دده د امارت حاصلولو په کار کې يې مرسته کړې وه په عزت وساته.

په همدغه وخت کې خان عبدالغفار خان له هغه امیر سره ملاقات وکړ او د انگلیس توطیو او خیانتو ته يې د امیر عبدالودود پام راواړاوه.

د دغه کال په فبروري کې د روسیې تزار له تخته را کوز شوا و د فبروري انقلاب وشو . څرنگه چې په دغه انقلاب کې منشو یکانو قدرت اخیستی ؤ او د کارگرانو او بزگرانو د غوښتنو جواب یې نشوای ویلای نو په اکتوبر کې ( د نوي جنتري له مخې په نوامبر کې ) بالشو یکانو د لوی لینن په مشري هغه انقلاب وکړ چې په نړۍ کې د اکتوبر د انقلاب په نامه یادیږي . څرنگه چې د اکتوبر انقلاب یو ستر نړیوال غورځنگ ؤ نو د هغه اغیزې هم نړیوالې وې او په افغانستان او د برتانوي هند په سرحداتو او د سرحداتو په قبایلو کې هم راڅرگندې شوې .

د دغه کال د دسمبر په ۳ د ملي کمیسارانو شورا په پترو گراد ( لینن گراد ) کې ( د روسیې او ختیځ ټولو مسلمانانو زیار ایستونکو ته ) خطاب تصو یب کړ . په دغه تاریخي اعلامیه کې هغه ټول له استعماري تړونو نه لغو شوي اعلان شول چې

د تزاري روسيې دولت تحلیل کړی وه او ولسونو ته رسماً ټاکنه ورکول شوې وه چې نور باید پټه خوله و نه اوسي او له خپلو اوږدو استعمار ځپلو غوړځوي او خپل سرنوشت پخپله په لاس کې واخلي .

دغه اعلانونه په ملیونونو کې چاپ شول او هغه پارسیان، افغانان، بلوڅان او پنجابیان چې په مسافري ترکستان او ماوراءالنهر ته راغلي وه، دغه پاڼې یې له ځان سره راوړې .

دغه پاڼې سرحدي قبایلو ته هم رسېدلې وې او هغو ته یې جرئت ورکاوه چې د انګلیسانو پر ضد خپلو قیامونو ته شدت او قوت وبخښي .

په دغه کال په مسعودو قبایلو کې د انګلیسانو پر ضد لوی قیام پیل شو، د سرحدي صوبې چیف کمشنر سر روز کیپل د هند حکومت ته خبر ورکړ چې د غو قبایلو ته سخته سزا ورکړی شي خو امیر حبیب الله د برتانوي هند حکومت ته خبر ورکړ چې د شدت څخه کار وانخلي، ځکه چې به دا قیام دومره غټ او پنډ شي چې بیا به یې مخ نه نیول کېږي .

په همدغه کال انګلیسانو د مسعودو قبایلو پر ښار وخوا لښکر د بریښنا لین تېر کړ خو هغه له خپلو حدودو څخه خارج نشي .

د دغه کال د فبروري په میاشت کې د سراج الاخبار په یوه مقاله کې په ډاګه غوښتنه شوې وه چې افغانستان باید خپلواک شي . د همدې مقالې په هند او

سرحدی صوبه او قبایلو کی لوی هیجانونه وپاڅول. قبایلو د هغی طرفداری وکړه، خو بریتانوی هند په تشویش حتی تر لندن پوری د موضوع اطلاعات ولیږل.

د بلوڅو ستر قهرمان ضد انګلیس مبارز نور امینګل د سردار حبیب الله خان بلوڅ له خوا نیول شو او انګلیسانو ته په لاس ورکول شو او هغو هم په عمری قید محکوم کړ څو په زندان کی مړ شو. انګلیسانو سردار حبیب الله ته د دغه خدمت په مقابل کی د نواب لقب ورکړ ولی خلکو او ملی شاعرانو هغه ته دغدار لقب ورکړ.

## ۱۹۱۸م:

د سراج الاخبار د فبروری د ۱۳ نېټی په ګڼه کی داستقلال په باب یوه مفصله مقاله خپره شوه. په دغه مقاله کی د خپلواکی په باب دافغانانو لویه غوښتنه منعکسه شوی وه

د مارچ په ۳ چی د انقلابی روسیی، المان او اتریش ترمنځ د برېست د سولی تړون ـ لاسلیک شو په هغه کی د افغانستان د خپلواکی په باب داسی یادونه شوی وه: «د افغانستان او پارس سیاسی او اقتصادی خپلواکی او دخاوری تمامیت ته دی احترام وشی.

دشوروی ترکستان خارجه کمیساریت امیر حبیب الله ته پیغام راواستاوه چی دوستانه روابط سره ولری.

برکت الله او کاظم بی دالمانی او ترکی دهیئت غړی چی به

کابل کې پاتې شوی وه د حبیب الله خان له خوا د خبرو له پاره ترکستان ته ولېږل شول. دوی تر هغه وخته په ترکستان کې وه چې د حبیب الله خان تر وژل کېده وروسته امیر امان الله باچا شو او یو هیئت یې شوروي روسیې ته د بدخشاني محمد ولي خان په مشرۍ ولېږی د غه دوه کسه د تاشکند څخه د هیئت غړي شول او مسکو ته د هغه هیئت سره ولاړل.

امیر حبیب الله برېتانیا ته خبر ورکړ چې د لومړۍ نړیوالې جګړې په پای کې افغانستان د صلح په جرګه کې غړیتوب غوښتنه کوي او ورکړي چې په دغه جرګه کې یوازې هغه هېوادونه غړي کېدای شي چې په جګړه کې داخل وه.

دمري بلوڅو قبایلو د انګرېزانو پر ضد قیام وکړ. دېر ژر ملېشې چې د انګلیسي منصبدارانو د اطاعت څخه یې سر غړولی و د قیام کوونکو سره یوځای شوي د غو قیام کوونکو د کوهلو او کومبز تر منځ د تلګراف مزی پرې کړل، د سند پښین د اوسپنې پر لارې حملې وکړې. د مري قبایلو ملي پوځونو د لورالایي د سیمې د هېرانې قبیلوي عسکر و په مرسته په برهاني (برخاني) کوهلو، د مو نړو په بندراو نورو سیمو کې د انګلیسانو نظامي پوستې له منځه یوړې. په دغه جګړو کې وروسته پښتانه هم د بلوڅو سره یوځای شول او تر ۱۹۲۲ پورې یې دوام وکړ.

## ۱۹۱۹ م :

امیر حبیب الله په لغمان کې ترورشو (د فرورۍ ۲۰)
دامیر ورور نصرالله خان په جلال آباد او امان الله خان په کابل کې دامارت اعلان وکړ. نصرالله خان امان الله ته تسلیم شواو دامان الله په نامه خطبه وویل شوه.

دفبرورۍ په ۲۸ امیر امان الله دکابل په لوی دربار کې دافغانستان خپلواکي اعلان کړه. د مارچ په ۳ ـ امان الله دهندو ایسرای لارډ چلمسفورډ ته خبرورکړچې دی باچا شوی اوغواړي د بریتانیا سره دافغانستان دکامل استقلال او مساوي حقوقو په اساس نوی معاهدات وکړي. ددولتي شورا مجلس اوکابینه اعلان شوه.

دمارچ په ۲۷ دشوروي روسي دترکستان د خارجه امور کمیسار بوکویاو لینسکي د افغانستان حکومت ته رسما خبر ورکړچې شوروي حکومت ټول زاړه قراردادونه لغو اعلان کړي اود ټولو اسلامي دولتونوسره ددوستي روابط پالي چې په دې رابطه د افغانستان دوستي همغواړي او استقلال ئې مني د دغه عالي مقصد له پاره له مسکوڅخه راوانې موظف شویدي چې دافغانستان سره سیاسي اوتجارتي نوي مناسبات قایم کړي.

امیرامان الله دو.ا. لنین او محمود طرزي د شوروي روسي دخارجه وزیر چیچرین په عنوان لیکونه ولیږل او هیله یې وکړه چې دافغانستان خپلواکي په رسمیت و پیژني. دو.ا.لنین له خوا ددغه لیک جواب دمیارکۍ اودوستي له پیغام سره راورسید. امیر امان الله

بل لیك او محمد ولیخان ئی د یو هیئت سره دلندن حضور ته ولیږل دا هیئت دمی په ۲۸ تاشکند او دا کتوبر په ۱۳ مسکو ته ورسید او د لندن سره یی وکتل. دافغانستان او انگلیس دریم جنگ یا د افغانستان دخپلواکی آخیستلو جگړه دمی په میاشت کی پیل شوه

افغانی مبارزانو وزیرستان کی دسپین وام تانه ونیوله دمی په ۲۱ سپید و قبایلو دوا نه او سرو بکی تانی ونیولی. په دی سره د تل ښار فتح شو.

دانگلیسانو الوتکو پر ۲۴ مه، جلال اباد او کابل بمباری وکړه. دمی د میاشتی په پای کی د کندهار په جبهه کی چمن ته نژدی د سپین بولدک په کلاکی د ډگروال محمد یوسف خان قوه محاصره شوه خو دغو میړانو ځانونه تسلیم نه کړل بلکی د ۶۰ تنو له جملی څخه ۳۱۳ شهیدان ۱۶۹ زخمیان د دښمن په لاس ور غلل او صرف اولس تنه روغ پاته شول. دغه حماسه دافغان په تاریخ کی د قدر له پاره پاته شوه.

دافغان او انگلیس د قواو ترمنځ متارکه اعلان شوه او د روغی هیئت د علی احمد خان په مشری راولپنډی ته ولاړ او د روغی لیك یی لاسلیك کړ.

شوروی اتحاد دلومړنی باوندنی هیواد په حیث دافغانستان خپلواکی په رسمیت وپیژندله په کابل کی د هندی ازادی غوښتونکو موقتی ملی حکومت تاسیس شو. ددی موقتی ملی حکومت مشر راجا مهندرا پرتاپ او مولوی عبیدالله سندهی یی داخله وزیر و په دغه جنبش کی عزیز هندی هم برخه درلوده.

د افغانستان د خپلواکۍ د جګړې پر وخت د ترنګزو حاجي صاحب او مولانا سیف الرحمن د مومند و په ملګرې د شبقدر په سیمه کې پر انګلیسي ګارنیزونو نو حملې وکړې. انګلیسانو په هند کې (رولټ ایکټ) جاري کړ چې په مقابل کې یې د هندوستان د ملي مشر مهاتما ګاندي په مشرۍ ټولې هندي پرګنې راپاڅیدې.

په صوبه سرحد کې د دولت ایکټ پر ضد جلسې وشوې او عبدالغفار خان بندي شو. د افغانستان حکومت د رولټ پر ضد انګلیسانو ته احتجاج ولیږی. د واقعاتو له نوي بدلون سره انګلیسانو په سرحدي صوبه کې خپل یو فعال سیاسي سانسور، سر هملټن ګرانټ د چیف کمشنر په توګه مقرر کړ.

د پټخان سده خیل صوبه دار او زرین خان توري خیل جمعدار په مشرۍ قبایلو د انګلیسانو هغه کلاوې چې دوی ځای په کې نیولی و، وسوزولې، د دغو کلاوو څخه یې مشهورې دادي: سپین وام، کجورې بویه، توت نرۍ، شپانه، ایسارې، شوه، ایشه، وته خیل، امات خیل، تل توچي، زیړکی کمر، شینکی کمپ، وانه کلا، سور کاوې، نڼایي، خجوره، سپین کڅ، ګلوکڅ نور سانده مغول کوټ ګلوکڅ اپوزي، درګۍ، میژه، مرتضی، نوې خوله او نور.

د مغول کوټ کلا محاصره شوه او په جګړه کې ۸۹۷ لښکرپان او ۱۳ انګلیسي منصبداران ووژل شول او یوازې یو انګلیس افسر چې د الن نومیدی ژوندی پاته شو.

د سایده خان زلی خیل احمدزي وزیر په مشرۍ په ټانک کې د انګلیسانو سره ملي مبارزانو سخته جګړه وکړه چې په هغه کې ۵۸۶ تنه

پوځیان او اوه کسه انګلیسی منصبداران ووژل شول .

د احمدزی وزیرو له خوا پر انګلیسا نو باندی حمله په اپوزي کی وشوه چی په هغه کی ۳۰۲ تنه پوځیان او پنځه منصبداران ووژل شول او ۱۱۳ پښتانه په شهادت ورسیدل .

بله سخته جګړه په دغه کال د تر ین خان اتمانزی وزیر په مشرۍ په توچی کی د انګلیسانو پر کاروانو نو نووه چی په هغه کی ۲۲۶ تنه پوځیان او ۳ انګلیسی منصبداران ووژل شول او ۳۱ پښتانه په شهادت ورسیدل . په همدغه جګړه کی ترین خان وزیر د یو انګلیس د تمانچی په سرمی شهید شو .

په دغه کال د ماتنیګو چیمسفورډ د سکیم په نامه اصلاحاتی پروګرام د هندوستان په صوبو کی جاری شو خو شمال مغربی سرحدی صوبه له دغو اصلاحاتو څخه محرومه شوه . د دغی وضعی په مقابل کی په سرحدی صوبه کی ډیر شکایتونه اوچت شول ، خو حکومت د غسی کسانو ته د جیل او زندان سزاوی ورکړی . کوم تعلیمی پروګرامونه چی په قوم بنده حالات کی تر عمل لاندی نیول کیدل د حکومت نعت هم کیدی او خان عبدالغفار په دغه نسبت څوواره زندان ته ولاړ .

## ۱۹۲۰ م :

د باند نیوچا رود وزیر محمود طرزی په مشری یو افغانی هیئت د سیاسی خبرو له پاره د هند مسوری ته ولاړ او هلته یی د بریتانوی هند د سیاسی هیئت سره چی مشری یی هانری دابس و خبری وکړی .

امیرامان الله او محمود طرزی د ولاد یمیر ایلچ لنین او چرین

په نا مه لیکو نه مسکو ته وا ستول او دا فغا نستا ن او شوروي روسیې تر منځ یې دد وستي د تړون طرح هغوی ته ولیږله .

د ترکیې د حربوزیر جمال پاشا له تاشکنده څخه کابل ته راغی . په کابل کې د هند د ملي موقتي حکومت د مشرانو راجا مهندرا پراتاپ مولوي برکت الله او مولوي عبید الله سندهي په لاسلیك یو پیغام د شوروي روسیې د فدراتیف سوسیالستي جمهوریت د خلقي کمیسارانو د شورا د رئیس ولادیمیرا یلچ لنین په نامه مسکو ته ولیږل شو او په هغه کې لنین ته ډاډ ورکول شوی وو چې د هندوستان کارګران او بزګران ، مسلمانان او هندوان په یوه موټي د ضد امپریالیزم پرضد مبارزه وکړي دوی له دې څخه ډاډ څرګند کړی وو چې دا کتوبر انقلاب د هندوستان د ملي ازادۍ حامي دی .

د مې په ۲ نیټه د دغو پورته پیغام جواب د لنین په پیغام د پراودا په ورځپاڼه او شوروي راډیو کې خپور شو . ستر لنین ویلي وه : له دې څخه خوښیږم چې هندي مبارزین د خپلې ازادۍ له پاره چمتو شوي دي ، ستاسي اتحاد ته مبارکي وایم ، ژوندۍ دې وي اسیا .

د دغه کال په نیمایي کې عبد الغفار خان په ډهلي کې د خلافت کمیټې په جلسه کې ګډون وکړ . په دغه جلسه کې عزیز هندي یو جذباتي نوجوان هلك د هجرت کولو تجویز وړاندې کړ . سره له دې چې د جلسې اکثرو مشرانو دا کار جذباتي وباله خو د هندوستان څخه د هجرت مسئله تصویب شوه .

تردې پخوا د هندوستان یو مذهبي پیشوا مولانا عبدالباري فتوا

صادره کړې وه چې هندوستان دارالحرب دی او مسلمانانو ته له هغه ځخه هجرت په کار دی. ددې تحریک سره په زرګونو کورنۍ د پنجاب او صوبه سرحد له خوا افغانستان ته راروانې شوې.

له دغو لوسره عبدالغفار خان سره له دې چې دد غه ناکامه تحریک عواقب ورته معلوم وه په ناچارۍ سلګری شو او کابل ته راغی.

انګلستان نو بر خلکو فشار راوست چې په لوی شمیر افغانستان ته راشي څو د امان الله شاه حکومت له مشکلاتو سره مخامخ کړي. دغه ډلې چې کابل ته راغلي امیر امان الله صادقانه ورته ویل چې که د انګلیس پر ضد جهاد کوی موږ به درو زنی ترتیب ورنیسو، که ځمکې غواړی دلته مستقر پښته به یی کړو که دولتی ملازمتونه قبلوی هم به یی درکړو، خو څرنګه چې دا انګلیس جاسوسان په دغو لوکی را غلي وو دهغوی د ناراضی زمینی برابری کړی او دغه جذباتی او احساساتي حرکت په ناکامۍ پای ته ورسیده. په دغه کار کې د هندوستان د لوی مسلمانانو رهبران ډیر ساعی وه. مولانا محمد علی جوهر او شوکت علی امیر امان الله ته لیکونه را لیږلی وه چې ته د هجرت د قبول اعلان وکړه خو امان الله او محمود طرزی د وضع له عواقبو ځخه پوهیدل چې دا د انګلیس په ګټه یو کار دی نو ځکه د دغسی اعلان ځخه یی ډډه وکړه.

د هجرت حادثه ډیره ناوړه وه او د هندوستان ریښتیانی مشران لکه مولانا ابوالکلام ازاد، عبدالغفار خان او داسی نور د دغه حرکت مخالف وه.

**۱۹۲۱ م :**

په دغه کال په سرحدي صوبه کې د ري ډېر لوی سیاسی جنبشونه منځ ته راغلل ، دا تما نزو ازاد سکول تاسیس شو داصلاح افاغنه انجمن جوړ شو او دکانګرس کمېټه تاسیس شوه. داتمانزو ازاد سکول دخان عبدالغفارخان لهخوادقاضیعطاءالله خان ، میا احمد شاه حاجی عبد الغفار خان ، محمد عباس خان ، عبدالاکبر خان اکبر ، تاج محمدخان ، عبدا لله ـ شاه اوخادم محمداکبر خان په ملګرې تاسیس شو . دغو کسانو په سکول کې پخپله دښوو نکی په توګه کارکاوه دصوبې چف کمشنر سر هملټن ګرانت شخصا ددغه سکول دتړلوله پاره فعا لیت کاوه اوسر تجع ملایانو به په دغه سکو ل کې تعلیم دایمان له پاره ضرر باله .

عبدالغفارخان اوملګروییپه دغه کال په پښتنو کې د بدورواجونو دمخ نیوی لهپاره داصلاح افاغنه انجمن تاسیس کړ . په دغه انجمن کې ډیرشو کسو منورو شخصیتونو چې په هغو کې منور ملایان هم شامل وه برخه وا خیستله ، ولی دی انجمن هم دانګلیسانو قهر وپاخاوه څوپه همدغه کال عبدالغفار خان پهدری کاله با مشقته قید محکوم شو .

په همدغه کال په پېښور کې د خلا فت کمېټی په اړخ کې د کا نګر س کمېټی بنیا د هم کېښو ل شو که څه هم خلا فت او کانګرس دوه جلاتحریکه وه خو تر منځ بې اتحاد موجود و .

په همدغه کال د سر هملټن ګر انت پر ځای سر جان میفی د صوبې چف کمشنر مقرر شو . دافغا نستان اوشوروی اتحاد ترمنځ د دوستی لوړی او ستر تړون د فبرو رې په ۲۸ په مسکو کې

د چیچرین او محمد ولي خان تر منځ لاسلیک شو چې بیا د دغه کال په اګست کې امیر امان الله په پغمان کې هغه په نښه کړ .

د دغه کال په سر کې انګلیسي هیئت د سر هنري دابس په مشرۍ کابل ته راغی او د افغانستان د خپلواکۍ اخیستلو په خبره کې یې برخه واخیستله . د نوامبر په میاشت کې د محمود طرزي او دابس تر منځ د افغانستان او بریتانیا تر منځ لومړی تړون په ۱۴ مادې او دوو ضمیمو کې لاسلیک شو .

د ختیځو قبایلو جرګه کابل ته راغله او د امیر امان الله خان له خوا هغوی ته نوازش ورکول شو د هغه ژور احترام په نسبت چې افغانستان د شوروي دوستۍ ته درلود فیصله وشوه چې د افغانستان د خپلواکۍ د جشن مراسم چې د اګست په میاشت کې تجلیل کېدل د ۱۹۲۱ کال د نوامبر ۷ نېټې ته (چې د اکتوبر د انقلاب ورځ ده ) راوړل په دغه کال حاجي عبدالرزاق اندړ د قبایلو په چارو کې د امیر مشاور وزیرستان ته ولیږل شو او هغه د هغه ځای د قبایلو تر منځ د اتحاد په باب د امیر امان الله نظریات دوی ته وویل.

په دغه کال احمدزي یو وزیرو د غازي انګورخان او رحیم داد خان په مشرۍ د کاوړ او جاوماني تر منځ د انګلیسانو پر یوه موټر حمله وکړه او په هغه کې یې دري انګلیسي لوی او نور اوه افسران ووژل .

په همدغه کال د ما نجه گری په سیمه کی احمدزی وزیرو پر یوه پوځی رساله حمله وکړه چی په دغه ډیره سخته جگړه کی دانگلیسانو دوه لوی منصبداران او دری سوه نفر عسکر ووژل شول . په دی پسی دگومل در ودپر غاړه د ژزی پر کلا چی انگلیسان په کی اوسیدل وزیرو او مسود وحمله وکړه چی ۱۳۰ انگلیسی پوځیان او افسران پکی ووژل شول .

بله ډیره سخته جگړه په دغه کال کی په پلسین نوسی سیمه کی دوزیرو او انگلیسانو جگړه وه چه په هغه کی ۶۲ پوځیان او ۳ انگلیسی افسران ووژل شول او ۱۳ کسه پښتانه شهیدان شول .

## ۱۹۲۲ م :

په کابل کی دانگلستان لومړی سفیر ( مختار وزیر ) فرانسیس همفریز خپله اعتماد نامه امیرامان الله ته وړاندی کړه او هم په انگلستان کی د افغانستان سفیر عبد الهادی داوی په لندن کی په وظیفه پیل وکړ .

عجب خان اپریدی د اخوردری دغلام حیدرخان ادمخیل اپریدی مشهور مبارز د انگلیسانو پر ضد د مبارزه پیل کړه . کله چی د انگلیسانو له خوا د ده کور او کلی لوټ او خلک یی بندیان شول دی په بره تیراکی میدان نومی ځای ته فرار شو خو له هغه ځایه یی د انگلیس پر چونی حمله وکړه بروس نومی انگلیس یی وواژه او د هغه ښځه او لور یی ورسره بوتله . د ده هغود ناموس احترام وکړاو له دی کبله د ده شهرت ډیر زیات او د هغه کار یی افسانوی رنگ واخیست . عجب خان وروسته افغانستان ته پناه راوړه او په مزار شریف کی په ۹۵ کالنی په

. ۳۳ ا ش کی مړشو .

له چمرکند څخه دجمعیت عالیه مجا هدین هند له خواد فضل الهی هند وستا نی په سد بر یت دا لمجا هد پهرنا مه پنځلس ور ځنی جریده خپره شوه .

دچین پوسیاسی وفدد چینګ (لن) یونګ پهسشری کا بل ته راغی . په دغه کال دکیسی دغره خوا ته ور شرسه در این په سیمه کی انګلیسا نو پر نظا سی مرکز دوز برو مسیدو مبار زینو حمله وکړه سخت جنګ وشوچی په هغه کی ۳۲ ا کسه پوځیان اودری انګلیسی افسران ووژل شول او ۳ ٥ کسه پښتا نه شهیدان شول .

دهبقدرر په سیمه کی پښتنو مبار زینود ترنګزو دحا جی صا حب په مری پرا نګلیسا نو حمله وکړه . دا جنګ ډېر اوږ دنشوا و ژر پای ته ور سیدی .

په سر حد ی صوبه کی دا صلا حا تو غو ښتنی اوازونه ډیرا وچت شوی وه ، ددی له پاره چی د عمومی وضع په باب انګلیسا نو معلومات احوستی وی دبری کمیټی ته یی وظیفه ور کړه چی مو ضوع په محل کی وڅیړی ودی ته د ( بری سکیم ) هموا یی ، دا هیئت دیر یتا نوی . دهند دخا رجه چا رودسکر تر مستر بری په مشری مقرر شوچی اته غړی یی در لود ل په هیئت کی دری انګلیسا ن او دوه کسه هند وان وه دوی ته وظیفه ور کول شوی وه چی که لازم و بولی صوبه سرحد دی پیا د پنجاب ضمیمه شی . کمیټی ژور تحقیقات وکړل او په خپل را پور کی یی ولیکل چی دلته قبا یل تول دیوبل سره تړلی دی . مسود دوزیرو سره ، وزیرد زویمشت سره زو یمشت داور ګزو سره ، اورک زی د

اپریدو سره اپریدي د مومند وسره ، مومند د باجوړیو سره، باجوړي
د دیر د سوات د بونیر ، بونیر د سیند د غاړو (اباسیند له پښتنو سره)
د اباسیند پښتانه د کوهستان له پښتنو سره تړلي دي. پر دغو ټولو قبایلو
نظامي قبضه لګول د نا ممکناتو څخه دي او که اقدام هم کیږي
نو مصارف به یې تر تحمل وتلي وي . که چیرې نظر په ورکړي وه چې
یو لګسلیټو کونسل دې پکې تاسیس شي چې دیرش غړي ولري او دا
په دې سیمې خانان وي او یو وزیر دې هم ورته منظور شي .

د دغه کال په مارچ کې پرنس اف ویلز پېښور ته راځي او هلته
حکومتي مقاماتو په ډیر جوش وخروش هر کلی ورته ووایه یو
هندو ( رای بهادر رمهر چند کهنه ) د پېښور د خلکو په نمایندګۍ
د هر کلي وینا وکړه خو خلکو د (مهاتما ګاندي کي جې) نارې وهلې
او یوه داسي ولوله پیدا شوه چې پولیسو مداخله وکړه او خلک
یې تیت کړل . کله چې شهزاده ولاړ انګلیسي حکومت په سخت قهر
سره ټولې سیاسي ټولنې خلاف قانون اعلان کړې او یو زیات شمیر
خلک یې زندان ته واچول . مخصوصا د کانګرس غړو ته یې ډیر
تکلیفونه پیښ کړل .

په جلال آباد کې د ۸۷۲ غړو په ګډون لویه جرګه جوړه شوه چې په هغه کې د
افغانستان اساسي نظامنامه تصویب شوه او پریکړه وشوه چې دوباره
دې هر کال لویه جرګه د دوبي په موسم کې په کابل کې جوړیږي
. په جرګه کې د امان الله خان د رفورمونو ملاتړ وشو. دغې جرګې
ته د سرحد د قبایلو څخه هم غړي راغلي وه.

## ۱۹۲۳م:

د ټلګراف لین د کابل څخه دداکي پر لاره تر هنده پورې وصل شو.
مولوي عبیدالله سندهي چې په کابل کې د هند د ملي موقتي حکومت یو فعال غړی ؤ له کابل له تاشکند او بیا مسکو ته ولاړ او له هغه ځایه استانبول ته ولاړ. د نوموړي په مسکو کې د شوروي اتحاد د مشر لینن او انقلابي مشرانو سره ملاقاتونه وکړل. په ترکیه کې یې د مصطفی کمال اتاتورک سره لیدنې وکړې او له هغه ځایه عربستان ته ولاړ دی تر ۱۹۳۹ پورې هلته ؤ کله چې انګلیسان له هند څخه ووتل په ۱۹۳۹ کې هند ته راغی او د (هند ساګر اکاډمۍ) موسسه یې تاسیس کړه تر مرګه وروسته په سند کې ښخ شو.

مولوي برکت الله په کابل کې د هند د ملي موقتي حکومت یو غړی د اکتوبر انقلاب تر پروګرام لاندې په منځنۍ اسیا کې فعالیت کاوه.

په دغه کال سر نورمان پولټن د سرحدي صوبې د چیفکمشنر په حیث مقرر شو. د سوات والي عبدالودود بونیر او پکسر په سوات پورې وتړل.

وزیرو قبایلو د وزیرستان او کاکړستان پر پوله د وه پر انګلیسي کمپ حمله وکړه او یو سخت جنګ ونښت چې په هغه کې ۱۳۷۲ انګلیسي عسکر او پنځه کسه منصبداران ووژل شول او ډیر پښتانه هم شهیدان شول. په دغه وخت کې ګلستان خان بهلول زي د شکر کوټ او سر و بیتر منځ پر یو انګلیسي موټر حمله وکړه او د موټر عمله یې ووژل. همدارنګه د دغې قبیلې پل

مبارز.زر خان د ما دیجا ن د غره په څانګې کې پر انګلیسي ګزمه حمله وکړه او د هغو څخه یې دوه مصبداران وو ژل.

د وزیرو د کام یوه جرګه کابل ته راغله او د امیر امان الله سره یې د کتنې په وخت کې وویل چې انګلیسان غواړي د وزیرستان ستر ستراتیژیکي مرکز رزمک ونیسي، د افغانستان حکومت باید دوی ته د وسلو په تهیه او جنګي پلان په جوړولو کې مرسته وکړي. امان الله خان دا وظیفه حربیه وزیر نادر خان ته ورکړه نادر خان د دوی څخه د سیمې د ستراتیژیکي وضع په باب پوره معلومات تر لاسه کړه او بیا یې دوی ته د جنګ نقشه جوړه کړه خو د دغې نقشې یوه کاپي په مخفي توګه په پېښور کې د چیف کمشنر معاون ته ولېږل شوه. — نادر خان صرف څو تفنګچي د هیئت غړو ته ورکړي نو ر یې د اسلحې د لېږلو په تنظیم کې ډیل وکړ، کله چې وزیر قبایل د رزمک په سیمه کې د انګلیسانو سره په جګړه بوخت شول ځرنګه چې هغو نقشه درلوده او د مبارزانو مرکزونه ورته معلوم وه په درنوو سلو یې هغه والوزول او د رزمک کلا د انګلیسانو په لاس په داسې حال کې کښېوتله چې د وزیرو یو زیات شمېر مبارزان وو ژل شول. وزیرو قبایلو د امان الله خان څخه ګیله وکړه او د دغه غدر په باب یې د هغه توجه وار وله، امان الله خان د حربیه وزیر نادر خان څخه پوښتنه وکړه او نادر خان د دغه پوښتنې پر ځان بې اعتمادي وګڼله او په تګې یې ځان خوابدی کړ او د حربیه وزارت څخه یې استعفی وکړه. له همدغه ځایه د امان الله خان او نادر خان په مناسباتو کې خرابي

منځ ته را غله . د رزمك كلا چې د تول وزیرستان د شارك حکم درلود په دغه غدر د دښمن په لاس کې ولوېده .

د بلوڅو ملی مبارز میر یوسف علی مګسی چې په بلوچستان کې یې د وزیراعظم سر شمس شاه پرضد چې یو انګلیس مشر به سړی ؤ د سیاسی مبارزو پایلامی ایښوولی د قلات څخه ملتان ته تبعید شو .

۱۹۲۴م:

د دغه کال په ډیرو مهمو جګړو کې چې وزیرو او مسید و په ګډه د انګلیس پرضد وکړې د تمنکی او ترکی مور چو په نامه یادیږی. د سیمې توپوګرافیك موقعیت داسې وا قع ؤ چې پښتانه او انګلسی عسکر سینه په سینه سره ونښتل او جنګ د تورو، چړو، تېلاؤ او کرچا نوو. په دغه جنګ کې چې باید لویه جګړه یې وبولو د انګلیس د خوا څخه دری ـ زره څلور سوه او یا تنه عسکر او درو یشت انګلیسی افسران وو ژل شول او د پښتنو له خوا ۳۰۰ تنه تلفات وه او سړی زیاتره د بالول زو مسید وه . پښتنو ته په جګړه کې ولجې هم په لاس ورغلی او د جګړې وخامت انګلیسان سخت وارخطا کړل .

په دغه کال په پکتیا کې ملا عبد الله او ملا عبدالرشید د دولت د قوانینو د انفاذ پرضد بغاوت وکړ چې د ګوډ ملا د بغاوت په نامه شهرت لری . د دوی مقابلې ته نوی وزیر حربیه محمدولی خان ورغی نوی خبری ته پام ساتل په کار دی چې په دغه بغاوت کې مستقیما انګلیسا نو لاس درلود او د عبدالکریم په نامه چې د امیر محمد یعقوب خان زوی ؤ هم د دغه مقصد له پاره چې د امانی رفورم مخ

نتوی وکړی په پکتیا کی فعالیت ته گمار شوی ؤ. د موضوع عمده اړخ دادی چی نادرخان په تازه وختونو کی د حربیه وزارت څخه استعفی کړی وه او پر ځای یی محمد ولی خان بدخشانی مقرر شوی ؤ داسی شواهد هم شته چی په غیر مستقیمه توگه نادرخان له اغتشاشیونو سره رابطه درلوده دغه اشرار یو کال فعال وه. خو په ۱۹۲۵ کی وتړل شول اولوی عاملین یی ونیول شول او اعدام شول په دغه کال د شوروی اتحاد د ستر رهبر ولادیمیر ایلیچ لنین مړ شو او دده پر مړینه امیر امان الله د تعزیت تلگرام مسکا بره کړ او دکابـ روښانفکرانو د لنین د یادونی د رانده مجالس په کابل کی جوړ کړ

د امانی دوری دوهمه لویه جرگه د ۱۰۵۲ نمایندگانو په گډون په پغمان کی جوړه شوه.

د جرگی رئیس پخپله امان الله خان و او په قشری لحاظ د دولت مامورین، سادات، مشایخ دینی علماء او خانان وه. په دغه جرگه کی د پنځو کالو په دوران کی د دولت اجراات تر غور لاندی ونیول شول او په پکتیا کی د اغتشاش پر مسئله خبری وشوی څرنگه چی په دغه جرگه کی دراسته لاس خړ زیات نفوذ درلود نو در فورم ځینی برخی حذف شوی خو یو شمیر قوانین منظور شول او له دغه ځایه افغانستان د لومړی ځل له پاره د اساسی اصولو (اساسی قانون) خاوند شو.

د شوروی اتحاد نوی سفیر ستارك کابل ته راغی او اعتماد نامه یی امیر امان الله ته وړاندی کړه. په دغه کال انگلستان نو

په جنوبي وزیرستان کې د عملیاتو له پاره د جنرال کر سویت په قوماندانۍ یو لښکر موظف کړ. نوموړی جنرال غوښتل په توطیه احمدزي وزیرا و مسیدو سره بېل کړي او بیا یو په بل پسې هغوی ووهي نو ځکه جنرال کرسویت د مسودو سره جرګه وکړه او ورته وي ویل، موږ پر احمدزیو وزیرو عملیات کوو ستاسو سره کار نه لرو صرف ستاسو په سیمه کې تیرېږو تاسو به زموږ غرضدارو نه اوسي. خو مسیدو دا غوښتنه رد کړه او خپل سرنوشت یې د احمدزیو وزیرو سره و تړی، کله چې جنرال په دې توطیه کې ناکام شو نو پرسا یې راغله او کوټکی یې یرغل وکړ، کله چې احمدزي وزیر خبر شول چې مسیدو د دوی ننګه کړې ده نو د مسیدو په ملګرې را ورسیدل او یو د بل سره جنګ پېښ شو چې په هغه کې د انګلیس قواو ته ډېر لوی زیانونه و رسیدل.

په دغه ۱۹۲۳ کال کې د کوهاټ تراژدي (فساد) پېښ شو چې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ یې فضا ډېره ورانه کړه پس له هغه چې په سرحدي صوبه کې د کانګرس کمیټه جوړه شوه او د هغې فعالیت پیل شو نو انګلیسانو په دې توطیه لاس پورې کړ چې هندوان او مسلمانان په مذهبي سطح کې یو پر بل وګماري.

انګلیسانو د (سناتن دهرم هندو سبها) ارتجاعي تحریک ودې ته وګماره چې د مسلمانانو احساسات تحریک کړي. په دغه وخت کې د کوهاټ دلا چې اوسید و نګی جیون داس چې د دغه تحریک سکرتر هم و یو نظم خپور کړ چې په هغه کې د مسلمانانو د عقاید و بې احترامي شوې وه او دغه نظم ددې باعث شو چې هندوان او مسلمانان یو د بل سره قتل کړي. دغه فساد یوازې په کوهاټ کې پاته نه شو بلکې

ټوروشا رونوته یې هم سرایت وکړاو انګلیسان پدی بریالی شول چې دهند و مسلمان ترمنځ زړه بد اوی پیداکړی .

په همدغه کال د بلوڅو خان میر محمود خان ( دقلات خان ) په سترګوړ وند شواود کار واک او راختیارا نګلیسی مشر په وزیراعظم سر شمس شاه ته محول شو، دغه سړی د بلوڅو د رو ښنفکرانو او مبارزینو سره ډیر سخت چلند غوره کړ او ر د بلی خوا یې په مخفی توګه دا فعالیت هم پیل کړ چې دقلات خانی خپلی کورنی ته را انتقال کړی خو په دغه کار کی نا کامه شو .

## ۱۹۲۵م :

په ا نی تنګی ګی دا نګلیسا نو سره دوزیرو او مسیدو جګړه وشوه چې په دغه کی ۳ ۹ ۷ کسه پوځیان او ۱۳ افسران ووژل شول اود پښتنو څخه ۷ ۹ کسان قتل شول . دد ی جګړی انعکا س د هند بریتا نوی حکومت ته د وزیرستان په باب وارخطایی پیدا کړه .

په همدغه کال د شوروی اتحاد په مصرف دشوروی سرحد څخه تر هرات پوری د تلګراف لین جوړ شو . عبدا لغفار خا ن په دغه کال په زندا ن کی ؤ . په کابل کی یو ایتا لوی مستخدم چې افغان پولیس یی وژلی ؤ په دار وځړول شو ، که څه هم په دی برخه کی دایتا لیا حکومت دخپل تبعه دخلا صوالی له پاره زیار ویوست ولی افغا نی مقاماتو په پوره از ادی دغه مجازات عملی کړل اودالوړی حل ؤ چې یو خا رجی تبعه ته د ا فغا نستان په داخل کی د قا نون په فیصله مجازات ورکول کیږی .

دافغانستان په معارف کې د پښتو ژبو سیمود هلکانو له پاره په پښتو د تعلیم کولو امر صادر شو. دافغانستان او المان د مودت تړون لاسلیك شو.

معروف سیاسي شخصیت او افغاني مبارز حاجي عبدالرازق اندړ وفات شو.

## ۱۹۲٦ م:

د ترنګزو دحاجي صاحب په مشرۍ په مومندو کې دانګلیسانو د سرك تیرولو دکار مخ نیول وشو او پس له یوې کلکې جګړې انګلیسانو موقتاً داکار معطل کړ.

دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ دبیطرفي او نه تیرې تړون په اوو مادوکې په پغمان کې لاسلیك شو.

امان الله خان په ولایاتو کې پخپله دتفتیش کار پرغاړه واخیست او هغو خواو ته ولاړ، دانګلیسانو معروف جاسوس ډګروال لارنس چې په عربي لارنس مشهور و په افغانستان کې دشورش پیداکولو له پاره موظف شو. داسړی لومړی په لاهور کې راڅرګند شو او د پیر کرمشا په نامه یې د مریدانو یو ډېر هم په شا پسې کړ.

نادر خان په پاریس کې له سفارت څخه مستعفي شو اوداداماني دولت دپرزولو له پاره دنادر خان لومړی اقدام و.

## ۱۹۲۷ م:

د سوات ستراتیژیکي موقعیت دانګلیسانو نوتر نقشې لاندې راغی اوداطرح یې په عمل کې پیاده کړه چې هلته په مستقیمه توګه بریتانوي

اداره قائمه کړې نو په دغه کال یې د میا ګل په وسیله سوات اشغال کړ. دغه کار پر پښتنو سخته بده اغېزه وکړه او په افغانستان کې یې د مخواشینې پیدا کړه انګریزانو په دغه جګړه کې د الوتکو بمباري هم پر مومندو وکړه. د مومندو څلورمه جګړه د انګلیسانو پر ضد پیل شوه په دې جګړه کې هم د ترنګزو حاجي صاحب رهبري کوله. دا جګړه د شبقدر په سیمه کې ډېره شدیده وه چې انګلیسانو ته زیات زیانونه ورسېدل د کابل راډیو کوچنۍ دستګاه د لومړي ځل له پاره په خپرونو پیل وکړ. د دغې دستګاه مستېشن لومړی په ارګ کې ؤ وروسته کوټي لنډي ته چې د اوسني پل ارتل سره واقع وه نقل شو.

دانګلیس مشهور جاسوس ډګر وال لارنس د الوتکې د مېخانیکي په نامه میرام شاه ته راغی او له دغځایه یې د خپلو عملیاتو لمن خپره کړه او ترشینو اروپوري یې لاسونه راوغزول. د شوروي اتحاد دولت رئیس کالنین له خوا امیر امان الله ته بلنه ورکول شوه چې هغه هیواد ته دوستانه سفر وکړي.

د افغانستان او شوروي ترمنځ د الوتکو سرویس په فعالیت پیل وکړ د بریتانوي هند وایسرای لارډ لاونچې یو کال وړاندې په دغه عهده مقرر شوی ؤ اعلان وکړ چې د بریتانیا د پارلمان له خوا د (سایمن کمسیون) مقرر شوی دی چې دا په هندوستان کې وضع مطالعه کوي او د هندوستان په اداره کې به د هندوستانیانو د برخې اخیستلو د صلاحیت اندازه او قدرت ګوري په دغه هیئت کې دانګلستان د پارلمان شپږ غړي شامل وه. پر دغه ترکیب په ټول هندوستان کې د مخالفت اوازونه اوچت شول او اعتصابونه پیل شول. دغه اواز په سرحدي صوبه پېښور کې هم راپورته شو.

امیر امان الله دغه کال په دسامبر کی اروپا ته خپل سفر پیل کړ. دی د کندهار له لاری چمن او بمبئی ته ولاړ او د دغه کال په وروستی ورځ یعنی د دسمبر په ۳۰ قاهری ته ورسید، له دغه ځایه اروپا ته پسی ولاړ.

# ۱۹۲۸م:

امیر امان الله چی د ۱۹۲۷ له نومبر څخه سفر پیل کړی وه د ۱۹۲۸ کال تر جولای پوری یی هند، مصر، ایتالیا، فرانسه، انګلستان بلژیك، المان، سویس اتحاد شوروی، ترکیه او ایران و کتل. ددغو هیوادو نو له سرا نوسره یی دسیاسی روابطو دقیام په باب خبری و کړی، دهیواد دصنعتی کیدلو له پاره یی یو شمیر فابریکی راو نیولی خود دپیلوماسی په لحاظ په انګلستان او شوروی اتحاد کی دده سفر دلوړ اهمیت څخه برخور داره و په انګلستان کی پرده سخت فشار وارد شو چی د شوروی له سفر څخه صرف نظر و کړی خوده دا خبره قبوله نه کړه، خو کله چی شوروی اتحاد ته راغی د دغه هیواد مشرانو په کامله دوستانه فضا کی هرکلی ورته وو او امان الله له دی سفر څخه ترحدډیا سه خوښ او دله شو.

دیورپ سفر پر امیر امان الله دا اغیزه واچوله چی په لنده موده کی داروپایی تمدن مظاهر په خپل وطن که وو ینی خو ده دوطن دډیپلوی تولنی پو ست ډیر کلك و چی دغی فشار ډیر ژور نفوذ نشوای په کی کولای.

په همدغه کال ده دستوری په مانی کی دیو خاص دربار په ترڅ کی د پنځو میاشتو لپاره نهضت اعلان کړ او تر تو لو وړاندی د ملکی مخ لخ

شو. د همدغه کال په سپتمبر کې یې د زروتنو و کیلانو په ګډون په پغمان کې لویه جرګه جوړه کړه په دغه جرګه کې د نورو تصاویبو په ترڅ کې د عسکري مکلفیت دوره دری کاله وټاکل شوه. ملکي اعزازي رسمي القاب لغو شول او پر ځای یې یوازې د عزیز کلمه قبوله شوه، تدریس او وعظ په شهادت نامه پورې بوط شو. او امر وشو چې د دیوبند ملایان دې د افغانستان څخه بند شي. د افغانستان هر ۱۰ کلن ځوان څخه بیا ترسپین ږیری پوری مکلف شو چې د کال پنځه افغانی او د دولت مامور په کال کې یوه میاشت معاش دو سلو راتیولو ته دولت ته ورکړي.

د جزاد قانون په باب هم فیصلې وشوې او شهزاده رحمت الله د ولیعهد په توګه وټاکل شو.

د افغانستان د بیرغ رنګونه تور، سور او زرغون تعین شول چې په منځ کې یې د دولت نښان او د الله او محمد نومونه پرولیکل شول. فیصله و شوه چې په هرو پنځو کلونو کې دې یو ځل لویه جرګه جوړیږي.

په همدغه کال د استقلال او تجدد د ګوند مرامنامه د پاچا له خوا منظوره او خپره شوه او د تور، سور، زرغون کلوب جوړ شو چې د سیاسي مرکز حیثیت یې درلود.

افغانانی نجونې د تحصیل له پاره ترکیې ته ولیږل شوې او د دوی د خدای په امانی ترتیبات ډیر په شاندار توګه پر ځای شول.

هرڅنګه چې په لویه جرګه کې د مرتجع قشرونو نمایندګان را ټول شوي وه نو د هغوی ترڅنګ ورو سته د وی هری خوا ته بد تبلیغات خپاره کړل او په همدغه وخت کې د انګلیس معروف جاسوس د ګروال

لارنس په شینوارو کې فعالیت پیل کړی و، څو لوسرې ئې د شینوارو د سنګو خیلو قبیلې شورښت پیل کړ او په جلال آباد یې یرغل وکړ.

همدارنګه په شمالي سیمو کې حبیب الله سقاو او سید حسین د خپلې ډلې سره راپورته شو، امیر امان الله والي علي احمد خان هغې خواته مقرر کړ خو هغه هم د ځان له پاره د پاچاهۍ فکر پیدا کړ، د دربار سرداران او مخصوصاً د شور بازار حضرات تو هم لاس وهنې پیل کړې څو د اماني دولت پایې سستې شوې، امان الله په نوامبر کې په یوه اعلان کې خپل ټول رفورمونه ټول کړل او د توبه نامې په شکل یې یوه اعلامیه نشر کړه.

پر دې پسې وضع وخیمه شوه امان الله خان د خپلې کورنۍ سره په الوتکو کې کندهار ته ولاړل او کابل د سقاو د زوی په حواله شو.

په همدغه وخت کې چې د امان الله پرضد قیامونه پیل شوي وه یو غدار جمعیت چې د زړه بداړانو جمعیت په نامه یادیدی فعالیت پیل کړ، دوی ځانونه جمهوریت خواهان بلل په عامو مجالسو کې به یې شرابخوری او فحاشي کوله او په عامو اذهانو کې یې داسې ښوول چې د رفورم پالونکي همدغسې فحاش خلک دي د دغه کار هم د ګروال لارنس انګلیس د پلان یوه برخه وه.

د امان الله خان سقوط او ماتې په قبایلو کې ډېر سخت بد اثر وکړ، عبدالغفار خان او د خدایي خدمتګارانو ډلې د مرستې تصمیم ونیو خو انګلیسانو په شدت د هغوی مخنیوی کاوه.

عبدالغفار خان او ملګري یې له پېښور څخه د لاهور او کویټې پر لار کندهار ته روان شول خو هغوی ته د سیوي څخه د کویټې د تلو اجازه

ورنه کول شوه ، د وی د اجازی له پاره د هلی ته ولاړل خو عبدالغفار خان وایی چی «سورته معلومه شوه چی پرنگیا نو د شور بازار دحضرت وروړ چی دهندوستان په کاتیاواړکی او سیدی راغوښتی دی چی د یوند ویسی چی ددوی مریدان دی داما ن الله خان په خلاف افغانستان ته لیږی» .

بیدی تو گه غفار خان او ملگری بی امان الله خان ته ونه رسیدل .

په همدغه ۱۹۲۸ کال کی پښتون اخبار دخان عبد الغفار خان له خوا په پیښور کی جاری شو .

په بلوچستان کوټه کی دعبدالصمد خان او محمد ایوب خان له خوا دانجمن وطن دگوند پیلامه کښېښوول شوه او بیا ددغه گوند رابطه دیوی خوا په هند کی له کانگرس سره دبلی خوا په سرحدی صوبه کی د خدائی خد متگا رانو سره وتړل شوه . ددغه انجمن غړو ډیر زیار و یوست چی په افغانستان کی دار تجاع پر ضد دامان الله خان ملاتړ وکړی خو ددوی تینگښ مخ نیوی وشو. په دغه مخنیوی کی دکویټی دسی ای ډی ددفتر معاون عین الدین خان پوپلزی چی دامان الله خان په ما تیدلو کی ده ته دخان بها در لقب ورکول شو لویه برخه درلوده .

په همدغه ۱۹۲۸ کی په ایرانی' بلوچستان کی سردار دوست محمد خان بلوڅ چی دیو پخوانی مبارز سردار بهرام خان لمسی ؤ د رضا شاه (پهلار) پر ضد قیام وکړ او رضا شاه مځکنی او هوایی قوا وی ورسوق کړی او دغه مبا رزبی و نیوی په تهران کی یی بندی کړ . یو کال وروسته چی دوست محمد خان غو ښتل وتښتی

د محافظینو له خوا و نیول شو او اعدام شو. دده مرګ پر بلوڅا نو ډیر سخت تمام شواو په عوامو کی دده په طرفداری ډیر شعرو نه ویل شو یدی.

په همدغه ۱۹۲۸ کال کی د سایمن کمیسیون پیښور ته راغی. د کمیسیون سره د هند وانو سیکا نو او پښتنو ملکا نو او جا ګیر دارا نو ملاقاتونه وکړل. کمیسیون ته دزیدی دخان بهادر عبدالغفور خان په مشری یو یاد داښت وړا ندی شو چی سر حدی صو بی ته د هندوستان د نورو صوبو په شان آزادی او اصلاحات ومنی او دیوه داسی کو نسل پیشنهاد ورته شوی ؤچی په هغه کی خا نان او ملکان غړی وی. په همدی توګه دهند وانو نما یند ګا نو هم د کمیسیون دغړو سره کتنی وکړی او دسیا ست او مذهب دجدا یی مسله یی ور ته مطرح کړه.

دسیکا نو وفد دسر دار راجه سنګ په مشر ی د کمیسیون سره وکتل دوی د پنجاب سره دصوبی دیو ځای والی دوخت دامتیا زاتو غوښتنه درلوده. په همدی توګه دصوبی یو شمیر روشنفکر انو همد کمیسیون سره وکتل او پردی ټکی یی زور و لګاوه چی په سر حدی صوبه کی داصلا حا تو په کار کی پا بندي لیری شی. د کمیسیون سره حکومتی افسرا نو هغه دروز کیپل خبر ه بیا هم کړی وه چی په سرحد کی باید د اصلا حا تو د روی کار و لو په کار کی سخت احتیاط و شی.

دی کمیسیو ن خپل مطا لعا ت تکمیل کړ ل او دهند د سیا سی کار کو نکو او مرکزی حکومت سره یی په مصلحت کښیښو ول او له دغه ځایه په سرحدی صوبه کی د کانګرس او مسلم لیګ د فعالیت زمینی په فعال ډول مساعدی شو ی.

په مومند وکې د انګلیسانو پر ضد د مبارزو شدت د پخوا په شان جاری ؤ ، او په دغه ۱ ۹ ۲ ۸ کال د سور کانو د ملا صاحب په مشری یو شمیر مبارزانو د انګلیسانو پر کار نیزو نو حملې وکړې چې ډېر زیانونه یې ور ورسول .

په وزیر وکې د امان الله خان د سقوط په نسبت ډیره سخته خواشیني پیدا شوه . په کتواز او د غزني په غلجي پښتنو کې د هور بازار د حضرت خلیفه ګانو د امان الله پر ضد په سخت فعالیت پیل وکړ او ددا تبلیغ یې ډیر عام کړ چې هغه د دین څخه اوښتی ؤ او اسلام یې په خطر کې اچولی ؤ .

په کندهار کې د امان الله خان د بیرته راګرز و لو او بیر تخت د هغه د بقا لەپاره قبایل او ښاریان لګیا وه خو د انګلیس نماینده ګانو په خاصه توګه په کوټه کې د سی ای ډی د دفتر د معاون عون الدین خان پوپلزی فعالیت د امان الله پر ضد ډیر پراخ شوی ؤ .

## ۱۹۲۹م :

سردار نادر خان او ورو نه یې د افغانستان د نیولو له پاره له فرانسې څخه راروان شول . دوی په بمبی کې یو څه تم شول بیا لاهور او پېښور ته راغلل ، نادرخان د کورمې له لارې خوست او شاه محمود او شاه ولی خان هم ته ور سیدل ، دوی په ګردیز کې یو ځای شول او کابل یې تر یرغل لاندې ونیوی . کابل د حبیب الله کلکانی په لاس کې ؤ او امان الله خان د کندهار څخه د کابل د بیا نیولو په نیت د غزنی پر خوا خوځول پلان عملی کاوه.

په پېښور کې عبدالغفار خان ، ډاکتر خان صاحب او نورو مشرانو

سره نادر خان ولیدل ، هغوی خواست ورته وکړ چې کندهار ته لاړشه او د امان الله سره تړه خو نادر خان دا کار ونه کاوه ، په دې برخه کې د عبدالغفار خان د خاطرو دا څو ټکي دلته را نقلوو :

(( ... یوه ورځ زه او نادرخان یوازې یوه کمره کې ناست وو ، د افغانستان په مستقبل مو خبرې کولې چې ده ماته ووې چې زه هرڅه کوم د امان الله خان له پاره یې کوم ، ما ورته ووې چې خلک وایي چې د حبیب الله خان هغه زوي چې ستا خور یې دې تا سو د هغه په حکومت باندې د کښېنولو د پاره کوشش کوی . ده راته ووې چې ته به هم ژوندی یې او زه به هم ژوندی یم که چېرې ما هغه پادشاه کړو یا پخپله پادشاه شوم نو ته دراشه او مخ راله تور کړه او راته ووایه چې نادره خپله وعده دې پوره نه کړه . ))

له دغه وعدې سره سره هم نادر خان په دغه کال پادشاه شو او عبدالغفار خان هم تعجب وکړ چې دا دو سره لویه وعده د څه له پاره او اوس به یې څوک مخ ورله تور کړي ؟

د اپریل په آخر کې امان الله خان په غزني کې د سقاو سره وجنګېده او په داسې حال کې چې ده زاره ځاوور د ګولۍ توت یې په ملا کړ را روان غوی ځاودی هم خبر ځکه چې که صبر او حوصله وکړي خامخا به یې په نصیب شي خو په ناڅاپي توګه یې میدان پرېښود او د کندهار پر خوا روان شو او د جون په میاشت کې د سپین بولدک له لارې چمن او له هغه ځایه بمبۍ او ایټالیا ته ولاړ چې بیا تر مرګه هلته واوسېد .

نادرخان په اکتوبر کې کابل ونیوی او پاچا شو ، د نومبر ورور هاشم خان صدراعظم کړ او هغه د اماني دورې روڼ اندکران زندانونو ته

وغورځول او یوه داختناق دوره پیل شوه مخ کې له دې چې کابل دنادر تواوي ونیسي دانګلیس دسفارت اتباع په ۸ الو تکو کې پېښور ته ولاړل .

ددغه کال په مارچ کې په دهلي کې دمسلم لیګ یوه جلسه وشوه چې په هغه کې مستر محمدعلي جناح خپل څورلس فقره ایز پلان وړاندې کړ اوله دغه ځایه په سیاسي سطح کې دمسلمانانو او هندوانو دجلاوالي طرح عمل ته وارده شوله. مسلمانان زیاتره مسلم لیګ ته راغله خود هندروښانفکره اوضدانګلیس مسلمانان دمولانا ابو الکلام ازاد په سلګرتیا له کانګرس سره پاته شول . دجناح د ۱۴ فقره ایز پلان په شپږمه فقره کې دصوبه سرحد په باب داسې توضیح شوي وه :
(( که چېرې دصوبو د نوې حدبندۍ ضرورت پېښ شي نودو باره حدبندي به په داسې صورت کېږي چې دبنګال ، پنجاب او سرحد په مسلم اکثریت څه اثر و نه غورځوي . ))
څرنګه چې دانجمن اصلاح افاغنه غوندې کوډ لي نوا کثره ماجرا جوړیانو به هغه اختلال لولي او د دې له پاره چې داکار په امنیت کې و شي د(افغان یوتهه لیګ) یادافغان زلمیانو دوتلنۍ جوړ ښت ته اقدام وشوه چې په هغه کې به زرګونو زلمیان راټول شول . دغه چرګه په همدغه کال به اتما نزر کې و شوه ، خو مسلم لیګیان او انګلیسانو بې دواړه وار خطا کړل اود دوی پر ضد یې توطئې پیل کړي .

په بلوچستان کې ګلسي ایجي ټیشن لومړي په مخفي تو ګه پیل شواو بیا یې شدت غوره کړ . جریان داسې وه چې د ۱۹۲۹ کال

د نوامبر په ۷ ، میر یوسف علی ګلسی د لاهور په همدرداوه نومزه جریده کی د (فریاد بلوچستان) تر عنوان لاندی مقاله خپره کړه . په دغه مقاله کی دانګلیسانو توطئی او دخانانو داستبداد په باب ډیر حقایق ښکاره شوی وه. دغه جریده په مکرر ډول خپره شوه او په ټول هندوستان او بلوچستان کی لاس پر لاس کیده مخصوصا بلوڅانو ددغو حقایقو دلوستلو سره مینه ښووله ، نو ځکه انګلیسان او یو شمیر مرتجع سرداران دمیر یوسف علی مګسی پر ضد په یوه محاذ کی و دریدل .

په دغه کال په وزیرستان کی وزیرا و مسیدیا یو ځای شول او دساپه راغه په سیمه کی یی دانګلیسانو په یو ، کمپ کی دمغو پر ګارنیزونو حملی پیل کړی دانګلیسانو دقواو دتوما ـ ندان پروم نر په هو چتنه ۱۶ الو تګی پر دغه سیمه راوالوتی او ډیره سخته بمباری یی وکړه ، چی دمغه په اثر یوزیات شمیر پښتانه ووژل شول . په دغه جګړه کی په خاصه توګه شمن خیلو او بهلول زومسیدو ته زیات زیانونه ورسیدل او ځاوری یی یو سخیزه تپاه شول په دغه جګړه کی د پښتنو د قوا و قوماندانی مولوی محمد ګلدین ، جنرال عنایت خان ، محمد سلیم خان او جنرال میرعلیخانی کوله . بل لوی سپارزیه دغه ډله کی رمضان ؤ چی زوی یی رمضا نی صاحب اوس هم ژوندی دی .

## ۱۹۳۰م:

په افغانستان کی دو اقعاتو بدلون ، دامیر امان الله خان تګ او دنادرخان برسر اقتدار کیدل د برتانوی هند په سیاسیا توکی

د سرحدي صوبې په رابطه د ټاکلو بدلون ـ زمینې مساعدې کړې . نو داؤ چې په همدغه ۱۹۳۰ کال د صوبې د پخواني چیف کمشنر نوریان پولټون په عوض سر ستیوارت پیرس د صوبې . د چیف کمشنر په توګه مقرر شو .

په افغانستان کې د هاشم خان صدراعظم په وسیله د اماني دورې روښانفکران سخت تهدید شول ، د محمدولي خان بدخشاني محاکمه وشوه ، داسې یو وطنپرست روښانفکر د امان الله خان د استازي په توګه یې د ولادیمیر ایلچ لنین سره ملاقات کړی وُ او یا اروپا ته د امان الله خان د سفر په دوره کې د سلطنت وکیل وُ . نادر خان دی د سقوي اغتشاش د عاملینو په جمله کې محکوم کړ او بیا یې په زندان کې ووژی .

ددغه کال په اپریل کې ډېره غټه پېښه د انګلیسانو له خوا د قصه خوانۍ بازار پېښه وه چې پر بې دفاع خلکو ګولۍ وچلېدلې . واقعه داسې پېښه شوه .

د سرحدي صوبې د کانګرس کمېټۍ د آل انډیا کانګرس د فیصلې مطابق د سیول نافرمانۍ تحریک پیل کړ . حکومت ددغې کمېټۍ ۹ کسه په پېښور کې ونیول . ددغې ګرفتارۍ د عمل پر ضد خلک مظاهرې ته را ووتل. د ډپټي کمشنر د پوځ د راوغوښتلو امر صادر کړ پوځي عسکرو یو افسر چې مظاهره کوونکي یې تهدید او تحقیرول په ډبرو ووهل شو او پرتانه تېری واو رول شوی . په دغه وخت کې د ډپټي کمشنر د فایرنګ امر صادر کړ او د قصه خوانۍ بازار د یوه سره تر بل سره په وینو ولړل شو . حکومت په د رواغو د سرو

شمېر ۲۰ او د ژوبل شويو شمېر ډېرش وښوول ، په‌داسې حال کې چې په‌سوونو خلك ووژل شول . په‌دې پېښه کې خان عبدالغفارخان هم ونيول شو او درې کاله په مشقته قيد ورکول شو . کانګرس د پټېل په‌مشرۍ يو هيئت پېښور ته‌ راواستوی خو حکومت هغوته اجازه ورنکړه او هيئت په راولپنډۍ کې تحقيقات بشپړ کړل خو بيا هم حکومت دا شان راپورونو ته اهميت ورنکړ .

دغې پېښې پښتانه سخت و دردول او دجون په پنځم دافريديو يو غټ لښکر د پېښور په ښار راننوت او درې ورځې يې د انګليس د مسلح قواوسره جګړه وکړه .

دافريديو اوموهمندو ترمنځ فيصله شوې وه چې کله افريدي پر پېښور حمله وکړي نوسمدستي به موهمند پر شبقدر حمله کوي خو دغې فيصلې څخه حکومت خبر شو او د دوى د مخ نيوى له پاره يې دافريديو اوموهمندو ترمنځ توطيه وکړه .

په‌دې توګه په‌اورکزو او خټکو کې هم قيامونه وشول . په‌هند کې دمهاتماګاندي د بندي کېدو په وجه غټ اعتصابونه روان وه او په صوبه سرحد کې هم دغسې اعتصابونه او مېټنګونه دخادم محمد اکبر ، مياجعفرشاه کاکاخېل او غلام محمد خان لوندخوړ په مشرۍ سازمان ورکول شو . دمۍ په ۲۸ جلسه کې يو زيات شمېر ګډون کوونکي دحکومت له خوا ونيول شول په دغه کشمکش کې د پوليس يوافسر (مرګی) ووژل شو او پوليسو ګولۍ وچلولې چې ۷۰ کسه مړه او ۱۵۰ ژوبل پرمېدان پاته شول .

ددغه کال په اګست کې دهند دوایسرای په امر په صوبه سرحد کې مارشل لاولګیدله . په همدغه وخت کې سرصاحبزاده عبدالقیوم چې وروسته دمسلم لیګې تحریکټ یو ډیر سخت غړی شو او انګلیسانو دسر لقب ورکړی ؤ خان عبدالغفار خان ته چې دګجرات په جیل کې ؤ خبر ورکړ چې خدایي خدمتګاران د یو قوي ګوند سره ملګری کړي . له همدغه ځایه عبدالغفار خان لومړی مسلم لیګ ته مراجعه وکړه خو هغوی نه منله او بیا یې کله چې کانګرس ته خبر ورکړ هغوی په مینه غیبرورته خلاصه کړه . په دغه کار غفار خان ته ځه مشکلات هم پیدا شول مثلا دییر ستر میا احمدشاه یه مشری ځینی غړی ځینی بیل شول ولی دخدایي خدمتګارانو تحریک تر پخوا په څو چنده قوي شو .

دمرکزی اسیا دیرغت باسمچې ابراهیم بیګ چې په خپله دله یې ترامو پورته سومی چې داکتوبر انقلاب یې هرکلی کړی ؤ د ده له لاسه ناارامه وی دافغانستان څخه پسی واخیستل شو او تر امو هاخواته واوښت او مخله ورکټ شو.

نادرخان لویه جرګه جوړه کړه او دخان دباچا کیدو وثیقه یې په جرګه لاسلیکټ کړه . مشهور مبارز شخصیت عبدالرحمن لودی دنادرخان په امر اعدام شو . دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ دعدم تعرض تړون تجدید او لاسلیکټ شو اتمان خیلو د انګلیسانو پرضد دپرانګټ غار جګړه پیل کړه .

په بلوچستان کې دسردارانو جرګې دمشهور مبارز دمیر یوسف علي مګسی د هغې مقالې په نسبت چې د لاهور په همدرد اخبار کې یې

خپره کړې وه او هلته يې انګليسان او مرتجع سرداران د بلوڅو په ټکولو کې ملګرې بللي وه په ۱۱ زره روپۍ جريمه او يو کال د بلوچستان څخه په تبعيد محکوم کړ .

د انګليسانو له پاره په افغانستان کې د امان الله خان د ماتې واقعه ددې خاطره د تشويش وړ وګرزېده چې د هغې انعکاس په پښتنو او بلوڅو کې ډير زيات ؤ . د انګليسانو په رضا هرې خواته قيامونه پيل شول چې په ډې لړ کې د کجوري جګړه ډيره درنه وه . او انګليسانو ته د اتشويش پيدا شو چې يوځل بيا د سرحد ټوله ليکه ورته د وينو په تاره شي نوځکه يې په ډير شدت ددې پېښې مخ نيوى وکړ .

## ۱۹۳۱ م :

په لندن کې د ګردي ميز کنفرانس د هندې مشرانو په شمول جوړ شوا و د دغه کنفرانس په نتيجه کې صوبه سرحد ته ( ما نټيګو جمسفورد ) د اصلاحاتو د پروګرام مطابق د نورو صوبو په شان حق ورکول شو د اپريل په ۱۶ سر رالف ګرفت دلوسرې ګورنر په توګه مقرر شوا و دهندا ويسراى لارډ ويلنګتون د هغه افتتاح وکړه .

همدرنګه يو قانونساز کونسل هم کې جوړ شو چې په هغه کې ټول وېښت غړي وه له دغه جملې څخه ۲۸ انتخابي او ۱۲ يې انتصابي وه . په منتخب ممبرانو ( غړو ) کې دوه ويښت مسلمانان ، پنځه هندوان او يو سکھ ؤ ، او په انتصابي غړو کې پنځه ارو پايان يو مسلمان ، يو سيک سرکاري افسران او ۲ غير سرکاري مسلمانان شامل وه .

صاحبزاده عبدالقيوم چې انګليسانو د سرلقب هم ورکړى ؤ

اودسرصاحبزاده عبدالقیوم په نامه یادیدی رومبی وزیرا و دزیدی خان بهادر عبدالغفور خان چی انتصابی غړی ؤد کونسل صدراوخان بهادر عبدالرحیم خان چی منتخب غړی ؤ نائب صدر او شیخ عبدالحمیدد کونسل سکرتری مقرر شول .

نادر خان ملی شورا افتتاح کړه اوپه هغه کی یی لو مړی مسئله دامطرح کړه چی دافغانستان د نجات له پاره د انګلیسا نو هغه پور اخیستی دی هغه باید ملت پرخان وبولی .

((کله چی دمقاو پرضد عمل پیل کاوه په کورمه کی د انګلیس نمایندہ درزیچارد مېکانچی په ذریعه هغه ته لس زره توپکه او ۱۸۰۰۰ پونډه نادرخان ته ورکول شوی وه . ))

شورادنادرخان پیشنهاد په هرکلی نه کړاو په شورا کی د کندهار وکیل با باعبدالعزیزالکوزی په ډاګه وویل چی داقرض د افغانستان د استقلال ددښمنا نو څخه اخیستل شوی دی او کوم چا چی اخیستی دی هغه دخان دقدرت حاصلولو له پاره اخیستی دی. داوکیل ته خود لته څه ونه ویل شول ولی په رخصتی کی د کندهار څخه پند شوا وبیا له شو راوا یستل شوا وبیا بندی شوچی تقریباً ۱۰ یا ۱۶ کاله په زندا ن کی وه.

دافغانستان څخه دامان الله خان دوتلو مسئله پر پښتنو قبایلو ډیره د رنه تمامه شوی وه او انګلیسا ن یی واقعی مقصر بلل. د نادرخان پیښی هم سره هم چا علاقه نه درلوده. په پښور کی دقصه خوانی بازارخان قبایل عصبی کړی و نوداوه چی په دغه کال دا فریدو له خوا پښور محاصره شواو د په شورادا ره یی هم د انګلیسا نو له لاسه وایستله. د پر کشت وخون وشواوا نګلیسان بیرته بریالی شول او قبایل غروته وختل .

وزیري قبایل د پیر صاحب پر زیارت راټول شول او تصمیم یې ونیو چې پر انګلیس به یرغل کوي. سره له دې چې په دته خیلو کې انګلیسي کلا په خاردار او سیمانو چاپېر شوې وه خو مبارزین ورپورته شول. په دغه وخت کې پر دوی هوايي بمبارۍ پیل شوه. په دغه جګړه کې تر انګریزانو پښتانه زیات ووژل شول او په دغه جګړه کې د غازي ارسلاخان تور. د یاد دونې وړ ده. وزیره دښتې په وضع نو محکم پښتنو کلا له محاصرې لاس وکیښی.

په دغه کال په بلوچستان کې د اتحاد د بلوچان د ګوند فعالیت قوت موندلی ؤ او د دغه کال په د نوامبر په ۲ د اتحاد د بلوچان له خوا د (شمس ګردي) په نامه یوه رساله خپره شوه چې په هغه کې د سر شمس شاه او انګلیسانو د سازشونو په باب ډېر مطالب خپاره شوي وه. د دغې رسالې خپرېدو د اذهانو په شور ید وا ور وچا نیدلو کې ډیری لوئی اغیزې وکړې. په دغه وخت کې ګوند ډېر قوي غړي پیدا کړي وه. لکه میر یوسف علي مګسي، عبد الرحمن مګسي، عبد العزیز کورد، ملک فیض محمد یوسف زی، محمد حسین عنقا او نور. په دغه تحریک کې ځوانو بلوڅانو ښه برخه اخیستله.

د دغه ۱۹۳۲ م کال د نومبر په ۳ د قلات خان میر محمود خان په قلات کې وفات شو د ده د ناروغې د سختۍ په ورځو کې وزیر اعظم سر شمس شاه کوښښ کاوه چې د ده زوی د قلات خان وټاکي څو هغه تر سیوري لاندې خپلو پلو مقاصدو ته دوام ورکړي خود اتحاد د بلوچان

د تحریک غږ او په خاصه توګه عامه تمایلات د شمس ګردي په رساله
کې شرګند کړل څو داوچې کله خان قلات میر محمود خان مړ شو.
د مستر کیتراینجنټ ګورنر جنرال په حضور کې په مستونګ کې د میر
محمود خان ورور د سردار خدایداد خان د ریم زوی میر محمد اعظم خان
چې په اعظم جان باندې شهرت درلود د قلات د خان په توګه
وټاکل شو.
د اعظم خان د ټاکل کیدو سره سر شمس شاه مستعفي شو او پر ځای
یې خان بهادر ګل محمد خان د وزیر اعظم په توګه کار پیل کړ.
خان قلات محمد اعظم خان ته په راتلونکي کال کې د بریتانوي
هند ویسرای په کوټه کې د تاج پوشي مراسم پر ځای کړل او دوه
هم د انګلیسانو د خوښۍ له پاره د اتحاد بلوچان د نهضت ټکولو ته
لاس واچاوه او هغه توقعات چې ځوانو رادیکال بلوڅانو ورڅخه
درلودل ټول په نا امیدۍ بدل شول.

## ۱۹۳۲م:

د سرحدي صوبې په اداري جوړښت کې بدلون چې د ولایت حیثیت
یې وموند پښتوانۍ چف کمشنر سر رالف ګرفت د ګورنر په توګه
وټاکل شو.

په دغه کال کونسل دوه بلونه منظور کړل چې یو (پبلیک ترنکو
لیټي بل) او بل د (شریعت بل) په نامه یادېدل؛ په لومړي بل کې او ږده
بشتو ږه وشول او ۲۸۰ تر سموونه په کړوشول ، په وزیرستان کې قبایل
په شورښت کې وه مخصوصا د رزمک کلا چه د انګلسیانو په لاس ور غلې وه دا
د یره سخته تمامه شوې وه د رزمک ستراتیژیک موقعیت پر ټوله سیمه دا کمیت

درلود. انګلیسانو ددې له پاره چې د قبایلو سورال مات کړي هر وخت به یو وسله وال عسکر د چوڼۍ څخه ایستل او پر شاوخوا سیمو به یې ګرزول.

په دغسې یوه پروګرام کې د انګلیسانو یوه وسله واله ډله چې د رزماك څخه راوتلې وه او د شاولي زیارت په خوا کې ګرزیده میار زینو تر منځه لا د دوی لار نیولې وه، په همدغه ځای کې د دوی سره مخ شول او په جګړه کې انګلیسانو ته سخت زیان ورسید او له دې وروسته یې بیا د راتګ څخه د وتلو کلك جرئت نه کاوه..

د دغه کال په اپریل کې د هند ویسرای لارډ ویلنګتون په کویټه کې په یوه دربار کې په شاندار مراسمو د محمد اعظم خان خان قلات تاج پوشي وکړه او د دغه کال په جون کې د انګلستان باچا، خان قلات ته د (جي، سي، اي) لقب ورکړ.

په پکتیا کې دري خیل راپورته شول او مسلح قیام یې وکړ. د دې قیام عمده علت دا و چې کله نادر خان او ورونه یې په کابل کې د پکتیا والو په قوت پر تخت کښېنستل نو د دوی په تحقیر او توهین یې پیل وکړ او دا قبایل چې خپل قدرت ور معلوم و په قیام یې پیل وکړ خو حکومت هغوی بېرته راضي کړل.

په دغه کال د وزیرو لښکر و د مولانا عین الدین او حاجي دندا خان په مشرۍ د دته خیلو په کلا کې پر انګلیسانو یرغل وکړ خو هغوی له مرام شاه څخه الوتکې راوغوښتې، د پښتنو لښکرې سختې بمبارۍ شوې او درانه تلفات وروا وښتل او ډېر کورونه یې په کې وران شول مومند و قبایلو د انګلیس امر ته غاړه نه ایښووله نو ځکه هغو نه یوازې

په جګړه تهدید ل لکه چې په د غه کال یې د موسندو زیات درمندو نه دالوتکو په ذریعه په اور بلونکو بمونو وسېځل .
په افغانستان کې داکال د نادرخان داداری پرضد د سخت نفرت کال ؤ ، د هاشم خان مظالم تر تحمل وتلی وه ، خود امانی دوری درنورم د ځوانورېدېکال عناصر وله خوا د حکومت پرضد شپناسی خپرېدی او دغسی عناصر بوپه بل پسی محبوسونو ته تلل .

**۱۹۳۳ م :**

دافغانستان نماینده د خلع سلاح په غونډه کې چې په ژنیو کې جوړه شوی وه ګډون وکړ . د تجاوز د تعریف قرار داد د افغانستان ، شوروی اتحاد ، ایران ، ترکیې ، رومانیې ، لیتوانیا اواستونیا له خوا په لندن کې لا سلیك شو (جولای)
په برلین کې د افغانستان سفیر سردار محمد عزیز (دنادرخان ورور او د سردارداودخان پلار ) د سید کمال نومی افغان په تفنګچه ووژل شو (دجون ٦ )
په کابل کې دریدو کالستانو یوه غړی محمد عظیم منشی زاده د بریتانیا پرسفارت حمله وکړه او د سفارت دری غړی یې ووژل (سپتمبر) منشی زاده اعدام شو ، د امانی دوری معروف روشنفکران خواجه هدایت الله د هزارجات پخوانی رئیس تنظیمه ، غلام جیلانی خان او فقیر احمد خان دنادرخان په امر اعدام شول .
د سهامی افغان په نامه بوشرکت جوړ شوچې د طلا درانیو لو او پلورلو امتیاز ورکول شو دی شرکت ته صرف په نامه سرمایه ولېکل شوه نور نو سرمایه د عواید وځخه جمعه شوه په شرکت

کې سردار هاشم خان او نورو سردارانو ته په ناسمه توګه
وتاکل شول .
په دغه کال د اشرکت د بانک ملي په نامه تبدیل شو چې د قند
( بوري ) پطرولو ، موټرو او د موټرانو د پرزه جاتو انحصار هم
ور وسپارل شو . د لنډو کلونو په دوران کې دغه سرمایه لس
ملیارد و افغانیو ته ورسیده چې نیمایي یې د سردار هاشم خان
حساب ته انتقال شوه . دا په افغانستان کې د تجارتي انحصاري
پانګه والي توند باد و چې هر ګټې یې د فقر خواته تېل وهلي او
سرمایه یې په څو محدود و کورنیو یا کسانو پورې اړه ونیوله .
محمد نادرشاه د عبدالخالق نومي په تفنګچه ووژل شو
(۸ نو امبر) او په همدغه ورځ محمد ظاهرشاه د هغه زوی پاچا شو.
د انګلیسانو یوه توه چې د ګز مي په توګه د رزمک د کلا څخه لس
میله لرې د شاولي صاحب د زیارت شاوخوا ته رسیدلې وه چې قبایلي
خلکو حمله پر وکړه یو افسر او څو تنه ووژل شول ، خو موضوع
جدي و نیول شوه او انګلیسانو د رزمک د کلا او کمپ د ساتلو له پاره
په خپلو ستراتیژیکې او تاکتیکي چارو کې نوی تور راوست.
د قلات خان میرمحمد اعظم خان وفات شو (دسمبر) او پر ځای
یې د ده زوی احمد یارخان د قلات خان شو. احمد یارخان چې د اتحاد
بلوچان د غړو سره رابطه درلوده پر هغوی یې قیودلرې کړل او
میریوسف علی مګسي یې خپل مشاور کړ.

**۱۹۳۴ م :**

مولوي بشیر احمد چې په چمرکند کې یې د المجاهد اخبار نشراوه

او دانګلیسانو پرضد یې قبایل تشویرول ترورشو.
امریکا دلومړي ځل له پاره افغانستان په رسمیت و پېژند (په افغانستان کې د پانګه والی له مري تحرک امریکا جلب کړه چې ځانته کښې وباسي.)
افغانستان دجامعه ملل غړی شو. دافغانستان اوایران دسرحدی شخړو د حکومت له پاره جنرال فخر الدین التای کابل ته راغی (نوامبر) اوله دغه ځایه هرات ته ولاړ.
په بلوچستان کې دملي ازادي غوښتني نهضت شدت وا خیست ځکه داتحاد بلوچان گوند چې خان احمد یار خان، دقلات خان یې دو وخت حامي ؤ دهغه خخه تو تمات درلود ل خو اوس احمد یار خان دانګلیس تابع شوی ؤ. داتحاد بلوچان د گوند سکرتر جنرال عبدالعزیز کورد چې دلاهور په اخبار و نو کې یې دبلوچستان د بدحالت په باب خبروني کولی د ۱۹۳۴ کال په جنوري کې دقلات د پولیټیکل ایجنت له خوا دعوه پرداېره شوه او دسوي په جرگه کې چې دانګلیسانو طرفدار کسان یې غړي وه، دغه ملي شخصیت یې په دري کاله بامشقته قید محکوم کړ. ددغه عمل پرضد په همدغه کال خان عبدالصمد خان په کراچي کې غونډي او مېتنګونه جوړ کړل او دا عمل یې په شدت وغندی اوله دې سره عبدالصمد خان هم بندی شو.
ددغې وضعی وخامت پراخ شواو داتحاد بلوچان نورغړي هم بندیان شول او دخان قلات اوداتحاد بلوچان د غړو ترمنځ هم مناسبات خراب شول.
همدغه کال دد سمبر په ۲۷ په جاکوب اباد (جکما باد) کې

د آل انډیا بلوچ کنفرانس د اتحاد بلوچان د عمده غړو لکه میر یوسف علی مګسی ، سردار جمال خان لغاری ، میا مشتاق احمد ګورمانی او سردار غلام رسول خان په ابتکار جوړ شو . کنفرانس د خیرپور والی میر علی نواز خان تالپور افتتاح کړ او تر درو ورځو خبرو وروسته لاندی فیصله صادره شوه .

۱ـ د سرحدی جرګو د دود مقرری الغا .

۲ـ په بلوچستان کی د یو مشروطه حکومت تاسیس .

۳ ـ په بلوچستان کی د صنایعو تاسیس .

۴ـ په بلوچستان کی د لوړو تحصیلاتو د کالجونو تاسیس .

په دغه کال کی د اتحاد بلوچان د ګوند غړی محمد حسین عنقا په کراچی کی د البلوچ او نیزه جریده جاری کړه چی وروسته یی د هغه نوم په (بلوچستان جدید) واړاوه . په همدغه کال نوموړی ابجد منځ ته راغله چی د اتحاد بلوچان د ګوند د انشعاب باعث شو. د قلات خان احمد یار خان میر یوسف علی په پټه توګه لندن ته واستاوه چی هلته د بریتانوی واکمنو سره د ۱۷۷۶ کال د تړون د الغا په باب خبری وکړی . څرنګه چی انګلستان په هند کی دی ته حاضر نه وه چی د هسی یو نماینده د سیاسی کار له پاره لندن ته ولاړ شی او د خان قلات په مصلحت میر یوسف علی مګسی د تفریحی پاسپورت واخیست ، د دغه کار د ګوند پر غړو باندی تمام شو او هغوی دا فکر وکړ چی د ګوند غړی یا په زندان کی دی او یا د بلوچستان څخه تبعید دی ، خو یوسف علی هم د خان قلات مشاوریت منلی او هم د تفریح له پاره لندن ته تللی . یوسف علی مصلحتا د خپل ګوند غړی خبر کړی نه وه ، نو ځکه

ACKU

داحرکت دا نشعاب باعث شو . (داسې نظر هم موجود دی چې خان
قلات او انګلیسانو مصلحتا داکار ددې له پاره کړی وچې د اتحاد
بلوچان په ګوند کې انشعاب راولي ) میر یوسف علی لندن ته ولاړ
هلته چې یې د انګلیسي مقاماتو سره تماس ونیوی هیڅ نتیجه یې په
لاس را نه وړه او ناکامه بلوچستان ته راغی خود ۱۹۳۵ کال
د کوټې په زلزله کې مړ شو .

## ۱۹۳۵م:

دمومندو او انګلیسانو تر منځ ډېره سخته او بېخې بې سابقې
جګړه ومو نښته ، پر شبقدر د مومندو پر له پسې بریدونو انګلیسان
ډېر سخت وارخطا کړل او په ډېر ودرنو عملیاتو یې لاس پورې
کړ . دمومندو دا بل کولو له پاره یې دری اتیا زره پوځ دمومندو
غرونو ته سوق کړ . انګلیسانو لومړی ځل هوایي حمله په داسې وخت کې
پیل کړه چې د حاصلاتو د ټولولو وخت و دوی دالوتکو په ذریعه
دمومند ودرمندونه وسوځل . بوبل ډول بمونه یې دهغو غرنیو
چینو پر سر ګذار کړل چې له هغه ځایه اوبه راتلې او دا چینې یې
ورانې کړې . انګلیسانو دبین المللي مقرراتو مخالف کیمیاوي
بمونه هم پر دغو سیمو استعمال کړل چې د خوړلو هر څه یې ورله
مسموم کړل. ولې په مقابل کې دمومندو ګوریلائي جګړو بیا هم انګلیسان
بریالي نه کړل چې مومند و نیسي . د دغه جګړې مصارف
انګلیسانو ته د یو ملیونه کروړ روپو په اندازه پرېوت ، تر دې
وروسته چې په جګړه ونښوه نو د صلح او روغې غوښتنې یې پیل کړې.
ددغو جګړو په باب افغانستان هم خپله اندېښنه وښووله . د

کابل په دربار کی دامریکا نوی او لومړی سفیر (و، هارنی بروك) خپله اعتماد نامه وړاندی کړه او سفارت خانه یی تاسیس کړه.

په کویټه کی ډیره لویه زلزله وشوه چی اغیزی یی حتی تر کندهاره راورسیدی، ددی زلزلی په اثر حتی داتیا زر و کسو په حدودو کی تلفات واقع شول او دکویټی ښار او ښاوخوا کلی یا له سخه وران و بجار شول یا ډیر زیانونه وروزسیدل.

دانګلستان مشهور جاسوس دګروال لارنس چی دامانی دوری په سقوط کی یی ډیر زیاتونه ډېری لوی جایزی اخیستی وی په لندن کی دموټر سیکل څخلو لو دلوبی په یوه مسابقه کی مړشو.

په بلوچستان کی میر یوسف علی مګسی چی دقلات دخان احمد یار خان په مصلحت لندن ته تللی و په داد رکی یی خپل ګزارش خان قلات ته وړاندی کړ او هغه ته یی وویل چی انګلیسان حاضر نه دی دبلوڅانو نیول شوی سیمی بیرته هغوی ته ورکړی. مګسی دخپلو ګوندی ملګرو تر سختو انتقادونو لاندی و کویټی ته راغی چی دلته هغوی قانع کړی خو د کویټی زلزلی د هغه ژوند تمنا و وروشلاوه.

څرنګه چی په سرحدی صوبه کی مسلم لیګان نشوای بریالی کیدای او کانګرسیان تر دوی وړاندی وه، نو انګلیسانو سر

صاحبزاده عبدالقیوم ته وظیفه ور کړه چې (دمسلم نشنلست ګروپ) په نامه په یوه ګوند کې سیاسي مبارزین راټول کړي څو په غیر مستقیمه توګه دمسلم لیګ سره یې علاقې نشي او د کانګرس یانو مقابل هم ونه دریږي .

په ۱۹۳۵ کې دصوبې دانتخابا تو وخت ور سید ی او دسر صاحبزاده په ټکټ دا لاندې کسان کاندید شول : سر صاحبزاده عبدالقیوم ، خان بهادر سعدالله خان ، عبدالمجید خان ، نواب زاده الله نواز خان ، اسدالله خان ، عزیز الله خان ، کپتن نواب باز محمد خان ، فیض الله خان ، سید لعل شاه ، ملک رحمان ګیا نی ، سر دار محمد اورنګ زیب خان ؛ نواب زاده محمد سعید خان ، نواب مظفر خان ، نصر الله خان ، میا ضیاء الدین خان کاکا خیل .

د کانګرس له خوا دا کسان مجرا ن ورا ندې شول :

عبدالله خا ن ، عبدالعزیز خان ، ارباب عبدالغفور خان ، ارباب عبدالر حمن خان ، عبدالغفور خان ، اکبر علي خان ، امیر محمد خان ، قاضي عطا الله خان ، لاله پنجورام ، ففیرا خا ن ، ډاکټر سي سي ګوش ، لا له حکم چند ، میا جعفر شا ه کا کا خیل ، لا له جمنا دا س ، ډاکټر خان صاحب ، محمد افضل خان ، پیر محمد کا مران ، ثمین جان خان او زر ین خان .

د هندو سیك نشنلست پا رتی له خوا ا ته غړی په دی توگه وټاکل شول :

رای بهادر میرچند کهنه، سردار اجیت سنگ، رای بهادر چمن لال، رای بها درشیرداس سردار جگت سنگ ، رای صاحب لاله کنور سهان ، رای صاحب پرمانند ، رای بهادر لاله روچی رام .

پرسیره پردی ده‌زار ی ددموکراتیك پارتی په نامه هم خلور غړی شامل شول ، خان محمدسرور خان ، خان عطائی خان ، خان راجه عبدالرحمن خان ، خان محمد عباس خان دا زاد و غړو څخه دری لاندی کسان هم شامل شول . ملك خدابخش ، سردار عبدالرب نشتر ، خان پیر بخش خان .

گو رنردوزارت جوړ و لو ( صدا رت ) دعوت سرصاحبزاده عبدالقیوم خان ته ورکړ دغه اقدام دکانگرس دخوا شدنی با عث شواویوه خواشینی و ضع منځ ته را غله ، ځکه چی پخپله په مسلم نشنلست پارتی کی هم داسی کسان کم نه وه چی دسر صاحبزاده په وزارت نا خوښه و . د حالاتو و خا مت دی ځا ی ته ورسید چی شکایتونه مرکز ته ورسیدل . په دغه وخت کی مولانا ابوالکلام ازاد ، داکتر راجندرا پرشاد ، دخان عبدالغفارخان په ملگرتیا ایبټ اباد ته راغلل . په دغه مجلس کی د ۳۰ غړو څخه ۲۷ غړو دکانگرس له‌خوا نمایندگی کوله .

سرصاحبزاده ورو وروخپله څیره څرګنده کړه او نورنو بر الاد انګلیس په طرف ولاړ یوحا کم ؤ چي په ملي او سیاسي شخصیتو نو کي يې خپل زنونډ کا سلا پا يلملی ؤ.

## ۱۹۳۶ م :

د سوسندو سره د انګلیسا نو د مخکني اوهوا يي جګړي دحالا تو په خرابوالي کي نور هم دانګلیسا نو په ضرر دوام وموند څوانګلیسانو دعا يمونو په وسیله د ترنګزو حا جي صاحب ته دروغجي غوښتنه وکړه هغه هم دا غوښتنه ومنله او دجرګي سړين ډیري يې ګند اوته ولیږل ، رو څه وشوه دانګیسا نو پوهوند شا ته شول خودترنګزو د حاجي صاحب دا وروستي جنګ ؤاو تردي جنګ وروسته په لنډه موده کي وفات شو .

دشو روي اتحاد سره دافغا نستان دنه تيري تړ و ن تجدید اولا سلیک شو(دا پریل ۲۶) حکومت د پښتوژبي د رسمیت فرمان صادر کړ.

د( اسلام بي بي، بي بي شوځي) په نامه يوه ډيره مهمه سیاسي کشاله اولانجه منځ ته راغله . قصه لهدي قراره وه چي د(لا بي هندو) لورد ۱۹۳۶ کال دمارچ په ۲۹ په وزیرستان کي مسلما نه شوه او ملا يانو سمد ستي پرهغې داسلام بي بي نوم کیښود او (ملانور) نومي ته يي په نکاح ورکړه .

دنجلي خپلوانو عرض وکړچي دا په زور سره مسلما نه کړه شوي ده انګلیسي محکمي فیصله وکړه چي دا نجلي پلار ته په لاس ورکړي چي له دي سره ملا یان راپورته شول ، دوي د ( متا سي ) په سیمه کي جرګه وکړه او حاجي میرزاعلي خان (میرزاعلي) يي دقضیي دحل له پاره په مشري و ټا که .

حاجي میرزا علي خان چې په ایپي فقیر یې شهرت و مونږ د ارسلا خان زوی داد نسب سلسله یې په دې توګه وه چې اصلاً درویش خیل وزیرو یعنې د موسی درویش له ټبر څخه ؤ. نور نو اتمانزي ؤ، په اتمانزي کې ابراهیم خیل په ابراهیم خیل کې توري خیل په توري خیل کې مدي خیل، په مدي خیل کې بوریه خیل په بوریه خیل کې ګداخیل په ګداخیل کې ښکال خیل په ښکال خیل کې ختک خیل او په ختک خیل کې علي محمد خیل ؤ.

د یو قبیلوي مشر د پېژندنې له پاره د هغه د هویت هم د غوره سلسله په کار ده او په دغه لار کې حاجي میرزا علي خان یو معلوم سړی ؤ.

د حاجي میرزا علي خان لومړی کوښښ دا ؤ چې د وزیرو ترمنځ یې د زړه بداوي چاره وکړه او د هندو مسلم فساد د مخنیوي له پاره یې جدي کار وکړ.

د میرزا علي خان فقیر ایپي صاحب لومړی جګړه د خیسوري وه چې په هغه کې هم پره د انګلیس وه. د سرحدي صوبې ګورنر ګریفت چال وکړ چې فقیر ایپي باید انګلیسانو ته وسپارل شي، د هغه کار کله پښتنو کاوه نو انګلیسانو په ډېر لوی قوت برغل وکړ او د خیسوري واقعه پېښه شوه جګړه دومره شدیده شوه چې د انګلیس دوه زره درې سوه پنځه دېرش بوځیان پنځو یښت انګلیسان ووژل شول او د درو پنځوس په حدود کې پښتانه په قتل ورسېدل او زیاد څه سوه ټپیاري شوه. د دغې جګړې څخه د میرزا علي خان نوم او شهرت ډېر عام شو.

په همدغه کال د لنډرو پیرصاحب (لنډر په خوست کې یوه سیمه ده او د دغه پیر اصل نوم نسیم شاه ؤ خو د لنډرو په پیر یې شهرت درلود)

راپورته شوا او جګړې یې د انګلیس پر ضد پیل کړې چې په راتلونکو کلونو کې به د هغه په باب معلومات وړاندې شي.

په دغه ۱۹۳۶ کال انګلیسانو د قلات بلوڅي خواته پاملرنه زیاته کړه او د مسلم لیګیانو فعالیت هم ورته متوجه شو. د قلات خان میر احمدیارخان چې د هزهاینس بیګلر بیګي خان قلات او خان بلوڅ) او پر د لقب او عنوان ځانته غوره کړی ؤ یو منحط الفکر مذهبي سړی ؤ او مسلم لیګیانو ور ژر نفوذ پکې وکړ. په ۱۹۳۶ کال کې د قلات د تعلیمي سکرتر میر محمد فاضل خان په مشرۍ یې د انجمن اسلامیه قلات بنیاد کېښود او صدر یې مشهور شاعر او مورخ میر ګل خان نصیر او سکرتر یې ملک عبدالرحیم خواجه خېل وټاکی. ځرنګه چې د قلات ایشتلمستانو یوه بیا نه غوښته نو دغه جمعیت یې خپل منکر کړ او فعالیت یې په کې پیل کړ. ځرنګه چې د بلوڅو د خانانو او سردارانو او انګلیسانو ګټې د دوی حسب الخواهش نه یې کې تامینولی نو ور ژر یې دا جمعیت د ترورېستانو د جمعیت په نامه یاد کړ او د منځه یې یووړ.

په همدغه ۱۳۳۶ کال کې چې خان عبدالصمد خان د زندان څخه را ووت نو وې لیدل چې مسلم لیګیان په قلات بلوچستان کې فعال شوي دي، ده دغه وخت په برېټش بلوچستان کوټه کې د انجمن وطن فعالیت تونډ کړ او د کانګرس سره یې پیوند ورکړ او په دې توګه یې د کانګرس او خدائي خدمتګارانو لار کوټې ته را برابره کړه. ده په د اګه د مسلم لیګ فعالیت د انګلیس د سیاست یو نمایش وباله او له همدغه ځایه د ده او د ده د ګوند سره سخت مخالفت پیل شو.
ده د عزیز پریس په نامه یوه مطبعه تاسیس کړه او په منظمه توګه یې

داستقلال داخبار خپرو نه چا لاره کړه .خو انګلیسانو د فرصت په انتظار ده کار ته موقع ورکوله .

## ۱۹۳۷م :

انګلیسانو خپل یو دیرما هر او تجر به کاره مامور سر جارج کیننګهم سرحدی صوبی ته د ګورنر په توګه را مقرر کړ او هغه دصوبی مطالعات پخوالا کړی وه .

دغه کال دسپتمبر په ۳ په سرحدی صوبه کی د کانګرس ګوندله خواد ډاکټر خان صاحب په مشری دسرصا حبزاده عبدالقیوم پر حکومت دعدم اعتماد پیشنهاد مجلس ته وړاندی شو او په مجلس کی د ۲۲ رایوپه مقابل کی په ۲۷ را یومنظور شو .سرصاحبزاده مستعفی شو او پنځه میاشتی وروسته بېخپل کلی تو بی کی مړ شو او دکانګرس حکومت منځ ته راغی .

داکتر خان صاحب وزیراعلی شو ، قا ضی عطا الله دتعلیم وزیراو دیوا ن بهنجورام ګا ندی دمالیا تو وزیرشو.

په همدغه وخت کی جواهرلال نهروچی دال انډیا کانګرس صدرو په دوره پښتو و ته راغی ، ده په پېښو ر چا ر سده ، اتما ن زو ایبټ اباد ، پفه، مانسهره ، هر یپور، مردان، رسا لپور، نوښار، کوهاټ بنو او دیره اسمعیل خان کی لیدنی وکړی اولویومجلسو سوته بی وینا وی وکړی .

په همد غه کال دصوبی بدلو مرنیو ښوو نځیو کی د پښتو ژ بی لوست جاری شو . یوکال ور وسته د کانګرس حکومت دسرحدی جرایمو ضابطی قوانین لغو شول .

د دغه کال د دسمبر په ۳ د انګلیسی معروف شخصیت د ترنګزو حاجی صاحب وفات شو او د مومند و د علاقی دستور کمر په غازی آباد کی خاورو ته وسپارل شو.

په دغه کال د افغانستان، ایران، عراق او ترکیی تر منځ د سعدآباد تړون لاسلیک شو پیاد همدغه کال د سپتمبر په ۲۱ د شرقی اتفاق شورا د سعد آباد د تړون د مملکتو نو په ګډون په جینوا کی غونډه وکړه.

انګلیسانو چی پر وزیرستان په جګړه کی خساری رسولی وی او په دی پر یالی نشول چی وزیر قبایل تابع کړی نو د جرګی غوښتنه یی وکړه نو په دغه کال یوه لویه جرګه د وزیرو د قبایلو د مشرانو په ګډون جوړه شوه، په دغه جرګه کی د سرحدی صوبی ګورنر لارډ کننګهم او پولیتیکل ایجنټ ګرینی هم حاضر شوی راغلی و. په جرګه کی فیصله وشوه چی کومی خساری د هوایی بمباری له لاری رسیدلی دی هغه دی انګلیسان جبران کړی.

په جرګه کی پښتنو انګلیسانو ته د دوستی د اشر طور اندی کړ چی د هغوی هیڅ یو کس دی په وزیرستان کی ونه اوسی، خو دا شرط انګلیسانو قبول نه کړ نو ځکه جرګه ورانه شوه او بیرته له سره د جګړی ترتیبات ونیول شول او د شکتول سیمه یو محل بیاد انګلیسانو الوتکو بمبارد کړه. په دی توګه د د سمبر ولی جګړه واقع شوه.

فقیر ایپی د سمیټ خیل (ساموت خیل) د مشرانو څخه خلیفه زاریم خان، ګوری خان، خلیفه سلطان خان، امان ګل، لیوانک خان، جمعه دار خان، شو بړ خان، دور خان، ولی محمد خان،

میادین خان ، غزلی خان ، دادک خان ، اسپ خان په مشرۍ بولنګر دزرمک او میرام شاه تر منځ د سړک قطع کول ته ولېږه او هغوی په لاره کې اتیا بلو نه وران کړل او دانګلیس دسوقیاتو په وړاندې یې ډېر مشکلات پیدا کړل .

په دې پسې د مسودو لښکرد خپلومشرانو میره ر او سید او جګړه پیل شوه ، جګړه د ډېره ډولی څخه تر را تګ پورې د شلو میلو په فاصله ورانه وه . جنګ حتی لا مس په لاس یعنې په توره او کرچ هم کیدی ، انګلیسانو د عصبیت څخه ۱۹ کسه پښتانه ژو ندی په اور و سوځل او پښتنو د انګلیسانو د قوما ندانانو سرو نه پرې کړه او په نېزو یې ویې و دل او کلی یی کلی ګرزول په دې جنګ کې ۷۳۱ عسکر او شپږ د یرش انګلیسي افسران ووژل شول او د پښتنو د تلفاتو شمیر ۸۲ کسو ته رسیدی او ۳۵ یې هم زخمیان درلودل .

د همدغه کال د فبر وری په پنځمه په بلوچستان کې د اتحاد بلوچان د ګوند رهبر ان د سیوی په ښا ر کې را ټول شول او د یوه نوی ګوند (قلات سټیټ نیشنل پارټی ) اساس یې کښېښود . په د غو ورځو کې په قلات کې د مسلم لیګانو او کانګر سیانو له خوا فعا لیتونه کیدل د بلوڅو متنفذ سرداران د مسلم لیګ طر فدار ن وه خو رو شنفکر ان د کانګرس علاقمند وه نو ځکه پر قلات سټیټ نیشنل پا رټی تر ډیره ځا یه د کانګریس اغیزې څر ګندې شوې . د دغه نوی ګوند صدر عبد العزیز کورد او جنرا ل سکرتر یې مشهور شا عر او مؤرخ ګل خا ن نصیر وټا کل شول .

انګلیسا نو ز یا ت کو ښښ و کړ چې د قلات سټیټ نیشنل پا ر ټی (چې بلوڅی ګو ندو ) او انجمن وطن (چې د پښتنو ګوند ) تر منځ مخالفت پیدا کړ ی خو موفق نشو ل .

## ۱۹۳۸ م:

د دغه کال په جولائی کې سید محمد سعید ی مشهور په پیر شامي له بغداد دغه قبایلو ته او له دغه ځایه اورګون او بیا سلیمان خیلو ته راغی او ډېر مریدان یې پیدا کړل.

دې پیر په ۱۹۳۸ کې خپل فعالیت زیات کړ او د امان الله خان په طرفداری یې تبلیغات کول حتی شرعاً یې ظاهر شاه خلع کړ. څرنګه چې وزیري اقوامو د امان الله سره علاقه درلوده او کټواز سلیمان خیل د حضرت شور بازار پر لاس د ظاهر شاه د کورنۍ سره تړل شوي وه نو غلجي اقوامو پر متون حمله وکړه. داسې ویل کېدل چې پیر شامي د امان الله خان د مېرمنې ملکې ثریا خپله هم سرشته آخوستې وه. په پای کې انګلیسي ایجنټانو پیر شامي دې ته حاضر کړ چې شل زره پونډه واخلي او د یو مصئون ترانسپورت په ذریعه بېرته بغداد ته ورسېږي. داسې دلایل او اسناد هم شته چې پیر شامي د المانیانو په ګټه په وزیرو قبایلو کې د انګلیسانو په زیان کار کاوه.

د بریتانوي هند دغه رججا روسکرتري سر اولري متکاف کابل ته راغی او د قبایلو په باب یې د افغانستان له حکومت سره خبرې وکړې دا هغه ور ځ وې چې فاشیستي المان غوښتل په قبایلو کې خپل نفوذ پراخ کړي.

په شینوارو قبایلو کې محمد افضل خان عبد الخیل قیام وکړ او حکومت په نظامي قدرت دغه قیام خاموشه کړ.

په وزیرستان کې پر ارسل کوټ د انګلیسي قواو فشار زیات شو او د میرزا علي خان او دغه د نورو ملګرو په فیصله مرکزونو ی غره ته

یووړل شوا او له هغه ځایه یې پر انګلیسانو شدیدې حملې پیل کړې . په دغه وخت کې د افغانستان د حکومت له خوا یو خو ښتونکی پښتنو مبارزینو ته ورسید چې په هغه کې یې له دوی څخه غوښتي وه چې تاسې خپلې حملې بندې کړئ او انګلیسانو وعده کړې ده چې ستاسې له خاورې به ووزي . حاجي میرزا علي خان موضوع جرګې ته محول کړه او جرګې هم ډاډ ور کړ چې کله انګلیس وزیري دوی پر دغوی لاره نه بندوي . خو دا یو چل و او انګلیسانو غوښتل موقع په لاس راوړي ، کله چې د مبارزینو حملې بندې شوې انګلیسانو په توت د سړکونو جوړولو ته لاس واچاوه او مبارزین هم په دې پوه شول چې د افغانستان حکومت هم د دوی ملګری دی. وروسته مبارزینو د رزمک د اوبو مخزن ساتګر او له دې سره جګړه پیل شوه چې په هغه کې فقیر شاه خان او ۱۲ نور مبارزین په شهادت ورسیدل او لس کسه انګلیسان چې افسران هم په کې وه ووژل شول. انګلیسان مجبور شول چې د رزمک د چوڼي په منځ کې کوهیانو هم او د اوبو جریان له ځمکې لاندې څخه پرې بند شو.

په پښتونخوا (د صوبه سرحد په شمال مغربي ولایت) کې د انګریز حکومت د جرایم سرحدي تورقانون چې د هغه په وسیله ټول پښتانه تهدیدول لغو شو.

په همدغه کال ګاندي پښتونخوا ته مسافرت وکړ چې باچاخان او ډاکټر خان صاحب یې په خپله مهمانداران وو او دوی، پښتو ره مردان کوهاټ او بنو کې لیدنې کتنې وکړې او دغه تاریخي سفر د ډېرو ارزښتونو درلودونکی وه .

## ۱۹۳۹ م:

په دغه کال نړیواله دوهمه جګړه پیل شوه چې تر ۱۹۴۵ پورې یې دوام وو. د دې جګړې اغېزې پر هندوستان هم وشوې او پښتنو نه خواته یې هم تاثیرات راخپاره شول. انګلیسانو د ټول هندوستان څخه د جګړې د ګرته عسکر غوښتل او په خاصه توګه پښتنو عسکرو ته یې ترجیح ورکوله ځکه دوی جنګي روحیه درلوده. که څه هم یو شمېر اجیرو سره ولاړ لخو قبایلو د خپلې ازادۍ د ساتلو په منظور د انګلیس پر ضد خپلې جګړې ته ادامه ورکړه.

په همدغه کال حاجي میرزا علي خان چې شپږ میاشتې یې یوازې په یوه کوټه کې تېرې کړې وې او د نفس د تزکیې په خاطر یې دا لویه انزوا کړې وه له خلوت څخه راووت او د وزیرو، مسیدو قومونو په سلا تړ یې بیا د انګلیس پر ضد مبارزې ته لاس واچاوه او د دې ته خپلو جګړو یې ډېر شهرت لري، که څه هم دا جګړه تر یو ځایه د پښتنو په ګټه تمامه نشوه خو د دښمن د روحیاتو د کمزورولو لپاره یې اغېزې هم نه وو.

په همدغه کال په مسیدو کې حاجي میرزا علي خان خوانان راټول کړل او داخل یې دومېږه پر عسکري کلاغدي واچوله، انګلیسانو سخت مقاومت وکړ خو ملک حیات خان او ملک ولي خان پر خپلو کارنامو خپل نومونه په تاریخ کې ثبت کړل.

د دغه کال په سپتمبر کې په پاچاهي فرمان افغانستان په نړیواله جګړه کې بې طرفه اعلان شو. د همدې کال د ملا صاحب یو معروف جانشین مبارز ضد انګلیس شخصیت ملا پاینده محمد په کابل کې وفات شو.

په دغه کال د هلمند د اوبو د ویش فیصله د افغانستان او ایران ترمنځ وشوه د افیصله علی محمد خان خارجه وزیر لاسلیك کړی وه خو د افغانستان ملی شورا هغه رد کړه .

په همدغه کال د کندهار په زمینداور کی محمد افضل خان علیزی بغاوت وکړ چی د کندهار له خوا حکمتی قواوی او د کابل څخه هوایی قواوی پرورسوق شوی او محمد افضل خان او د هغه لښکرو ته یی ماتی ورکړه افضل خان ونیول شو او بیا په کابل کی بندی او اعدام شو . په دغه کال د ضد انگلیس معروف سیاسی شخصیت سیدجمال الدین افغانی هډونه له ترکیی څخه کابل ته را نقل شو . او د کابل پوهنتون په محوطه کی ځای ورکول شو .

د دغه کال د جولای په ۲۰ تاریخ د قلات د ریاست د وزیراعظم په امر د قلات په سیمو کی د قلات سټیټ نیشنل پارټی فعالیتونه ممنوع وگرزول شول او په ټاکلی فیصله د پارټی له مشرانو څخه ملك عبدالرحیم خواجه خیل ، میرغوث بخش بزنجو ، عبدالکریم شورش او میرگل خان نصیر بلوچ له قلات څخه بند شول . د دغو رهبرانو هم د گوند مرکز له قلات څخه کوټی ته را نقل کړ . دوی او د هندوستان نورسیاسی گوندونه لا په فعالیت بوخت وه چی د نړیوالی جگړی د دویمی په اثر (دیفنس اف انډیا اکټ) تر حکم لاندی په ټول هندوستان کی سیاسی فعالیتونه بند شول .

د هندوستان زیاتره زعما په زندانونو کی ؤه او په دی لړ کی عبدالغفارخان هم بندی ؤ ، ولی انگلیسانو دوی ته دعوت ورکړ چی د هندوستان خلك حاضر کړی چی د انگلیسانو په گټه د جگړی

د کر ته ولاړ شي.
په بلوچستان کې سیاسي مشرانو د هندوستان د مشرانو مشي تعقیبوله

## ۱۹۴۰ م:

نړۍ د دوهمې نړیوالې جګړې تر تهدید لاندې وه. په هندوستان کې بریتانوي حکومت د ملي مشرانو یو څخه مرسته غوښتله چې هندوستانیان د انګلستان په ګټه د جګړې د کرته ور سوق کړي خو کانګرس ټاکلي شرایط وړاندې کول.

د پښتنو په سیمو کې د اجیر وعسکر ونیول او بیرتې د انګلستان تو له خوا روانه وه.

د دغه کال د مارچ په ۲۳ په لاهور کې د مسلم لیګ په کالني اجلاس کې هغه قرارداد ونه منظور شو لچې وروسته د هغو په مخ پاکستان په وجود راغی د کانګرس د مسلمانو غړو په تشویق دا قرارداد ونه استقبال شول او په هغو کې مولانا ابوالکلام ازاد په خلاصه خوله ناري کړل چې د پاکستان د جوړیدو څخه مطلب د هند په تاره کې د انګلیس د سیاست بالقوه پاتېدل مطلب دی.

انګلیسانو په حاجي میرزاعلي خان پسې تبلیغ کاوه چې هغه داکه ماری کوي او هندوان لوټي نو د دغه کال د جون په ۱۳ د حاجي میرزاعلي خان له خوا په اردو ویو بیان په چاپ کړي دول تر دې عنوان لاندې (مجاهدین وزیرستان کې صفایي کا بیان) نشر شو او په هغه کې ویل شوي وه چې زموږ جنګ د انګلیس سره دی موږ څوک نه لټوو ولې کوم کسان چې د انګلیس طرفداري کوي نو زموږ د دشمن دوستان دي او هرڅوک د دشمن له دوست سره د دشمن په توګه معامله کوي.

په دغه کال د رزمك له پوځي مرکز څخه انګلیسي قواو پر ساره راغه او شکرکوټ پر غل وکړ خو وزیرو مسیدو او نورو پښتنو دېره سېرا نه وکړه دوري ځود الوتکو د بمباري په وجه دوی ځانونه پناه کول خو د شوی پر غل یې ډېر انګلیسان ووژل او د هغو وسلې یې ولجه کړې په دغه جګړه کې د دښمن یوه الوتکه هم راوغورځول شوه.

په دغه کال د سردار خان احمدزي وزیر په مشرۍ په بنو کې پر عسکري چوڼۍ برغلی وشو او ډېر ستر زیانونه ورسول شول او د پښتنو لاس ته ډېرې وسلې په ولجه ور غلې.

**۱۹۴۱ م:**

د جولای په ۲۸ افغانستان یو ځل بیا په نړیواله دوهمه جګړه کې د افغانستان بې طرفي تائید کړه.

د سعدآباد د تړون له لارې په غیر مستقیم ډول المانیانو کټه اخیستل په پلان کې شامل کړل. په افغانستان کې فاشیستي المان مشاور پټوهسك، فیشر، ویټګر کوزلیسن چې د افغانستان په حربیه وزارت او فواید عامه په وزارت کې په فعالیت اخته وه زیات کوښښ یې کاوه چې د شوروي اتحاد او افغانستان روابط خراب کړي. په دې توګه ګیلهاسر سپاودې لاوفي او نورو د تجارتي نمایندګیو له لارې د هغه ستر پلان د تطبیق زمینې برابرولې چې المان به د افغانستان له لارې پر هند حمله کوي. د المان لوي درستیز ګایدر په خپلو یادداښتونو کې ولیکل چې هټلر ده ته امر ورکړی دی چې د افغانستان په شمول په لویو آسیائي هیوادونو کې د جنګي عملیاتو تدارك وکړي.

ځکه چې شوروی اتحاد دا اطلاعات پوره اخیستی وه نو افغانستان ته یې په دغه ۱۹۴۱ کال دا کتوبر په ۱۱ یاد داښت ورکړ چې په هیواد کې فاشیستانو د بند جت اقدام وکړی. او افغانستان هم په دغه وخت کې دفاشیستی المان ایجنټان وایستل. ددغو فاشیستانو ځینو پو شمیرقبایلو ته ولاړل چې هلته فعالیت وکړی.

په همدغه وخت کې په قاهره کې دافغانستان سفیر حضرت محمد صادق دشور بازار دحضرت ورور په پټه په المان کې دهتلر سره ملاقات وکړ او هغه ته یې وعده ورکړه چې دافغانستان په لاری به پر هند دالمان دیرغل لار برابره کړی او په قبایلو کې به دا کار دده ورور وکړی چې هلته نفوذ لری اودا کار ځکه په هه صورت کیدای شی چې قبایل دانګلیس ځخه نفرت لری.

دحضرت محمد صادق په لار ښوونه دهغه و رور نور المشایخ د شور بازار حضرت په کابل کې دالمان او ایټالیا دسفار تونوسره روابط قایم کړل او یو شمیر الماناتمان هم دده په وسیله قبایلو ته ورسول شول.

ددی له پاره چې دافغانستان حکومت هم دفاشیستانو سیاست ته متمایل کړی دشاه محمود خان وزیر حربیه دیاور کریم خان په ذریعه یې فعالیت پیل کړ. المانیانو حضرت محمد صادق ته وعده ورکړی وه چې کله هلته د هند په اشغال کې دالمانیانو پلان عملی شی دافغانستان پاچهی به دمحمد زیانو له کورنی ځخه دحضراتو کورنی ته منتقله کړی.

دغه پلان افشا شو او دافغانستان حکومت هم خبر شو لکه چې

له دې اثره نورالمشایخ شاحضرت ته دماغي تکالیف پیدا شول چې حتی وروسته له همدغه سره یضې څخه مړ شو.

په دغه کال په خړ سر او کانی راغه کې دانګلیسانو پر ضد وزیري اقوامو په فعالیت پیل وکړ په دغه جګړه کې دجمعیت العلما درئیس مولوي وارث شاه کورهم دانګلیس په بمباریو کې وسیځل شو او په جګړه کې ۱۹ تنه انګلیسان ووژل شول.

په همدغه کال د کړیوغی جګړه هم په وزیرستان کې وشوه چې په هغه کې معروف مبارز ملا یونس په شهادت ورسیدی، دا جګړه په سره کمر کې ودونه شدت ته ورسیده چې دمړو دټولولو توان نه و.

## ۱۹۴۲ م:

د کویټ انډیا تحریک په هندوستان کې پیل شو او د کانګرس مشران جیلونو ته واچول شول، په پښتونخوا او بلوچستان کې هم دا تحریک روان شو خو په قوت کې نه و، مسلم لیګیانو ډیر زور ولګاوه چې په سرحدي صوبه پا یګاه کلکه کړي او یو څه موفق هم شوه.

په دغه کال باچا خان (عبدالغفار خان) دخپلو مونږود و ره پیل کړه چې هلته دخدا یي خدمتګاري تحریک بیاوړی کړي، که څه هم د ده پر ضد دترنګزو دحاجي زوی باچا ګل صاحب فضا نارامه کړیوه خو هر کلی ته چې به خان عبد الغفار خان ورغی هلته به پراوراوبه توی شوې، ده زیاتره د عدم تشدد تبلیغ کاوه، ده د نوښار تحصیل یوه ډیره غټه جرګه هم وکړه خود دغه کال په دسامبر کې سردار پټیل له بمبۍ څخه تلګراف ورکړ چې ګاندي

په ۲۷ تاریخ راځی ته باید په ۲۶ تاریخ هلته و اوسی. کله چی غفار خان د حرکت اراده وکړه دی او ډاکټر خان صاحب پولیس و نیول او زندان ته یی واچول.

په همدغه کال انګلیسی حکومت ټینګه تصمیم و نیو ی چی په سرحد ی صوبه کی حکومت باید مسلم لیګ تشکیل کړ ی ځکه د کانګرس غړی په زندان کی وه.

په دغه کال په توچی ( وزیرستان ) کی انګلیسانو د نوی سترا تیژ یکی نقشو د عملی کولو پلان ترکار لاندی ونیوی خو د غازی میرجان ، عبدالحبیب خان او سپیل خان په مشری پښتنو لښکرو تنګی ته نژدی په (زوه ) نومی ځای کی اده جوړه کړه او له دغه ځایه یی د انګلیسانو د پرمختیا پلان ور شنډ کړ.

په همدغه کال په وزیرستان کی د انګلیسانو او وزیرو ترمنځ د سویری د اکئ جګړه ومو ښته چی انګلیسانو ته سخت زیانونه په کی و رسید ل.

## ۱۹۴۳ م :

د سعد اباد تړون چی د افغانستان ایران او ترکیی ترمنځ منعقد شوی ؤ پس له پنځه کاله هر نګه چی هیڅ یوه طرف د هغه د فسخ ژغ نه ؤ کړی خود بخوده تجدید شو. د وزیرو مبارزینو په تنګی کی د انګلیس پر ګارنیزیون یرغل وکړ ترسختی جګړی وروسته سپیل خان په شهادت ورسید او د پښتنو قواوی تر جګړی وروسته بیرته غرونو ته راو ختی ، په دی پسی انګلیسانو تعقیبی حملی شروع کړ ی او پر له پسی جنګونه روان وه خو په یوه بله جګړه کی مشهور

مبارز عبدالحبیب دیوانګلیس په تمانچه پرتندی ولګید او شهید شو، په دغه وخت کې حاجي میرزاعلي خان دهغه لنګی د هغه دورور ګل حبیب پرسر کښېښوده او په دې توګه قومي مشري ورومبار ل شوه.

په دغه کال رزمک ته نژدې په خماته کې انګلیسي پوځو نو تعلیمي تطبیقات کول چې دوزیرو مسیدو یوې لوې ډلې یرغل پر وکړ، ډېر سخت جنګ پېښ شو چې په هغه کې ډاول خان مسید او دهغه یولس ملګري شهیدان شول، دانګلیس د پوځیانو دمړو شمېر تر سلو هم زیات ؤ یوازې اوه افسران انګلیسان په کې ووژل شول.

## ۱۹۴۴ م:

نړیواله جګړه په شدت روانه وه، په هندوستان کې سیاسي مشران په زندانو کې پراته وه، همدارنګ په پښتونخوا (صوبه سرحد) او بلوچستان کې هم سیاسي رهبران یا بند یان یا تېېدوه نو ځکه داسې څه عمده سیاسي پېښې په دغه کال کې نه دي شوي، صرف دغرونو قبایلو دېخوا په شان دانګلیسانو پرضد مبارزې ته دوام ور کاوه خو انګلیسانو هم دداسې کارونو څخه پرهېز کاوه چې قبایل تحریک نشي.

په دغه کال مستر بل انګلیس پرسپین وام (وزیرستان) او وزیرو او مسید و قبایلو پر کړیوم حمله وکړه او په دې ډول ځینې واړه او لوی جنګونه پېښ شول.

## ۹۱۴۵ م:

فاشیزم او نازیزم ماتې وخوړه اودو همه نړیواله جګړه پای ته ورسېده.

تر دغه ۱۹۴۵ کال پورې په پښتونخوا (صوبه سرحد) کې دمسلم لیګ

حکومت د سردار محمد اورنګ زیب خان تر ریاست لاندې قایم و
چې سردار عبدالرب نشتر په کې وزیر مالیه، خان ثمین جان-
خان د تعلیم وزیر او سردار اجیت سنګ په کې وزیر صحیه ؤ، خو
په ۱۹۴۵ کې چې جګړه پای ته ورسیده او د کانګرس غړي له زندانو
څخه راووتل په صوبه کې ډاکتر خان صاحب ته د حکومت جوړولو
دعوت ورکول شو او په صوبه کې دوباره کانګریسي حکومت قایم شو.

په دغه کال د هند و یسرای لارډ ویول د کانګرس مسلم لیګ
او نورو ډلو نمایندګان په دولتي کونسل کې د نویتوب په
منظور شملې ته وبلل، چې په دې جمله کې د کانګرس له خوا مهاتما-
ګاندي، جواهرلال نهرو، خان عبدالغفار خان، مولانا ابوالکلام
ازاد، راجاګوپال اچاري، ډاکتر راجندرا پرشاد. د مسلم
لیګ له خوا محمد علي جناح، لیاقت علي خان، سردار عبدالرب
نشتر، حسین شهید سهروردي، حسین امام او سر غلام حسین هدایت
نمایندګان وه او د دې څخه علاوه د سیکانو او اچوتو هم یو یو
نماینده ورغلی ؤ.

په دغو غونډو کې د کانګرس او مسلم لیګ ترمنځ د نظریو اختلاف
و خپل شدت ته ورسید، کانګرس کوښښ کاوه چې په هره حزبي سطح کې
د مذهب مسئله مطرح نشي، خو د جناح ډلې د مسلمانانو د حقوقو د دفاع
په نامه د یو اسلامي دولت د تاسیس نظریه ډیره تائیدوله.

په دغه کال په صوبه کې انتخابات وشول چې نتیجه یې داسې
راووته کانګرس ۳۰ چوکۍ، مسلم لیګ ۱۷ چوکۍ، مسلم نشنلست ۲ چوکۍ
اکالي سیک یوه چوکۍ.

په بلوچستان کې پر سياسي فعاليتونو بنديزونه لګول شوي وو خو مسلم ليګ په خلاص لاس کار کولای شوای. په دغه کال محمدعلي جناح او د هغه خور فاطمه جناح د قلات د خان احمديار خان په بلنه قلات ته ولاړل. د قلات خان په خاص و تشريفاتو د ترازو په يوه پله کې جناح صاحب او په بله پله کې سره زر وا چول او د ده د تا له په وزن يې سره زر ور کړل بيا يې په همدغه ترتيب سپين زر ور کړل او په همدغه ترتيب يې فاطمه جناح ته د هغې د وزن مطابق سره او سپين زر ور کړل. په دې پسې يې د يو لکو روپو په قيمت يوه غاړ کۍ و فاطمه جناح ته ور کړه د قلات خان په خپلو يادداښتونو کې د جناح صاحب سره د خپل اخلاص په باب وايي چې حتی ما خپل ګران سی (ډنګو) هم له هغه څخه ونه سپماوه.

## ١٩٣٦ م:

سر اولف کارو د شمال مغربي سرحدي صوبې د ګورنر په توګه مقرر شو. افغانستان د ملګرو ملتونو د نماينده په توګه وټاکل شو.

انګليسانو په وزيرستان کې د سر کانو په ايستلو بيا پيل وکاوه او د هغو ملکو مقاومت هم ورسره پيل شو. په بله سخته جګړه کې چې د نو يار اله په سيمه کې وشوه ډېر انګليسي عسکر ووژل شول خو د پښتنو څخه هم يو شمېر ووژل شول او په همدغه جګړه کې تړي خان، خليفه شېرعلي خان مروت، او قضا خان بنوڅي هم په شهادت ورسېدل.

د دغه کال په فبروري کې د برېتانيا حکومت د هند مسئلې د حل له پاره يو دري کسيز هيئت هند ته راوليږی چې داد (وزارتي مشن) په نامه ياديږي. دې هيئت د هند سيمه په جغرافيايي او سياسي لحاظ دا لف، ب، ج کټه ګوريو ته وويشله او پښتونخوا (صوبه سرحد) او بلوچستان

بیا (ب) په کته گوری کی شامل کړل، فیصله وشوه چی په صوبو کی دی انتخابات وشی او صوبائی حکومتونه دی تشکیل شی، مرکزی اسامبله دی جوړه شی چی پر هر یو میلیون خلکو یو نماینده گډون په کی وکړی، دفاع، مواصلاتو
او خارجه سیاست چاری دی د مرکز سره وی.

د دغه میشن د کار په وړاندی مسلم لیگ خنډونه ایجادول او دغه کار لا خپله نتیجه نه وه ورکړی چی د دغه کال د اگست په ۱۶ په کلکته کی د هندو مسلمانان جگړه ومښتله او د سپتمبر په اوله په بمبئی کی مسلمانان او هندوان یو د بل غاړی ته ولویدل. او ورو ورو دی اور لمن سرحدی صوبی ته را ورسیده.

په دغو ورځو کی په مرکز کی د کانگرس او مسلم لیگ مشترک وزارت قایم شو خو لیگی غړو په هره موقع مشکلات ایجادول.

په همدغه کال جواهر لال نهرو د سرحدی صوبی د کانگرس د کمیټی له خوا را وبلل شو او هغه هم پښتونخوا ته مسافرت وکړ او د اکتوبر ۱۶ ورځ وه چی دی پیښور ته را ورسید. لنډی خیبر، جمرود، ملکنډ ته یی هم سفر وکړ، خو د مسلم لیگ د غړو له خوا په خاصه توگه چی انگلیسانو هم یو شمیر خلک اجیر کړی وه د جواهر لال نهرو پر موټر ډبری وویشتل شوی.
د بلوچستان په باب چی کله د هند هغه انگلیسی وزی د سرنوشت په باب یو هیئت وټاکل شو چی په هغه کی دری غړی وه یو نواب محمد اسلم خان د قلات وزیر اعظم بل د برېټانوی هند د خارجه چار و سکرتری فیلی ( ) او دریم د مسلم لیگ یو غړی سکرتر اکرام الله و.
دوی څلور الترنیټفونه وړاندی کړل او پنځم الترنیټف چی دوی هم

لاسلیک کړی ؤدخان قلات دنظر نماینده‌ګی یی کوله.

لومړی الترنتیف: بلوچستان دی دبرتانیا دیوی کالونی په توګه پاته شی دا نظر دبرتانوی هندخارجه سکرترفولی ر دکړ

دوهم الترنتیف: په ایران پوری دی وتړل شی. دانظر هم ردشو ځکه دامعلومه وه چی بلوڅان دایران سره په مذهبی سطح کی مخالفت لری او دایران داختناق پاڅونکی پالیسی څخه نفرت لری.

دریم الترنتیف: په افغانستان پوری دی وتړل شی ددی نظرسره دخان قلات کور نی موافقه ؤه ولی هیئت د اتشو یش څر ګند کړچی شاید په دی عمل به په بلوچستان کی دکمو نیزم نفوذ زیات شی.

څلورم الترنتیف: په هند کی دی مدغم شی، دا نظرد جغرافیا یی بعداو دبلوڅو دعواطفو سره موافق نهؤ.

پنځم الترنتیف: دپاکستان سره دی په مساوی شرایطو داسی وتړل شی چی بلوچستان خپلواکی په کی ساتلی وی.

دادخان قلات نظرؤ.. ))

په دغه برخه کی په لومړی سر کی محمد علی جناح هم دا نظرچی په پنځم الترنتیف کی راغلی ؤمنلی ؤولی وروسته هغه هم وګرزیدی اوبلوچستان په زور سره دپاکستان جزشو.

**۱۹۴۷ م:**

دجون په ۳ دبرتانیا حکومت دهند دخپلواک کیدو او پردوو دومینیو نود هغه ویشل اعلان کړل. د کانګرس او مسلم لیګه

فعالیتونه زیات شول . مسئله داسې طرح شوه چې هند دې دهند او پاکستان په نامه دوو ولتونو ته وویشل شي . په دې خبره پښتانه قانع نه شول او عبدالغفار خان ډهلي ته ورغی او هلته یې ویسرای ته داغوښتنه هم وړاندې کړه چې پښتانه ځانته جلا حق غواړي خو ویسرای موافت بیتن دې غوښتنې ته دزړه جواب ورنکړاو عبدالغفار خان هم بېرته پېښورته راغی او دسردر یاب لویه جرګه یې راوغوښته دبلې خوا دجون په ۱۳ په لندن کې د افغانستان مختار وزارت د انګلستان خارجه وزارت ته یو یادداښت وسپاره چې دسرحد دقبایلو اوترا پا سیند پورې د پښتنو قومونو او د افغانستان سره دهغو د روابطو په باب یادونې شوې وې . خو دبرېتانیا خارجه وزارت په څو جملو کې دې یادداښت ته جواب ووایه چې د سیمې جغرافیایي جوړښت او دامنیت مسایل په یې سورده توګه په کې مطرح شوي وه .

دډهلي څخه د عبدالغفار خان تر راګرځېدو وروسته چې د سر دریاب جرګه جوړه شوه په هغه کې ډېرو سیاسي او قامي مشرانو ګډون کړی ؤ . په دغه جرګه کې دعبدالغفار خان زوی عبدالغني خان چې پخوانۍ د زلمي پښتون ډله جوړه کړېوه پېشنهاد وکړ چې د چارحماو کرم ته کښېنستل بې نتیجې عمل دی، داسمدستي پنځه ویشت زره مسلح ځوانان موجود لرو باید دمځ په قوت خپله آزادي واخلو ،ددې نظر طرفداري قاضي عطاالله او نورو ډېرو مشرانو وکړه خو عبدالغفار خان چې دعدم تشدددرویش پیروؤ موافقه یې ونکړه اووې ویل باید غیر مسلحانه مبارزې ته دوام ورکړو .

د دغه کال د جون په ۲۱ نېټه بنو کې يوه ډېره درنه جرګه وشوه او د جرګې په پای کې د خدای خدمتګارانو او زلمي پښتون د ډلې په مشترکه توګه يوه اعلاميه صادره کړه (۳) او په هغه کې يې وليکل (دا په پښتو ژبه کې چاپ شوې وه چې په زرګونو پاڼې يې وويشل شوې) :

پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان بلکې خپل يو آزاد او د جمهوريت په اصولو برابر دولت غواړي. دا جرګه د خان امير محمد خان په مشرۍ جوړه شوې وه.

په دغه وخت کې د صوبې ګورنر سر اولف کيرو، هغه ريفرنډم ترتيب ونيوی، خو په دغه عجيب ريفرنډم کې صرف دا دوې پوښتنې کېدلې چې ايا په هندوانو پورې ځان تړل غواړي که په مسلمانانو پورې حتی په ډېرو ځايونو کې د هندوانو مقدس کتاب او د مسلمانانو مقدس قرآن ايښودل شوی وه او مسلمانان پښتانه په زور او ستل کېدل او ورته ويل به يې چې هر يو ستاسې زړه غواړي لاس پر کښېږدي، په دې توګه طبعاً هر مسلمان پښتون پر قرآن لاس ايښووی.

د پښتنو ټولو سياسي ډلو د ريفرنډم سره مقاطعه وکړه خان عبدالغفار خان په خپله اتوبيوګرافي کې په دغه باب وايي: )) ما وليدل چې د پېښور د اسلاميه کالج ټول زده کوونکي مکلف شوي وه چې د مسلم ليګ له پاره د رايو په ټولولو کې مرسته وکړي، د پنجاب څخه د يوکم شهباز لور د يو ټولي نجونو سره راغلې وه او خلکو ته به يې د خپلو

خادر و نو پلوانه وړاندی کول چی خپلی رایی د مسلم لیګ په نفع په کی واچوی، د کلکتی د اسلامیه کالج زده کوونکی ټول په سرحدی صوبه کی فعال وه د پنجاب څخه ډلی ډلی مذهبی مشران د دغه فعالیت له پاره صوبی ته راوستل شوی وه .

په دی توګه د امصنوعی رفرنډم په داسی حال کی په سر ورسیدی چی د ۳ ملیونو څخه دری سوه زرو تنو ته هم ازاد حق نه ؤ ورکول شوی چی خپله رایه څرګنده کړی د دغه کال د اګست په ۱۵ بریتانیا پر دوه ډلو نو د هندوستان تقسیم او ازادی اعلان کړه او په دی توګه هند او پاکستان منځ ته راغلل.

په اکتوبر کی د پاکستان نماینده کابل ته راغی هغه ته هم د افغانستان حکومت یادداښت وسپاره چی د پښتنو د حقوقو اعاده وشی په دی پسی یو هیئت د سردار نجیب الله تور والی په مشری له افغانستان څخه کراچی ته ورغی او هلته یی د محمد علی جناح او نورو زعماو سره وکتل، هغوی په خپله کامله چالبازی د دغه هیئت ته سر کړ، د مذاکراتو او مکاتبو لړی له یوی خوا ودره شوه د بلی خوا په صوبه سرحد کی پښتنو د پاکستان څخه خپل نفرت زیاتاوه شو په پای کی پاکستان په قوت او فشار د اداری قایمولو ته لاس واچاوه او د پښتنو سیاسی مشران یی جیلونو ته ولیږل په دغه ۱۹۴۷ کال کی چی د جون په ۳ پر دوو برخو د هند د ویش اعلان وشو نو د قلات خان انتظار درلود چی د ۱۹۴۶ کال د فبرورۍ د غونډی په قرار به د ده پنځم الترنتیف پر ځای شی او د بلوچستان نوم به هم واخیستل شی خو د دغه کال په جولای کی د خاران نواب او د لسبیلی جام دیله

د خان قلات له مصلحت څخه د خپلو سیمو الحاق په پاکستان پورې اعلان کړ.

د دغه کال د اګست په څلورمه خان قلات په ډهلي کې د وېسرای مونټ بېټن او محمد علي جناح سره وکتل او د اګست په ۱۱ داسې یوه اعلامیه صادره شوه:

د پاکستان حکومت د قلات ریاست د یو خپلواک او خود مختاره ریاست په توګه تسلیموي ځکه د هغو تعلقاتو او تعهداتو له مخې چې د بریتانیا سره یې کړي دي د هندوستان له نورو ریاستونو سره توپیر لري د نورو مسایلو په باب چې په دفاعي، خارجي او رسل او رسایلو د وسایلو په باب کومې خبرې لازمې دي بیا به په کراچۍ کې وشي.

د اګست په ۱۲ په بلوچستان کې د ازادۍ جشن ونیول شو او د خان قلات په نامه خطبه وویل شوه د دغه کال په دسمبر کې د قلات په خاص او عام دیوانونو کې دا مسله تر بحث لاندې ونیول شوه چې د بلوچستان سرنوشت به په سیاسي لحاظ څه ډول شي ایا په پاکستان پورې به وتړل شي یا به مستقل پاته شي.

په دغه ۱۹۴۷ کال چې کله د پاکستان د تشکیل نوم منځ ته راغی او د پښتنو سیمې په هغه پورې د یو مصنوعي او جعلي رفرنډم په توګه وتړلې اعلان شوې د وزیرستان څخه د الحاج میرزا علي خان ایپي فقیر په غوښتنه د وزیرو او مسیدو یوه لویه جرګه د ننواتي په توګه کابل ته راولېږل شوه. دا جرګه د پښتنو د عنعنې سره سم چې د ننواتي جرګه لومړی په هدیره کې ځای نیسي او کله چې د ننواتي د قبول اعلان ورته وشي نو کور ته ورځي. دا جرګه هم د کابل د مرنجان غونډۍ په هدیره کې

ډېره شوه او بیا د افغانستان پاچا د ښتواتي د مخلو اعلان وکړ او جرګه د قبایلو مېلمستون ته ولاړه .
د جرګې غړو د پاچا او صدراعظم د وکیل او نورو دولتي رجالو سره خبرې وکړې او د دوی څخه یې وغوښتل چې د تاریخي ننګې پر ځای کولو په منظور د دوی سره مرسته وکړي چې د پاکستان له استعمار څخه خلاصون شي . دوی ته داډ ورکول شو.

۱۹۴۸ م :
انګلیسانو په افغانستان کې خپل سفیر بدل کړ او یو ماهر سیاسي لوبغاړی سرګلیس سکوایر یې د سفیر په توګه راواستاوه .
امریکا هم په کابل کې خپلې سیاسي نمایندګۍ ته د مختار وزارت څخه ولوی سفارت ته ارتقاء ورکړه . د افغانستان صدراعظم شاه محمود خان امریکا او انګلستان ته سفرونه وکړل .
د پښتونستان مسله دورځې داغ مسله شوه او د لومړي ځل له پاره په افغانستان راډیو او د افغانستان په جرایدو کې د پښتونستان په باب نشرات پیل شول .
د پښتونخوا (سرحدي صوبې) په چارسده کې د پښتنو قبایلو ستره غونډه وشوه او په پاکستان پورې د پښتنو د تړلو اعلان یې رد کړ .
د لومړي ځل له پاره نوي اسلامي جوړ شوي دولت پاکستان پر چارسده برغل وکړ او داسې قتل عام یې وکړ چې نه یې ښځه کتله نه نر، نه یې واړه کې کتې نه یې سپین ږیري چلولنه او زندانونه په پښتنو ډک شول او خان عبدالغفار خان هم زندان ته بوتلل شو. د پاکستان قواوو نه یوازې په چارسده کې بلکه د پښتنو په ټولو سیمو کې په نورو لواو و هلو لاس

پوری کړ. په ټولو پښتني سیمو کي د دغه نوي یرغلګر پرضد د جرګو جوړونې پیل شوی، او تشکیلاتي کارونه شروع شول، په دې لړ کې په بلوچستان کې هم پښتانه د پاکستان پرضد راپورته شول او هلته هم پاکستاني قواو تروهلو تیکواو وروسته د پښتنو مشران بندیان کړل چې په دې لړ کې خان عبدالصمد خان اڅکزی هم زندان ته ولاړ.

په دغه کال د بلوڅي قلات دیوان عام کې دا مسئله رد شوه چې بلوچستان دې د پاکستان جز شي او په شدت و غوښتل شول چې د بلوچستان ازادي وساتل شي. خو د مارچ په ۲۸ نېټه په ناڅاپي توګه د قلات خان په یوه اعلامیه کې د بلوچستان الحاق په پاکستان پوری اعلان کړ، او له دې سره سم د قلات سټیټ نیشنل پارټۍ د خان قلات دا عمل د بلوچستان د ګټو مخالف وباله او اعلان یې وکړ چې د خان اعلامیه هیڅ قانوني او حقوقي ارزښت نه لري.

د قلات د خان ورور شهزاده عبدالکریم چې په دغه وخت کې د مکران حکمرانۀ د قلات سټیټ نیشنل پارټۍ اعلامیه یې تائید کړه او له دې سره سم خان قلات، د قلات سټیټ نیشنل پارټۍ غیر قانوني وباله او د هغې د غړو د ګرفتارۍ امر یې صادر کړ. په همدغه وخت کې شهزاده عبدالکریم د بلوڅو ملګرو سره تر کربڅه راو اوښت او د افغانستان د سرحد په سرلټ کې یې جبهه تشکیل کړه. د دغې جبهې سره پنځه زره غړي ملګري شول.

په همدغه کال شهزاده خپل دوه ملګري ملک سعید او نظاماني د مرستې په منظور کابل ته راواستول، د غه هیئت په کابل کې د حکومتي اړاکینو سره و کتل خو د افغانستان محافظه کارا نه

سیاست ددوی پر غوښتنو او پو ښتنو غوږ کوڼ واچاوه، هیئت په پټه په کابل کې دایران دسفارت دغړو سره وکتل خوهلته له دی څخه ما یوس شول چې ایران د پاکستان په شان په ځان پوری دبلوچستان دالحاق غوښتنه درلوده . هیئت په پټه دشوروی اتحاد دسفارت له یولوی غړی سره وکتل اودهغه څخه یې جواب واخیست چې شوروی اتحاد په خپل تا کلی سیاست کې هرځای ملی ازادی بخښونکی چټیشو نه تاییدوی ولی دنورو مسا ئلو په باب به دمرکز سره تماس و نیسی .

هیئت ناکامه سرلټ ته راغی او شهزاده عبد الکریم د خپلو ملګرو سره بیرته بلوچستان ته وروا وښت اوهلته پاکستانی عسکرو ونیوی اودده سره نور عمده مبارز مشران هم محا کمه شول چې شهزاده عبد الکریم په ۱۰ کاله قید محمد حسین عنقاهم په لس کاله قید ، ملك سعید او یو شمیر نور ملګری یې هر یو په ۷ کاله قید محکوم شول . داددغه کال دجولای میاشت وه .

په همدغه کال د وزیرستان دروحانی شخصیتو نو یو شمول د وهمه جرګه کابل ته راو لیږل شوه او د افغا نستان څخه یې وغوښته چې مرسته ورسره وکړی خو د افغانستان پاچا دوی ته وعده ورکړه چې دامسله په مسا لمت حل کیږی او په همدی منظور ماخپل تره مارشال شاه ولی خان دسفیر په توګه پاکستان ته لیږلی دی .

کله چې دغه جرګه را غبرګه شوه او دتوچی په سیمه کې یې خپل ګذارش ورانډی کا وه د پاسه د پاکستان الوتکو بمباری

پیل کړی او دجون په دیرشمه ورځ داوراو و ینو باران په دغه سیمه کې جوړ شو.

په دغه کال څو واره دپاکستان الوتکو هم بمباری کولی او هم یې دوزیرو او مسید وقبایلو ته د تسلیمې پا ڼې له الوتکو څخه راشیندلی.

په همدغه کال د لوی پښتون مجله د مومند وله کوډ اخیلو څخه دمیرا جان سیال په مدیریت په خپرونو پیل و کړ.

۱۹۴۹م :

د محمد علی جناح تر مړینې وروسته چې خواجه نا ظم الدین دپاکستان گورنر جنرال شو ی ؤ د ملکند د کتنې پر وخت یې په بوه وینا کې وویل چې قبایلی سیمې د پاکستا ن نه جلا کیدونکی برخې دی.

دمارچ په ۲۳ د افغانستان خارجه وزارت یوه اعلامیه خپره کړه اودخواجه ناظم الدین وینا یې رد کړه او ددهو وینا یې په ۱۹۴۸ کې د محمد علی جناح د وینا سره لغه وبلله د پا کستا ن د گورنر جنرال وینا په قبایلی سیمو کې هم په جرگو کې رد شوه.

پا کستان پر وزیر ستان بمبا ری و کړه او په کراچی کې د افغانستان دسفارت دشارژد افیر په وسیله پر پاکستان احتجاج وشو (داپریل ۳)

داپریل په ۱۹ دپښتونستان سور بیرغ په تیرا (قبایلو) کې دعبدالحکیم خان له خوا پورته شواو په زرگو نوقبایلی خلکو سلامی ور ته و کړه.

دمی په ۸ دپښتونستان بیرغ دباجوړ په خلیجز یو کی پورته شو

اودی ډېرغ ته دسلامی پروخت دوی وعده وکړه چی د پښتونستان دآزادۍ له پاره به خپلی وینی قربانوی .

دجون په ۱۲ پاکستانی الوتکو پرمغلگی بمباری وکړه اوډېری ورانی یی ورسولی · دافغانستان حکومت پرمغلگی دبمباری په نسبت دپاکستان حکومت ته شدید احتجاج صادرکړ د جولای په ۲۶ ورځ دافغانستان ملیشورا دراېوپه اتفاق ددېورند لین ردکړ او دهغه له قبول څخه یی استنکاف وکړ .

داگست په ۱۳ ورځ دټولو سرحدی قومونو نماېندگان په کابل کی راټول شول اوېوه جرگه یی وکړه اوپه دی جرگه کی یی دا لاندی تړون لاسلیك کړ :

الف ـ موږد ازاد و قبایلو ټول قومونه عهد او قول کوو چی آینده به یوړو ، غټو خېرو او کارو کی په خپلو منځو کی پوره ارتباط سره لرو ، دهرقسم پېښی په مقابل کی به ټول په پوره مشوره او ټینگ اتحاد دریږو او هېڅ یو قوم به هیڅکله یو کار ځانگړی او دنورو قامونو سره د سلا او مشوری پرته نه کوی .

ب ـ دازاد و قبایلو ټول قومونه به په گډه کوښښ کوی چی دپښتونستان دنورو برخو داوسېدونکو سره هم خپل ارتباط قایم وساتی اودهغوی سره به په هرکار ټولو هواوېدو کی ځانونه شریك وگانډی .

ج ـ ټول ازاد قبایل به دخارج دهر تجاوز په مقابل کی په یوه لاس اویوه فکر مقاومت کوی اوپه دی وسیله به کوښښ

کوی‌چی دپښتونستان آزادی حاصله کړی . هغوی به په
دی‌لاره کی هرقسم تکالیفوته ځانونه ورسی او دهر ډول
امتیازاتی او مادی مفادو څخه به تیریږی .
د ـ که‌دپښتونستان په‌هرقام اوهره برخه باندی دهر خارجی
دولت‌له خوا تیری او تجاوزوشی ټول قاموونه به دهغه په
مقابل کی دریږی اوهغه تجاوزبه کړ زوی .
هـ ـ داجرگه چی‌اوس دلته جوړه شویده لومړنی لویه جرگه ده
چی‌دپښتونستان دازادو قبایلو ترمنځ وشوه اوا ینده به
په‌نژدی وخت کی‌د ټول پښتونستان دمشرانو او پوهانو
یوه بله جرگه کیږی او په‌هغی کی‌به‌ټول حل طلب مسایل
حل کیږی . ) په‌دغه جرگه کی‌فیصله وشوه چی داورځ
دی‌د پښتونستان دورځی په‌نامه یاده شی او هرکال دی
تجلیل شی ، لکه‌چی دهغه‌وخته څخه‌هر کال‌دسنبلی په نهمه
( داگست په ۳۱ ) په ټول افغانستان او قبایلی سیمو
اودپښتو نخوا په‌ښارونو کی‌په‌خاصو مراسمولمانځل کیږی .
افغانستان پیشنهاد وکړچی‌دپاکستان سره مستقیمی‌خبری
وکړی خودپاکستان حکومت اعلان وکړچی پاکستان په
اقتصادی مسایلو کی خبروته حاضر دی ، خو
دقبایلو په‌باب به‌دافغانستان سره خبری ونه کړی .
انگلیسی (کنتمپوری ریویو) مجلی‌د (۱۹۴۹) کال داپریل
په گڼه کی ولیکل «احتمال لری افغانستان به هغسی اهمیت پیدا
کړی‌چی په‌اوسنی‌وخت کی‌یی هغه دولتونه لری‌چی‌په‌اروپا کی (اوسپنیزی
پردی) ته څرمه‌واقع‌دی . »

په وزیرستان کې دوزیرو، مسیدو او نورو قبایلو جرګه جوړه شوه او دمنځنی ازاد پښتونستان د مرکزله تاسیس سره یې حاجي میرزا علي‌خان مشهور په ایپي‌فقیر د رئیس په توګه وټاکی. دقیوم خان په ریاست په سرحدي صوبه کې حکومت تشکیل شو، قیوم‌خان چې یو وخت دکانګرس غړی ؤ وروسته ددغه مخالف شو او دوه کاله وړاندې مسلم لیګ ته ورغی خو د مسلم لیګ له‌خوا دحکومت اعتماد هم په‌و شو. دده په کابینه کې میا جعفرشاه کاکاخیل، ملک‌رحمان خان کیاني، سالار ایوب خان او خان‌محمد عباس‌هم شامل وه.

دقیوم‌خان دحکومت سره قولوقبایلو مخالفت اعلان کړاو دی یې دانګلیسانو دوخت دسریې په‌نامه یاد کړ. دقیوم خان په‌امر دپښتنو ډیر ستر مشران زندانونوته ولاړل. دسوات‌والي میانګل‌عبدالودود خپل زوی‌عبدالحق جهانزیب ‌پرخپل ځای‌دسوات حکمران کړ.

دد غه کال‌دا کتوبر په ۱۹ (میزان۲۷ کال ۱۳۲۸) په‌تیرا کې دپښتونستان لومړی محلي شورا جوړه شوه چې په هغې کې دتیرا - خیبر او جمرو دټولو اپریدیو نماینده‌ګان وټاکل شول او په دی اسې یې د(باغ) په‌تاریخي مقام کې جرګه وکړه. او خپل لومړی تصویب یې داسې اعلان کړ:

«بسم الله الرحمن الرحیم. والذین استجابوا لربهم واقاموا الصلوة وامرهم‌شوری‌بینهم ومما رزقنهم ینفقون.

الف- دخدای تعالی په نامه او په قران عظیم الشان باندی قسم‌خوړو او عهدو پیمان کووچې دخپل وکالت په‌دوره کې به‌په‌خپل قوم او وطن (پښتونستان) ته په صداقت عدل اوونا داری خدمت وکړو

اوبې د قوم د استقلال او فنا پدې نه به بل کار قبول نه کړو.

ب ـ د تیرا د اپریدو د قوم دین د اسلام مقدس دین دی .

ج ـ د اقوام خپل ټول کارونه د قران عظیم الشان او شریعت د احکامو مطابق اجرا کوي .

د ـ زموږ رسمي ژبه پښتو ژبه ده .

هـ ـ موږ پښتانه ټول ازاد یو او پس له دې به هم خپل استقلال ساتو او د خپل استقلال د حفاظت له پاره به هر ډول فدا کارۍ ته اماده یو .

و ـ زموږ د مملکت ټول داخلي او خارجي کارونه به (د ټول پښتونستان د مرکزي حکومت د جوړېدو تر وخته) د تیرا د شورا له خوا تصویب او اجراء کیږي.

ز ـ په معمول صورت به د تیرا شورا په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځل ټولنه او اجتماع کوي .

ح ـ په هر هغه تصویب کې چې د شورا د وکیلانو د دوو برخو اتفاق حاصل شي دارا وع اکثریت تامین شوی دی . )

دغې شورا د دغه کال د دسمبر په ۳۱ (۱۳۲۸ کال د قوس په ۱۲) یوه مهمه اعلامیه د علماؤ، روحانیو، قومي مشرانو، خانانو او ملکانو افغانستان د ټولې دنیا پښتنو د اسلامي ملتونو او ملګرو ملتونو د موسسې په نامه خپره کړه او د ازاد پښتونستان سره یې د مرستې غوښتنه وکړه .

د دغه کال د دسمبر په پنځمه (۱۳۲۸ کال د قوس ۱۴) د ازاد پښتونستان د شینوارو، خانزادګانو او صافي قامونو مشرانو خپله ځانته

یوه ملي شورا جوړه او د دوی نمایندګانو د شیخ بابا په کلي کې خپل لوی تصویب داسي اعلان کړ :

الحمد لله الذی وفقنا بمتابعت کلامه کما قال (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولا تفرقوا) وصلی وسلم علی رسوله الذی بالاتحاد امرنا والاتفاق بیننا کما قال (ولا تفرقوا ولا تدابروا وکونوا عباد الله اخوانا)
امابعد: موږ د ازاد سرحد صافیانو، شینوارو، ـ خانزاد ګانو قومونو وکیلانو چې د خپلو مو کلو قومونو له خوا د خپل دیني او مذهبي قوانینو مطابق وکیلان شوي یو او د خدای (ج) او د خپلو قامونو په مخ کې مو دوفاداري قسم خوړلی دی چې د پښتنو د دې خاورې او ازدي په لاره کې مسؤل یو.

در ایو په اتفاق دغه لاندې مواد د خپل اساسي قانون په ډول تصویبوو او خپلو قامونو ته د هغو د عملي کولو او پیروي سپارښته او امر کوو.

الف ـ موږ د ازاد سرحد ټول پښتانه د یوه مرکز تابع یو چې هغه د پښتونستان حکومتي مرکز دی او د هغه مرکزداری او سیوری لاندې به خپل آزاد ژوندون تیرو او تر هغه پوري به خپل مرکز تیر اشا نګي محلي شورا یو ښاخ بولو.

ب ـ زموږ کړنلاره به (خطمشی) د اسلامي مقررا تو او حنفي پاك مذهب په مطابق ده چې د ټول پښتونستان کړنلاره به وي. او موږ به د محمد ی (صلعم) د پاك دین او د حنفي مذهب متابعت کوو.

ج ـ زموږ د دغه موقتي مرکز به د ( کوهي ) په شینوارو کې د ( صافو د خوانینو) په نامه یادیږي.

د ـ هر هغه خارجي قوت سیاست او وسایلو سره په کلکه مجادله کوو چې زموږ د ازادۍ مخالفت کوي او د کراچۍ حکومت به په خپله خاوره کې قطعاً و نه منو.

ه ـ که زموږ د قومونو هغه کوم څوك یا کومه ډله د کراچۍ حکومت ته د ډیر لږ کومك په اخیستلو هم متهم شي د همدې وکیلانو په مخ کې به محاکمه کیږي. او سزا به ورکوله کیږي.

و ـ تر هغه وخته چې د پښتونستان د مرکز تشکیلات جوړیږي زموږ د ټولو کورنیو او بهرنیو کارو د اجراء ګولو مسوولیت به د همدې وکیلانو په غاړه وي.

ز ـ د پښتونستان ټاکل شوی بیرغ به د جرګې په مرکز کې په ډیر احترام پورته کیږي او رپیږي.

ح ـ دا جرګه به په هرو پنځلس ورځو کې یو ځل غونډه کوي او خپل ورد غاړې کارونه به ګوري و اجرا کوي به یې.

ط ـ د دې جرګې تصویبونه هغه وخت اعتبار پیدا کوي چې د نمایندګانو د دوو برخو په رایه وشي.

د دې شورا مشر جناب محمد شعیب جان د چارمنګ د مرحوم مجاهد ګل صاحب ورور وټاکل شو.

د همدغه کال د دسمبر په ۲۲ (د ۱۳۲۸ د جدي لومړۍ) ورځ د ازاد پښتونستان د ملاګورو او شلمان قومونو د پښتونستان بیرغ اوچت کړ او د ملایانو په کلي کې یې محلي شورا جوړه کړه او خپل مرام یې داسې اعلام کړ.

ACKU

الف ـ دشورا ټول وکیلان به د ټولو خلکو په مخ کی د پښتونستان سره دوفاداری قسم خوری .

ب ـ دغه محلی شورا ځان د پښتونستان د (تیراځانګی) په ملی شورا پوری مربوط او پس له دی به دغی شورا یو جرګنل کیږی.

ج ـ ټولی هغه فیصلی چی تر دی تاریخه د پښتونستان د تیرا ځانګی ملی محلی شورا کړیدی موږ وکیلان دهغو ټولو سره ټکی په ټکی موافقه لرو او تر څوچی ژموږد یوځای کیدو منظوری د پښتونستان د تیرا ځانګی لخوا راځی ژموږ فیصلی به د بیا غلی عجب خان په موقتی ریاست په (ملایا نوکلی) کی کیږی او ددی دپاره به شورا به هرو پنځلس ورځوکی یوځل غونډه کوی .

دهمدغه کال په وروستی ورځ یعنی ددسما مهر په ۳۰ (د ۱۳۲۸ ـ دجدی ۱) دباجوړ دسالارزو له خواد ډنډوکی بابا په زیارت کی دباجوړ ځانګی محلی شورا تشکیل شوه او خپل مرام یی داسی وټاکه: ((دشورا ټول وکیلان به د انتخا بیدو لونه وروسته په لاندی دول قسم خوری :

دپاك خدای (ج) او دقرآن عظیم الشان په نامه قسم خورو او عهد وپیمان کوو او داسلامی احکامو په اساس او دپښتونستان دملت په مفاد به وفادار او صادقان یواو دا وفاداری به دخپل ژوند تراخره پوری دخپل ځان او مال په قربانی ساتو .

ب ـ دباجوړ دسالارزو شورا تر هغه وخته چی د پښتونستان د باجوړ دقامونو شوری (باجوړ ځانګه) جوړه شی خپل کارونه به

پخپله کوي او هغه وخت چې دغه شورا جوړه شوه ځان ور پورې تړي.

ج ـ زموږ رسمي دين د اسلام مقدس دين دی.

د ـ محمدي (صلعم) شريعت داحکا مو به جاري کولو کې به پوره کوښښ کوو او په دې موضوع کې به د پښتونستان رسمي ژبه پښتو د پښتونستان د ټول ځانګې د محلي ملي شورا پخوانی فيصله موږ هم تائيدو او سم له هغې سره به اجرا ات کوو.

هـ ـ هغه ټول کسان چې د پښتو نستان د آزادي په موضوع کې چکاره يا پټ مخالفت کوي زموږ د دين، وطن، قوم، ننګ ناموس او آزادي ځليمان دي او د داسې کسانو سره به د دښمنۍ او مقابله کوو.

و ـ د باجوړ د سالارزو ټول کورني او د باندې ني کارو نه به د همدې شو را له خوا اجرا کيږي.

ز ـ د پښتونستان شورا (د باجوړ ځانګه) به په هر و پنځلس ورځو کې جلسه کوي او د راتو ليد لو ځای ی د (ډنډو کې بابا) زيارت دی.

ح ـ زموږ ملي او رسمي بيرغ هماغه بيرغ دی چې پخوا د ټول ځانګي له خوا غوره شوی دی.

ط ـ په هره جرګه کې چې د شورا د وکيلانو په بوه موضوع کې دوې برخې رايې ور کړي نو هغه موضوع حل او فيصله بلله کيږي.))

په دغه کال د مسودو د سلطاني له کلي څخه د ظهور الدين رمضاني په مديريت د پښتونستان جريده خپره شوه. د دغه کال په پسرلي کې د فبروري په ۷ د ملک ارشد پر زيارت د وه زره مبارزينو جرګه کړې وه چې د پاسه پاکستاني الوتکو بمباري وکړه، همدا

رنګه په سوین وام کی دا یي فقیر میرزا علی خان سره پښتانه قبایل
جرګه وه چی بیا بمباری پیل شوی او ډیر زیان ونه یی ورسول .

**۱۹۵۰ م :**

دوزیرستان د ټولو قاموپه ګډون د جنوری په
۱۲ او ۱۳ ( ۱۳۲۸ جدی ۲۲ – ۲۳ )
ورځو کی یوه لویه جرګه په ( ګرویك ) کی وشوه او په دغه جرګه
کی یی د منځني پښتونستان ایالتی شورا او تاکله او حاجی میرزا علی خان
مشهور په ایپی فقیر د دغی شورا د رئیس په توګه و ټاکل شو ، شوراد
خپل سیاست د مرام تګی داسی و ټاکل :

الف ـ د پاکستان له حکومت نه غواړو چی د پښتونستان د ۷ ملیونو
پښتنو دغه وری په آزادی او تمامیت دامن او صلح لاری اعتراف
وکړی او له ننني ورځی دی خپلو لښکری او ملکی ما مورینو او
ایجنټانو ته امر وکړی چی فوراً د پښتونستان له ټولی خاوری نه
ووزی او که دا ونه کړی نو کوم واقعات چی دوی ددی لجاجت په
اثر پیښ شی د هغوی د وخیمو عواقبو مسولیت به هم دخدای او هم د ملکرو
ملتونو د موسسی په نزد د پاکستان په غاړه وی .

ب ـ څرنګه چی زموږ نشراتی وسایل نیمګړی دی د خپل ورور
افغانستان له دولت څخه چی تل د پښتونستان سره صمیمی همدردی
لری هیله کوو زموږ پروګرام د پښتونستان متعلق د افغانستان په
راډیو او جرایدو کی نشر کړی .

ج ـ د دنیا د عدالت پسند ومرکز واو د ملګرو ملتونو موسسی نه خواهش
کوو چی پښتونستان دی یو آزاد ملت او مملکت او د خپل بوحساس

عضو په حیث و پېژني او د پاکستان حکومت دې مجبور کړي چې د پښتونستان د خاورې په آزادۍ او تمامیت اعتراف وکړي .

د همدغه ۱۹۵۰ کال د فروري په ۳۸ (د ۱۳۲۸ کال د دلو په ۱۵) د مومند و محلي شورا جوړه شوه او په زیارت غاښي کې یې غونډه وکړه او خپله فیصله یې داسې اعلان کړه :

الف ـ هغه تصویبونه چې تراوسه پورې د شمالي پښتونستان تیرا ځانګې له خوا شوي دي هغه ټول د مومند ځانګه هم تصویبوي او د اجرا امر یې ورکوي :

ب ـ هغه بیرغ چې د منځني پښتونستان د ملي ایالتي شورا او حکومت له خوا د پښتونستان د ملي بیرغ په حیث تاکلی او تثبیت شوی او د (تیراځانګې) هم منلی دی د مومند ځانګې هم هغه د پښتونستان د ملي بیرغ په ډول ومانه او په خپل مرکز کې یې پورته کړ .

ج ـ د مومند ځانګه د افغانستان د ملت او حکومت څخه چې د پښتونستان سکه او غمشریک ورونه دي د هغوی اخلاقي کومکونو او همدردیو نه چې تراوسه یې د پښتونستان د آزادۍ او سعادت په لاره کې کړیدي او کوي یې د زړه د کومي تشکر او خوښي کوي ، او ډاډ ورکوي چې د پښتونستان ملت به هغه هیڅکله هیر نه کړي او هیله لري چې د پښتونستان او افغانستان د ملتونو ورورولي او اتحاد همیشه له پاره پوره ټینګه او نه شلیدونکي پاته شي .

د ـ د شورا عمومي غونډې به په هره میاشت کې یو ځل په مرکز (زیارت غاښي) کې کیږي او ددې له پاره چې کار رونه ښه او په زړه

پورې پرمخ لاړ شي دشورا له غړو څخه د ۲۷ تنو غړو یوه جرګه (کمیټه) جوړه کړه او هغه یې موظفه کړه چې هر وخت په غونډه کې په دغو کارونو رپوټونه وړاندې کوي.

دهمدغه کال د سپتمبر په ۲۳ (د ۱۳۲۹ کال د میزان لومړۍ) ورځ دبلوچستان دجنوبي پښتونستان ملي شورا جوړه شوه او خپل ایالتي حکومت یې په (توبه) نومي سیمه کې اعلان کړ او دخان محمد ایوب خان په مشرۍ یې د پاکستان پر خلاف مبارزه پیل کړه. په همدغه کال (دهند پښتون جرګه) دمولانا محمد اکبر په مشرۍ او دخان غازي په سکرتریت په دهلي کې په فعالیت لاس پورې کړ او دپښتونستان په نامه مجله یې له چاپه راووتله.

دهمدغه کال په جنوري کې دهند او افغانستان د دوستۍ تړون جوړ شو، او په همدغه کال د پښتونستان ورځ دهندوستان په هغو ښارونو کې تجلیل شوه.

په همدې توګه په دغه کال کې دامریکا دمشرانو او کانګرس رهبرانو په اپیلونو کې دپښتونستان دمسئلې دطرفدارانو ډلې جوړې شوې چې مشري یې امیر شاه مومند او ډاکټر اورنګه شاه خان کوله، دوی هلته دپښتونستان بیرغونه اوچت کړل او په همدغه کال چې د پاکستان صدراعظم امریکا ته سفر کړی ؤ دهغه په وړاندې لویه مظاهره وشوه او د پښتونستان ژوندی باد اوازونه اوچت شول.

دهمدغه ۱۹۵۰ کال دمارچ په ۱۷ د خپلسرو او توچي پر سیمو پاکستاني الوتکو بمباري وکړه چې ۲۱ تنه ځای پر ځای په کې شهیدان شول.

پاکستانی حکومت د جولای په ۲۶ د وانه سیمه په الوتکو بمبارد کړه. د دغه کال د سپتمبر په ۷ طاوس خان مسود پر خپله کلا د پښتونستان بیرغ اوچت کړ او پاکستانی الوتکو د هغه کلا شاو خوا کلی بمبارد کړل.

پاکستانی حکومت د سپتمبر په ۱۳ د پاڼدی کلی چی هلته حاجی میرزا علی خان میلمه ؤ هم بمبارد کړ، د دغه کال د اکتوبر په ۳ په وانه کی احمدزیو وزیرو قیام وکړ.

د افغانستان حکومت د پاکستان حکومت ته اطلاع ورکړه چی په کابل کی د خپل سفارت غړی د نامطلوبو اعمالو څخه لاس نیوی ته متوجه کړی.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ سیاسی روابط خراب تیا ته ورسیدل او پاکستان ادعا وکړه چی د افغانستان عسکری قوتونه په قبایلی سرحد و نو کی راتیرشویدی (۱۹۵۰ سپتمبر) افغانستان د دغه تورر د کړ.

«د امریکائی کار پیژندوستری مجلی په دغه ۱۹۵۰ کال کی ولیکل چی د افغانستان سره د امریکا د علاقمندی یو سبب دا دی چی احتمال لری چی په راتلونکی زمانه کی به د اهیواد پر روسیه باندی د برید له پاره د پایگاه رول و لوبولی شی.»

د مارچ په لومړی ورځ د ویښ زلمیانو د سیاسی جمعیت له خوا د انګار په نامه جریدی لومړی گنه خپره شوه او د دغه جمعیت او نشریی له خواد پښتونستان د خلکو د مبارزی په باب جدی تعهد و نه ورکول شول.

د شمالی او منځنی او جنوبی پښتونستان د شورا گانو نمایندگان

چې د افغانستان نماینده ګان هم ور سره وه د هند د پښتون جرګې په بلنه هند ته روان شول ، د غې جرګې په لار کې په ایران عراق او سعودي عربستان کې هم د پښتونستان په باب کنفرانسونه ورکړل .

## ۱۹۵۱م :

د پاکستان نوي دولت په داخلي اختناق کې سخت را ګېر شو. څرنګه چې په غیر طبیعي توګه منځ ته راوستل شوی وه نو متشکله عناصر یې ډیر ژر یو د بل په مقابل کې په تضاد را اوچت شول. د یوې خوا د مسلم لیګ په ګوند کې چې د جناح تر مرګ وروسته ځینې پټ او ښکاره انشعابونه راپورته شوي وه نو هر سیاسي زعامت مدار کوښښ کاوه چې ځان قدرت ته ورسوي، د بلې خوا یې د هند سره د کشمیر پر سر جګړه وه ، تر ټولو عمده مسله د قبایلو او پښتنو مسئله وه چې د غه نوي دولت د هغو په استقرار نشوای بریالی کېدای، د پښتونستان په نامه جنبش اوچت شوی وه او د پښتنو د سیاسي شخصیتونو څخه ۱۲ زره کسه په زندان کې وه.

په ۱۹۵۱ کې مسلم لیګ کوښښ وکړ چې د اساسي قانون د جوړښت له پاره د موسسانو مجلس جوړ کړي، د غه کار پیل شو خو د مشکل سره په دې مخامخ شو چې ګوند ضعیفه او ټوټه ټوټه شوی وه نو ځکه د دولتي عناصرو یارایستي چې دایمي اساسي قانون منځ ته راولي چې د هغه په وسیله یو قوي دولت ایجاد شي او هغه ګوند ژوندی کړي .

د جناح تر مرګ وروسته عمده ګوندي او دولتي شخصیت لیاقت علي خان وو چې دوی د قاید ملت لقب ورکړی شو د هغه خو تضادونو په لړ کې لیاقت علي خان د دغه کال په اکتوبر کې ترور شو او د غه قتل په

ګوندا او دولت کې د نور انتشار باعث هم وګرزیدې .

د پاکستان له خوا پر قبایلو فشار زیات شو او د پوښتنو مصلحتونو او ټولو کلو هوا ملو په وجه د اپریدو ځینو ملک ولیخان کوکي خېل او سید احمد خان زخه خېل د کډو سره افغانستان ته را غله .

د قبایلو پر سیمو د تیري په وجه د افغانستان له خوا پر پاکستان احتجاجونه کېدل خو هغو د غو احتجاجونو ته اعتنا نه کوله .

د غه کال تقریبا یو د ځاموشۍ کال و او وضع یې داسې وه لکه د طوفان مخ وړاندې چې کله وریځې نه وي او د اسمان مخ روڼ وي ، خو په د ابل کال د حوادثو طوفانونو سر را اوچت کړ .

۱۹۵۲ م :

د منځني پښتونستان د شورا رئیس حاجي میرزا علي خان د ایالتي ، محلي او ملي شورا ګانو رئیسانو ته بلنه ورکړه چې د وزیرستان په مرکز ګرویک کې جرګه وکړي ، د دغې بلنې په اثر خان محمد ایوب خان اڅکزي د ایالتي شورا رئیس ، مولانا نوردل خان د تیراه د څانګې د ملي شورا رئیس حاجي محمد حسن خان د مومندو د څانګې د ملي شورا رئیس ، زرغون شاه خان د ساپیو ، شینوارو او خانزاد ګانو د څانګې د ملي شورا رئیس ، حباب خان کاکا خدایي خدمتګار ملک ولیخان کوکي خېل اپریدی ، ملک سید احمد زخه خېل اپریدی ، مولوي ګل اکبر د تیراه څانګې د جمعیت العلما رئیس مولوي فضل اکبر د اورکزو د څانګې د جمعیت العلما رئیس مولوي غیرت ګل د تیراه د څانګې د جمعیت العلما معاون او یو شمیر منتخبو نورو وکیلانو هم په د

جرګې کې ګډون وکړ . دا جرګه د دغه کال په اپریل کې پیل
او په جون کې پای ته ورسیده او په دغه موده کې د پاکستان د حکومت
د تیری او د پښتنو قبایلي سیمو او په پاکستان کې د پښتني سیمو د ازادۍ
له پاره لوی تصمیمونه ونیول شول او په پای کې یوه فیصله پریکړه
( فیصله ) ولیکل شوه چې اوه مادې یې درلودې او پر هغه دغو مشرانو
لاس لیکونه وکړل .

په همدغه کال د ملک ولیخان کوکي خیل ! و ملک سید احمد خان
زخه خیل او مولوي غیرت ګل اکاخیل په مشرۍ یوه جرګه په تولو اپریدیو
کې وګرځیده او هغوی یې د هیواد د ازادۍ په مبارزه کې دعوت
کړل ، دغه جرګه روانه وه چې د پاسه پاکستاني الوتکو بمباري پرې
وکړه او د دوی څخه یې اتلس کسه شهیدان کړل ، درې ورځې وروسته
پاکستاني الوتکو د ملک ولیخان کلي بمباري او د خاورو سره برابر
کړ ، خو د پاکستان دې عمل برا ورد پترولو تو یول وه او اپریدي
یو مخیزه او نور پښتانه قبایل هر ځای د پاکستان د دې عمل پر ضد و پاڅیدل
په همدغه کال د ګرو یك د تاریخي جرګې وروسته لوړی
جرګه په تیرا او دوهمه په موسند وکی وشوه او د ګرو یك فیصلې
یې تائید کړې .

د پاکستان حکومت د سوات پر سیمه تیری وکړ او د سوات والي یې
په زور کراچۍ ته بوت او هلته یې مجبور کړ چې د خپلې خودمختارۍ
پر خاتمه لاسلیك وکړي .

په ۱۹۵۲ کال کې (اپریل) قلات او نورو فیوډالي ملکونو چې
د قلات د خان په تصرفاتو کې ود (د بلوچستان د ریاستونو په اتحادیه)

کی شامل کړل شول . په دی اتحادیه کی څلور ریاستونه (قلات ، خاران مکران او لسبیله ) یوځای شول او د اتحادیی ریاست د قلات خان احمد یارخان ته وسپارل شو. د بلوچستان د ریاستونو اتحادیی یوه شورای درلوده او احمد یارخان ته یی د جمهور رئیس خطاب کاوه او هغه دا مقام د عمر تر پایه د ځان له پاره ټاکلی ؤ .

په همدغه ۱۹۵۲ کال کی د (مست توار ) په نامه په بلوچستان کی جمال الدین په مدیریت جریده خپره شوه چه په بلوڅی او اردویی خپرونی کولی خو د پاکستان حکومت هغه بنده کړه .

## ۱۹۵۳ م :

په افغانستان کی سیاسی بحران پراختیا وموندله او د وخت صدراعظم شاه محمود خان مستعفی شو او پرځای یی سردار محمد داود صدراعظم شو (سپتمبر) د افغانستان صدراعظم پاکستان ته د امریکا نظامی مرستی د افغانستان او سیمی له پاره د یو تهدید په توگه اعلان کړی (دسمبر) په کویټه کی د پښتو مجلس په خپرونو پیل وکړ.

د وزیرستان ټولو قومونو لکه وزیرو ، مسودو ، بیټنیو ، دوړو ، توریو ، مروتو ، بنگښو او خټکو د پاکستان د تیری پرضد د یو واحد محاذ له پاره جرگی او سرکی جاری وساتلی ؛ د وانی ، سپین وام ، میرمشاه ، رزمک ، پاره چنار او نورو سیمو کی د پاکستان پر نظامی تانو د قبایلو یرغلونو دوام درلود .

د دغه کال په سپتمبر کی د موسی نیکه پر زیارت د وزیرستان د قومونو یوه لویه غونډه وشوه او په هغه کی پریکړه وشوه چی د پښتونستان

دازادی له پاره بهپه مبارزه کی سخت والی راولی د با جوړ په سیمه کی اتمان خیلو، سالارزیو ما موندو او نورو سو نو غونډی وکړی او پاکستان ته یی اخطار ورکړ چی په قبایلو کی مداخله و نه کړی.

ددغه کال د ، وړمند وبوه جرگه دسیتی څخه روانه شوه چی لښکرهم ورسره ؤ ، داجرگه دسره کمر دا نشکول او کما لی په سیمو کی پرقبایلو گرزیده او ددغو سیمو د قبایلو داختلافاتو د حل له پاره یی پریکړی وکړی اوهغوی یی د پاکستان پر ضد لوی مبارزی ته تشویق کړل .

په دغه کال خان عبدالغفار خان له زندانه راووت خوغیر له کراچی او پنجاب څخه په بل ځای کی داو سید لوا وو رتگ اجازه ورنه کول شوه.

د پیغام جدید په نوم اخبار دعبدالصمد درانی په مدیریت په کویته بلوچستان کی جاری شو.

## ۱۹۵۳ م :

ددغه کال په جنوری کی عبدالصمد خان اڅکزی ترشپږ کاله بندو روسته له زندانه راووت او د(وروړ پښتون) گوند یی سمد ستی تاسیس کړاو دخدا یی خدمتگارانو سره یی د سیاسی نژدیوالی هڅی پیل کړی.

په همدغه کال کی لوی مبارز شخصیت شهزاده بابا اغا عبدالکریم هم د پاکستانی زندان څخه راووت او په بلوچستان کی یی د پخوانی قلات سیت نیشنل پارتی پر ځای استمان گل (دخلکو) گوند تاسیس کړ، دده په دغه کار کی مشهور سیاسی شخصیت قطاسا نیچی

په بلوڅو پښتنو کلونو کې د هندوستان د کمونست گوند له خوا د سند او بلوچستان د برانچ (برخې) کار کوونکي و کلک ملگري شو.

د دغه دواړو گوندونو یعنې ور ور پښتون او استمان گل تر هغه وخته په مستقله توگه خپل فعالیت ته ادامه ورکوله څو د سکندر میرزا په دوره کې د یو یونټ مسله منځ ته راغله او پاکستان یو مخیزه د یوه نوي بحران غیږې ته ورولوېده

د دغه کال په سپتمبر کې د افغانستان د باندنیو چارو وزیر کراچۍ ته ورغی او د پاکستان د حکومت سره یې د پښتنو او بلوڅو د مسلې په باب خبرې وکړې.

د همدغه کال په اکتوبر کې د باندنیو چارو وزیر سعودي عربستان ته ولاړ او هلته یې د سعودي دولت سره د پاکستان او افغانستان د روابطو په باب خبرې وکړې .

د همدغه کال په نومبر کې د باندنیو چارو وزیر پاکستان او سعودي ته تر سفرونو وروسته د یو شمېر تبلیغاتو په جواب کې اعلان وکړچې افغانستان د خپلې سیمې پر اختیار نه غواړي بلکې پښتنو او بلوڅو ته دې حق ورکول شي چې هغوی په خپله خپل سرنوشت وټاکي .

د دغه ۱۹۵۴ کال په جون کې د پښتونستان د ملي مشرانو او قایم شوي حکومت ملي رئیسانو یوه جرگه چې په هغه کې محمد ایوب خان اڅکزی ، ظهورالدین رمضاني وزیرستاني، د چترال شهزاده آب حیات خان او نور شامل وه د مومندو او تیراه د ځانکو د شوراگانو په بلنه زیارت غاښي ته ولاړل او هلته یوه لویه جرگه وشوه چې د گروپ د اعلامیې تائید یې

بیا وکړ.

په پاکستان کې د دستور سازۍ اسمبلۍ څو داسې قانوني فیصله وکړي چې په هغوکې د ګورنر جنرال اختیارات محدود کېدل، ګورنر جنرال دستور سازه اسامبله رنګه کړه او د دغې اسامبلې په نمایندګي مولوی تمیزالدین خان د سند په لویه محکمه (چیف کورت) کې د حکومت دعوه دایره کړه ٠ محکمې اسامبله برحال وبلله داو د ګورنر جنرال حکم یې غیر قانوني وباله، حکومت د سند د لوی محکمې د فیصلې پر ضد په فیډرال لویه محکمه کې دعوه دایره کړه ٠ فیدرال لوی محکمې د ګورنر جنرال امر نافذ وباله ولې سره له هغه یې امر وکړ چې د نوی دستور سازۍ اسامبلې د جوړېد و اقدام دې وشي ٠ دغه اقدام په پسې کال (۱۹۵۵) کې وشو چې هغه بیا ځانته بحرانونه وزیږول ٠

د دغه کال په دسمبر کې چې شهید سهروردي د محمد علي بوګره د کابینې غړی شو، هغه دا نظریه منځ ته راوړه چې لویدیځ پاکستان دې په یو یونټ کې مدغم شي، یا په بل عبارت پاکستان کې دې دوه یونټه جوړ شي چې یو یې ختیځ یونټ وي چې په هغه کې به بنګال شامل وي او به لویدیځ یونټ کې دې پنجاب، سند، صوبه سرحد او بلوچستان شامل شي.

د بوګرا په حکومت کې خوداکار ممکن نشو ولې سکندر میرزا چې کله منځ ته راغی نو دغه نقشه یې عملي کړه چې بحرانونه به یې په وروسته کلونو کې شرح کېږي ٠

## ۱۹۵۵ م :

د یو یونټ د جوړېد وله پاره په پاکستان کې تبلیغات پیل شول، او په

یونټ کې د پنجاب او سند څخه علاوه د سرحدي صوبې او بلوچستان ادغام ته هم اشاري شوي وي . د افغانستان حکومت پاکستان ته اخطار ورکړچې د پښتونستان د سیمو ادغام په یو یونټ کې د هغه ځای خلکو ته د نه منلو مسئله ده .

د مارچ په ۳۰ په کابل او په ۳۱ د مارچ په کندهار کې سختې مظاهرې وشوې او په کابل کې د پاکستان سفارت او په کندهار کې د پاکستان قونسلگرۍ ته اخطارونه ورکول شول.

د اپریل په لومړۍ ورځ په پېښور کې د پاکستاني عمالو له خوا پر افغاني قونسلگرۍ حمله وشوه او زیان یې ورورساوه.

د اپریل په ۱۱ په جلال آباد کې د پاکستان د قونسلگرۍ په وړاندې مظاهرې وشوې ، په همدغه وخت کې د ترکیې انګلستان او امریکا له خوا د پاکستان پر سفارت په کابل کې د مظاهرو په نسبت تشویش ښکاره شو.

د اپریل په ۱۲ پاکستان په کابل کې د خپلو ډیپلوماتانو کورنۍ پاکستان ته بوتلې او په جلال آباد کې یې خپله قونسلگري وتړله.

د اپریل په ۲۹ د مصر جمهور رئیس جمال عبدالناصر کابل ته راغی.

د اپریل په اخیرو ورځو کې افغانستان اعلان وکړ چې که پاکستان په پېښور کې د افغاني قونسلگرۍ بیرغ چې دوې کښته کړی ؤ بیرته اوچت کړي افغانستان به په با لمقابل توګه په کابل کې د پاکستان پر سفارت د بیرغ بیرته پورته کولو کار وکړي.

پاکستان په جلال آباد او کندهار کې خپلې قونسلگرۍ بندې کړې او افغانستان ته یې خبر ورکړ چې په پېښور او کوټه کې هم خپلې قونسلگرۍ بندې کړي .

دمې دمیاشتې په ۳۰ په افغانستان کې سفربري او نظامي تیارسې حالت اعلان شو دجون په ۲۱ دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ دېنځو کالو له پاره دوړ یا ترانزیت قرار داد لاس لیك شو.

دغه قرار داد په ۸ مادو کې دجون په ۲۸ په مسکو کې لا سلیك شو.

دجون په ۲۸ سعودي عربستان دافغانستان او پاکستان ترمنځ ومنځګړ یتوب وړاندیز وکړ او دغه هیواد با صلاحیته نماینده ګان کابل او کراچي ته خوواره راغلل او ولاړل.

دجولای په ۷ دپاکستان نوي اساسي قانون منځ ته راغله او غلام محمد ګورنر جنرال کوښښ وکړ چې سیاسي بحران ته دملي اسامبلې په وسیله خاتمه ورکړي ولي بريالي نشو.

په اګست کې دغلام محمد ګورنر جنرال پرځای سکندر میرزا ګورنر جنرال شو.

دسپتمبر په ۱۳ په کابل دپاکستان دسفارت دپاسه او دسپتمبر په ۱۴ په جلال آباد کې دپاکستان دقو نسلګرۍ دپاسه دپاکستان بیرغونه دافغانستان له خوا اوچت شول.

دسپتمبر په ۱۵ په پېښور کې دافغاني قو نسلګرۍ دپاسه د افغانستان بیرغ دپاکستان له خوا اوچت شو.

داکتوبر په ۱۴ پاکستان یو یونټ رسما اعلان کړ او هغه یې دپنجاب، سند، سرحدي صوبې او بلوچستان یو واحد وښووی.

افغانستان سمدستي خپل مخالفت اعلان کړ او داکتوبر په ۱۷ یې خپل سفیر له پاکستان څخه راو غوښت او په ۱۸ د اکتوبر دپاکستان سفیر له کابله ووت.

د نوامبر په ۲۰ په د افغانستان کې لویه جرګه جوړه شوه او پنځه ورځې یې دوام وکړ په دغه لویه جرګه کې فیصله وشوه ځرنګه چې پاکستان ته امریکا وسلې ورکړې دي نو ددې له پاره چې افغانستان هم په تسلیحاتي لحاظ شاته پاته نشي حکومت دې د سوسیالستي دوستو هیوادو نه څخه سلاح خریداري کړي ، لویې جرګې یو یونټ رد کړ او په هغه کې یې د پښتونستان د سیمو ادغام یو تیری وباله .

لویې جرګې د پښتونستان د خلکو د حق خودارادیت په رڼا کې د ملي د حل لار غوره وبلله او تایید یې کړه .

د دسمبر د ۱۵ څخه تر ۱۸ پورې مارشال بولګانین او نیکیتا خروسچف د شوروي اتحاد د کمونست ګوند لوی منشي افغانستان ته مسافرت وکړ او د دغه مسافرت په پای کې په اعلامیه کې شوروي اتحاد د حق خود ارادیت په رڼا کې د پښتونستان د موقف تائید وکړ د دسمبر په ۱۸ ورځ د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ دری تړونونه لاسلیک شول .

۱- د سلو ملیونو ډالرو پور تړون .

۲- د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د ۱۹۳۱ کال د بې طرفۍ او عدم تعرض د تړون تجدید .

۳- د خارجي سیاست د اصولو توضیح چې د افغانستان بې طرفي قوي کوي .

د امریکا حکومت د افغانستان او پاکستان تر منځ د منځګړیتوب اعلان وکړ (دسمبر) پاکستان په دغه کال د دیر پر ریاست حمله وکړه او په لاس وهلو یې پیل وکړ .

ACKU

په دغه کال د لار مجله د طوفان په مدیریت د ننګیالي په نامه مجله د اشرف دراني په مدیریت او پښتو مجله په پېښور کې جاري شوې

په همدغه کال د بغداد پکټ چې وروسته د سنټو په نامه یاد شو منځ ته راغی او پاکستان د هغه غړی شو .

په همدغه کال د قلات خان میر احمد یار خان کراچۍ ته بوتلل شو او هلته د یو یونټ پروګرام په زور پر لاسلیک شو. د پاکستان حکومت ورو ورو د بلوڅي قلات اتحاد یه هم ټوټې کړه خاران او مکران یې په یونټ پورې وتړل او لاسبېله یې د بلوچستان څخه بېله کړه او په کراچۍ پورې یې ملحق کړه

## ۱۹۵۶م :

په پاکستان کې نوی قانون ( چې دوه کاله یې هم پوره نکړه بلکې په نطفه کې مړ شو ) جاري شو او په دغه قانون کې پاکستان د اسلامي جمهوریت په شکل اعلان شو او سکندر میرزا چې پخوا ګورنر جنرال ؤ لومړی رئیس جمهور شو .

یو یونټ تشکیل شو او په هغه کې ډاکتر خان صاحب چې د ریپبلکن پارټي مشر ؤ د وزیر اعظم په توګه او مشتاق احمد ګورماني د ګورنر په توګه مقرر شول .

د دغه کال په پای کې د سکندر میرزا له خوا وزیر اعظم چودري محمد علي برطرف او پر ځای یې شهید سهروردي وزیر اعظم شو .

پاکستان د یوه نوی بحران په غیږ کښیوت دعوامی لیګ چې مشری یې سهروردی کوله دغړو او د ریپبلکن پارټی مشری چې ډاکټر خان صاحب کوله دغړو ترمنځ ډیری اویې کشالې راپیدا شوې څو په پس کال کې سهروردی مستعفی شو او د هغه په پسې کال کې ډاکټر خان صاحب ترور شو.

ددغه کال په اپریل کې یو عسکری هیئت د وسلو دخریداری له پاره چکوسلواکیا ته ولاړ او د اګست په میاشت کې دافغانستان صدراعظم دچکوسلواکیا او شوروی اتحاد سره دوسلې رانیولو موافقه لیکونه اعلان کړل.

ددغه کال دجولای په ۳۰ د عراق کې صدراعظم عدنان مندرس کابل ته راغی او داګست په ۲۶ د پاکستان صدر سکندر میرزا کابل ته مسافرت وکړ.

ددغه کال په سپتمبر کې دافغانستان صدراعظم شوروی اتحاد ته مسافرت وکړ. همدا رنګه ددغه کال په دسمبر کې دافغانستان صدراعظم کراچی ته ورغی او هلته یې دپاکستان مسئولو مقاماتو سره خبرې او کړې.

دچکوسلواکیا د وسلو لومړی جو په کابل ته راورسیدله. دشپږو ګوندو نو کنونشن غونډه وکړه چې په هغه کې دخدایی خدمتګارانو څخه عبدالغفار خان د ورور پښتون څخه عبدالصمد خان داستمان ګل څخه شهزاده عبدالکریم او دسندهاری کمیټی په نمایندګی حیدر بخش جتویی او دسند عوامی محاذ په نمایندګی جی ایم سید او شیخ عبدالمجید سندهی او دپنجاب دازاد پاکستان له ګوند څخه میا افتخار الدین برخه

اخیستي وه . دوی په بیلو بیلو غونډو کي تصمیم و نیوی چي دیونټ پر ضد په ګډه فعالیت کوي. او په دي توګه یي یو سلي ګوندیا نشنل پارټي منځ ته راوستله. او کله چي د بنګال څخه دعوامي لیګ په نماینده ګۍ مولانا بهاشاني د بنګال دکتاشتري دل پارټي ددوی سره ګډون وکړ نو نوم یي په نشنل عوامي پارټي بدل شو .

## ۱۹۵۷ م :

دفروري په ۱۰ په مسکو راډیو کي پښتو پروګرام شروع شو .

دپاکستان صدراعظم سهروردي کابل ته راغی (۸ جون) دافغانستان او پاکستان تر منځ دسیاسي روابطو دبیا قایمیداو په رابطه یي خبري وکړي داروا بطد ۱۹۵۵ څخه شلید لي وه . ددغه کال په اپریل کي دافغانستان صدراعظم چکوسلواکیا ، پولینډ، اطریش او مصر ته سفر وکړ ، اوددغه کال په جولای کي باچاو شوروي اتحاد ته ولاړ، پددغو سفرونو کي د افغانستان او پاکستان روابطو ته په ګډو اعلامیو کي اشاري شویدي .

سهروردي د پاکستان صدراعظم داکتوبر په ۱۸ استعفا وکړه او پر ځای یي د مسلم لیګ لیډر چندریګر صدراعظم شو .

ددغه کال په دسمبر کي چندریګر د صدارت څخه مستعفي شواو پر ځای یي ملك فیروزخان نون صدراعظم شو .

ددغه کال دد سمبر په ۷ ، دقلات دخاص او عام ایوان نماینده ګانو غونډه وکړه او په ۶ فقرو کي یي یوه فیصله صادره کړه چي د دغه فیصلي په څلورمه فقره کي وایي :

((ددو وکالو راپه دي خواتجربو داوښوولي چي یو یو نټ دهیڅ په

ګټه نه دی ځکه دوی د یو یونټ منل د خلکو د ګټو ضد عمل بولي))
د دغه کال د مارچ په ۲۳ په ایراني بلوچستان کې د داد شاه او د هغه د ۲۳ او ښا نو ډلې امریکا یي مشاورین ووژل . دغه مشاورین چاه بهار ته روان وه او بلوڅانو نه غوښتل چې د دوی سیمې ته امریکایان داخل شي او په دې باب یې پخوا هم اخطار صادر کړی ؤ .

د ایران د مرکزي حکومت پولیسو د دا د شاه د ډلې د هر نفر پر سر لس زره ډالره انعام اعلان کړ . د دا د شاه او د هغه د ډلې په لټه کې د ایران ټولې پولیسي قواوې د امریکا د سي ، ای ، ای په ګډون فعالیت کاوه څو اونۍ میاشتې وروسته هغه د پولیسو سره په جګړه کې ووژل شو . امریکا یي مبلغانو په خپلو نشراتو کې داد شاه او د هغه ډله کمونستان وبلل او د لیموند فرانسوي اخبار هغه د یو ملي جنبش د شهید په نامه یاد کړ . د دادشاه نوم په ټولو بلوڅو کې که په ایران کې وه که د باندې ډېر لوړ شو او د دوی په فولکلور کې یې ځای ونیوی په دغه ۱۹۵۷ کال کې د همیشه ګل همیش په مدیریت د دوران مجله په پېښور کې نشر شوه هم د ارزګه د صداقت په نامه یو اخبار د علي محمد بټني په مدیریت د وزیرستان د بټنیو د مرمند له دارالجهاد څخه خپور شو .

په هم دغه کال د بانګ حرم مجله وروسته ورځپا نه د ما ستر خان ګل په مدیریت په اردو او پښتو په پېښور کې له چاپه راووتله .

## ۱۹۵۸ م :

د پاکستان د هغه اساسي قانون له مخې چې د ۱۹۵۶ کال د مارچ په ۲۳ نافذ شوی ؤ . په دغه ۱۹۵۸ کال کې باید انتخابات

شوی وای . ددغو انتخاباتو له پاره هراړخیزه سیاسی فعالیتونه روان وه . په خاصه توګه نشنل عوامی پارتی د خپل نفوذ له پلوه د سکندر میرزا حکومت ډیر وارخطا کړی ؤ ، نوځکه د وه ډو له فعالیتو نه روان وه . سیاسی ګوندونو دانتخاباتو له پاره حکومت ته خبرداری ورکړ چی ځولی وعدی پرځای کړی په حکومتی دستګاه کی اختلافاتو او سیاسی بحران فضا تاریکه کړی وه .

ددغه کال په‌سپټمبر کی دلویدیځ پاکستان دیونټ وزیراعظم ډاکتر - خان صاحب په لاهور کی قتل کړ ای شو . په دی پسی د مرکزی حکومت له‌خوا دختیځ پاکستان (بنګال) دیونټ وزیر اعظم عطاالرحمن او په هغه پسی فضل حق ګورنر برطرف شول .

د همدغه کال داکتوبر په ۷ د ملک فیروزخان نون حکومت تعطیل او دسکندر میرزا له خوا د پارلمانی نظام د منسوخ کیدو اعلان وشواو داکتوبر په ۸ مارشل لا اعلان شوه اودهغی ناظم اعلی جنرال محمد ایوب خان وټاکل شو .

داکتوبر په ۲۷ جنرال ایوب خان په ناڅاپی توګه کودتا وکړه او سکندر میرزا یی مجبور کړ چی پخپله استعفی وکړی. دسکندر میرزا - استعفی او دجنرال ایوب خان دیکتاتوری دوره پیل شو ل.

داکتوبر په ۷ د پاکستان قواوی چی پخوالا بلوچستان ته لیږل شوی وی پر قلات یی ډیره لویه حمله وکړه . دقلات دښار ډیره برخه د توپو په ډزو ورانه شوه او دخان قلات او میدځای د میری کلا ډیری برخی ورانی او وسوځیدلی د خان قلات میر من اوکو رنی

زخميان شول او خان قلات احمد يار خان نظامي قواو بندي كويټې ته راوستي .

داكتوبر په ۷ ورځ عبدالصمد خان اڅكزى په كو يټه كي و نيول شو او جيل ته وليږل شو او د پښتنو او بلو څو ډير سياسي كاركوونكي جيلو نوته ولاړ ل .

په بلوچستان كي لوى بغاوت پيل شو. سردارو ډيره نور محمد خان دا سپلنج په غرو كي قيام رهبري كړ كه څه هم د اكتوبر په ۲۸ ورځ د مارشل لا په فشار په مستونګ كي يوه غونډه و شوه او بلوڅو مشرانو د هغو كسانو څخه وغوښتل چي د غرو څخه را كښته شي ، خودغو خبروته چا غوږ و نه نيو بلكي د حاجي مير نيك محمد خان مينګل او نواب نوروز خان زرك زوى دلي غروته پورته شوى .

په همدغه وخت كي مير مستي خان او مير بها درخان ه غه امر يكا يان چي ګنداوى ته روان وه و نيول او كله چي بي خوشى كو ل ده نوڅخه ئي تعهد وا خيست چي د دوى د قيام او از به دجهان مطبوعا توته رسوى . »

دهمدغه كال ۱۹۵۸ داكتوبر په لومړى نيټه په ملګرو ملتو نو كي دافغا نستان نما ينده دا خبر ونه ردكړل چي ګو اكي افغا نستان غواړي د پاكستان ، ايران اوتر كيي سره يو فدر اسيون جوړ كړي .

داكتوبر د لومړى ورځي نه تر پنځمي ورځي پوري د شوروى اتحاد دعالي شورا رئيس مارشا ل ور اشيلوف كا بل ته مسا فرت و كړ او د سيمي پر و ضعه يي د ا فغا نستا ن د مسئو لو مقا ما تو

سره خبري وکړي.

همدارنګه د سپټمبر د ۲ څخه تر ۹ پورې د چکو سلواکیا صدر اعظم کابل ته مسافرت وکړ په دې دول دافغانستان لوی دولتي اراکینو پاکستان او هند ته مسافرتونه وکړل او هلته یې دافغانستان او پاکستان ترمنځ بې نتیجې او ناکامې خبرې وکړې.

په همدغه ۱۹۵۸ کال کې دغنچې مجلې په پېښور کې په نشراتو پیل وکړ همدارنګه د میرعبدالرحمن بلوچ په مدیریت د نوای وطن اونۍ جریده په بلوچستان کې نشرشوه.

همدارنګه په دغه کال کې دژوند مجله د محمدامین (امین) په مدیریت په پېښور کې په خپرونو پیل وکړ.

## ۱۹۵۹م:

دپاکستان مارشل لا او مارشال ایوب خان منځ ته راتګ په پاکستان قبایلو او تولو سیمه کې تشویشونه وپاځول.

دافغانستان صدراعظم هند ته مسافرت وکړ (فروري) همدارنګه د هندوستان صدر اعظم جواهرلال نهرو افغانستان ته مسافرت وکړ (سپتمبر)، دوی دافغانستان او پاکستان ترمنځ د پښتنو په باب خبرې وکړې.

د ملګروملتو نوسر منشي داګ همرشیولډ په سیمه کې د حساسو مسایلو د کتنې او څېړنې له پاره کابل ته راغی (مارچ)، په دې پسې دافغانستان صدراعظم شوروي اتحاد ته مسافرت وکړ.

څرنګه چې دافغانستان او پاکستان دروابطو خرابېدل د سیمې وضع

د تشویش سره مخامخ کړیوه نو نړیوالی پاملرنی یی جلب کړی وی.

په همدغه لړ کی دامریکا جمهور رئیس ایزنهاور کابل ته راغی او شپږ ساعته یی په کابل کی تیر کړل.

ددغه کال په اخیر (دسامبر) کی دپاکستان دبیسیک ډیموکراسی (ب.ډ) لومړی انتخابات د ټاکلی لاریحی پر مخ وشول چی په هغه اتحاد یو، دقصبو دشورا او ښاری شوراو له پاره اتیا زره (۸۰۰۰۰) نمایندګان وټاکل شول.

دپاکستان سیاسی ټولنو دا انتخابات تحریم کړی وه او هغه یی دغیر دیموکراتیک انتخاباتو یوه نمونه بلله.

جمعه خان بلوچ د حقوق بشر په نامه دپاکستان د حکومت له خوا دادشاه دورثی سپارل چی دایران شاه هغه تول و وژل دپاکستان عمل وغندی او د کراچی څخه ابوظبی ته ولاړ او له هغه ځایه یی دایران دشاه او دپاکستان دجمهور رئیس توطیه رسوا کړه.

دوزیرستان معروف مبارز حاجی میرزا علی خان مشهور رپدا پی فقیر وفات شوه

## ۱۹۶۰م:

دشوروی اتحاد د کمونست ګوند لومړی منشی کابل ته راغی (مارچ) او دافغانستان دسیمی لومړنی مقاماتو سره یی د سیمی پر وروستیو پېښو او د افغانستان او پاکستان پر مناسباتو خبری وکړی.

دافغانستان خارجه وزیر پاکستان ته ولاړ (جنوری) او د پاکستانی مقاماتو سره یی دد وارو هیوادو د مناسباتو په باب خبری

وکړي خو دا نا کامه اوبې نتیجې خبرې وې.

دافغانستان پخواني پاچا امیر امان الله وفات شو(اپریل) دهغه مړی کابل ته را وړل شو او بیا په جلال اباد کې خاورو ته وسپارل شو.

دامریکا (یو-۲) الوتکه له پیښور څخه په ډېره لوړه الوتنه د افغانستان او شوروی اتحاد فضا ته دجاسوسۍ له پاره داخله شوه او په شوروی کې را کښته کړل شوه. دافغانستان خارجه وزارت پر پاکستان او امریکا احتجاج وکړ.

پرتوس خیلو قبایلو د پاکستاني قواوو تجاوز په نسبت پاکستان ته پروتېست وکړی (نومبر) پاکستاني حکومت ددې پرترا شغال وروسته پر باجوړ تجاوز وکړ او دغه ځای، پرپا تمالی جر گوړو (شینګی) باتور اردما مونډ وپر سلطان بیګ، کړیکال تنګی، د اتمانخیلو پر با ندې، ما ند لوغا ړه او دساپو دسیمې پر غازی اباد سخته بمباري وکړه. په دغه بمبارۍ کې ډېری کلاوې ورانې شوې.

ددغه کال په فرورۍ کې د افغانستان خارجه وزیر وویل:

«دامریکا متحده ایالتونه په سیاسي شرطونو مرسته کوی، مثلا دوی دا مرسته په عسکری بلاك کې د افغانستان په شاملید وپورې مربوطوی، اما دا شرط زموږ له پاره منا سب نه دی، دافغانستان حکومت دبې طرفی او په هر ډول بلاکو کې دنه ګډون سیاست چلوی».

مارشال ایوبخان په یوه تصنعی رفرا ندم کې د پنځو کالو له پاره ځان دپاکستان جمهور رئیس اعلان کړ.

## ۱۹۶۱م :

پاکستان پر باجوړ سخته بمبار ی وکړه چې د هغه په اثر ډېر زیات نونه ور سېدل (مارچ ) ډېر اوداور ځپا نې دا پر یل د پنځمې ورځې په ګڼه کې ولیکل شوروی اتحاد د پښتنو او بلوڅو په مسئله کې بې علا قې نه دی .

پر باجوړ د پا کستان دالوتکو بمبار ی د افغانستان حکومت وغندله او دا یې وحشیانه عمل وباله پاکستان اعلان وکړ چې افغا نی کوچیان به له پاسپورټ او وېزې څخه تر سرحد نشي تېر ېدا ی.

پر کورمه باندې پا کستا نی قواوې سوق شوې او ډېر کلي یې وران کړل په امر یکا کې د افغانستان سفیر د امر یکا جمهو ر ئیس جان کنېډ ی ته پر قبایلو د پا کستا ن د حکو مت د تېر یو په باب د افغا نستا ن د حکومت تشویش څر ګند کړ .

د پاکستان حکومت په پاکستا ن کې افغا نی قونسلګری وتړلې او ټولې ترانزیټې اما نې یې له منځه یوو ړې .

د سپتمبر په دریمه د افغانستان او پاکستان تر منځ سر حدونه وتړل شول . پا کستان د ایرا ن منځګړ یتوب د افغا نستان او پاکستان د مناسبا تو په برخه کې و نه منه .

په ا کتو بر کې د امر یکا جمهو ر ئیس جا ن اف کنېډ ی د افغانستان او پاکستان حکومتونو ته خبر ور کړ چې امریکا به دد و اړ و هېوادونو د مناسبا تو د ښه والي په لار کې کو ښش وکړي د شوروی اتحاد یو عسکر ی ټولګی د یولس ورځو له پا ره په مېلمستیا کا بل ته راغی ( ۹ اکتوبر) افغا نستا ن د امریکا

د جمهور رئیس د نماینده په توګه د لیونګه ستون سرچنت تاکنه وشوله څو هغه د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر مسایلو مطالعات وکړي.

په نوامبر کې د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د ترانزیتي مالونو د وړلو په لار کې د نورو اسانتیاوو د راوستلو له پاره یو تړون لاسلیک شو.

د مارشال ایوب خان په امر د بلوڅو هغه مبارزین چې غرو ته ختلي و او بیا ایوب خان پر قرآن لاسلیک ورسره کړی وو چې د دوی غوښتنې په تر غور لاندې و نیول شي او کله چې دوی را کښته شول بند یان شول او په دغه ۱۹۶۱ کال کې د نواب نوروز خان د له چې په هغو کې د بلوڅو د پر مشر ان داخل و عدهید راپا دا و سکهر په جیلونو کې په دار شول.

جمعه خان بلوڅ په ابو ظبي کې د ایران د مستبد شاه پر ضد په فعالیت کې د دوی تنظیم یا یلانې کېښنو ولي او د ایراني بلوچستان د بلوڅو له سیاسي ډلو سره یې رابطه قایمه کړه.

## ۱۹۶۲م:

په پاکستان کې د ایران لوی سفیر د پاکستان، ایران او افغانستان فدراسیون یوا پیشنهاد کړ (۲۰ جنوري)

افغانستان او پاکستان دواړو د افغانستان او پاکستان د شخړې په حل کې د ایران د باچا منځګړیتوب ومانه په جولای او آګست کې د ایران باچا کابل او راولپنډۍ ته سفرونه وکړل او د دواړو هیوادونو د مسئولو مقاماتو سره یې وکتل او د آګست په لومړي

ورځ یی په کا بل کی په یوه اعلامیه کی وویل چی د ایران باچا به خپلو مساعیو ته ادامه ور کړی .

د آگست په شپږمه د پاکستان جمهور رئیس ایوب خان په کویټه کی وویل چی د افغانستان پاکستان او ایران تر منځ با یدیو فدراسیون منځ ته را شی . د ۵ د آگست پر ۱۵ بیا د غه د فدراسیون مطالب ځرگند کړل او وی ویل چی دیر ز ر به د دغو هیوادو نو مشرا ن په تهران کی سره وگوری .

په سپټمبر کی د افغانستان او پاکستا ن د خارجه وزیرا نو سرجو ړه کتنه چی په تهران کی پیل شوی وای معطله شوه او د پاکستا ن خارجه وزیر وویل چی دغه کتنه د ایران د باچا سره معطله شوه .

د پاکستان جمهور رئیس ایوب خان چی کویټی ته سفرو کړ هلته یی د بلوڅو مشران لکه عطاالله مینگل ، میر میهر الله مینگل ، نواب اکبر خان بگټی ، میر عبدالعزیز کورد نوابزاده عبدا لقادر شهرانی ، میر گل خان نصیر ، عبدالرحمن کورد ، میر محمدعزیز کورد ، میر لعل بخش مینگل او دوه سوه نور کسا ن د کویټی ، سند او پنجاب مختلفو زندانو نو ته ول پهل د ایو ب خان دغه حرکت ټولو پښتنو او بلوڅو و غندی .

په همدغه ۱۹۶۲ کی د بلوڅو د فراریانو ډله جوړه شوه او په دی ډله کی هغو گوریلایی بلو څا نو برخه واخیستله چی شیر محمد مری پخوالاروز لیوه .

شیر و مری د فراریا نو ډلی غړ وتهو خیژولی او د سیمی امنیت یی مستقیما تهدید کړ . د پاکستا ن حکو متدد غی ډلی د بریدو نو

څخه سخت په ویره کې ولوید. د ایوب خان قانون اساسي په اپریل او مي کې تر تطبیق لاندې ونیول شو او جمهور رئیس ته پراخ اختیارات ورکول شوه.

د دغه کال په نیمایي کې جمهور رئیس ایوبخان د کنونشن مسلم لیگ گوند منځ ته راووست او پخپله یې دغه مشري واخیستله.

میر گلخان نصیر بلوڅ او میر غوث بخش بزنجو زندان ته واچول شول. خیربخش مري، عطاالله مینگل او شیر محمد مري پېښور ته ولاړل او هلته یې د پښتنو د سیاسي رهبرانو سره وکتل (اکتوبر)

عطاالله مینگل او شیرو مري پاکستاني مقاماتو ونیول او زندان ته یې واچول

## ۱۹۶۳ م:

سردار محمد داود دافغانستان صدر اعظم دخپلې وظیفې څخه مستعفي شو او داکتر یوسف یې پرځای صدر اعظم شو.

د ایران په منځگړیتوب دافغانستان او پاکستان نمایندگانو په تهران کې سره وکتل اوددواړو هیواد ونوتر منځ سیاسي اړیکې بیا قایم شول (مي)

په کویټه کې امنیتي حالات وران شول او ډیر خلک زندان ته واستول شول. ولیخان دپاکستان دحکومت لهخوا بندي شو.

## ۱۹۶۴ م:

مارشال ایوبخان تو طیه وکړه چې دبلوڅ دوو مشرانو خیربخش مري او عطاالله مینگل نفوذ په بلوڅ قبایلو کې کم کړي.

ته دغه توطیه کی یی د خیر بخش مری تره سردار دودا خان د مری قبیلی مشر کړ. هرنگه چی خیر بخش په خپله قبیله کی د سرداری امتیازات لغو کړی وه نو خلك یی ډیر طرفداروه او په همدغه نسبت د قبیلی خلکو په داسی حال کی چی خیر بخش له قبیلی څخه د باندی ؤ راولاړ شول او سردار دودا خان یی وواژه او د هغه نور ملگری یی هم سره گړل.

بله پیښه په همدغه کال کی دا وه چی ایوب خان په توطیه د عطاالله مینگل د پلار تره کرم خان د هغه په قبیله کی مشر کړ، خو هغه هم د قبیلو خلکو وواژه. د دغو پیښو سره حکومت د مری او مینگل قبایلو سیمی ته ۱۰ زره مسلح عسکر ولیږل. د دغه کال د اکتوبر له ۳۱ څخه د نوامبر تر ۱۱ پوری په لویدیځ پاکستان کی او د نوامبر له ۱۰ څخه تر ۱۹ پوری په ختیځ پاکستان کی د بنسټیز دیموکراسی په چوکاټ کی دوهمه مرحله انتخابات وشول. په دغو انتخاباتو کی محدودو خلکو اشتراك وکړ او سیاسی ډلو د هغو سره مخالفت وکړ.

په اگست کی د افغانستان لویه جرگه جوړه شوه چی نوی اساسی قانون یی تصویب کړ او د پښتونستان د مسلی په باب یی پریکړه وکړه چی د افغانستان ملت د پښتنو او بلوڅو خلکو د حقوقو د دفاع ملاتړ کوی او غوښتنه کوی چی دا مسله د هغه ځای د خلکو د غوښتنی سره سم حل شی.

د بلوڅو خلکو د ازادی بخښونکی جبهه (ب، پ، ال، ایف) تاسیس شوه او په انقلابی توگه یی فعالیتونه پیل کړل. د دغی جبهی غړو په یوه لاس توپك او په بل لاس کتاب د پاکستان د ډکتاتوری پرضد مبارزه پیل کړه. د دغی جبهی د غړو یوه وظیفه دا وه چی

د مارکسیزم لنینیزم په اصولو ځان پوه کړی .

ددغه کال په دسامبر کی خان عبد الغفار خان چی ار و پا ته دعلاج له پاره تللی وُ له هغی خوا کا بل ته راغی چی څو کاله همدلته پسی پا ته شو .

## ۱۹۶۵م:

صدر ایوب خان د(ب ـ د) یعنی بیسیك دمو کراسی په سیستم د انتخاباتو اعلان وکړ . څرنګه چی د ۱۲۵ ملیونو خلکو پر عوض تش ۸۰ زرو د(ب ـ د) غړو رایه ورکولای شوای نو ددغی غیرعادلانه وضع په نسبت هری خواته اوازونه او چت شول .

دپاکستان ټول سیاسی ګوند ونه دملی عوامی ګوند په شمول په یوه متحد محاذکی راټول شول . کا ندیدان دوه وه ، یو مارشال ایوب خان ځان ریاست جمهوری ته کا ند ید کړ او متحد محاذ د محمدعلی جناح خور فاطمه جناح کا ندید کړه .

په دغه وخت کی یو بل ګوند دهند سره د مخا لفت او دچین سره د دوستی په نامه اعلامیت پیل کړ چی دغه سیا سی حرکت د ایوب خان په ګټه تمام شواو ددی په اړخ کی یه زرو او زورهم رایی واخیستل شوی او په دی توګه ایوب خان دپاکستان دیوی بلی دوری له پاره ر ئیس جمهور شو .

په دغه کال دهنداو پاکستان ترمنځ جنګ واقع شو چی دواړو خواوته سخت زیا نونه ورسیدل څو دشوروی اتحا د دصدر اعظم کاسیګین په منځګړیتوب دکال په اخیر کی دواړو خواوُ د تاشکند

تړون دلاسلیك خبری پیل شوی او جګړه پای ته ورسیده .

ددغه کال په جنوری کی د افغانستان دخلکو دموکراتیك ګوند لومړی کانګره چی دموسسی کانګری په نامه یادیږی جوړه شوه او دغه ګوند په فعالیت پیل وکړ .

په افغانستان کی دانتخاباتود نوی قانون له مخی انتخابات وشول او کله چی شورا دایره شوه محصلینو غوښتل دجلسی په تالار کی جریان وګوری خو حکومت یی مانع شو او له دی سره هم مظاهری پیل شوی خو دعقرب په ۳ (داکتوبر اخیر) کی حکومتی قواو پر محصلینو او مظاهره کوونکو حمله وکړه او یو شمیر یی وو ژل .

حکومت تر سخت انتقاد لاندی راغی اوډاکتر یوسف حکومت مستعفی شو .

## ۱۹۶۶ م :

د جنوری په ۱۰ دپاکستان د جمهور رئیس ایوبخان ، د هند د صدر اعظم لال بهادر شاستری تر منځ په تاشکند کی یو تړون لاسلیك شو چی دهغه پراثر دهند او پاکستان جګړه ختم شوه پردغه تړون دشوروی اتحاد د صدراعظم کاسیګین هم د منځګړی په توګه لاسلیك وکړ.

په ټول پاکستان کی دمارشال ایوب خان دحکومتی اشاره پر ضد متفرق قیامونه ګډ ل دپلو خو خلك زیاتر . په هرو کی وه اود

پښتنو سیاسي مشران یا په زندانو نو کې وه او هغه چې د باندې وه جلسې او مظاهرې یې جوړولې.

د هند او پاکستان جنګ د پاکستان پر اقتصادي وضع ډېرې منفي اغېزې وکړې او قیمتونه جګ شول او د خلکو د نارضایتۍ باعث وګرځېدل.

په ختیځ پاکستان کې د ملي عوامي ګوند پایګاه ورځ په ورځ قوي کېده او د ایوب خان د دیکتاتورۍ پر ضد تبلیغات خپرېدل.

په افغانستان کې سیاسي جنبش د خلکو دموکراتیک ګوند په رهبرۍ په پراخه ساحه کې خپور شوی ؤ. د دغه کال په اپریل کې د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند نشراتي ارګان (خلق) جریده خپره شوه او په هغه کې د پښتنو او بلوڅو د جنبش طرفداري وشوه او د مسئلې د حل لارې حق خودارادیت د اصل تطبیق معرفي کړ.

د دغه کال د مې په ۲۳ د سنا د مجلس محافظه کارانو غړو د مرتجع دولت په اشاره د (خلق) جریدې د بندولو غوښتنه وکړه او جریده بنده شوه.

## ۱۹۶۷ م:

ذوالفقار علي بوټو له لویدیځ پاکستان څخه او شیخ مجیب الرحمن د ختیځ پاکستان څخه د ایوب خان د سیاست په مخالفت راپورته شول او دواړو د خپلو حزبو نو یعنې پیپلز پارټۍ او ملي عوامي ګوند په وسیله سخت اپوزیشن جهت تشکیل کړ.

د دغه کال په مې کې د ایوب خان د سیاست پر ضد پنځو ګوندونو یوه ائتلافي جبهه تشکیل شوه چې د پاکستان د جنبش په نامه یاده شوه په دغه جبهه کې د کونسل مسلم لیګ، اپوزیشن، عوامي لیګ، نظام

اسلام، جماعت اسلام او ملي دموکراتیک جبهې برخه واخیستله .

دغه جبهې د حکومت د ډیکتاتورۍ څخه انتقاد او په لومړي سر کې یې په جدي توګه غوښتنه وکړه چې د پاکستان د دفاع په نامه چې کوم قانون په ۱۹۶۵ کې د هند او پاکستان د جنګ په وخت کې نافذ شوی و، بیا په لغوه شي.

په دغه قانون کې ویل شوي وه چې د جګړې په جریان کې هر څوک امنیت په خطر کې اچوي یا د حکومت پر ضد څه وائي با بلامحکمې بندي شي د ایوب خان د ډیکتاتورۍ د هند او پاکستان تر جګړې وروسته هم له دغه قانون څخه استفاده کوله او خپل مخالفین یې زندان ته اچول.

جبهې په لویدیځ او ختیځ پاکستان کې تبلیغات کول او خلک یې د خپلو حقوقو اخیستلو ته تشویقول .

د دغه کال په دسامبر کې مارشال ایوب خان اخطار ورکړ چې که اپوزیشن پر همدغه لار روان وي د پاکستان بقا د خطر سره مخامخ کیږي . په همدغه کال ذوالفقار علي بوټو د پیپلز پارټي اساس د سند په لاړکانه کې چې د ده ابائي وطن دی کېښود او د پارټي خوندي یې د سند په بل لوی ښار کراچي کې کېښودلې. دغه ګوند په پښتونخوا (سرحدی صوبه) او بلوچستان کې تر پایه نفوذ ونه موند او د دغې پارټي د رهبر بوټو او د بلوڅو او پښتنو د سیاسي مشرانو سره اتحاد نظر منځ ته رانغی. په همدې توګه پیپلز پارټي په ختیځ پاکستان یعنې ختیځ بنګال کې هم طرفداران و نه موندل .

## ۱۹۶۸ م:

داپریل په ۲۰ عبدالصمد خان اڅکزی پسله لس کاله بند څخه له جیله خلاص شواو کله چې د کوټې ښار ته ورسید په زرګونو خلکو هرکلی ورته وواېه . سره له دې چې ۱۴۴ تعزیري ماده قایمه وه، ولې خلکو هغې پروا ونه ساتله. خان اڅکزی په خپله لومړی وینا کې دایوب خان پر اداره سخت انتقاد ونه وکړل او وی ویل چې زه به سیاسي مبارزې ته ادامه ورکړم .

دبلوچستان ګورنرجنرال موسی له دغې وینا څخه دومره وارخطا شوچې سمدستي يې دوباره عبدالصمد خان ونيوی اونظامي حکومت يې نور هم پسې سخت کړ .

دجون په ۲۸ په پېښور کې دقصه خوانی دشهیدانو په یاد دیره ستره جلسه وشوه اوپه هغه کې د پښتنو دسیاسي مشرانو څخه علاوه د پنجاب سیاسي مشرانو هم ګډون وکړ . په دې جلسه کې وویل شول چې ایوب خان کوښش کوي د بېلو بېلو ملیتونو تر منځ اختلافات وپاځوي ،د پنجاب مشرانو وویل پنجابي رښتيا نې سیاست پالو نکي هیڅکله په دې عقیده نه دي چې د پښتنو حقوق دې د دیکتاتوري قرباني شي .

دتحفظ عامه قانون ۱۴۴ ماده چې تعزیرات يې قایمول دجون په ۲۴ پای ته ورسیده اوله دې سره سم د نیشنل عوامي پارټي څري له پښتونستان بنګال ، پنجاب او سند څخه راټول شول او دپارټۍ دتشکیلاتو انتخابي کار يې سرته ورساوه .

دجولای په میاشت کی دانتخاباتو نتایج داسی اعلان شول.
ولیخان دنیشنل پارتی دعمومی رئیس په توگه .
محمود الحق عثمانی دپارتی دسکر تر جنرال په توگه .
ظاهر الدین احمد او سید امیر حسن شاه دپا رتی دبر ستیالانو په توگه .
اجمل ختټك او محبوب علی دجا ینت سکر ترانو په توگه ه
کومه قطع نامه چی دا نتخابی جاسی په پا ی کی خوره شوه په هغه کی دیو نت ماتیدل دفساد پرضد مبارزه کوم چی مارشل لا ئی حکومت زیږولی دی او همدا رنگه په سیتوا و سینتو پکتو نو کی دپاکستان شمول و غندل شو .
داکتوبر په لسمه چی ایوب خان دخپل اقتدار تر لاسه کولو په لسمه کالیزه کی جشن جوړ کړ ی ؤ هلته وینا کوله چی یوزده کو نکی هاشم خان دتمانچی دزوربا نه ی وکړ ما رشال ایوب خان و نه ویشتل شو خو جلسه و پا شل شوه او له دغی پیښی څخه دوی ورځی وروسته په پیښور کی گرفتاری پیل شوی چی په دغو گرفتاریو کی ولیخا ن اود پار تی د بر مشر ان اودپیپلز پا رتی مشر ان هم زندان ته ور لاړل .
دنوامبر په ۲۰ د پیښور په چار کی لویه مظا هره وشوه او شاگرد انو پر دولتی ودانیو تیری وارولی . په همدغه پیښه کی په چارسده کی نثار احمد خان ، امیر خان ، آدم خان ، میرعلم خان ، یعقوب خان ، نادر خان خلیل ، نذیر احمد خان ، طلا محمد خان او بو شمیر نور سیا سی کارکو نکی زندان ته واچول شول .

د دغه کال د دسامبر په لومړۍ نېټه د پاکستان حکومت د پښتنو او بلوڅو او نورو سیمو کې د پولیسو په اړخ کې وسله والې عسکري قواوې هم د تیارسۍ په حال کې ودرولې.

د دغه کال په مارچ کې چې کومه جلسه د نشنل عوامي پارټۍ له خوا شوې وه، په هغه کې سکرتر اجمل خټک پیشنهاد وکړ چې په یوه وخت کې د پارټۍ غړي هم د مزدور کیسان او هم د نشنل عوامي پارټۍ غړي کېدای شي. دغه پیشنهاد ولي خان، سید الیاس باچا او بهادرخان ایډوکیټ له خوا تائید او سید محمد باچا، فضل هادي خان، میا رضوان الله کاکاخېل او شیرعلي باچا مخالفت وکړ خو د ډېر اکثریت پیشنهاد تائید شو او شیر علي باچا د هغه د په مخالفت خپل پامقلت خپور کړ.

د دغه کال په سپتمبر کې د پیپلز پارټۍ دوهم کنونشن د سند په حیدر آباد کې جوړ شو، کله چې بوټو د کراچۍ څخه حیدر آباد ته ورسېدی نو حکومت ۱۴۴ تعزیري ماده بیا تر کار لاندې ونیوله، خو بوټو ډېره تونده وینا وکړه او په هغه کې یې د ایوب خان اداره د زوال کندې ته نژدې وبلله.

په همدغه کال کې په افغانستان کې د افغانستان د خلکو د موکراتیک ګوند دوهم نشراتي اورګان د پرچم جریدې په خپرونو پیل وکړ. په دغه جریده کې بیا هم د ګوند سیاست د پښتنو او بلوڅو د مبارزې په برخه کې د حق خودارادیت پر اصل تائید شو او د دغې جریدې خپرونو د پښتنو او بلوڅو په سیاسي ټولنو کې د عقیدت مندۍ زمینې برابرې کړې.

د دغه کال په اوایلو کې چې مقدمات یې په ۱۹۶۷ کې برابر شوي و د بلوڅو محصلینو سازمان (بي ، اس او ) تاسیس شو چې تر ۱۹۸۱ پورې د غړو شمېرې پنځه ویشت زروته ورسېد .

په همدغه کال کې د دغه سازمان غړو د شیرمحمد خان مري (شېرو مري) د فراریانو له ډلې سره همکاري پیل کړه .

په دغه کال کې د شیخ مجیب په ګډون د ختیځ پاکستان ۳۰ کسه سیاسي مشران په دې تور ونیول شول چې د اګرتالا په ښار کې یې د هندي سیاسي کسانو سره کتلې دي او د پاکستان د تجزیې پلان عملي کړی دا پېښې د اګرتالا په نامه شهرت وموند .

## ۱۹۶۹ م :

د مارشال ایوبخان د دیکتاتورۍ پرضد عامه افکار په شدت وپارېدل او دغه دیکتاتور دې ته مجبور شو چې د سیاسي زعماو سره مسایل په مصلحت کښېږدي .

د فروري په ۱۶ ورځ اتو مخالفو ګوندونو فیصله وکړه چې د ګرد میز په جرګه کې چې ایوب خان پیشنهاد کړی ؤ ګډون وکړي .

د فروري په ۱۷ ورځ هغه اضطراري حالت پای ته ورسېدی چې د هند و پاکستان د جګړې له وخت څخه قایم شوی ؤ .

د پیپلز پارټۍ مشر بوټو چې د اضطراري حالت د پای ته رسېدو په خاطر روژه نیولې وه هغه یې ماته کړه .

د فروري په ۲۱ مارشال ایوبخان اعلان وکړ چې په راتلونکو انتخاباتو کې د ګډون اراده نه لري .

دفبروري په ۲۳ عبدالصمدخان اڅکزی له زندان څخه خوشی شو.

دمارچ په لومړۍ ورځ د نیشنل عوامي پارټي رئیس عبدالولي خان په یوه وینا کي وویل:

که مادګردی میز په جرګه کي دخپل ولس حقوق وانه غوښتل نودمیا رزو ځوانانو په مرسته به په میدان کي کوښښ جاري وساتم.

دمارچ په لسمه د اساسي حقوقو د سپارلو او سیاسي حالاتو په باب دخبرو او غور کولو له پاره دډیموکراسي دعملیاتو د کمیټي دنمایندګانو، بی زیبه شخصیتو او حکومت ترمنځ دګردي میز جرګه په راولپنډۍ کي جوړه شوه.

په دغه جرګه کي عبدالولیخان داساسي قانون تیمکرتیاوي او دیو یونټ دضرر وتو په باب مفصله وینا وکړه.

شیخ مجیب الرحمن دخپل شپږ فقره ایز پروګرام په باب توضیحات ورکړل دغه شپږ فقری په دی توګه وی:

۱ ـ یو یونټ دی نه وی.

۲ ـ انتخابات دی ازاد وی.

۳ ـ هربالغ ته دی درایی حق ورکول شي.

۴ ـ دحکومت سیستم دی پارلماني وی.

۵ ـ دپارلمان چوکي دی د نفوسو په تناسب وی.

۶ ـ دکاملي علاقایي خود مختاري ضمانت دی ورکول شي.

نوابزاده نصرالله خان دوی لاندي فقري غوښتني تدوراندي کړي:

۱ - دفاعی پارلمانی نظام ، علاقایی او سیمه ایزه خودمختاری.

۲ - هر بالغ ته درایی د حق ور کولو په اساس دو لسی جرگی او ولایت جرگی انتخاب .

د گردی میز جرگه په ناکامی سره پای ته ورسیده او بحران و خپل اوج ته اوچت شو .

دمارچ په ۲۵ په ناهاپی ډول اعلان و شو چی فیلډ مارشال محمد ایوبخان د پاکستان د ریاست جمهوری څخه مستعفی شو او خپل ځای یی ۵۲ کلن جنرال اغا محمد یحیی خان ته خوشی کړ .

یحیی خان سمدسی بیا مارشل لا اعلان کړه او په ټولو ښارونو کی نظامی مقررات قایم شول . د دغه کال په اگست کی یحیی خان خپله کابینه اعلان کړه .

په همدغه کال جنرال اغا محمد یحیی خان دیو یونټ ماتول اعلان کړل او په دی توگه یی دانتخاباتو له پاره لاره خلاصه کړه .

## ۱۹۷۰ م :

دمارچ په میاشت کی دد پروستونزو سره سیاسی پارټیو دانتخاباتو له پاره تیاری و نیوله خو په زیاترو سیمو کی دجوی دضع و نامساعدت له کبله انتخابات معطل شول خو ددغه کال په دسامبر او دراتلونکی کال په جنوری کی انتخابات وشول .

دلوسری ملی له پاره دیوفرد یایوی رایی په اساس انتخابات وشول ، د ۳۹۱ چوکیو له پاره (۱۲۳۷) کاندیدانو نماینده لیت پیل کړ ، دغه کاندیدانو د ۲۳ مختلفو گوندونو نماینده گی کوله . په لویدیځ پاکستان کې پیپلزپارټي اوورپسی نیشنل عوامي پارټي (ان، ای، پي)

اکثریت گټلی ؤ او په ختیځ پاکستان کی عوامی لیگ پدلو ی اکثریت رابیو اخیستی .

په عمومی تو گه ولیخان د نیپ څخه، بوتو د پیپلز پارتی څخه او شیخ مجیب دعوامی ـ لیگ څخه د سیاسی میدان بریالی شخصیتو نه و گنل شول .

نیشنل عوامی پارتی په پښتونستان او بلوچستان کی ده بر و طرفدارانو په درلودلو سره په ملی او بین المللی سطح کی پاملرنی جلب کړی . پښتنو او بلوڅو د اتحاد بو ازسو بنه ورکړه .

## ۱۹۷۱ م :

دجنوری په میاشت کی چی انتخابات پای ته رسیدلی وه نتایج داسی اعلان شول چی پهختیځ پاکستان کی دشیخ مجیب گوند او په لویدیځ پاکستان کی د بوتو گوند زیات نماینده گان ټاکلی وه . دملی اسامبلی دچو کیو اکثریت دشیخ مجیب په گوند اړه درلوده په جنوری کی چی یحیی خان دشیخ مجیب سره په ډاکه کی وکتل هغه خوښتنه ځینی وکړه چی دملی اسامبلی غونډه جوړه کړی .

په فروری کی یحیی خان د بوتو سره و کتل ، څرنگه چی بوتو پوهیدی چی که د اسا مبلی غو نډه پیل شی نو ا کثر یت دشیخ مجیب په برخه کیږی نو د فروری په ۱۷ بی اعلان و کړچی د پیپلز پارتی منتخب نما ینده گان به ترهغه وخته دملی اسامبلی په غونډه کی برخه وانخلی تر څو دنوی اساسی قانون په باب ډاډورنه کول شی .

د مارچ په لومړی نیټه جنرال یحیی خان خپله ملکی کا بینه

محله: کړه او د ملي اسمبلۍ غونډه یې چه د مارچ په ۳ باید پیل شوې وه وځنډوله د جنرال یحیی خان دا اقدام په ختیځ پاکستان کې په مظاهرو او میټنګونو کې په ډېر نفرت هرکلی شو او بنګالیانو د مالیې له ورکړې څخه ځانونه معاف وبلل. د مرکزي حکومت له خوا پراخیبا رونو او راډیو سانسور نادیده وګڼل شو او د مرکزي حکومت له اوامرو څخه عملا اوږه خالي کړه شوه.

مرکزي حکومت جنرال ټیکه خان د ملکي او نظامي قوماندان په حیث ډاکې ته واستاوه او هغه وویل مرکزي حکومت بنګال ته ضرورت لري نه بنګالیانو ته.

د مارچ په ۱۵ یحیی خان او د هغه سیاستي په ۲۱ بوټو د شیخ مجیب سره ملاقات وکړ خو خبرې مصالحت ته پاتې نه شوې، یحیی خان او بوټو اسلام اباد ته را غلل.

د مارچ په ۲۶ جمهور رئیس یحیی خان عوامي لیګ غیر قانوني اعلان کړ او پر ټولو نشراتو سانسور ولګول شو او نظامي قواوې ختیځ پاکستان ته سوق شوې.

وهل ټکول، زندان ته اچول او شکنجې پیل شوې او خلکو په قیام شروع وکړه، د دغه جریان په اول کې دوه سوه پنځوس زره کسه له بنګال څخه هند ته وتښتېدل او د شپږو میاشتو په جریان کې د فرار احصائیه لس میلیونو ته ورسېده.

د وژل شویو کسانو احصائیه معلومه نه شوه خو دا معلومه شوه چې په ډېر سخت وحشت د هغه ځای خلک تهدید شوېدي.

د مارچ په ۳۱ د هند پارلمان د بنګال د خلکو حمایت اعلان کړ او ویې

ACKU

غوښتل چې پاکستان باید پناه ګزینانو ته د بېرته تګ اجازه ورکړي.

د هند صدراعظمې ختیځو او لویدیځو هېوادو ته مسافرت وکړ او راتلونکو جریاناتو او د پاکستان د فشار د وخامت په باب یې د هغو هېوادونو مشرانو ته یادونې وکړې.

په بنګال کې موکتي بهايي (آزادي بخښونکې اردو) تشکیل شو خلکو د خپل رهبر شیخ مجیب چې د مارچ په ۲۵ زندان ته اچول شوی و د خلاصېدو غوښتنه وکړه خو حکومت داسې غوښتنې رد کړې او په زور یې کوټې وو هلې.

د پاکستان د اردو او موکتي بهايي ترمنځ د ښارونو په منځ کې جګړې پیل شوې. د نوامبر په ۲۳ په ټول پاکستان کې جنګي حالت اعلان شو.

د نوامبر په ۲۹ د بنګله دیش موقتي حکومت اعلان شو د ډسامبر په ۳ د پاکستان هوايي قواو د شمالي هندوستان بمباري کړې د ډسامبر په ۴ د هند له خوا هوايي، ځمکني او بحري قواوې په حرکت راغلې.

د ډسامبر په ۶ هند د بنګله دیش موقتي حکومت په رسمیت وپېژند او د پاکستان سره یې سیاسي روابط قطع کړل.

د ډسامبر په ۱۵ هندي قواو ډاکه محاصره کړه او د ډسامبر په ۱۶ پاکستاني قواوې تسلیم شوې. د ډسامبر په ۱۷ اندرا ګاندي هر اړخیز اوربند اعلان کړ.

د ډسامبر په ۲۰ یحیی خان استعفی وکړه او بوټو چې د ملګرو ملتو په موسسه کې غوغا اوچته کړې وه اسلام اباد ته راغی او د جمهوري ریاست اداره یې په لاس کې واخیستله او وعده یې ورکړه چې د صلح اعاده او د قانون حکومت به منځ ته راولي.

## ۱۹۷۲ م:

بوټو چې په انتخاباتو کې ۶۰ فیصده چوکۍ ګټلې وې د حکومت کنټرول یې په داسې حال کې په لاس کې واخیست چې د پاکستان ۹۰ زره عسکر د هند سره بندیان وه.

بوټو نیپ ته بلنه ورکړه چې په دولت کې برخه ورسره واخلي خو هغو دا بلنه په دې شرط ومنله چې د نظامی حکومت مقررات لیرې کړي.

په دغه کال کې نیپ او جمعیت العلماء چې په پښتونستان او بلوچستان کې یې زیاتې چوکۍ ګټلې وې د راتلونکي دریځ غوره کړ.

پیپلز پارټۍ چې د نیپ او جمعیت العلماء نفوذ احساس کړ نو بوټو ورون یې ورسره لاس یو کړ چې صلاحیت به خلکو ته وسپارل شي، خو کله چې پیپلز پارټۍ د خپل تعهد څخه لاس واخیست د نیپ او پیپلز پارټۍ ترمنځ روابط ترخه شول او په مظاهرو او مینګو نو کې د بوټو پر ضد سخت شعارونه ورکول شول.

• پراقتدار را پورته شوی حکومت موافقه وکړه چې په پښتونستان (صوبه) او بلوچستان کې د نیپ غړو ته د صوبایي حکومت اختیار وسپاري او په دې توګه په پښتونستان او بلوچستان کې د نیپ صوبايي حکومتونه تاسیس شول. په پښتونستان کې مولانا مفتي محمود د وزیر اعظم او ارباب سکندر خلیل د ګورنر په توګه او په بلوچستان کې عطاءالله مینګل د وزیر اعظم او غوث بزنجو د ګورنر په حیث مقرر شول.

مرکزي حکومت د صوبو په چارو کې مداخلې پیل کړې او یو مرکزي وزیر په ملکنډ کې خلکو ته خطاب وکړ چې «تو پکونه وا خلئ او خپل مخالفین لکه مرغي وولئ »

دغو صوبايي حکومتو نوو سیاستي دوام وکړاو په یوه نا سالمه فضا کې له منځه ولاړل . په همدغه کال د نیپ یو فعال غړی صادق کانسي په کوټه کې ترور شو، او دغه قتل پر حکومت تاوان شو .

د دغه کال په مارچ کې د لاهور په لیاقت باغ کې د حرگې پروخت پر ولیخان حمله وشوه خو ترور پستان نا کامه شول او دا پېښه چې منشاء یې په حکومت کې وه د خلکو له خوا د ډېر نفرت سره مخامخ شوه .

په همدغه کال د بلوچستان ستود نټس او رگنا یزشن ، پښتون زلمی او پښتو ستود نټس فدر یشن دا نقلابي عملیاتو له پاره ځانونه تیار کړل .

په همدغه کال وتوله ازدرا گاندی سره دسملې په کنفرانس کې ولیدل او بسله جنگ څخه ددوا ړو هیواد و هند او پا کستا ن په باب و پریکړل . پا کستان د جگړې د بندیانو دخوشې کولو هیله وکړه او موضوع تر بحث لاندې ونیول شوه .

## ۱۹۷۳ م :

د پاکستان اساسي قا نون په دغه کال نافذ شوچې ددر ی گونو قوا او د تفکیك پر ا صل و لاړ ؤ ( مقننه ، ا جر ا ئیه قضائیه ) قا نـو ن ا سا ســي د ملي ا سا مبلي تشکیل پر ۰ ۰ ۲ غړ و ولا ړ ؤ چې د دغه غړ ی په هر و پنځو کا لو کې په مخفي را یو انتخا بېدل .

همدارنګه بل مجلس د سنا په نامه منځ ته راغی چې ۶۳ غړي یې درلودل. د هر ولایت څخه ۱۳ کسه، پنځه کسه د ګلګت، چترال، بالتستان او قبایلي سیمو څخه دوه کسه د پایتخت اسلام آباد څخه ټاکل کېدل، نوموړي غړي د څلورو کالو له پاره ټاکل کېدل. د ولایاتو له پاره هم اسامبلې منځ ته راغلې. وزیر اعظم او ولایتي وزیران ولایتي اسامبلۍ ته مسئول وه. وزیر اعظم د ولایتي اسامبلۍ د غړو د اکثریت په رایه مقررېده خو ګورنر د جمهور رئیس له خوا وظیفې ته ټاکل کېده.

د ولایتي اسامبلو د غړو شمېر داسې ټاکل شوی و. بلوچستان ۴۰ غړي، پښتونستان ۸۰ غړي، پنجاب ۲۴۰ غړي، سند ۱۰۰ غړي.

په ولایتي تشکیلاتو کې د نوي اساسي قانون سره پنجاب پنځه (دیوېژنه) بهاولپور، لاهور، ملتان، راولپنډۍ، سرګودا (پښتونستان درې د دیوېژنه) د ډېره اسمعیل خان، ملاکنډه، پېښور) سند درې دیوېژنه) حیدرآباد، کراچۍ او خیرپور او بلوچستان دوه دیوېژنه (قلات او کوټه) وټاکل شول.

د قبایلو په برخه کې د ایجنسۍ پخواني تشکیلاتو لږ تغیر وکړ خو د قبایلو په چارو کې صلاحیت تر ډېره ځایه جمهور رئیس ته محول شو او د سرحدي جرایمو قانون چې د ۱۹۰۱ څخه پیل شوی و په پراخه توګه تر تطبیق لاندې ونیول شو.

د جولای په ۴ بوټو له ملي اسامبلۍ څخه صلاحیت وغوښت چې که متناسبه وبولي بنګله دیش دې په رسمیت وپېژني.

د جولای په ۱۷ په افغانستان کې محمد داود په یوه کود تا سره د ظاهرشاه څخه قدرت ترلاسه کړ او جمهوریت یې اعلان کړ. ده په خپلو لومړیوو بیناوو کې د افغانستان او پاکستان د سیاسي مناسباتو ښه والی د پښتنو او بلوڅو د ازادۍ اصل د خودارادیت د حق په مطالبه او د هغې په مسئلو مشروط وباله.

د دغه کال په اگست کې محمد داود د خلکو ته د خطاب په وینا کې بیا هم د پښتنو او بلوڅو د مسئلې یادونه شوی وه او د افغانستان جدي موقف یې هر گند کړی ؤ. د همدغه اگست په میاشت کې د پاکستان حکومت خیر بخش مري، عطاء الله مینگل او غوث بزنجو بندیان کړل.

د همدغه کال په دوران کې لومړی صادق کانسي او بیا عبدالصمد خان اڅکزی ترور شول.

د پاکستان حکومت د بلوڅو پر کلیو او بانډو پر له پسې بمباري کوله او داسې ویل کېدل چې زهرلړونکي بمونه یې هم استعمال کړیدي.

غروته ختلیو بلوڅانو پر لویو لارو د حکومت پر ترانسپورټ او نظامي هارکونو خپلو چریکي حملو ته ادامه ورکوله.

## ۱۹۷۴م:

د فروري په ۲۲ په لاهور کې د اسلامي ممالکو سرانو بوتو دې ته چمتو کړ چې بنگله دیش په رسمیت وپېژني. بوتو دا کار وکړ او بیا د یوه هیئات په مشرۍ هغه هیوادته ورغی خو د شیخ مجیب الرحمن سره یې پر مسایلو توافق رانغی په ملګرو ملتونو کې د بنگله دیش شمول د چین له خوا ویتو شوه

عبدالولي خان چې په جولای کې د افغانستان د جمهوریت لومړی

جشن ته ر ادعوت شوی و ه دپاکستان حکومت اجازه ورنه کړه.
دافغانستان او پاکستان تر منځ راديو يي تبليغات يو د بل پر ضد دير پراخ شول. ملي دموکراتيک پارټي د دشمير بازمزاري په مشرئ په سياسي فعاليت پيل وکړ.

دپاکستان حکومت يو بلوڅ مشر غوث بخش رئيساني دمري غرو ته واستاوه چي باغي بلوڅان را کښته کړي خو هغو دا کار په دې مشروط و بالله چي دپاکستان حکومت دې عطاء الله مينګل، غوث بخش بزنجو او خير بخش مري له زندانه خوشي کړي.

په پېښور کې د پيپلز ګوند دفتر په بونير کې د يو ليسو قوماندانی او په کوهاټ کې د هوايي شرکت دفتر په بمونو الوزول شول په اګست کې درزمک په سيمه کې د نياز علي خان په مشرۍ لويه جرګه وشوه چي په هغه کې دوزيرستان د ټولو قبايلو ډيرو غړو ګډون کړي و. نياز علي په پېښور او بلوچستان کې د پاکستان دحکومت د روېې په باب يو مفصل ګزارش وړاندې کړاو بيا يې د جرګې د غړو څخه په دغه حساسه مرحله کې د يووالي او اتحاد غوښتنه وکړه.

د دغه کال په اکتوبر کې د پاکستان نظامي قواوو د بلوچستان د مري په سيمه يو شديد حمله وکړه چي په هغه کې ۳۰۰ تنه بلوڅان شهيدان او ۹۰۰ زخميان شول، ۱۲۰۰ کورو نړوران او ۱۰۰۰۰ څاروي تلف شول.

د نوامبر په اوايلو کې د پاکستان دمخالفو ګوندونو مشرانو د وليخان په مشرئ په اسلام اباد کې دخارجي هيوادونو سفيرانو سره

وکتل او په بلوچستان کې یې د پاکستان د حکومت د تیرو په باب هغوته معلومات ورکړل.

کد نوامبر په اخیر کې د پاکستان حکومت د بلوچستان په باب سپین کتاب خپور کړ او په هغه کې یې د بلوچستان پېښې معمولي وبللې، خو د مخالفو ګوندو نو مشرانو د دغه کتاب محتوا د حقیقت څخه لیرې وبلله.

د بلوچستان څخه د بلوڅو کډې یو په بل پسې کندهار ته او هلمند ته ورسیدې په کندهار کې د میرویس له مزار سره باغ د دوی د استوګنې د کمپ له پاره وټاکل شو

د دغه کال په دسامبر کې د بلوچستان مشران عطا الله مینګل، غوث بخش بزنجو، خیر بخش مري او سلطان محمد خان مري تر ۱۶ میاشتو بند وروسته محکمې ته حاضر کړی شول او دوی د حکومت پرضد د فعالیتونو په جرم تر محاکمې لاندې ونیول شول.

د دغه کال د دسامبر په میاشت کې عبدالولي خان د پنجاب د ولایت په شاهیوال کې یوې لویې غونډې ته وویل چې بلوڅان او پښتانه سیاسي غوښتنې لري او تر څو هغې غوښتنې ته سم جواب نه وي ورکړل شوی د پاکستان حکومت به د ستونزو څخه خلاصون ونه مومي.

د دغه کال د دسامبر په ۹ د پښتونستان د سوات د پټن، بېشام، چکسیر او مارتونګه په سیمو کې یوه سخته زلزله شوه چې د هغه په اثر شپږ زره تنه مړه شل زره ټپیان او شپېته زره کورونه وران شو. د محمد ځي پېښې په اثر یو شمېر کلي چې د اباسین د غاړې واقع وه سیند ته وغورځېدل.

## ۱۹۷۵م:

په جنوري کې د پښتنو سترمشر خان عبدالغفار خان غوښتل چې بلوچستان ته سفر وکړي خو د پاکستان حکومت د هغه د سفر مخه ونیوله او اجازه یې ورنکړه.

د فروري د میاشتې په ۸ ورځ د پیپلز پارټۍ یو لوی غړی حیات محمد خان شیرپاو د پېښور په پوهنتون کې د یوه بم د چاودنې په اثر ووژل شو. په دغه پېښه کې ۱۸ تنه محصلین ژوبل او د پوهنتون ودانۍ ته هم زیان ورسېدی.

د شیرپاو د وژلو سره د پاکستان حکومت د نیشنل عوامي پارټۍ مشر عبدالولي خان او د هغې پارټۍ نور مشران بندیان کړل او نیشنل عوامي پارټۍ یې غیرقانوني اعلان کړه. د افغانستان حکومت د نیشنل پارټۍ د مشرانو د نیولو او د پاکستان حکومت له خوا د نیشنل پارټۍ د غیرقانوني کولو پر اقدام یوه اعلامیه نشر کړه او د پاکستان دا اقدام یې وغندی.

د فروري په ۱۰ په ټول پښتونستان کې تعلیمي موسسې وتړل شوې او د نیشنل عوامي پارټۍ ترزر تنه زیات غړي بندیان شول.

د افغانستان حکومت د امریکا پر دې تصمیم تشویش څرګند کړ چې غواړي پاکستان ته د وسلو پر لېږلو بندیز لیرې کړي.

د دغه کال په مارچ کې د پاکستان او افغانستان حکومتونو او په بل پسې څو مکتوبونه د ملګرو ملتو د سرمنشي کورټ والډهایم په عنوان ولیږل او په دغو مکتوبونو کې یو پر بل الزامونه ولګول شول.

د اپریل په اوایلو کې خان عبدالغفار خان د پاکستان د پولیسو له خوا ونیول شو او زندان ته واچول شو.

د پاکستان ستري محکمې د پاکستان د حکومت له خوا د نیشنل عوامي پارټۍ د ړنګولو او د عبدالولي خان د بندي کولو قضیه تر غور لاندې ونیوله او د ولي خان د قانوني وکیل محمود علي قصوري دلایل یې واورېدل. عبدالولي خان ویلي وه چې په محکمه کې د دعوې مصارف باید حکومت تادیه کړي او د محاکمې په دوران کې د پښتنو او بلوڅو ځینې مشران (ولي خان، سکندر خلیل، عطاء الله مېنګل، غوث بخش بزنجو او خیر بخش مري) حاضر وي. ولي خان دا پېښه د دوو ګوندونو ترمنځ د مخالفت ځنځیرېدلی عمل وباله.

د پاکستان حکومت غلام قادر جام د بلوچستان وزیر اعلی (احمد یار خان) د قلات پخواني خان) د ګورنر په توګه وټاکل. د سوېډن دوه اخبار ولیکل چې د پاکستان حکومت د بلوچستان په بمبارۍ کې د سوېډني الوتکو څخه کار اخلي.

## ۱۹۷۶ م:

په اسلام اباد کې د روېټر نماینده د افغانستان د دولت له مشر سره په مصاحبه کې دا خبره واورېده چې افغانستان د پاکستان سره خبرو ته حاضر دی او که بوټو وغواړي کولای شي افغانستان ته راشي.

په اپریل کې د پاکستان حکومت له خوا د ملي دموکراتیک ګوند غړی محمد هاشم خان غلزی په پېښور کې غلام محمد خان بلور، ګر د یزی

او حبیب جالب ونیول شول او د حیدرآباد جیل ته ولیږل شول.

دمې په اخر کې ذوالفقار علي بوټو په ناڅاپي توګه کابل ته مسافرت وکړ او څلور ورځې یې په کابل کې د حکومتي مقاماتو سره خبرې وکړې او د تبلیغاتو بندولو په باب د دواړو خواوو ترمنځ موافقه وشوه.

## ۱۹۷۷م:

مارچ: ذوالفقار علي بوټو د پاکستان د صدر اعظم په توګه وټاکل شو جون: د ملي اتحاد (د ګوند و نو اتحاد) او حکومت ترمنځ د موافقې په اثر د نظامي حکومت مقررات رفع شول او له دې سره د اتحاد مربوط دولس زره نه سوه بندیان له جیل څخه خوشې شول.

جون: د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې د راتلونکي سپتمبر په میاشت کې به انتخابات وشي خو د ملي اتحاد د ټولنې سکرتر جنرال پروفیسور غفور احمد وویل چې د حکومت سره د یو شمیر مسایلو په باب په توضیحاتو اړتیا ده.

جولای: بوټو د پاکستان صدراعظم کابل ته راغی او د ۲۴ ګړیو په دوران کې یې د افغانستان د مشرو لوړو مقاماتو سره خبرې وکړې

جولای د ملي اتحاد د ټولنې له دې غوښتنې سره د پاکستان حکومت موافقه وکړه چې خپلې نظامي قواوې به له بلوچستان څخه وباسي جولای: د پاکستان د ځمکنیو قواوو قوماندان جنرال ضیاء الحق د پاکستان اداره د یوې کودتا په شکل په لاس کې واخسته له ذوالفقار علي بوټو د کاره ګوښه او یې له نسیم ولي خان څخه نور ټول د پاکستان سیاسي شخصیتونه تر نظارت لاندې ونیول شول.

پاکستان راډیو وویل چې ضیاء الحق د بوتو سره هیڅ اړیکې نه لري. راډیو زیاته کړه د مارچ په میاشت کې انتخابات وشول خو لانجې یې حل نشوې او جنجالونه یې ډېر شول نو ځکه پوځ د نظم او امن په خاطر مداخله وکړه. پوځي مقررات قایم شول او مرکزي ملي اسمبلۍ ړنګې شوې، ایالتي ګورنران او صدراعظمان ابسته شول خو صرف چودري الهي جمهور رئیس خپلې وظیفې ته ادامه ورکړه.

د انتخاباتو وعده دا کتوبر په میاشت کې ورکول شوه وعده ورکول شوه چې په انتخاباتو کې به ټول سیاسي ګوندونه برخه واخلي. د جمهور رئیس سره یوه څلور کسیزه نظامي شورا فعاله شو یده او دوی به د انتخاباتو تر وخته خپلې چارې اجرا کړي. اساسي قانون نافذ دی او قاضي القضات به د هر ولایت ګورنر وي.

جنرال ضیاء الحق وویل چې صرف ۹۰ ورځې وروسته به انتخابات وشي او د چارو واګې به انتخاب شوې حکومت ته وسپارل شي.

## ۱۹۷۸م :

فروري : په ذوالفقار علي بوتو، احمد رضا قصوري دعوه وکړه چې د انتخاباتو په دوران کې یې د ده پلار وژلی دی. په مارچ کې دلاهور عالي محکمې دا دعوه وڅېړله ولې بېرته جاري شوه محمود همدغه کال په دوران کې نوموړی د جنرال ضیاء الحق په دسیسه د محکمې له خوا په اعدام محکوم شو او د غه امر پر تطبیق شو :

# سمون پانه

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| الف | ۱ | تاریخی پیښو | د تاریخی پیښو |
| الف | ۱ | داکرونوثوری | د کرونو لوژی |
| ب | ۱ | دبلوچستان | بلوچستان |
| ب | ۱ | دسیمی هغو | دسیمی دهغو |
| ب | ۱ | نقاطو | نقاطو سره |
| ب | ۱۴ | دو کلو | درو کلو |
| ب | ۱۹ | پجاب | پنجاب |
| ج | ۲۱ | فارو | فارو رد |
| و | ۱۸ | لولای | کولای |
| ح | ۱۷ | پنځوس | پنځلس |
| ط | ۲ | کرة | کره |
| ط | ۱۱ | لومړ | لومړی |
| ی | ۸ | لوتمارو | لوتما ریو |
| ی | ۱۲ | ۱۷۶۱ | ۱۷۲۱ |
| ی | ۱۴ | لوتمار | لوتماری |
| ی | ۱۵ | واکمنانواداره | واکمنانواواداره‌چیانو |
| ی | ۲۰ | ویل ئی که | ویل ئی که ایل ئی که |
| ک | ۱۳ | انگلس | انگلیسی |
| ک | ۱۴ | فرون | ترون |
| ک | ۲۲ | لاردمنتو | لاردمنتو |

ACKU

| سم | ناسم | کرښه | مخ |
|---|---|---|---|
| لارډ کېنینګ | لارډ کېننګلکه | ۹ | ل |
| ساتل | ساېل | ٥ | م |
| هر | تر | ٥ | م |
| معلوما توته | معلوما ت | ٦ | ۱ |
| ستر ګی | سر ګی | ۱۰ | ۱۱ |
| جنرال | نر ا ل | ۱٦ | ۱۱ |
| ارزښ | ژررک | ۲۱ | ۱ |
| انګلیسی | ا نګلیس | ۲۱ | ۱۲ |
| رسل | رمسل | ۱ | ۱۳ |
| انګلیسی | ا نګلیس | ۲۳ | ۱۵ |
| مونځی | منیځی | ۲ | ۱۷ |
| وچی | نچی | ۳ | ۱۸ |
| ناخبره ؤ | نا بره ؤ | ۳ | ۱۹ |
| راوځی | را ونی | ۳ | ۱۹ |
| ۱۸۰۹ | ۱۹۰۹ | ۱۴ | ۱۹ |
| ارامېدلی شی؟ | دارا امېدلی شی | ۱ | ۲۲ |
| خندونو | خندرونو | ۱۱ | ۲۲ |
| به | بی | ۱۹ | ۲۳ |
| مرمی | مدمی | ۱۰ | ۲۵ |
| سپاری | ستاری | ۱۸ | ۲۵ |
| قوماندانانو | قومو ندانو | ۲۲ | ۲۵ |
| ۱۲۷ | ۱٦۷ | ۱۱ | ۲٦ |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳ | لارد ایلنبرو | لارډ ایلنبرو |
| ۲۷ | ۱۳ | وورمحی | وومحی |
| ۲۸ | ۷ | | دجنرال سیل نه دی وروسته جنرال پالک هم ولوستل شی |
| ۳۴ | ۱۶ | ترمګکه | ترمرګ |
| ۳۵ | ۱ | (ز) | (ا) |
| ۳۵ | ۱۴ | افغالستان | افغانستان |
| ۳۶ | ۲ | محمدمتو نته | محمدمتو نوته |
| ۴۰ | ۲ | نوربه جی | نوربه |
| ۴۳ | ۸ | متقرب خان | مقرب خان |
| ۴۳ | ۱۳ | کلاکانی | کلاګانی |
| ۴۴ | ۱۵ | غږ | غټ |
| ۴۹ | ۱۶ | رسمبر | ستمبر |
| ۴۹ | ۱۷ | توربله | توپی |
| ۵۱ | ۸ | من | لامن |
| ۵۱ | ۱۴ | سیه | سیمه |
| ۵۲ | ۱ | ۱۸۶ | ۱۸۶۴م |
| ۵۳ | ۲۱ | ر | مقرر |
| ۵۳ | ۲۲ | (۱۸۷۲) | (۱۸۶۷) |
| ۵۶ | ۵ | ۱۲۰۰ | ۱۲۰۰۰ |
| ۵۹ | ۵ | ګولدسمتت | ګولدسمت |
| ۵۹ | ۹ | دار | داد |
| ۶۱ | ۳ | ۱۷۵۵ | ۱۸۵۵م |

ACKU

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۶۱ | ۳ | ۱۷۵۷ | ۱۸۵۷م |
| ۶۱ | ۷ | ۱۷۷۱ | ۱۸۷۱م |
| ۶۱ | ۱۰ | ۱۷۷۱ | ۱۸۷۱م |
| ۶۶ | ۱۳ | ۱۸۵۷ | ۱۸۷۱م |
| ۶۶ | ۱۶ | امام نخش مزاری | امام بخش مزاری |
| ۶۸ | ۱۷ | بیله شوی وه | بلل شوی وه |
| ۶۹ | ۱۰ | خان وسپاری | خان وسپاری |
| ۷۶ | ۲ | سر | تر |
| ۷۶ | ۷ | (۲۵) | (۲۵۰) |
| ۷۶ | ۱۰ | مار کسر | مار کس |
| ۸۰ | ۲۱ | برنئی | برطانیې |
| ۸۶ | ۱۴ | ۸۱۸۳م | ۱۸۸۳م |
| ۸۶ | ۱۷ | ۸۱۸۴م | ۱۸۸۴م |
| ۱۰۰ | ۱۵ | ۹۰۰ | ۱۹۰۰م |
| ۱۱۴ | ۶ | تولو | تولولو |
| ۱۱۸ | ۷ | عمر | عمری |
| ۱۱۸ | ۱۳ | مبابز | مبارز |
| ۱۱۸ | ۱۵ | جنشونو | جنبشونو |
| ۱۱۹ | ۸ | ورکورل | ورکړل |

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۱۲۰ | ۷ | نصاالهخان | نصرالله خان |
| ۱۲۰ | ۸ | ۱۹۵۹ | ۱۹۰۹ |
| ۱۲۱ | ۴ | دلایم | دلایل |
| ۱۳۱ | ۱۴ | ځان | خان |
| ۱۲۲ | ۶ | سفیز | سفیر |
| ۱۳۳ | ۱۰ | مصرونوی | مصروفوی |
| ۱۴۸ | ۱۵ | آدم خیل آپریدی | آدم خیل اپریدی زوی |
| ۱۵۴ | ۱۸ | بهرتلری | شهرتلری |
| ۱۵۴ | ۱ | مخ نتوی | مخ نیوی وکړی |
| ۱۵۴ | ۱۰ | پل کابل کی جل تور کړ | په کابل کی جوړ کړل |
| ۱۵۵ | ۳ | وزنر | وزیر |
| ۱۶۶ | ۲۱ | ګلسی ریجی تیشن | مګسی ایجی تیشن |
| ۱۶۷ | ۱ | میر یوسف علی ګلسی | میر یوسف علی مګسی |
| ۱۷۲ | ۱۹ | پیښی هم | [illegible] |
| ۱۷۲ | ۱۹ | ځان | پیښی هم |
| ۱۷۳ | ۶ | ودیره د شدیره وه ظع ه | وظع دیره شدیده وه |
| ۱۹۳ | ۱۳ | ممنوع | غیر ممنوع |
| ۲۱۶ | ۲ | لوی | لمړی |
| ۲۱۶ | ۳ | الحمدلله | الحمد الله |
| ۲۲۷ | ۷ | جمال الدین | د آزاد جمال الدینی |
| ۲۲۸ | ۲ | او نورومونو | او نور وقومونو |

ACKU

| مخ | کرښه | ناسم | سم |
|---|---|---|---|
| ۲۳۰ | ۲ | فیص | فیصلی |
| ۲۳۲ | ۱۱ | (شینگی) | شینکسی |
| ۲۵۶ | ۱۰ | ای‌زبه | ای‌حزبه |
| ۲۵۶ | ۱۳ | د ضررونو | دضرورتونو |
| ۲۵۹ | ۲ | خبرال | جنرال |
| ۲۶۱ | ۴ | بندان | بندیان |
| ۲۶۷ | ۲۱ | او | یو |

PROPERTY OF ACKU

ARIS
B
3.121
ATA
4355

ACKU

شمیر: ( ۳۵۸ )

دچاپ شمیر ( ۲۰۰۰ )

دچاپ ځای : دولتی مطبعه

دچاپ نیټه : ۱۳۶۸